خطباتِ ربانی

از افادات

فصیح اللسان لذیذ البیان

علامہ عبدالحق ربانی صاحب حفظہ اللہ

جلد سوم

پسند فرمودہ

قائد انقلاب قرآنی شیخ القرآن والحدیث حضرت

العلامہ مولانا محمد طیب طاہری صاحب

واکابرین اشاعت التوحید والسنہ حفظہم اللہ

مرتب

محمد یعقوب جلسوی عفی عنہ

الناشر: دار التوحید والسنۃ

بسم اللہ الرحمن الرحیم

جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے علمائے کرام کی تصانیف کو سکین کر کے PDF فارمیٹ میں علماء و طلباء کو پیش کرنا ہمارا مشن اور محنت ہے۔ مطالعہ کرتے وقت ہمیں دعاؤں میں ضرور یاد رکھیے۔

مکتبہ اشاعت التوحید والسنۃ

نوٹ کتاب میں لکھے گئے مسائل اور مصنف کی رائے سے متفق ہونا ضروری نہیں، ہمارا کام صرف کتاب کو سکین کرنا ہے۔

منتظم اعلیٰ: ابومعاذ خٹک

معاونین: مولانا عبدالکریم

مولانا اکرام گل

مفتی ابوعثبان فداء الرحمن عابد

رابطہ نمبر# 0314-9958550

خطباتِ ربّانی

از افادات

فصیح اللسان لذیذ البیان

علامہ عبدالحق ربّانی صاحب حفظہ اللہ

جلد سوم

پسند فرمودہ

قائد انقلاب قرآنی شیخ القرآن والحدیث حضرت

العلامہ مولانا محمد طیب طاہری صاحب

واکابرین اشاعت التوحید والسنہ حفظہم اللہ

مرتب

محمد یعقوب جلسوی عفی عنہ

الناشر دارُ التوحید والسنۃ

محلہ توحید آباد، جلسی، صوابی

رابطہ نمبر: 0315 9487699

وَمَا عَلَيْنَا إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِيْنُ (سورة يس: 17)

جَمِيْعُ الْحُقُوْقِ مَحْفُوْظَةٌ لِلنَّاشِرِ

دَ كتاب نوم : خطباتِ ربّاني

از افادات : فصيح اللسان لذيذ البيان علّامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

مرتب : محمد يعقوب جلسّوي عفي عنه

كمپوزنګ وسټينګ : ابو عبد الله ضياءالرحمٰن الحنفّي (مردان)

جلد نمبر :سوم

صفحات : 414

طبع : اول اکتوبر 2022ء

استاکسټ

دارُ التَّوحِيْدِ والسُّنَّه (محلّه تُوحيد آباد، جَلسيء، صَوابي) [رابطه نمبر: 9487699 -0315]

دَ ميلاويدو نور ځايونه

1- مکتبة الحسن اينډ اشاعت اسلامک ډيټا سنټر محله عيسى خيل نيو روډ مينګوره سوات

2- اسلامي کتب خانه عبد الرحمن پلازه، صوابي

3- مکتبه حسينيه شيوه اډه، صوابي

4- ديوبندي کتب خانه سخاکوټ بازار ضلع ملاکنډ

فهرست

(1) دَ نبي ﷺ نسب او دَهغې شرافت...2

دَ ټولو پيغمبرانو سردار 2
دَ نبوت نه مخکښې ژوند 3
دَ ټولو نسَبونو نه اعلی نسَب 3
دَ مفسر قرطبي رحمه الله قول 4
دَ سيده فاطمه رضي الله عنها روايت 4
دَ عربو مقوله 4
دَ واثلة بن اسقع رضي الله عنه روايت 5
دَ ابو هريره رضي الله عنه روايت 5
دَ نبي عليه السلام فرمانِ مبارکه 6
دَ عبد الله بن عمر رضي الله عنه روايت 6
دَ الله تعالی اعلان 7
حاصل 8
دَ عربو سره محبت 8
پۀ فضيلت دَ محمد رسول الله ﷺ باندې دَ دشمنانو دَ اسلام اقرار 9
دَ هرقل وينا دَ محمد رسول الله ﷺ پۀ حق کښې 10
مثال 11
دَ رسول الله ﷺ نسب 11
دَ علامه ابن قيم رحمه الله قول 12
دَ علامه ابن حجر رحمه الله قول 12
دَ علامه عيني رحمه الله قول 13
دَ علامه ابو البرکات النسفي الحنفي رحمه الله قول 14
دَ عبد الله بن عباس رضي الله عنه قول 14
دَ خطيب شربيني رحمه الله قول 15
دَ مفسر قرطبي رحمه الله قول 15

دَ مفسر بغوي رحمه الله قول........................ 15
دَ ابن هشام رحمه الله قول........................ 16

(2) فضائل دَ نيكونو دَ نبي ﷺ او دَ مور طرف نسب...19

دَ الله دَ نبي ﷺ فرمان........................ 19
دَ نبي ﷺ دَ مور طرف نه نسب........................ 20
دَ نبي ﷺ دَ نيكونو مختصر حالات........................ 21
دَ عدنان حالت........................ 21
دَ علامه ابن حجر رحمه الله قول........................ 21
دَ زبير بن بكّار رحمه الله قول........................ 22
دَ معد حالت........................ 22
دَ امام ابو جعفر الطبري رحمه الله قول........................ 22
دَ نزار حالت........................ 23
دَ علامه سهيلي رحمه الله قول........................ 23
دَ مضر حالت........................ 24
دَ الياس حالت........................ 26
دَ مدركه حالت........................ 26
دَ خزيمه حالت........................ 26
دَ كنانه حالت........................ 26
دَ نضر حالت........................ 27
دَ مالك حالت........................ 27
دَ قريشو وجه تسميه........................ 27
دَ ابن نجار رحمه الله قول........................ 28
دَ كعب حالت........................ 29
دَ مُرّه حالت........................ 30
دَ كلاب حالت........................ 30
دَ قصئ حالت........................ 30
دَ عبد مناف حالت........................ 31
دَ هاشم حالت........................ 31
دَ عبد المطلب حالت........................ 32

دَ ابن الاثیر رحمه الله قول 32
دَ عبد المطلب نوم 33
دَ عبد المطلب آب زمزم کنستل 34
دَ عبد المطلب خوب لیدل 36

(3) دَ نبي ﷺ پیدائش...40

دَ رسول الله ﷺ پیدائش 40
دَ نبي ﷺ دَ پیدائش تاریخ 41
دَ نبي ﷺ دَ پیدائش وخت 42
علامه زرقاني رحمه الله قول 42
شیخ الحدیث مولانا محمد ادریس کاندهلوي رحمه الله قول 43
مفتي کفایت الله رحمه الله قول 43
پهٔ باره ربیع الاول باندې عید مناؤول 44
دَ نبي ﷺ پهٔ وفات باندې اتفاق 44
دَ رسول الله ﷺ دَ پیدائش وخت کښې ناآشنا مناظر 45
(۱) اول نا آشنا حالت: دَ نبي ﷺ پهٔ پیدائش باندې دَ هغوي کور دَ رڼړا نه ډکیدل 45
(۲) دویم نا آشنا حالت: داسې رڼړا راخوره شوه چې دَ شام محلات روښانه شول 46
(۳) دریم نا آشنا حالت: او داسې رڼړا وه چې دَ بصری محل روښانه شو 46
حکمت 46
دَ نبي ﷺ باره کښې دَ الله تعالی اعلان 47
(٤) څلورم نا آشنا حالت: قریشو ته دَ یهودي وینا 47
(٥)، (٦) پنځم او شپږم نا آشنا حالت: دَ کِسری په محلاتو کښې زلزله راتلل او څوارلس خښتې غورځیدل، او دَ مجوسو أور مړ کیدل 49
(۷) اووم نا آشنا حالت: دَ موبذان خوب لیدل 50
(۸) اتم نا آشنا حالت 52

(4) دَ نبي ﷺ عقیقه، تسمیه اورضاعت...54

دَ نبي ﷺ دَ پلار وفات 54
دَ عبد الله شام ته دَ تجارت دپاره تلل 55
دَ عبد الله باره کښې دَ عبد المطلب تپوس 55
دَ عبد الله دَ وفات کیدو وخت کښې عمر 56

دَ نبي ﷺ عقيقه 56
نبي ﷺ له نوم کيخودل........ 57
(١) اوله وجه دَ کيخودو دَ "محمد" نوم: دَ عبد المطلب خوب ليدل 57
(٢) دويمه وجه دَ محمد نوم دَ کيخودو 58
دوه مشهور نومونه........ 59
(٣) دريمه وجه دَ محمد دَ نوم کيخودو........ 61
(٤) څلورمه وجه دَ محمد دَ نوم کيخودو........ 61
هر حال کښې دَ الله حمد وئيل 62
(٥) پنځمه وجه دَ محمد نوم کيخودو........ 63
دَ جنتيانو آخري خبره 63
دَ نبي ﷺ دَ رضاعت مسئله........ **64**
دَ نبي ﷺ فرمان مبارکه........ **64**
دَ رضاعي مور خيال ساتل 64
دَ نبي ﷺ رضاعي مور حليمه سعديه ؓ........ 65
عربو به ماشوم دَ پيؤ دپاره باندو ته ليږلو دَ څو وجوهو پهٔ بناء باندې........ 66
دَ حليمې سعديه ؓ قول 67

(5) دَ نبي ﷺ دَ شق الصدر واقعه او دَ مور بې بې وفات...70

دَ نبي ﷺ پهٔ ماشوموالي کښې حالات........ 70
دَ حليمې سعديې ؓ دَ نبي ﷺ باره کښې منت کول........ 71
دَ نبي ﷺ پهٔ ړومبئ پيره دَ شق الصدر واقعه........ 71
دَ حليمې ؓ نبي ﷺ واپس راوستل 73
څلور پيرې دَ نبي ﷺ سينه کولاؤ شوې ده........ 73
دَ سينې دَ سيرَلو (شلول) حکمت 74
دَ يحيي ؑ قول........ 74
پهٔ اول ځل دَ سينې کولاؤلو کښې ئې په واوره کيخودلو، نو واورې ته څهٔ ضرورت وو؟........ 75
ګناه کښې حرارت وي 75
دَ صدقې ترغيب ٧٥
دَ غُصې علاج 76

دَ امام غزالي رحمه الله قول 77
دَ نبي ﷺ دعاء 77
دَ "بماء الثلج والبرد" وجه څۀ دہ؟ 77
دَ نبي ﷺ خپلې مور ته حواله کيدل 77
دَ نبي ﷺ دَ مور (آمنه بي بي) وفات 78
نبي ﷺ عبد المطلب ته حواله کيدل 79
دَ يَو راوي قول 80
دَ عبد المطلب وفات او دَ هغهٔ دَ عمر باره کښې اقوال 81
دَ عبد المطلب وصيت ابو طالب ته دَ نبي ﷺ باره کښې 81
ابو طالب ته دَ نبي ﷺ کفالت حواله کيدل 81

(6) دَ نبي ﷺ ابو طالب سره شام ته تلل او دَ بحيرا راهب سره ملاقات او دَ خديجة الکبرى رضي الله عنها سره دَ نبي ﷺ نکاح...84

دَ ابو طالب شام ته سفر 84
ابو طالب سره دَ نبي ﷺ تلل او بحيرا راهب سره ملاقات 85
دَ ابو موسى اشعري رضي الله عنه روايت 85
دَ نبي ﷺ پهٔ باره کښې دَ راهب ګواهي 86
دَ بحيرا راهب قافلې والؤ له دعوت کول 87
دَ روم نه څۀ کسان راتلل 88
دَ حافظ عراقي رحمه الله اشعار دَ دې واقعې باره کښې 89
حرب الفجار 90
پهٔ حرب الفِجار کښې دَ نبي ﷺ شرکت 90
دَ نبي ﷺ دَ امانت دارئ نه دَ خديجة الکبرى رضي الله عنها خبريدل 92
دَ خديجة الکبرٰى رضي الله عنها دَ غلام ميسره او دَ نبي ﷺ واپس راتلل 93
دَ خديجة الکبرٰى رضي الله عنها دَ نبي ﷺ سره دَ نکاح اراده 94
دَ حافظ عراقي رحمه الله اشعار 95
دَ الله حِکمتونه 97

(7) دَ وحي ابتداء...100

دَ محمد رَسول الله ﷺ دَ نبوَّت ابتداء 100

دَ سیده عائشه ﷺ فرمانِ مبارکه 101
دَ ابراهیم ﷺ خوب لیدل 101
دَ نبي ﷺ حالت اوګوره! 102
خوب دَ نبوّت حصه 103
دَ علامه ابن قیم ؒ قول 104
یواځې والي نبي ﷺ ته محبوب وو 104
دَ الله رب العزة دَ نبي ﷺ باره کښې اعلان 105
واقعه دَ زید بن عَمرو بن نفیل ؓ 106
دَ سورة العلق دَ ابتدائي آیتونو مقصد 110
دَ نبي ﷺ خوا ته دَ یو کس راتلل 112
دَ وحي نه بعد دَ نبي ﷺ کور ته راتلل 113
رزق کښې برکت 115
دَ نبي ﷺ ورقه بن نوفل ته بوتلل 116
دَ ورقه بن نوفل ارمان 117

(8) دَوحي بعضې لطائف...120

لطائف دَ وحي 120
دَ علامه ابن عبد البر ؒ قول 120
دَ محمد بن اسحاق ؒ قول 121
فوائد او لطائف 122
دَ سیدنا ابو هریرَه ؓ فرمان 128

(9) دَوحي بندیدل او دوباره وحي شروع کیدل...132

دَ فترت وحي زمانه 132
دَ جابر بن عبد الله الأنصاري ؓ روایت 132
دَ وحي راتلل 133
دَ نبي ﷺ او دَ عیسی ﷺ پهٔ مینځ کښې فاصله 133
دَ رسول الله ﷺ نه تپوسونه شوي وو 134
پهٔ عائشه صدیقه ؓ باندې الزام 136
نبي ﷺ ته دَ دین لذّت او خوند 137

دَ وحي دَ بنديدو حکمتونه 138
(۱) اول حکمت دَ وحي دَ بنديدو: "چې پهٔ دې پنځؤ آيتونو کښې لږ سوچ اوکړي" 138
(۲) دويم حکمت دَ وحي دَ بنديدو: "چې دَ نبي ﷺ زړهٔ مطمئن شي" 138
(۳) دريم حکمت دَ وحي دَ بنديدو: "چې دَ وحي يَو ثقل وو، برداشت ئې ګران وو" 139
پهٔ ژمي کښې پهٔ نبي ﷺ باندې خوَلې راتلل 140
(٤) څلورم حکمت دَ وحي دَ بنديدو: "چې دَ نبي ﷺ مينه ورسره پيدا شي، او بوج پرې نهٔ شي" 140
(٥) پنځم حکمت دَ وحي دَ بنديدو: "استعداد دَ پيغمبر ﷺ ئې معلومولو" 141
اشکال 141
دَ ﴿يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ﴾ دويمه معنی 143
لوئي خير قرآن دې 143
مثال 144
اشکال 145

(10) دَ دعوت اوله مرحله او اول ايمان چا راوړې وو؟...150

دَ دعوت ابتداء او اولني ايمان 150
دَ امام ابو حنيفه رحمه الله تطبيق 151
دَ شيخ الحديث مولانا محمد ادريس کاندهلوي رحمه الله قول 151
دَ خديجة الکبری رضي الله عنها نبي ﷺ له تسلي 152
پهٔ ابتداء کښې مونځ څو تائمه وو؟ 153
دَ معراج پهٔ شپه دَ مونځونو فرض کيدل 154
دَ يَو نيکئ بدله پهٔ لس 154
دَ نبي ﷺ سيدنا علي رضي الله عنه ته دعوت ورکول 155
دَ علي رضي الله عنه اسلام قبلول 156
ابو طالب ته دعوت ورکول 157
دَ جعفر بن ابي طالب رضي الله عنه ايمان راوړل 157
زيد بن حارثه رضي الله عنه ته دعوت 158
دَ نبي ﷺ دَ دعوت طريقه 158
دَ هر څيز خپله طريقه کار وي 158
سيدنا ابو بکر صديق رضي الله عنه له دعوت ورکول 158

فضیلت دَ ابو بکر ﷺ پهٔ علي ﷺ باندې 159
دَ شیخ الحدیث مولانا محمد ادریس کاندهلوي رحمه الله قول 160
(11) بیان دَ ښکاره تبلیغ دَ نبي ﷺ...163
دَ نبي ﷺ ښکاره دعوت چلول 163
دَ نبي ﷺ یَو یَو قبیلې ته آواز کول 164
دَ الله دَ نبي ﷺ دعوت 167
یَو یَو خاندان له دَ نبي ﷺ دعوت ورکول 167
دَ ابو لهب کار 169
پهٔ اول دور دَ جهري دعوت کښې دَ نبي ﷺ باره کښې دَ مشرکینِ مکه بدنامې لګول 170
دَ ولید بن مغیره مشوره 172
(12) پهٔ نبي ﷺ دَ مشرکانو اعتراضونه کول...176
اول خپلوان راغونډول 176
د رسول الله ﷺ دَ مخالفینو کردار 176
اولنئ طریقه 177
دَ ټولو نه زیات صادق او امین باره کښې دَ مشرکینو اعتراضات 177
دَ الله دَ طرف نه تسلّي 179
ګوره! پخوانو انبیاء کرامو ﷩ پورې ټوقې کړې شوې وې!!! 180
پهٔ خوراک او څښکاک کولو باندې اعتراض 180
بل اعتراض: دا خو بشر دې 181
بل اعتراض دَ مشرکانو پهٔ نبي ﷺ باندې 181
دَ دوي دَ دې اعتراض جواب 182
دَ فرشتو راتلل 183
بل اعتراض: پهٔ قرآن اوریدو باندې 185
دَ نضر بن حارث کار 186
دَ طفیل بن عمرو الدوسي رضي الله عنه ایمان راوړل 187
دَ ضمّاد ایمان راوړل 189
(13) دَ نبي ﷺ ملګرو له دَ مشرکینو تکلیفونه ورکول...192
دَ نن بیان موضوع 192

دَ نبي ﷺ ملګرو له تکلیفونه ورکول 193
پهٔ زرهٔ کښې دَ ایمان حقانیت 193
دَ ابو جهل لعین کار 193
دَ سیدنا عثمان بن عفّان رضی الله عنه تکالیف 194
دَ مصعب بن عمیر رضی الله عنه تکالیف 194
دَ صهیب بن سنان الرومي رضی الله عنه تکالیف 195
دَ سیدنا بلال رضی الله عنه حالت 196
دَ ابو بکر رضی الله عنه صدیق دَ بلال رضی الله عنه آزادول 199
دَ عمار بن یاسر رضی الله عنه تکالیف 199
دَ سمیه رضی الله عنها تکالیف 200
دَ سیدنا عمّار رضی الله عنه تکالیف 200
دَ ابو فکیهه رضی الله عنه تکالیف 201
دَ سیدنا خباب بن ارت رضی الله عنه حالت 202
دَ زنیره رضی الله عنها تکالیف 202
دَ ام عُمیس رضی الله عنها تکالیف 203
دَ یوې بلې وینزې تکالیف 203
دَ ابو بکر صدیق رضی الله عنه دَ دې خلقو اغستل او آزادول 203

(14) دَصحابه کرامو رضی الله عنهم حبشې ته هجرت...207

دَ نبي ﷺ صحابه کرامو رضی الله عنهم ته دَ هجرت مشوره ورکول 207
مهاجرین سړي 208
مهاجرینې زنانه 209
دَ کافرانو صحابؤ رضی الله عنهم پسې روانیدل 209
حبشه کښې دَ وخت دَ تیریدو موده 210
دَ مشرکانو تکلیفونه سیوا کول 210
دَ کافرانو دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم پسې حبشې ته تلل 211
بادشاه سره ملاقات 211
دَ نجاشي بادشاه تحقیق کول 212
د بادشاه صحابه کرام رضی الله عنهم راغوښتل 212

دَ سيدنا جعفر رضي الله عنه تقرير...... 213
دَ بادشاه ژړل...... 214
بادشاه ته دَ كافرو بل رپورټ...... 215
دَ جعفر رضي الله عنه بادشاه ته متوجّه كيدل او دَ كافرو نه تپوس كول...... 216
دَ صحابه كرامو ﷺ واپس راتلل...... 219
دَ نجاشي بادشاه نبي ﷺ ته سلام او پهٔ هغهٔ باندې ايمان راوړل...... 220
دَ نبي ﷺ نجاشي بادشاه ته دعاء كول...... 220
پهٔ نجاشي باندې غائبانه جنازه كول...... 221
دَ احنافو مذهب...... 221

(15) دَسيدنا حمزه رضي الله عنه اودَسيدنا عمر فاروق رضي الله عنه ايمان راوړل...223

پهٔ دارِ ارقم كښې دَ نبي ﷺ او دَ صحابه كرامو ﷺ را جمع كيدل...... 223
دَ حافظ عراقي رحمه الله قول...... 224
دَ سيدنا حمزه رضي الله عنه اسلام راوړل...... 225
دَ سيدنا حمزه رضي الله عنه دَ الله نه دعا غوښتل...... 227
دَ سيدنا حمزه رضي الله عنه توله شپه خوب نهٔ كول...... 227
دَ حمزه رضي الله عنه اشعار...... 228
دَ سيدنا عمر فاروق رضي الله عنه ايمان راوړل...... 229
دَ ابو جهل لعين اعلان...... 229
دَ سيدنا عمر رضي الله عنه دَ نبي ﷺ قتل پسې روانيدل...... 230
دَ امام احمد رحمه الله قول...... 230
دَ سيدنا عمر رضي الله عنه دَ خپلې خور كور ته تلل...... 232
دَ نبي ﷺ دعاء خاص دَ عمر رضي الله عنه دپاره...... 234
دَ عمر بن الخطاب رضي الله عنه دَ نبي ﷺ خوا ته راتلل...... 235

(16) مقاطعه بني هاشم اوهغې باندې خط ليكل او بيت الله كښې اويزا نول...238

قريش دَ مسلمانانو دَ حال نه خبريدل او بيا دَ مسلمانانو نه دَ بائيكاټ اعلان كول...... 238
دَ نبي ﷺ پهٔ خلاف كښې ليكل كول...... 239
دَ نبي ﷺ مخالف...... 240
دَ سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه رومبنې حالت...... 240

دَ سعد بن ابي وقاص ﷺ دويم حالت 240
دَ حکیم بن حزام او دَ ابو جهل بحث 241
دَ ابو البختري او ابو جهل بحث 242
دَ هشام بن عَمرو حالت 242
دَ قریشو معاهده باندې دَ الله رب العزة وينهٔ مسلّط کول 244
دَ ابو بکر صدیق ﷺ هجرت کول 245
دَ قریشو شرط 247
دَ ابو طالب وفات 248
دَ ابو طالب باره کښې دَ جمهورو مسلک 249
دَ سیدة خدجة الکبری ﷺ وفات 250

(17) دَ نبي ﷺ قبائلوله دعوت ورکول او دَ طائف واقعه...254

دَ نبي ﷺ دَ مکې نه بهر خلقو له دَ اسلام دعوت 255
دَ نبي ﷺ طائف ته تلل 255
پهٔ لاره تلل او دَ نبي ﷺ خلقو له دعوت ورکول 255
دَ نبي ﷺ دَ طائف نه اوباسل 256
دَ نبي ﷺ دَ غلام زید بن حارثه ﷺ حالت 257
دَ نبي ﷺ يَو باغ ته رسيدل او دَ الله نه دعاء کول 258
دَ ربیعه دَ ځامنو دَ نبي ﷺ خوا ته راتلل 259
دَ رسول الله ﷺ دَ عدّاس نه تپوس کول 259
دَ عدّاس دَ نبي ﷺ نه تپوس کول 260
دَ نبي ﷺ مکې ته واپس راتلل او دَ جبرئیل امین ﷺ سره ملاقات کول 261
دَ جنّاتو حاضریدل 263

(18) معراج النبي ﷺ...265

يَو لويه معجزه 265
معراج او إسراء کښې فرق 265
دَ مفسر قرطبي او قاضي عياض ﷺ اقوال 266
(۱) اول قول: دَ معراج دَ نبي ﷺ باره کښې: چې دا بالروح وو فقط 266
(۲) دويم او صحيح قول: قاضي عياض ﷺ ذکر کوي: دا روح مع الجسد وو 267

(۳) دریم قول. دَ معراج دَ نبي ﷺ باره کښې 268
دَ سیدنا انس بن مالک رضي الله عنه روایت 268
دَ اسلام نه مخکښې آسمان ته ختل 270
دَ دروغو واقعه 273
بیت المعمور څهٔ څیز دې؟ 275
نبي ﷺ سره دَ الله تعالی مناجات 276
دَ ګناه اراده 278
دَ معراج واقعه پهٔ یَو بل روایت سره 279
دَ سود خور سزا 282
جائز غیبت 285

(19) پهٔ مدینه منوّره کښې دَ اسلام ابتداء...288

پهٔ مدینه منوّره کښې دَ اسلام ابتداء 288
دَ خزرج دَ قبیلې څهٔ خلق حج ته تلل 289
دَ خزرج دَ خلقو ایمان راوړل 290
مصعب بن عمیر او عبد الله بن ام مکتوم رضي الله عنهما دَ دعوت دپاره لیږل 291
دَ أُسَید بن حضیر رضي الله عنه دَ مصعب بن عمیر رضي الله عنه خوا ته راتلل 291
دَ سعد بن معاذ رضي الله عنه دَ مصعب بن عمیر رضي الله عنه سره راتلل 293
دَ سعد بن معاذ قوم رضي الله عنه له دَ ایمان دعوت ورکول 295
دَ جُمعې دَ مونځ ابتداء 296
دَ عَمرو بن الجموح رضي الله عنه واقعه 297
دَ عَمرو بن الجموح رضي الله عنه اشعار 299
بیعت 300
غزوه خندق پهٔ موقع دَ نبي ﷺ شعر وئیل 301

(20) دَ رسول الله ﷺ مدینې منوّرې ته هجرت...304

دَ هجرت واقعه 304
دَ هجرت پهٔ کولو باندې مسلمانانو ته تکلیفونه رسیدل 305
دَ امام محمد بن اسحاق ؒ قول 305
دَ ابو سلمه عبد الاسد المخزومي رضي الله عنه پهٔ هجرت باندې قریش خبریدل 306

دَ يو کس په ام سلمه ؓ رحم راتلل 307
دَ ام سلمه ؓ يواځې هجرت کول 307
دَ يو کافر دَ ام سلمه ؓ مديني منوّرې ته رسول 308
دَ عُتبه او دَ ابو جهل حال 309
مُهاجرې زنانه 310
دَ عياش بن ابي ربيعه ؓ هجرت کول او ورسره دَ ابو جهل چل کول 311
په دار الندوه کښې دَ کافرانو راجمع کيدل 312
دَ رسول الله ﷺ دَ هجرت ابتداء 314

(21) دَ نبي ﷺ مديني منوّرې ته دَ هجرت کولو په وخت
کښې په لاره کښې نا آشنا نا آشنا حالات راتلل.....319

نبي ﷺ ته دَ يو کافر دَ مديني لار ښودل 320
په لاره کښې نا آشنا نا آشنا حالات راتلل 320
يو نا آشنا حالت، واقعه دَ ام معبد ؓ 321
دَ ابو معبد ؓ ايمان راوړل 323
دويم نا آشنا حالت: واقعه دَ سراقه بن مالک بن جعشم 324
ابو جهل ته دَ سراقه خپله واقعه بيانول 327
دَ نبي ﷺ دَ معجزې تشبيه دَ موسى ؑ دَ معجزې سره 328
دَ سراقه نورو خلقو لره واپس کول 328
دريم نا آشنا حالت: دَ بريدة الأسلمي ؓ واقعه 329
دَ نبي ﷺ ابو بکر ؓ ته وينا 331
دَ مديني دَ خلقو سحر وختې دَ کور نه راوتل 331

(22) په مدينه منوره کښې دَ هجري کال ابتداء او نبي ﷺ دَ چا په کور کښې پاتې کيدو؟.....334

اول دَ نبي ﷺ قباء ته راتلل 334
په قباء کښې دَ نبي ﷺ اولنې کار 335
په قباء کښې دَ مونځ فضيلت 335
دَ نبي ﷺ مديني منوّرې ته روانيدل او په لاره کښې دَ نبي ﷺ دَ جُمعې اولنۍ خطبه وئيل 336
دَ اسلامي تاريخ ابتداء 339
دَ هجرت کال نه دَ اسلامي تاريخ ابتداء 340

دَ نبي ﷺ دَ استقبال دپاره ورې جينکۍ اودريدل.......... 342
دَ براء بن عازب ﷺ روايت 343
دَ انس بن مالک ﷺ روايت.......... 343
دَ ابو ايوب ﷺ دَ کور مخې له دَ نبي ﷺ دَ اوښې کيښناستل 344
په بره چت اوبهٔ اوړيدل 345
دَ ابو ايوب انصاري ﷺ نبي ﷺ له ډوډۍ تيارول.......... 345
دَ نبي ﷺ دَ ابو ايوب انصاري ﷺ کره دَ پاتې کيدو وجه.......... 346
دَ تُبّع بادشاه دَ اسلام اظهار 347

(23) پهٔ مدينه منوّره کښې دَ يهودو علماؤ پهٔ نبي ﷺ باندې ايمان راوړل...350

دَ يهودو دَ علماؤ ايمان راوړل 351
دَ سيدنا ابو هريره ﷺ روايت 352
دَ عبد الله بن عباس ﷺ روايت 353
دَ ابن صوريا واقعه 354
دَ عبد الله بن سلام ﷺ دَ اسلام واقعه.......... 354
دَ عبد الله بن سلام ﷺ دَ نبي ﷺ نه اوله خبره اوريدل 355
پهٔ توراة کښې دَ نبي ﷺ صفت.......... 357
دَ نبي ﷺ دَ يهودو نه دَ عبد الله بن سلام ﷺ باره کښې تپوس.......... 358
دَ سلمان فارسي ﷺ ايمان راوړل 360
دَ سلمان فارسي ﷺ مديني ته تلل.......... 363
دَ غزوه خندق باره کښې دَ سلمان فارسي ﷺ مشوره.......... 368

(24) دَ مسجد نبوي تعمير...370

پهٔ مدينه منوّره کښې دَ نبي ﷺ اول کار.......... 370
دَ نبي ﷺ حکم کول.......... 372
دَ امام ابو حنيفه او امام مالک رحمهما الله مذهب 373
دَ سيدنا علي ﷺ شعر وئيل 375
دَ علي ﷺ عثمان بن مظعون ﷺ پسې مزاح.......... 376
دَ سيدنا عثمان ﷺ سره دَ خلقو اختلاف.......... 377
دَ وليد بن عبد الملک اعلان 379

دَ سهل بن حنیف ﷺ آفسوس 379
دَ انصارو او مهاجرینو پهٔ مینځ کښې مواخات قائمول 379
(25) دَ اذان ابتداء او دَ صحابي خوب لیدل...383
اختلاف دَ أئِمّو رحمهم الله 384
پهٔ ابتداء کښې دوه مونځونه 384
دَ مکې پهٔ دور کښې دَ نبي ﷺ مونځ 384
دَ اذان نه مخکښې دَ خلقو مانځهٔ دپاره جمع کول 385
دَ نبي ﷺ او دَ صحابه کرامو ﷺ مشوره کول 385
دَ غیر مذهبو سره مشابهت 386
دَ مشرکانو خلاف کول 388
دَ کسرٰی دَ قاصدانو راتلل 388
دَ بوق غږولو باره کښې مشوره 389
دَ اُور بلولو باره کښې مشوره 390
دَ اذان ابتداء دَ هغې دپاره دَ نبي ﷺ او دَ صحابه کرامو ﷺ سوچ 390
دَ عبد الله بن زید بن عبد ربّه ﷺ خوب لیدل 391
دَ سیدنا عمر فاروق ﷺ خوب لیدل 392
دَ اقامت ابتداء 393
دَ علامه ابن حجر رحمه الله قول 395
اشکال 396
جواب 396

بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ

(سورة التوبة: 128)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه اوله

"دَ نبي ﷺ نسب او دَ هغې شرافت"

بتاريخ: 2021-12-10

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّآني حفظه الله

سيرة النبي ﷺ حصه اوله

"دَ نبي ﷺ نسب او دَ هغې شرافت "

اَلْحَمْدُ لله نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ به وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْه وَنَعُوْذُ بالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسنَا وَمِنْ سيِّآت أَعْمَالنَا، وَنَعُوْذُ بالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسنَا وَمِنْ سيِّآت أَعْمَالنَا، وَنَعُوْذُ بالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسنَا وَمِنْ سيِّآت أَعْمَالنَا، مَنْ يَهْده اللهُ فَلاَ مُضلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْللْهُ فَلاَ هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَديٌّ سَرْمَديٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخرَ لَهٗ لَا ضدَّ لَهٗ وَلَا ندَّ لَهٗ وَلَا مُمدَّ لَهٗ وَلَا بَشيرَ لَهٗ وَلَا نَذيرَ لَهٗ وَلَا وَزيْرَ لَهٗ وَلَا مُشيرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفيْعَنَا وَحَبيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَعَلٰى آله وَأَصْحَابه وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ باللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ الله الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ﴾.[1]

قَالَ رَسُولُ الله ﷺ: «إِنَّ اللهَ اصْطَفَى مِنْ وُلْدِ إِبْرَاهِيمَ، إِسْمَاعِيلَ، وَاصْطَفَى مِنْ وُلْدِ إِسْمَاعِيلَ بَنِي كِنَانَةَ، وَاصْطَفَى مِنْ بَنِي كِنَانَةَ قُرَيْشًا، وَاصْطَفَى مِنْ قُرَيْشٍ بَنِي هَاشِمٍ، وَاصْطَفَانِي مِنْ بَنِي هَاشِمٍ».[2]

حاضرينو عزتمندو مسلمانانو رونړوا الله رب العزة چې څومره پيغمبران راليږلي دي نو هغه پيغمبران پهٔ تمامو انسانانو کښې بهترين خلق وي. دَ هغوي ژوند دَ پيدائش نه واخلې تر وفات پورې يَو عجيب او نا آشنا وي.

دَ ټولو پيغمبرانو سردار

بيا دَ ټولو پيغمبرانو سردار زمونږ پيغمبر محمد ﷺ دے. دَ هغهٔ زندګي هغه دَ ټولو نه اعلیٰ، ارفع او اوچته زندګي وه. دَ رسول الله ﷺ دا ژوند الله رب العزة زمونږ دپاره يَو نمونه ګرځولې ده. دَ نبي ﷺ باره کښې الله رب العزة فرمائي:

﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾.[3]

---

(1) [سورة التوبة: 128].

(2) أخرجه الترمذي في أبواب المناقب، باب في فضل النبي ﷺ، برقم: (3605).

(3) [سورة الأحزاب: 22].

"يقينًا شته دے ستاسو دپاره پهٔ باره دَ رسول الله ﷺ کښې نمونه دَ تابعدارئ ښائسته".

دَ نبوت نه بعد والا زندګئ کښې دَ هغوي اتباع ضروري ده، او هغه دَ اُمّت دپاره يَو نمونه ده.

دَ نبوت نه مخکښې ژوند

خو دَ رسول الله ﷺ اخلاق حسنه، دَ نبي ﷺ ژوند هغه دَ نبوّت نه مخکښې هم ډير اعلٰى او ډير ارفع او اوچت وو. او ډير مزيدار وو. خلق ترې ډير متأثره وو. هر نبي چې الله تعالٰى راليږي نو پهٔ اوچتو خلقو او اوچت خاندان کښې ئې راليږي. زمونږ دَ پيغمبر پاک ﷺ سيرت پهٔ دې باندې پهٔ جلدونو کتابونه علماؤ ليکلي دي، ليکن مکمل کړي ئې نهٔ دے؛ ځکه چې دَ نبي ﷺ دَ ژوند سيرت ډير زيات دے.

نن بيان کښې به ان شاء الله زهٔ دَ رسول الله ﷺ صرف نسب بيانوم، وروسته جُمعه کښې سيرت دَ رسول الله ﷺ: پيدائش بيا دَ ماشوم والي زندګي دَ نبوّت نه مخکښې زندګي دَ نبوّت نه روستو زندګي، بيا دَ مکې زمانه، بيا دَ مديني زمانه دا دَ رسول الله ﷺ يَو مستقل سيرت دے. هغه ټول بيانول دَ کلونو خبرې دي، خو چې کومې لوئي لوئي خبرې دي هغه به ذکر کړو.

دَ ټولو نسبونو نه اعلى نسَب

دَ ټولو نه اول دَ رسول الله ﷺ نسب دا پهٔ تمامو نسبونو کښې اعلٰى وو. ما چې کوم آيت لوستلے وو دَ دې آيت پهٔ تفسير کښې علماؤ ليکلي دي... دَ سورة التوبه آيت دے، الله تعالٰى فرمائي:

﴿لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ﴾.(1)

الله تعالٰى وائي: "پهٔ تحقيق سره راغلے دے تاسو ته ډير لوئي پيغمبر ستاسو دَ جنس نه (ستاسو پشان انسان دے)، ګران لګي پهٔ دې پيغمبر ﷺ باندې هغه چې تاسو پرې تنکيرږئ، حرص کونکے دے ستاسو پهٔ فائده باندې، مومنانو باندې شفقت کونکے او رحم کونکے دے".

دَ پيغمبر ﷺ صفات الله رب العزة ذکر کړل: (۱) پيغمبر ﷺ ستاسو پهٔ شان انسان دے. (۲) چې پهٔ څهٔ باندې تاسو تنکيرږئ هغه پهٔ پيغمبر ﷺ باندې ګران لګي. (۳) پيغمبر ﷺ حريص دے

(1) [سورة التوبة: 128].

ستاسو پۀ فائده باندې يعني پۀ كوم كار كښې چې ستاسو فائده ده هغې باندې حريص دے، دَ هغې حرص كوي چې هغۀ ماته حاصل شي؛ دَ دې دپاره چې امت ته فائده اورسيږي. (٤) مومنانو باندې شفقت كونكے دے او (٥) مومنانو باندې رحم كونكے دے. دا دَ پيغمبر ﷺ اوصافِ حسنه شو.

دَ مفسر قرطبي رحمه الله قول

دلته مشهور قراءت: "مِنْ أَنْفُسِكُمْ" دے. خو يَو بل قراءت هم دې كښې راغلے دے علامه قرطبي رحمه الله ليكلي دي:

"وَقَرَأَ عَبْدُ اللهِ بْنُ قُسَيْطٍ الْمَكِيُّ "مِنْ أَنْفَسِكُمْ" بِفَتْحِ الْفَاءِ".[1]

"او لوستلو به عبد الله بن قسيط مكي "من أنفُسكم" پۀ فتحې دَ فاء سره (أنفَسِكُمْ)".

يَو عالم دے عبد الله بن قيسط المكي هغۀ به دا آيت پۀ فتحې دَ فاء سره لوستلو. دَ دې معنٰى داسې راځي: "پۀ تاسو كښې غوره انسان، پۀ تاسو كښې بهترين انسان". نو الله تعالٰى وائي: "پۀ تحقيق سره راغلے دے تاسو ته رسول داسې رسول او داسې پيغمبر چې تاسو ټولو كښې هغه غوره او بهتر دے". پۀ هر لحاظ سره بهتر دے.

دَ سيدة فاطمه رضي الله عنها روايت

فاطمه رضي الله عنها چې دَ نبي ﷺ لور ده، هغې دَ نبي ﷺ نه نقل كړي دي: چې رسول الله به فرمائيل: «أَيْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَشْرَفِكُمْ وَأَفْضَلِكُمْ».[2] "تاسو ته رسول راغلے دے داسې رسول چې هغه تاسو ټولو كښې اوچت نسب والا دے، او تاسو ټولو كښې بهترين انسان دے".

نو نبي ﷺ پۀ ټوله دنيا كښې اوچت نسب والا وو، بهترين نسب والا وو.

دَ عربو مقوله

عرب وائي: "شيئٌ نفيسٌ". دا هغوي هغه وخت كښې وائي: چې كله يَو څيز پۀ ټولو كښې بهتر وي، محبوب وي دَ خلقو ورسره مينه ډيره وي.

(1) انظر: "تفسير القرطبي": (301/8).

(2) انظر: "تفسير القرطبي": (301/8).

دَ واثلة بن اسقع ﷺ روايت

قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «إِنَّ اللهَ اصْطَفَى مِنْ وُلْدِ إِبْرَاهِيمَ، إِسْمَاعِيلَ، وَاصْطَفَى مِنْ وُلْدِ إِسْمَاعِيلَ بَنِي كِنَانَةَ». "واثله بن اسقع ﷺ وائي: رسول الله ﷺ وئيلي وو: يقينًا الله تعالىٰ دَ اولاد دَ ابراهيم ﷺ نه اسماعيل ﷺ غوره کړے او غوره کړے دے، او دَ اسماعيل ﷺ دَ اولاد نه ئې بنو کنانه غوره کړي او بهتر جوړ کړي دي".

بنو کنانه دا دَ اسماعيل ﷺ اولاد کښې راتلل خو دا پهٔ هغې ټولو کښې بهترين خاندان او بهترينه کورنۍ وه؛ الله غوره کړې وه. او بيا وريسې نبي ﷺ وائي:

«وَاصْطَفَى مِنْ بَنِي كِنَانَةَ قُرَيْشًا». "بيا الله رب العزة دَ بنو کنانه نه قريش غوره کړي".

نو قريش چې دي دوي الله تعالىٰ دَ بنو کنانه نه غوره کړي دي او غوره کړي ئې دي. بنو کنانه کښې قريش يَو وړه قبيله وه. او بيا نبي ﷺ فرمائي:

«وَاصْطَفَى مِنْ قُرَيْشٍ بَنِي هَاشِمٍ، وَاصْطَفَانِي مِنْ بَنِي هَاشِمٍ».(1)

"او پهٔ قريشو کښې الله تعالىٰ بنو هاشم غوره کړل، او بيا ئې زهٔ پهٔ بنو هاشمو کښې غوره کړم".

نو پهٔ غوره کښې غوره پهٔ ټول اولاد دَ اسماعيل ﷺ کښې بهترين خاندان، بهترينه کورنۍ بنو کنانه ده، او بيا پهٔ بنو کنانه کښې بهترين خاندان هغه قريش دي، بيا پهٔ قريشو کښې بهترين خاندان هغه بنو هاشم دي او بنو هاشم کښې بهترين خاندان، خاندان دَ رسول الله ﷺ دے. نو نبي ﷺ پهٔ ټولو خلقو کښې بهترين قوم او بهترين نسب والا وو.

دَ ابوهريرة ﷺ روايت

ابوهريره ﷺ وائي: نبي ﷺ فرمائي:

«بُعِثْتُ مِنْ خَيْرِ قُرُونِ بَنِي آدَمَ، قَرْنًا فَقَرْنًا، حَتَّى كُنْتُ مِنَ الْقَرْنِ الَّذِي كُنْتُ فِيهِ».(2)

---

(1) أخرجه الترمذي في أبواب المناقب، باب في فضل النبي ﷺ، برقم: (3605).

(2) أخرجه البخاري في كتاب المناقب، باب صفة النبي ﷺ، برقم: (3557). وقاضي عياض بن موسى في "الشفا بتعريف حقوق المصطفى": (82/1).

"زۀ الله تعالیٰ پۀ هغه تمامو پیړو دَ آدم علیه السلام کښې بهترینه پیړۍ کښې کرځولے یم. زما خاندان دَ آدم علیه السلام دَ زمانې نه راواخلې تر دې زمانې پورې دا پاک خاندان، بهترین خاندان وو، تر دې چې زۀ هم الله پۀ دې خاندان کښې پیدا کړم".

دَ آدم علیه السلام دَ وخت نه الله تعالیٰ دا سلسله داسې راروانه کړې وه.

دَ نبي علیه السلام فرمانِ مبارکه

دَ دې وجې نه یَو روایت کښې راځي: نبي علیه السلام فرمائي:

«إِنِّي مِنْ نِكَاحٍ وَلَسْتُ مِنْ سِفَاحٍ».(1)

"زۀ دَ نکاح بچے یم او زۀ نسلًا بعد نسلٍ حلالي یم".

مطلب دا دے: زما خاندان کښې چرته چا زِنا نۀ ده کړې، چې دَ هغې زِنا نه څوک پیدا شوي وي او زۀ دَ هغوي پۀ اولاد کښې راشم. زما خاندان څومره چې دے هغه ټول حلالیان دي، هغوي ودونه کړي دي، دَ هغې نکاح نه پس ورله الله بچي ورکړي دي. زما پۀ خاندان کښې دَ چا بچے دَ زِنا نه نۀ دے پیدا. نو دَ نبي علیه السلام بره خاندان کښې هم چرته دَ چا نه زِنا نۀ ده راغلې. داسې پاک، صفا او سوتره الله رب العزة دَ نبي علیه السلام خاندان ساتلے وو. نو خاندان دَ نبي علیه السلام پۀ تمامو عربو کښې بهترین خاندان دے.

دَ عبد الله بن عمر رضی الله عنه روایت

دَ دې وجې نه "الشفا" کښې قاضي عیاض رحمه الله یَو روایت نقل کړے دے: دَ عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه نقل دي چې دَ الله پیغمبر علیه السلام فرمائیلي دي:

«إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ اخْتَارَ خَلْقَهُ فَاخْتَارَ مِنْهُمْ بَنِي آدَمَ».

دَ دې نه به اوس تۀ پته اولګوې چې دَ نبي علیه السلام انتخاب الله تعالیٰ پۀ ټول مخلوق کښې کړے دے. پۀ مخلوق کښې داسې هیڅ څوک نشته دے چې دَ محمد رسول الله ﷺ نه بهتر وي.

(1) انظر: "تفسير القرطبي": (301/8).

نبي ﷺ وائي: "الله خپل مخلوق غوره کولو نو په هغې تولو کښې الله بني آدم غوره کړو".

په تولو مخلوقاتو کښې غوره او بهترین مخلوق چې دے نو هغه بني آدم دے، انسانان هغه په تولو کښې بهترین مخلوق دے. دومره مخلوق چې حساب ئې نۀ کيږي اوچه کښې دي، سمندر کښې دي خو په دې تولو کښې بهترین هغه بني آدم دے.

دَالله تعالیٰ اعلان

الله رب العزة وائي: ﴿وَلَقَدۡ كَرَّمۡنَا بَنِيٓ ءَادَمَ﴾.[1]

"زما دې پخپل ذات قسم وي چې ما بني آدم په تول مخلوق کښې بهتر کړځولے دے".

دا خو دے خپل ځان نۀ پیژني. نو اشرف المخلوقات هغه انسانان دي، هغه اولاد دَ آدم ﷺ دے. بیا دَ الله نبي ﷺ فرمائي:

«ثُمَّ اخْتَارَ بَنِي آدَمَ فَاخْتَارَ مِنْهُمُ الْعَرَبَ».

"بیا ئې دَ آدم ﷺ اولاد غوره کړل نو غوره ئې کړل دَ دوي نه عرب".

نو بیا خو دَ آدم دَ بچو نه توله دنیا ډکه ده، دا تول انسانان دَ آدم ﷺ اولاد دے نو هغه تول الله غوره کول نو په تمام اولاد دَ آدم ﷺ کښې چې الله ته خوښ شول او په الله باندې ډیر ګران وو نو هغه عرب دي. عرب قوم دَ تولې دنیا والو نه بهتر قوم وو. بیا دَ الله نبي ﷺ فرمائي:

«ثُمَّ اخْتَارَ الْعَرَبَ فَاخْتَارَ مِنْهُمْ قُرَيْشًا».

"بیا الله رب العزة په عربو کښې غوره کولو نو غوره ئې کړل دَ دوي نه قریش".

نو عرب خو ډیر شے دي کنه! هغې کښې چې الله غوره مخلوق پیدا کولو نو دَ تولو عربو نه چې الله تعالیٰ خپل ځان ته ډیر خوښ کړل او غوره ئې کړل نو قریش خاندان ئې غوره کړو. نو په عربو کښې دَ الله خوښ چې دي او دَ الله په نزد غوره چې دي نو هغه قریش دي.

«ثُمَّ اخْتَارَ قُرَيْشًا فَاخْتَارَ مِنْهُمْ بَنِي هَاشِمٍ».

"بیا ئې قریش غوره کړل نو په هغوي کښې ئې بنو هاشم غوره کړل".

---

(1) [سورة الإسراء: 70].

نو په قریشو کښې چې بیا کوم دَ هاشم اولاد راتلو نو دا بهترین خاندان شو.

بیا دَ الله نبي ﷺ فرمائي:

«ثُمَّ اخْتَارَ بَنِي هَاشِمٍ فَاخْتَارنِي مِنْهُمْ».[1]

"بیا الله په بنو هاشم کښې غوره کولو نو زهٔ ئې پکښې غوره کړم".

حاصل

تمام مخلوق کښې غوره مخلوق اولاد دَ آدم عليه السلام دے، بیا په تمام اولاد دَ آدم عليه السلام کښې بهترین مخلوق چې دے هغه عرب دي، او په تمامو عربو کښې بهترین مخلوق چې دے هغه قریش دي، او په ټولو قریشو کښې بهترین مخلوق هغه قریش دي، او په ټولو قریشو کښې بهترین هغه بنو هاشم دي او په بنو هاشم کښې بهترین چې دي هغه دَ رسول الله ﷺ خاندان دے. بیا نبي ﷺ فرمائي:

«فَلَمْ أَزَلْ خِيَارًا مِنْ خِيَارٍ».

"نو زهٔ همیشه دَ آدم عليه السلام دَ زماني نه راواخلې بس په بهترینو بهترینو خاندانونو کښې راروان یم".

انسان په تمامو مخلوقاتو کښې بهتر دے بیا عرب دي نو عرب په تمامو انسانانو کښې بهتر دي، بیا په عربو کښې قریش بهتر او بیا په قریشو کښې بنو هاشم بهتر او بیا نبي ﷺ په ټول قریشو کښې بهتر دے؛ ځکه نبي عليه السلام وائي: چې زهٔ دَ ابتداء نه په بهترین خاندان کښې راروان یم.

دَ عربو سره محبت

بیا دَ الله نبي ﷺ فرمائي:

«أَلَا مَنْ أَحَبَّ الْعَرَبَ فَبِحُبِّي أَحَبَّهُمْ وَمَنْ أَبْغَضَ الْعَرَبَ فَبِبُغْضِي أَبْغَضَهُمْ».[2]

چونکه دَ الله نبي ﷺ عربي دے نو وائي: "خبردارا څوک چې دَ عربو سره مینه کوي نو دا اصل کښې په ما مئین دے؛ ځکه دَ عربو سره مینه لري او څوک چې دَ عربو سره بُغض کوي نو دا ئې زما سره نهٔ لګي؛ ځکه ئې دَ عربو سره نهٔ لګي".

(1) انظر: "الشفا بتعريف حقوق المصطفى ﷺ" لقاضي عياض: (82/1).

(2) انظر: "الشفا بتعريف حقوق المصطفى ﷺ" لقاضي عياض: (82/1).

دَ عربو سره مینه دَ دې وجې نه کوه: چې زمونږ پیغمبر عربي ﷺ عربي دے. نو خبره مې دا کوله چې پهٔ ټولو کښې اعلٰی نسب دَ رسول الله ﷺ دے.

پهٔ فضیلت دَ محمد رسول الله ﷺ باندې دَ دشمنا نو دَ اسلام اقرار

دا خو مشهوره خبره ده:

"وَالْفَضْلُ مَا شَهِدَتْ بِهِ الْأَعْدَاءُ".

"فضیلت هغه دے چې دشمنان پرې اقرار اوکړي".

دا خو هر سړے وائي: چې زهٔ بهتر یم، هر سړے ځان ته بهتر وائي. خو چې کله دَ دشمن دَ خُلې نه دَ یَو سړي صفت راوځي نو پوهه شه چې دا دَ کمال والا سړے دے؛ ځکه چې دشمن هم دَ دهٔ صفت کوي، دشمن هم دَ دهٔ دا خبره مني.

اعلٰی نسب دَ نبي ﷺ داسې وو چې نور خو پریږدَوه، مومنان خو پریږدَوه، خپل خو پریږدَوه. چې کافر نه به دې تپوس اوکړو نو هغهٔ به هم دا منله چې:

"هُوَ فِينَا ذُو نَسَبٍ".[1]

"هغه مونږ کښې دَ اوچت نسب خاوند دے".

"صحیح البخاري" کښې اوږده واقعه ده، چرته پهٔ یَو موقع به ئې بیان کړو. هرقل دا دَ روم بادشاه وو. دے دَ ابوسفیان نه تپوس کوي.... هغه وخت کښې ابو سفیان دَ پیغمبر ﷺ سخت دشمن وو، دَ کافرانو غټ سردار وو. چونکه نبي ﷺ هرقل ته خط لیږلے وو نو هرقل تپوس اوکړو چې: دَ دې نبي څوک رشته دار شته؟ کهٔ دَ دهٔ څوک رشته دار وي نو رااوئې غواړئ!. ابوسفیان خو چونکه دَ نبي ﷺ سره قریب پاتې شوے وو، او لږ رشته کښې هم راتلو، نو ابو سفیان ئې رااوغوښتلو. ډیر تپوسونه ئې دَ ابوسفیان نه کول، او هغهٔ جوابونه ورکول، یَو تپوس ئې ترې دا کړے وو: ابوسفیان وائي:

"ثُمَّ كَانَ أَوَّلَ مَا سَأَلَنِي عَنْهُ أَنْ قَالَ: كَيْفَ نَسَبُهُ فِيكُمْ؟".

(1) أخرجه البخاري في بدء الوحي، كيف كان بدء الوحي إلى رسول الله ﷺ، برقم: (7).

"هرقل تپوسونه کول نو رومبنے تپوس ئي ما نه دا کړے وو: چې دا محمد ﷺ چې وائي: چې زۀ نبي يم، ما له الله تعالیٰ پيغمبري راکړې ده. نو دا راته اووايه چې: "كَيْفَ نَسَبُهُ فِيكُمْ؟". دَ دۀ نسب پۀ تاسو کښې څنګه دے؟ نسب ئې اعلیٰ دے او که نۀ دے؟".

ابوسفيان خو هغه وخت کافر دے، مسلمان نۀ دے، نو دے وائي:

"قُلْتُ: هُوَ فِينَا ذُو نَسَبٍ".

"ما ورته اووئيل: چې هغه پۀ مونږ کښې اوچت نسب والا دے".

نو دا دَ ابو سفيان جواب دے هرقل ته چې: دا پيغمبر ﷺ پۀ مونږ کښې دَ ډير لوئي نسب والا دے، پۀ نسب کښې ئې خبره نۀ ده پکار. ابوسفيان هغه وخت کښې دَ نبي ﷺ مخالف دے، روستو خو بيا صحابي جوړ شوے دے، خو بيا هم دَ انصاف نه کار اخلي او وائي: چې هغه خو پۀ مونږ کښې اوچت نسب والا دے.

دَهرقل وينا دَ محمد رسول الله ﷺ پۀ حق کښې

نو بيا هرقل ته چې کله دَ دې تپوسونو جوابونه ورکوي: چې دا تپوس مې دَ دې دپاره کړے وو، او دا تپوس مې دَ دې دپاره کړے وو... نو هرقل ورته آخر کښې وائي: ترجمان ته وائي: دۀ ته اووايه! چې:

"سَأَلْتُكَ عَنْ نَسَبِهِ فَذَكَرْتَ أَنَّهُ فِيكُمْ ذُو نَسَبٍ".

"ما ستا نه دَ دۀ دَ نسب پۀ باره کښې تپوس اوکړو نو تا ما ته اووئيل: چې دا پۀ مونږ کښې دَ اوچت نسب والا دے".

نو دا تپوس مې څکه اوکړو چې کۀ نسب ئې ورو کے وي، نسب ئې خراب وي، نسب کښې ئې عيب او نقصان وي نو دے بيا دروغ وائي، دے بيا نبي نۀ دے؛ څکه الله تعالیٰ پۀ کمزوري نسب کښې نبي نۀ راليږي. بلکه پۀ ټولو کښې چې ئې نسب اوچت وي نو الله هغه نبي جوړوي نو تا راته دا خبره اوکړه چې: "هُوَ فِيْنَا ذُوْ نَسَبٍ". "پۀ مونږ کښې دَ اوچت نسب والا دے". نو اوس هرقل پۀ خپله باندې وائي:

"فَكَذَلِكَ الرُّسُلُ تُبْعَثُ فِي نَسَبِ قَوْمِهَا".[1]

"نو دغه شان پیغمبران چې دي هغوي الله دَ قوم په اوچتو نسبونو کښې راليږي".

اوچتو خلقو کښې الله دَ هغوي نه پیغمبران جوړَوي.

مثال

کمزوري نسب والا الله نبي نهٔ جوړَوي؛ ځکه دَ هغهٔ پهٔ خبره بیا څوک عمل نهٔ کوي. (نعوذ بالله!) چې دَ يَو سړي دَ پلار کردار خراب وي، دَ مور کردار ئې خراب وي نو بيا ورته هر ځائے کښې خلق هغوي یادَوي: چې تهٔ خو دَ هغه سړي بچے ئې تهٔ هم خبرې کوې! نو الله تعالیٰ پهٔ تمامو قومونو کښې پهٔ اوچت نسب کښې ځکه لیږي؛ چې دا خلق دا اعتراض او نهٔ کړي. نو کافرانو هم دَ نبي ﷺ نسب تسلیم کړے وو، چې آؤا دے پهٔ مونږ کښې دَ اوچت نسب والا دے.

دَ رسول الله ﷺ نسب

دَ رسول الله ﷺ نسب څهٔ دے؟

نو واورئ! يَو نسب متفقٌ علیه دے تر يَو حده پورې، دَ هغې نه بره بیا هغې کښې دَ علماء اختلاف شته.

امام بخاري رحمه الله پهٔ "صحیح البخاري" کښې باب قائموي: "باب مبعث النبي ﷺ".[2] پهٔ هغې کښې دَ نبي ﷺ نوم نه واخلې او تر يَوويشتم (۲۱) نیکهٔ پورې دَ نبي ﷺ خاندان بیانوي:

«مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ المُطَّلِبِ بْنِ هَاشِمِ بْنِ عَبْدِ مَنَافِ بْنِ قُصَيِّ بْنِ كِلَابِ بْنِ مُرَّةَ بْنِ كَعبِ بْنِ لُؤَيِّ بْنِ غالِبِ بْنِ فِهْرِ بْنِ مَالِكِ بْنِ النَّضرِ بْنِ كِنَانَةَ بْنِ خُزَيْمَةَ بْنِ مُدْرِكَةَ بْنِ إِلْيَاسَ بْنِ مُضَرَ بْنِ نِزَارِ بْنِ مَعَدِّ بْنِ عَدْنَانَ».[3]

دا يَوويشت (۲۱) نیکونه دَ نبي ﷺ وو. "دَ نبي ﷺ خپل نوم محمد وو، دَ پلار نوم ئې عبد الله

(1) أخرجه البخاري في بدء الوحي، كيف كان بدء الوحي إلى رسول الله ﷺ، برقم: (7).

(2) انظر: "صحيح البخاري": (543/1).

(3) انظر: "صحيح البخاري": (543/1).

وو، دَ نيکهٔ نوم ئې عبد المطلب وو، دَ هغهٔ دَ پلار نوم هاشم وو، دَ هغهٔ دَ پلار نوم عبد مناف وو، دَ هغهٔ دَ پلار نوم قُصيّ وو، دَ هغهٔ دَ پلار نوم کلاب وو، دَ هغهٔ دَ پلار نوم مُرَّه وو، دَ هغهٔ دَ پلار نوم کعب وو، دَ هغهٔ دَ پلار نوم لؤيّ وو، دَ هغهٔ دَ پلار نوم غالب وو، دَ هغهٔ دَ پلار نوم فِهر وو، دَ هغهٔ دَ پلار نوم مالک وو، دَ هغهٔ دَ پلار نوم نضر وو، دَ هغهٔ دَ پلار نوم کنانه وو، دَ هغهٔ دَ پلار نوم خزيمه وو، دَ هغهٔ دَ پلار نوم مدرکه وو، دَ هغهٔ دَ پلار نوم الياس وو، دَ هغهٔ دَ پلار نوم مُضر وو، دَ هغهٔ دَ پلار نوم نِزار وو، دَ هغهٔ دَ پلار نوم معد وو، دَ هغهٔ دَ پلار نوم عدنان وو".

دا هغه نسب دے چې صحيح دے، مطلب دا دے: چې پهٔ دې کښې دَ هيڅ چا اختلاف نشته، ټول علماء ئې مني. دَ دې نه بعد کتابونو کښې شته تر آدم ؑ پورې علماؤ ليکلے دے.

دَ علامه ابن قيم ؒ قول

ليکن خبره داده: علامه ابن قيم ؒ "زاد المعاد" کښې ليکلي دي:

"إِلىٰ هَاهُنَا مَعْلُوْمُ الصِّحَّةِ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ بَيْنَ النَّسَّابِيْنَ، وَلَا خِلَافَ فِيْهِ اَلْبَتَّةَ، وَمَا فَوْقَ "عَدْنَانَ" مُخْتَلَفٌ فِيْهِ. وَلَا خِلَافَ بَيْنَهُمْ أَنَّ "عَدْنَانَ" مِنْ وُلْدِ إِسْمَاعِيْلَ".[1]

"تردې ځائے پورې دَ الله دَ نبي ﷺ نسب هغه معلوم دے دَ صحت پهٔ اعتبار سره، او دَ ټولو نسب والا (چې څوک نسبونه بيانوي) پهٔ اتفاق سره دې ځائے پورې ثابت دے، دَ هيڅ چا پکښې خلاف نشته دے. او دَ "عدنان" نه بره چې وريسې څې نو هغې کښې بيا اختلاف شته دے (نومونو کښې اختلاف دے). او هيڅ اختلاف نشته دے پهٔ دې خبره کښې چې "عدنان" دَ اسماعيل ؑ پهٔ اولاد (نوَسو، کروَسو) کښې راځي".

نو دَ عدنان پورې پکښې هيڅ اختلاف نشته دے خو چې اسماعيل ؑ او ابراهيم ؑ او نوح ؑ او بيا آدم ؑ ته ئې رسَوې نو پهٔ دې کښې دَ علماؤ اختلاف شته دے.

دَ علامه ابن حجر ؒ قول

دَ دې وجې نه علامه ابن حجر ؒ پهٔ "فتح الباري" شرح دَ "صحيح البخاري" کښې ليکي:

(1) انظر: "زاد المعاد" لابن القيم: (70/1).

"وَأَخْرَجَ ابن سعد من حَدِيث ابن عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا انْتَسَبَ لَمْ يُجَاوِزْ فِي نَسَبِهِ مَعَدَّ بْنَ عَدْنَانَ".[1]

وائي: "ابن سعد دَ عبد الله بن عباس ﷺ نه نقل کړي دي: چې نبي ﷺ به پهٔ خپله باندې کله دَ خپل خاندان او نسب نومونه بيانول نو دَ "معد بن عدنان" نه به مخکښې نهٔ تلو".

نو نبي ﷺ پهٔ خپله هم دَ "معد بن عدنان" نه مخکښې خپل نسب نهٔ دے بيان کړے.

دَ علامه عيني رحمه الله قول

علامه عيني رحمه الله فرمائي: چې نبي ﷺ به دَ دې نه مخکښې نهٔ تلو. او بيا وائي:

"وَاقْتَصَرَ الْبُخَارِيُّ فِي ذِكْرِ نَسَبِهِ الشَّرِيْفِ عَلٰى هَذَا وَلَمْ يَذْكُرْهُ إِلَى آدَمَ، عَلَيْهِ السَّلَامُ؛ لِأَنَّ أَهْلَ النَّسَبِ أَجْمَعُوْا عَلَيْهِ إِلَى هُنَا، وَمَا وَرَاءَ ذَلِكَ فِيْهِ اخْتِلَافٌ كَثِيْرٌ جِدًّا".

وائي: "امام بخاري رحمه الله چې هغه لوئي محدث دے هغه دَ نبي ﷺ نسب تر عدنان پورې بيانوي تر يَو ويشتم نيکهٔ پورې. آدم عليه السلام ته ئې نهٔ رسوي (وجه څهٔ ده؟)؛ وجه دا ده: چې تمام نسبونه بيانوونکي چې دې نو تردې ځائے پورې دَ هغوي اجماع ده، او دَ دې نه بره هغې کښې ډير اختلاف دے نو ځکه دَ دې نه مخکښې نور نهٔ بيانوي".

بيا وائي: "وَاخْتَلَفُوْا فِيْمَا بَيْنَ عَدْنَانَ وَإِسْمَاعِيْلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ، مِنَ الْآبَاءِ، فَقِيْلَ: سَبْعَةُ آبَاءَ بَيْنَهُمَا، وَقِيْلَ: تِسْعَةٌ، وَقِيْلَ: خَمْسَةَ عَشَرَ أَبًا، وَقِيْلَ: أَرْبَعُوْنَ".[2]

اسماعيل عليه السلام خو مشهور پيغمبر دے، دَ ابراهيم عليه السلام ځوي دے او نبي ﷺ دَ اسماعيل عليه السلام پهٔ اولاد کښې راځي. علامه عيني وائي: "علماؤ اختلاف کړے دے چې دَ عدنان (چې دا دَ نبي عليه السلام يَويشتم نمبر نيکهٔ دے) نه واخلې تر اسماعيل عليه السلام پورې څومره نيکونه تير شوي دي؟ نو چا وئيلي دي: چې اووهٔ (۷) نيکونه تير شوي، او څوک وائي: چې نههٔ (۹) نيکونه تير بشوي، او چا وئيلي دي: چې پنځلس (۱۵) نيکونه تير شوي او چا وئيلي دي: چې څلويښت (۴۰) نيکونه تير شوي دي".

(1) انظر: "فتح الباري" لابن حجر العسقلاني: (164/7).

(2) انظر: "عمدة القاري شرح صحيح البخاري" لبدر الدين العيني: (303/16).

نو اوس تهٔ به کوم يَو يادَوي دا خو مينځ کښې ډير نيکونه تير شوي دي؛ پهٔ دې وجه بس دَ "عدنان" نه مخکښې دَ پيغمبر نسب کښې تلل نهٔ دي پکار.

دَ علامه ابوالبرکات النسفي الحنفي رحمه الله قول

نو چې څوک آدم عليه السلام ته دا سلسله نسب رسَوي نو دا ښهٔ نهٔ کوي؛ امام نسفي رحمه الله ليکلي دي دَ سورة ابراهيم پهٔ آيت باندې، او پهٔ دې آيت باندې ټول مفسرين دا خبره ليکي. الله تعالىٰ فرمائي:

﴿أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَأُ الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَالَّذِينَ مِن بَعْدِهِمْ لَا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا اللَّهُ﴾.[1]

"آيا نهٔ دے راغلے تاسو ته خبر دَ هغه کسانو چې ستاسو نه مخکښې تير شوي دي چې قوم دَ نوح عليه السلام دے، عاديان دي او ثموديان دي او هغه خلق دي چې دَ دوي نه روستو پيدا شوي دي. نهٔ پيژني هغوي لره هيڅ څوک مګر صرف الله ئې پيژني".

نو دې آيت باندې امام نسفي رحمه الله ليکلي دي:

"وَرُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَالَ عِنْدَ نُزُوْلِ هَذِهِ الْآيَةِ كَذِبَ النَّسَّابُوْنَ".[2]

"او دَ نبي ﷺ نه دا روايت هم نقل دے، چې کله دا آيت نازل شو (هغه دومره خلق دي چې الله ته معلوم دي) نو دَ الله نبي ﷺ به پهٔ دې ځائے کښې فرمائيل: دا نسب والا چې کوم نسبونه بيانوي دا دوي دروغ وائي، چې آدم عليه السلام ته ئې اورسَوي".

دَ عبدالله بن عباس رضي الله عنه قول

"وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه بَيْنَ عَدْنَانَ وَإِسْمَاعِيْلَ ثَلَاثُوْنَ أَبًا لَّا يَعْرِفُوْنَ".[3]

امام نسفي رحمه الله دا روايت هم نقل کړے وائي چې: "ابن عباس رضي الله عنه وائي: چې دَ عدنان او اسماعيل عليه السلام پهٔ مابين کښې ديرش نيکونه تير شوي دي چې دوي (نسب بيانوونکي) ئې نهٔ پيژني".

---

(1) [سورة إبراهيم: 9].

(2) انظر: "تفسير النسفي": (146/2).

(3) انظر: "تفسير النسفي": (146/2).

نو دا دیرش نیکونه هم دَ نبي ﷺ خاندان کښې راځي خو چا ته معلوم نهٔ دي. مخکښې دَ خلوېښتو نیکونو پورې ذکر وو، اوس دلته دیرش راغلل.

دَ خطیب شربیني ؒ قول

"وَلِذَلِكَ كَانَ ابْنَ مَسْعُوْدٍ إِذَا قَرَأَ هَذِهِ الآيَةَ قَالَ: كَذَبَ النَّسَّابُوْنَ يَعْنِيْ أَنَّهُمْ يَدَّعُوْنَ عِلْمَ الأَنْسَابِ إِلَى آدَمَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ".[1]

خطیب شربیني وائي: "عبد الله بن مسعود ﷺ چې به دا آیت اووئیلو نو وروسته به ئې اووئیل: "كَذَبَ النَّسَّابُوْنَ". څوک چې آدم ﷺ ته نسبونه رسوي نو دوي دا دروغ وائي"؛ ځکه الله وائي: بل چا ته پته نشته.

دَ مفسر قرطبي ؒ قول

دارنګې مفسر قرطبي ؒ لیکلي دي:

"﴿لَا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا اللَّهُ﴾ أَيْ لاَ يُحْصِي عَدَدَهُمْ إِلاَّ اللهُ، وَلاَ يَعْرِفُ نَسَبَهُمْ إِلاَّ اللهُ. وَالنَّسَّابُوْنَ وَإِنْ نَسَبُوا إِلَى آدَمَ فَلاَ يَدَّعُونَ إِحْصَاءَ جَمِيعِ الأُمَمِ، وَإِنَّمَا يَنْسُبُونَ الْبَعْضَ، وَيُمْسِكُونَ عَنْ نَسَبِ الْبَعْضِ".[2]

"دَ دې آیت مطلب دا دے: چې دَ دې دومره خلقو شمیر او دَ دې دومره خلقو نسب صرف الله ته معلوم دے. او دا کوم خلق چې نسبونه بیانوي نو کهٔ چرته هغوي دَ آدم ﷺ پورې نسب رسَوي نو دوي دَ ټولو امت دَ شمیر دعوٰی نهٔ کوي؛ ځکه چې یقینًا هغوي څهٔ نومونه یاد کړي خو نور ډیر به ترې پاتې هم شي. (ځکه پوره علم خو ورسره نشته دے)".

بیا مفسر قرطبي ډیر تفصیل کړے دے، او دا ئې لیکلي دي: چې دا نسبونه دَ آدم ﷺ پورې رسول دا خبره دروغ ده.

دَ مفسر بغوي ؒ قول

دارنګې مفسر بغوي ؒ یعني فراء بغوي لیکلي دي: "چې دَ دې پته صرف یَو الله ته ده". بیا

(1) انظر: "السراج المنیر" للخطیب الشربیني: (172/2).

(2) انظر: "تفسیر القرطبي": (344/9).

وائي: عبد الله بن مسعود ﷺ چې به دا آيت اولوستو نو هغهٔ به وئيل:

"كَذَبَ النَّسَّابُونَ".[1]

"نسب والا چې څوک نسبونه بيانوي نو دا دوي دروغ وائي".

اوس واوره! امام رازي هم ليکلي دي، "معالم التنزيل" هم ليکلي دي، "البدايه والنهايه" او مفسر ابن کثير هم ليکلي دي، چې:

"وكَانَ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ يَكْرَهُ أَنْ يَنْسِبَ الْإِنْسَانُ نفسه أبا أَبًا إِلَى آدَمَ، وكَذَلِكَ فِي حَقِّ النَّبِيِّ ﷺ لِأَنَّهُ لَا يَعْلَمُ أُولَئِكَ الْآبَاءَ أَحَدٌ إِلَّا اللهُ عَزَّ وَجَلَّ".[2]

"مالک بن انس ﷺ وو چې هغهٔ به دا خبره ډيره بده ګڼرله چې يَو سړي دَ خپل نسب نه شروع اوکړه (چې زهٔ دَ فلانکي ځوي يم او هغهٔ دَ فلانکي ځوي وو، او هغهٔ دَ فلانکي....) ترآدم ﷺ پورې ئې اووائي. او دا خبره به ئې پهٔ حق دَ پيغمبر ﷺ کښې هم بده ګڼړه؛ پهٔ دې وجه چې دغه پلاران (نيکونه) سيوا دَ الله نه هيڅ څوک نهٔ پيژني".

نو چا چې به خپل نسب دَ آدم ﷺ پورې رسولو نو دا به هغهٔ بده ګڼرله اګر کهٔ دَ پيغمبر ﷺ نسب به ولې نهٔ وو خو هغهٔ به بد ګڼړه چې آدم ﷺ پورې اورسولے شي؛ ځکه چې دغه نيکونه او پلاران يَو الله ته معلوم دي بل چا ته نهٔ دي معلوم.

بهر حال دَ نبي ﷺ سلسله نسب دَ عدنان پورې متفقٌ عليه دے.

دَ ابن هشام رحمه الله قول

بعضې علماء کرامو ليکلي دي، زهٔ ئې تاسو ته مختصرًا وايم:

ابن هشام رحمه الله پهٔ "سيرت ابن هشام" کښې ليکلي دي... "الرحيق المختوم" والا بيا دَ دې نه پهٔ بل انداز باندې ليکلي دي: دَ عدنان نه بره زهٔ دَ دوه ويشتم (۲۲) نمبر نيکهٔ نه شروع کوم.

ابن هشام رحمه الله ليکي: "عَدْنَانَ بْنِ أُدٍّ وَيُقَالُ أدد، بْنُ مُقَوَّم، بْنِ نَاحُورَ، بْنِ تَيْرَحَ، بْنِ يَعْرُب، بْنِ

(1) انظر: "تفسير البغوي": (337/4).

(2) انظر: "معالم التنزيل": (31/3).

يَشْجُب، بْنِ نَابِتِ، بن إسماعيل، بن إبراهيم [خليل الرحمن] ابن تَارِحِ [وَهُوَ آزَرُ] بْنُ نَاحُورَ، بْنِ سَارُوغَ، بن داعو، بْنِ فَالَخِ، بْنِ عَيْبر، بْنِ شالَخِ، بْنِ أَرْفَخْشَذ، بن سام، ابن نوح، بن لمك، بن متوشلخ، بن أخنوخ وَهُوَ إِدْرِيسُ النَّبِيُّ [فِيمَا يَزْعُمُونَ، وَاللهُ أَعْلَمُ. وَكَانَ أَوَّلَ بَنِي آدَمَ أُعْطَى النُّبُوَّةَ، وَخَطَّ بالقلم] ابن يرد، بن مهليل، ابن قَيْنَنَ، بْنِ يانِش، بْنِ شِيثِ، بْنِ آدَمَ".[1]

"عدنان ځوي دَ أُدَ، او بعضې وائي: عدنان بن أُدَدْ، هغهٔ ځوي دَ مقوّم، هغهٔ ځوي دَ ناحور، هغهٔ ځوي دَ تيرَح، هغهٔ ځوي دَ يعرُبْ، هغهٔ ځوي دَ يَشجُبْ، هغهٔ ځوي دَ نابِت، هغهٔ ځوي دَ اسماعيل عليه السلام، هغهٔ ځوي دَ ابراهيم عليه السلام، هغهٔ ځوي دَ تارِح (چې آزر وو)، هغهٔ ځوي دَ ناحور، هغهٔ ځوي دَ ساروغ، هغهٔ ځوي دَ داعو، هغهٔ ځوي دَ فالخ، هغهٔ ځوي دَ عَيْبَر، هغهٔ ځوي دَ شالَخ، هغهٔ ځوي دَ أَرْفَخْشَذْ، هغهٔ ځوي دَ سام، هغهٔ ځوي دَ نوح عليه السلام، هغهٔ ځوي دَ لمک، هغهٔ ځوي دَ متوشلخ، هغهٔ ځوي دَ اخنوخ (او دَ اخنوخ نه مراد ادريس عليه السلام دے، دا دَ بعضې علماؤ قول دے، او دا اول پيغمبر وو پهٔ اولاد دَ آدم عليه السلام کښې، او دهٔ به پهٔ قلم ليکل کول)، هغهٔ ځوي دَ يَرَدْ، هغهٔ ځوي دَ مهليل، هغهٔ ځوي دَ قينَنْ، هغهٔ ځوي دَ يانش، هغهٔ ځوي دَ شيث عليه السلام، هغهٔ ځوي دَ آدم عليه السلام".

دا دَ نبي ﷺ سلسله نسب چې دَ آدم عليه السلام پورې رسيږي. نو دا تقريبًا يَو کم پنځوس (۴۹) نيکونه شول پهٔ دې طريقه باندې.

او "الرحيق المختوم" والا بيا پهٔ بله طريقه ليکلے دے. خو ما درته اووئيل: چې دَ دې پوره علم يَو الله ته دے؛ پهٔ دې کښې نور مخکښې مونږ ځکه نهٔ ځو: چې پته نهٔ لګي کهٔ دَ نبي ﷺ پهٔ نيکونو کښې يَو سړے وي او مونږ ئې پرېږدو نو هم ښهٔ خبره نهٔ ده او کهٔ نهٔ وي او مونږ اووايُو: چې دا پکښې وو، نو هم ښهٔ خبره نهٔ ده، نو دَ هغې نه ښهٔ دا ده چې تر عدنان پورې ذکر کړو؛ ځکه چې نبي ﷺ به تردې پورې بيانولو. نو عدنان دا دَ نبي ﷺ يويشتم نمبر (۲۱) نيکهٔ وو. پهٔ دې خاندان کښې چرته کمزورے سړے نهٔ دے راغلے، دارنګې بدنام سړے نهٔ دے راغلے. او ان شاء الله کهٔ بله جمعه راشي او ژوندي وو نو دَ نبي ﷺ دَ مور نسب او بيا دَ نبي ﷺ دَ نيکونو تذکره به هم مختصر انداز کښې کوؤ.

وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

(1) انظر: "سيرة ابن هشام": (6/1).

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

لَقَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولٞ مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ عَزِيزٌ عَلَيۡهِ مَا عَنِتُّمۡ حَرِيصٌ عَلَيۡكُم بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَءُوفٞ رَّحِيمٞ

(سورة التوبة: 128)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه دويمه

"فضائل دَ نيكونودَ نبي ﷺ اودَ مورطرف نسب "

بتاريخ: 2021-12-17

مقام: جلسۍ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

سيرة النبي ﷺ حصه دويمه

"فضائل دَ نيكونو دَ نبي ﷺ او دَ مور طرف نسب "

اَلْحَمْدُ لله نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ﴾.(1)

حاضرينو عزتمندو مسلمانانو رونړوا دَ رسول الله ﷺ سيرت او دَ هغې بيان شروع وو. اولنۍ خبره مو دا کړې وه: "چې دَ رسول الله ﷺ نسب په تمامو نسبونو کښې اعلىٰ او اوچت دے". دَ آدم عليه السلام نه واخلې تر دَ محمد رسول الله ﷺ پورې په دې سلسله کښې پاک خلق او بالکل دَ نکاح والا چې چرته دَ زِنا نه نه وو پيدا، داسې خلق الله رب العزة په هغې کښې راوستې وو.

دَ الله دَ نبي ﷺ فرمان

﴿إِنِّيْ مِنْ نِكَاحٍ وَلَسْتُ مِنْ سِفَاحٍ﴾.(2)

"زهٔ (يا زما خاندان) دا ټول دَ نکاحونو نه پيدا دي، زهٔ (يا زما خاندان) دا دَ زِنا نه نهٔ دي پيدا شوي".

بيا مونږ په تيره جُمعه کښې دَ رسول الله ﷺ دَ پلار طرف نسب هغه بيان کړے وو، او مونږ وضاحت کړے وو: چې تر عدنان پورې دا نسب دَ ټولو علماؤ په نزد متفقٌ عليه دے او امام

(1) [سورة التوبة: 128].

(2) انظر: "تفسير القرطبي": (301/8).

بخاري ﷺ پهٔ "صحيح البخاري" کښې هم دغه ځائے پورې ذکر کړے دے، بيا هغه مونږ نقل کړے هم وو. بيا دَ عدنان نه روستو تر ابراهيم ﷺ يا تر اسماعيل ﷺ پورې او دَ هغهٔ نه بيا تر دَ آدم ﷺ پورې دا نسب پهٔ دې کښې دَ علماؤ ډير اختلاف دے. نو دَ دې پوره علم هغه صرف يَو الله رب العزة سره دے. دَ هغې مونږ پهٔ تيره جُمعه کښې وضاحت کړے وو.

نن بيان کښې به دا وضاحت اوکړو: "چې دَ نبي ﷺ دَ مور طرف نسب، او بيا دَ نبي ﷺ دَ نيکونو مختصر حالات، کوم نيکونه چې دَ عدنان نه راخکته دي".

دَ نبي ﷺ دَ مور طرف نه نسب

دَ نبي ﷺ مور چې وه دَ هغې نوم "آمنه" بي بي وو، دَ هغې دَ پلار نوم دے "وهب"؛ دَ هغهٔ دَ پلار نوم دے "عبد مناف"، دَ هغهٔ دَ پلار نوم دے "زهره"، دَ هغهٔ دَ پلار نوم دے "کلاب"، دَ هغهٔ دَ پلار نوم دے "مُرّه"، دَ هغهٔ دَ پلار نوم دے "کعب"، دَ هغهٔ دَ پلار نوم دے "لُؤَيّ"، دَ هغهٔ دَ پلار نوم دے "غالب"، دَ هغهٔ دَ پلار نوم دے "فهر"، دَ هغهٔ دَ پلار نوم دے "مالک" او دَ هغهٔ دَ پلار نوم دے "نضر".[1]

چونکه مخکښې دَ نبي ﷺ دَ والد صاحب پهٔ نسب کښې چې مونږ ذکر کول نو کلاب پنځم نمبر نيکهٔ دَ نبي ﷺ جوړيدو: "مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ المُطَّلِبِ بْنِ هَاشِمِ بْنِ عَبْدِ مَنَافِ بْنِ قُصَيِّ بْنِ كِلَابٍ"، دلته دَ مور پهٔ نسب کښې ئې "کلاب" دريم نيکهٔ راځي. نو دَ نبي ﷺ دَ مور او دَ پلار نسب پهٔ دې "کلاب" کښې يَو کيږي، هلته کښې کلاب دَ نبي ﷺ پهٔ نيکونو کښې راتلو او دلته کښې دَ آمنه بي بي پهٔ نيکونو کښې هم دغه کلاب راځي، لکه دې لږ مخکښې دَ آمنه بي بي نسب کښې اوکوره. نو کلاب کښې دَ نبي ﷺ دَ مور او دَ پلار دَ طرف نه دواړه رشتې يَو کيږي. او بره نسب دَ نبي ﷺ دَ مور دَ طرف نه بيا هم هغهٔ دے کوم ئې چې دَ پلار نسب وو.

دَ نبي ﷺ دَ نيکهٔ نوم عبد المطلب دے، نو دَ مور دَ طرف نه ئې دَ نيا (دادي) نوم "برّه" ده. آمنه بنت وهب ده او آمنه بنت برّه ده، بيا دَ برّې نسب:

"بَرَّةُ بِنْتُ عَبْدِ العُزَّى بْنِ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ الدَّارِ بْنِ قُصي بْنِ كِلَابِ بْنِ مُرَّةَ بْنِ كَعْبِ بْنِ لُؤَيِّ بْنِ

(1) انظر: "سيرة ابن هشام": (100/1).

غَالِبِ بْنِ فِهْرِ بْنِ مَالِكِ بْنِ النَّضْرِ".

"أُمُّ بَرَّةَ: أُمُّ حَبِيبِ بِنْتُ أَسَدِ بْنِ عَبْدِ العُزى بْنِ قُصَيِّ بْنِ كِلَابِ بْنِ مرة بن كعب بن لؤي بن غالب بْنِ فِهْرِ بْنِ مَالِكِ بْنِ النَّضْرِ. وَأُمُّ أُمِّ حَبِيبِ: بَرَّةُ بِنْتُ عَوْفِ ابْن عُبَيْدِ بْنِ عُوَيْجِ بْنِ عَدِيِّ بْنِ كَعْبِ بْنِ لُؤَيِّ بْنِ غَالِبِ بْنِ فِهْرِ بْنِ مَالِكِ بْنِ النَّضْرِ".

"قَالَ ابْنُ هِشَامٍ: فَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشْرَفُ وُلْدِ آدَمَ حَسَبًا، وَأَفْضَلُهُمْ نَسَبًا مِنْ قِبَلِ أَبِيهِ وَأمه صلى الله عَلَيْهِ وَسلم".

"ابن هشام وائي: نو رسول الله ﷺ په اولاد د آدم ﷺ کښې ډېر زيات د شرافت خاوند دے په اعتبار د حسب سره او ډېر زيات غوره دے په اعتبار د نسب سره د پلار د طرف نه هم او د مور د طرف نه هم".

نو د نبي ﷺ د پلار د طرف نه نسب او د مور د طرف نه نسب دواړه بنۀ اعلیٰ، اوچت او بهترين نسب دے. د نبي ﷺ د پلار نوم عبد الله وو، او د مور نوم ئې آمنه وو. او د عبد الله د پلار نوم عبد المطلب وو، او د آمنه د پلار نوم وهب وو.

د نبي ﷺ د نيکونو مختصر حالات

د نبي ﷺ نيکونه تر عدنان پورې امام بخاري رحمه الله نقل کړي وو.

د عدنان حالت

دا عدنان د نبي ﷺ شلم نيکۀ وو. اوس د دوي څۀ مختصر حالات ذکر کوو:

د علامه ابن حجر رحمه الله قول

علامه ابن حجر رحمه الله په "فتح الباري" کښې ليکلي دي:

"وَقَدْ رَوَى أَبُو جَعْفَرِ بْنُ حَبِيبٍ فِي تَارِيخه المحبر من حَدِيث بن عَبَّاسٍ قَالَ: كَانَ عَدْنَانُ وَمَعَدٌّ وَرَبِيعَةُ وَمُضَرُ وَخُزَيْمَةُ وَأَسَدٌ عَلَى مِلَّةِ إِبْرَاهِيمَ فَلَا تَذْكُرُوهُمْ إِلَّا بِخَيْرٍ".[1]

امام ابن حجر رحمه الله وائي: "ابو جعفر بن حبيب په خپل تاريخ "المحبر" کښې د عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه نقل کړي دي: چې ابن عباس رضي الله عنه وائي: عدنان، معدّ، ربيعه، مضر، خزيمه او اسد چې وو نو دا ټول د ابراهيم ﷺ په دين او د هغۀ په شريعت وو؛ نو د دوي تذکره به نۀ کوئ مګر په خير باندې".

(1) انظر: "فتح الباري" لابن الحجر: (164/7).

مطلب دَ تذکرې دَ خير دا دے: چې دوي ته کافران نۀ شئ وئيلے؛ ځکه دا پۀ ملت ابراهيمي باندې وو.

دَ زبير بن بکّار رحمه الله قول

زبير بن بکّار رحمه الله پۀ بله طريقه باندې نقل کړي دي، ابن حجر رحمه الله دَ هغۀ نه مرفوع روايت نقل کوي، وائي:

«لَاتَسُبُّوْا مُضَرَ وَلَا رَبِيْعَةَ فَإِنَّهُمَا كَانَا مُسْلِمَيْنِ».[1]

"مضر او ربيعه ته کنځل مۀ کوئ، دوي ته ردې بدې مۀ وايئ؛ ځکه چې دا دواړه مسلمانان وو". دوي پۀ ملّت ابراهيمي باندې تير شوي دي، دوي ډير اوچت سړي وو.

دَ معد حالت

دا دَ عدنان ځوي وو. علماؤ ليکلي دي: "مُعَدّ" دا دَ عدد نه مشتق دے، او بعضې علماء وائي: دا مشتق دے دَ "مُعَد في الأرض" نه، او يا دَ "مُعِد في الأرض" نه. "چې زمکه کښې فساد کوي". نو دۀ فساد نۀ کولو خو دۀ به مفسدين ختمول. دا ډير يَو بهادر انسان وو، او جنګجو انسان وو، بني اسرائيلو سره ئې ډير جنګونه کړي دي او اکثر ورته الله تعالی فتحې هم ورکړي دي. دَ دۀ کنيه وه: "ابو نزار".[2]

دَ امام ابو جعفر الطبري رحمه الله قول

امام ابو جعفر طبري رحمه الله ذکر کړي دي: چې معد بن عدنان دا دَ بخت نصر پۀ زمانه کښې وو، او هغه وخت کښې دے دَ دولسو کالو پۀ عمر کښې وو. هغه زمانه کښې يَو پيغمبر دے: "ارمياء بن حلقيا عليه السلام"، وائي: هغۀ ته الله تعالی دا وحي کړي وه: چې بخت نصر ته اووايه: چې ما تۀ پۀ کافرانو مسلط کړے ئې، پۀ عربو مې مسلط کړے ئې؛ ځکه چې دوي زما دَ احکاماتو خلاف کوي نو تۀ مې پرې مسلط کړې. خو پۀ دوي کښې يَو سړے دے چې هغۀ ته به تکليف نۀ رسوې. او هغې نبي ته الله وحي اوکړه چې دے به تۀ دَ ځان سره بوځې. هغه سړے معد وو؛ دَ

---

(1) انظر: "فتح الباري" لابن الحجر: (164/7).

(2) انظر: "شرح زرقاني على المواهب": (79/1).

دې وجې نه چې هغهٔ له تکليف اونهٔ رسي. ولې؟ ځکه:

"فَإِنِّي مُسْتَخْرِجٌ مِنْ صُلْبِهِ نَبِيًّا كَرِيمًا أَخْتِمُ بِهِ الرُّسُلَ".[1]

وائي: "الله هغه نبي ته وحي کړې وه چې دا معد ځان سره بوځه او دَ دهٔ خيال ساته؛ ځکه چې دَ دهٔ پهٔ نسب کښې به زهٔ يَو نبي پيدا کوم، يَو کريم او عزتمند نبي به وي او دَ هغهٔ پهٔ وجه به زهٔ پيغمبران ختم کړم. دَ هغې نه پس به بيا پيغمبران نهٔ راځي، آخري نبي به دَ دهٔ پهٔ اولاد کښې راځي".

بيا وائي: "فَفَعَلَ أَرْمِيَا ذَلِكَ وَاحْتَمَلَ مَعَدًّا عَلَى الْبُرَاقِ إِلَى أَرْضِ الشَّامِ فَنَشَأَ مَعَ بَنِي إِسْرَائِيلَ".[2]

"ارميا ﷵ دا معد بن عدنان ځان سره پهٔ بُراق باندې سور کړو او ځان سره ئې شام ته بوتلے وو، دے پهٔ شام کښې پاتې شوے وو، هلته پهٔ بني اسرائيلو کښې دے ډير زيات مشهور شوے وو".

وائي: دَ دهٔ دَ وجې نه علماء دَ بني اسرائيلو دَ دهٔ پهٔ نسب باندې ځکه ډير پوهيږي، چې دے دَ هغوي سره پاتې شوے وو.

دَ نزار حالت

بل نيکهٔ دَ نبي ﷺ "نزار" وو. نزار مشتق دے دَ "نزر" نه او نزر پهٔ معنٰی دَ قليل (کم) باندې راځي.

ابو فرج اصفهاني ؒ فرمائي:

"أَبُو الْفَرَجِ الْأَصْبَهَانِيُّ سُمِّيَ بِذَلِكَ لِأَنَّهُ كَانَ فَرِيْدُ عَصْرِهِ".[3]

"نزار ته نزار ځکه وائي: چې دے پهٔ خپله زمانه کښې يکتا وو".

يَو تن وو، دَ دهٔ نور رونړه نهٔ وو. او يا دا وه چې: دے پهٔ خپلو همزولو کښې يکتا وو. معنٰی بے مثاله وو، دَ دهٔ سره څوک پهٔ يَو صفت کښې هم برابريدے نهٔ شو. ځکه ئې دهٔ ته نزار وئيلو.

دَ علامه سهيلي ؒ قول

علامه سهيلي ؒ ليکلي دي: چې نزار کله پيدا شو، دَ هغهٔ پهٔ تندي کښې دَ رسول الله ﷺ دا نور ځمکيدو. دَ نبوّت هغه رنړا دَ هغهٔ پهٔ تندي کښې ځمکيده. او دَ نزار پلار دَ نزار پهٔ پيدائش باندې

(1) انظر: "البداية والنهاية": (194/2).
(2) انظر: "البداية والنهاية": (194/2).
(3) انظر: "روض الأنف" للسهيلي: (8/1).

ډیر زیات خوشحاله شوے وو. او چې کله دے پیدا شو نو خلقو له ئې دعوت ورکړو، او چې کله خلقو ډوډئ اوخوړه نو هغهٔ خلقو ته وائي:

"هٰذَا كُلُّهٗ نَزْرٌ لِحَقِّ هٰذَا الْمَوْلُوْدِ".[1]

وائي: اے خلقو! دا ما چې څومره دعوت کړے دے، "دا دَ دې بچي پهٔ مقابله کښې ډیر کم دے". الله تعالٰی ما له داسې یَو بچے راکړے دے چې دا ټول دعوت دَ دهٔ مقابله کښې هیڅ خیز نهٔ دے. اګر چې ډیر تکلّف ئې کړے وو. علماء وائي: دَ دې وجې نه ئې دهٔ ته نزار نوم کیخودو. بیا به ورته خلقو نزار وئیلو.

"تاریخ الخمیس" لیکي: چې دا نزار چې وو:

"إِنَّهٗ خَرَجَ أَجْمَلَ أَهْلِ زَمَانِهٖ وَأَكْبَرُهُمْ عَقْلًا".[2]

"دے دَ خپلې زمانې پهٔ ټولو خلقو کښې ښائسته انسان وو او پهٔ ټولو کښې دَ عقل پهٔ اعتبار ډیر اوچت سړے وو".

نو یَو معنٰی دَ نزار شوه: چې دَ دهٔ مثل به ډیر کم میلاویدو.

او یا دَ "نزار" معنٰی "نحیف" هم راځي. معنٰی: تپ، چې دَ بدن نه کمزورے وي. دا نزار هم دَ بدن نه کمزورے وو. نو ځکه ورته نزار وئیلے کیږي.[3]

دَ مضر حالت

بل نیکهٔ دَ نبي ﷺ مُضَر وو. دَ دهٔ خپل نوم عَمرو دے، او کنیت ئې ابو الیاس دے، او دَ دهٔ لقب مُضر وو. دهٔ ته ئې مضر ولې وئیلو؟ دا دَ "ماضِر" نه مشتق دے، نو دهٔ ته ئې مضر ځکه وئیلو؛ چې دَ ماضر معنٰی ده: "تُرش". او دَ دهٔ به هم تُرش او غوړ اشیاء ډیر خوښ وو. نو پهٔ هغې باندې دے مشهور شوے پهٔ مُضر باندې. او بعضې علماء وائي: چې دهٔ به پیٔ او ماستهٔ ډیر خښکل کوم چې به تُرش غوندې وو. نو ځکه ورته مضر وائي.[4]

(1) انظر: "فتح الباري" لابن حجر: (164/7).
(2) انظر: "تاريخ الخميس": (167/1).
(3) انظر: "سيرة المصطفى" لمحمد ادريس كاندهلوي رحمه الله: (38/1).
(4) انظر: "شرح زرقاني على المواهب": (79/1).

یا مُضر ورته ځکه وائي؛ چې دَ مضر معنٰی ده: "ښائسته"، دے ډیر ښائسته وو، دَ ډیر خائست دَ وجې نه به دهٔ ته مضر وئیلے کیدو.

یا دَ مضر معنٰی ده: "ضرر رسونکے". نو دهٔ ته به ئې مضر ځکه وئیلو چې:

"وَقِيْلَ لِأَنَّهٗ كَانَ يَمْرِضُ الْقُلُوْبَ لِحُسْنِهٖ وَجَمَالِهٖ". [1]

"دا مضر دومره ښائسته وو، چې یَو سړي به اولیدو نو هغه به بیا بیمار شو".

او دا مضر ډیر اوښیار انسان وو، یَو لوئي حکیم او دانا سړے وو. دهٔ به ډیرې دَ کمال خبرې کولې. خلقو به دَ دهٔ خبرې پهٔ متلونو کښې پیش کولې. دهٔ به وئیل:

"وَمَنْ يَزْرَعْ شَرًّا يُحْصِدُ نَدَامَةً". [2]

"کوم سړے چې پهٔ خلقو کښې شر کري او شر خوَرئ نو دا سړے به دَ ښپیمانتیا لَوْ کوي".

چې دَ شر کارونه کوي نو آخر کښې به ستومانه وي. ښهٔ څیز سړے اوکري نو ښهٔ څیز ورته میلاؤ شي او چې بد اوکري نو بد ورته میلاؤ شي. چې شر کري نو نقصان به درته رسي.

او کله به دې مضر خلقو ته وئیل:

"وَخَيْرُ الْخَيْرِ أَعْجَلُهٗ، فَاحْمِلُوْا أَنْفُسَكُمْ عَلٰى مَكْرُوْهِهَا، وَاصْرِفُوْهَا عَنْ هَوَاهَا فِيْمَا أَفْسَدَهَا".

"غوره خیر هغه وي چې ډیر زر وي، نو اے خلقوا دا نفسونه پهٔ هغه څیز باندې باعث کرئ چې کوم دې ته بد لګي، او دا نفسونه دَ خواهشاتو نه واړوئ پهٔ کومو خواهشاتو سره چې دا نفس هلاکیږي".

نو نفس دې پهٔ هغه امورو کښې اخته کړه چې دې ته بد لګي، چې یَو کار نهٔ شي کولے او دَ هغې پهٔ کولو کښې خیر وي نو پهٔ زوره ئې پرې کوئ او دَ خپلو خواهشاتو نه ئې واړوئ. نفس دَ ځان تابع کړه، تهٔ دَ نفس مهٔ تابع کیږه. نفس به درته وائي: چې آرام اوکړه خو تهٔ به دَ دین خدمت کوې، دَ نفس او دَ خواهش خلاف به کوې؛ ځکه بیا وریسې مضر وائي:

"فَلَيْسَ بَيْنَ الصَّلَاحِ وَالْفَسَادِ إِلَّا الصَّبْرُ". [3]

---

(1) انظر: "فتح الباري" لابن الحجر، طبع: المكتبة الرشيدية سركي روډ، كوئته: (43/7).

(2) انظر: "شرح زرقاني على المواهب": (79/1).

(3) انظر: "شرح زرقاني على المواهب": (79/1).

"نشته دے حدّ فاصل دَ فساد او دَ صلاحیت پهٔ مینځ کښې مګر صرف صبر دے".

او دا مضر هم مسلمان تیر شوے دے. مخکښې تیر شول چې معد، عدنان، ربیعه، او مضر او خزیمه او اسد دا ټول پهٔ ملت ابراهیمي باندې وو. نو دوي مسلمانان تیر شوي دي.

دَالیاس حالت

بل نیکهٔ دَ نبي ﷺ الیاس دے. دا اولنے هغه سړے دے چې حرم له قرباني او هدیه دهٔ زالیږلې وه.

علماؤ لیکلي دي: "چې الیاس به دَ خپلې شاه نه دَ نبي ﷺ دَ تلبیې آواز اوریدو".[1]

دَ الله نبي ﷺ خو لا دنیا ته نهٔ وو راغلے خو دَ هغهٔ نطفه چې کومه دَ الیاس پهٔ شاه کښې وه دَ هغې نه ئې دَ تلبیه آواز اوریدلے وو. دا دومره اوچت سړے وو.

دَمدرکه حالت

بل نیکهٔ دَ نبي ﷺ مدرکه وو. جمهور علماء وائي: چې دَ دهٔ خپل نوم عَمرو وو. محمد بن اسحاق وائي: دَ دهٔ نوم عامر وو. مدرکه دَ دهٔ لقب وو. دهٔ ته مدرکه ولې وائي؟ مدرکه دا دَ "دراک" نه مشتق دے. دراک راګیرَولو ته وائي. نو دهٔ ته مدرکه ځکه وائي: چې هر قسم عزت، رفعت او ښهٔ خویونه هغهٔ ټول دهٔ راجمع کړي وو.[2]

دَخزیمه حالت

دا دَ نبي ﷺ بل نیکهٔ دے. عبد الله بن عباس ﷺ فرمائي: چې دے هم پهٔ ملت ابراهیمي باندې وو، او دَ ښؤ اخلاقو والا انسان وو.

دَکنانه حالت

دا دَ نبي ﷺ دَ بل نیکهٔ نوم دے. دا پهٔ عربو کښې جلیل القدر سړے حسابیدو. او دَ دهٔ علم او فضیلت هم ډیر اوچت دے پهٔ خلقو کښې. وائي: دَ دهٔ دپاره به خلق دَ لرې لرې ځائے نه ملاقات دپاره راتلل؛ ځکه دے پهٔ دې صفاتو کښې ډیر مشهور وو.

---

(1) انظر: "فتح الباري" لابن حجر، في باب المناقب: (384/6)، و"سيرة المصطفى": (39/1).
(2) انظر: "شرح زرقاني على المواهب": (125/5).

دَ نضر حالت

بل نیکهٔ دَ نبي ﷺ: دَ هغهٔ نوم نضر دے. نضر دَ نضارة نه مشتق دے. رونق او تر وتازګئ ته وائي. دے هم ډیر حسین او جمیل وو او ډیر تر وتازه وو. علماؤ لیکلي دي: چې دَ دهٔ اصل نوم قیس دے. خو نضر به ئې ورته دَ دې وجې نه وئیلو چې دے ډیر ښائسته وو.[1]

دَ مالک حالت

دا مالک دَ نبي ﷺ بل نیکهٔ دے. دَ دهٔ کنیت وو: ابو الحارث. دا هم دَ عربو یَو لوئي سردار وو، اوچت انسان وو پهٔ عربو کښې. دَ دهٔ دَ نسل نه چې کوم خلق پیدا دي هغوي ته قریش وائي. او څوک ورته کناني وائي؛ ځکه دے دَ کنانه پهٔ اولاد کښې وو. قریش دا دَ نضر بن کنانه اولاد وو. دَ دې وجې نه علماؤ لیکلي دي:

حافظ عراقي رحمه الله وائي:

أَمَّا قُرَيْشٌ فَالْأَصَحُّ فِهْرٌ جُمَّاعُهَا وَالْأَكْثَرُوْنَ النَّضْرُ[2]

وائي: "قریش چې دي نو صحیح خبره دا ده: چې دا فهر جمع کړي دي، یعني دا دَ فهر اولاد دے. او اکثر پکښې دا وائي: چې دا دَ نضر اولاد دے خو دا دَ فهر اولاد دے".

دَ دې وجې نه بعضې روایات دَ امام شافعي رحمه الله نه نقل دي، چې هغه وائي: قریش دَ نضر بن کنانه اولاد ته وائي. او بعضې حفاظ وائي: چې دَ فهر دَ پلار نوم مالک دے. نو دَ دې وجې نه قریش دَ فهر اولاد دے، دَ بل چا نهٔ دے.

دَ قریشو وجه تسمیه

دَ قریش معنٰی څهٔ ده؟ نو علماؤ لیکلي دي: چې قریش یَو بحري ځناور ته وائي. دا پهٔ دې سمندر کښې یَو ځناور دے، یَو حیوان دے. او دا دومره تکړه ځناور دے چې پهٔ ټولو ځناورو هغه زورَور دے، نور ځناور خوري خو بل ځناور پهٔ هغهٔ زورَور نشته چې هغه اوخوري. نو هغه ځناور ډیر بهادر وو، قریش به ئې ورته وئیلو؛ نو دې قریشو ته قریش پهٔ دې وجه وائي: چې دا هم

(1) انظر: "فتح الباري" لابن حجر: (78/1).

(2) انظر: "شرح زرقاني على المواهب" للزرقاني: (144/1).

ډير بهادر خلق وو، او دوي باندې به څوک غالب کيدے نۀ شو، بلکه دا به پۀ نورو خلقو باندې غالب وو. نو ځکه ورته قريش وائي.[1]

دَابن نجار رحمه الله قول

ابن نجار رحمه الله پۀ خپل تاريخ کښې ليکلي دي: چې يَو ځل سيدنا عبد الله بن عباس رضي الله عنه دَ سيدنا معاويه رضي الله عنه خواته لاړو نو هلته عَمرو بن العاص رضي الله عنه هم موجود وو. نو عَمرو بن العاص رضي الله عنه عبد الله بن عباس رضي الله عنه ته وائي: دا قريش دا کمان کوي چې تۀ پۀ قريشو کښې ډير لوئي عالم ئې نو آسان غوندې تپوس درنه کوم: چې دې قريشو ته قريش ولې وائي؟ عبد الله بن عباس رضي الله عنه ورته اوفرمائيل: چې دې قريشو ته قريش ځکه وائي: چې قريش يَو بحري ځناور دے او ټول ځناور پۀ دۀ باندې کمزوري دي، او دے پۀ هغوي ټولو باندې زورَور دے نو قريش هم پۀ نورو خلقو باندې زورَور وو، تکړه وو، جنګجو خلق وو نو ځکه ورته قريش وائي.

نو عَمرو بن العاص رضي الله عنه عبد الله بن عباس رضي الله عنه ته وائي: چې دَ دوي پۀ باره کښې دَ عربو کوم شعر درته ياد دے؟ عبد الله بن عباس رضي الله عنه خو ډير لوئي عالم وو، هغۀ ورته ولوٙئي: آوا شمرخ بن عمرو حميري هغۀ دا شعرونه دَ قريشو پۀ باره کښې وئيلي دي:

وَقُرَيْشٌ هِيَ الَّتِي تَسْكُنُ الْبَحْرَ بِهَا سُمِّيَتْ قُرَيْشٌ قُرَيْشَا

وائي: "قريش دا هغه ځناور دے چې سمندر کښې اوسيږي؛ نو پۀ دغه وجه قريشو ته قريش نوم کيخودلے شوے دے".

تَأْكُلُ الْغَثَّ وَالسَّمِينَ وَلَا تَتْرُكُ فِيهِ لِـذِيْ جَنَاحَيْنِ رِيْشَا

"دا هغه ځناور دے چې دے سُرُب او ټپ ټول ځناور خوري، او يَو دَ وزر والا ته وزر نۀ پريږدي".

هٰـكَـذَا فِي الْبِـلَادِ حَـيُّ قُـرَيْـشٍ يَأْكُلُونَ الْبِلَادَ أَكْلًا كَمِيشَا

"دارنګې پۀ ښارونو کښې قبيله دَ قريش ده چې هغه خوري ښارونه پۀ خوړلو دَ جلدۍ سره". ښارونه څنګه خوري؟ نو مطلب دا دے: چې غالب کيږي پۀ ښارونو کښې پۀ خلقو

(1) انظر: "سيرة المصطفى": (40/1).

باندي. او زر زر پرې غالب کيږي.

وَلَهُمْ آخِرُ الزَّمَانِ نَبِيٌّ يُكْثِرُ الْقَتْلَ فِيهِمْ وَالْخُمُوشَا[1]

"په آخره زمانه کښې به دَ دوي يو نبي وي چې هغه به قتل هم ډير کوي (کافران به وژني) او زخمي کول به هم ډير کوي".

نو قريشو ته قريش هم ځکه وائي: چې دوي په خلقو باندې غالب وو.

دَ کعب حالت

بل نيکهٔ دَ نبي ﷺ کعب دے. کعب دا هغه سړے دے: چې په ابتداء کښې چا جُمعه نهٔ پيژنده، دهٔ به دَ جُمعې په ورځ خلق راجمع کول او هغوي ته به ئې باقاعده خطبه وئيله، دَ الله حمد او ثناء به ئې وئيله او بيا به ئې خلقو له ترغيب ورکولو، مسائل به ئې بيانول. او خلقو ته به ئې يو خبره کوله: چې خلقوا زهٔ به نهٔ يم خو زما په اولاد کښې به الله يو نبي پيدا کوي او هغه به بيا خلقو ته مسئلې کوي. او کله کله به ئې دا شعر وئيلو:

يَا لَيْتَنِيْ شَاهِدٌ فَحْوَاءَ دَعْوَتِهِ إِذَا قُرَيْشٌ تَبْغِي الْحَقَّ خُذْلاَنَا[2]

"کاش چې زهٔ موجود وے په هغه وخت کښې چې کله زما هغې نوسې خلقو له دعوت ورکولے. او کوم وخت کښې چې قريش طلب کوي حق لره پريښودل".

مطلب دا دے: چې کاش چې زهٔ موجود وے په کوم وخت کښې چې پيغمبر دعوت ورکولے خلقو ته او کله چې قريش دَ هغهٔ نه اوړي او دَ هغهٔ خلاف کوي، دَ هغهٔ سره ملګرتيا نهٔ کوي، دَ هغهٔ سره مدد کول پريږدي نو کاش چې ما دَ هغه خپل نوَسي مرسته کوله او ما دَ هغهٔ ملګرتيا کولها خو افسوس چې زهٔ به دغه وخت نهٔ يم.

نو دې کعب به خلق دَ جُمعې په ورځ راغوندول او خلقو ته به ئې ترغيبات ورکول. ابن کثير رحمه الله په "البدايه والنهايه": (٢/٢٤٤) کښې دَ هغهٔ بعضې خطبې رانقل کړې دي.

---

(1) انظر: "فتح الباري" لابن حجر: (534/6)، و"شرح زرقاني على المواهب" للزرقاني: (144/1).

(2) انظر: "شرح زرقاني على المواهب" للزرقاني: (143/1).

دَ مُرّه حالت

بل نیکهٔ دَ نبي ﷺ: دَ هغهٔ نوم مُرّه وو. مُرّه دَ مرارت نه ماخوذ دے. مرارت تریخ والي ته وئیلے کیږي. نو دے هم پهٔ عربو کښې پهٔ خپلو دشمنانو باندې ډیر تریخ سړے وو، دهٔ به دشمن ته کمه خبره نهٔ کوله؛ ځکه به ئې دهٔ ته مُرّه وئیلو.(1)

دَ کلاب حالت

بل نیکهٔ دَ نبي ﷺ: دَ هغهٔ نوم کلاب وو. کلاب دا دَ کلب جمع ده، کلب سپي ته وائي. وائي: دهٔ ته کلاب ولې وائي؟ دهٔ به دَ ښکار سپي ډیر ساتل، دَ ښکاري سپو ډیر شوقي وو. او چې کوم خوا به سپے روان وو نو خلقو به وئیل:

"هَذِهِ كِلَابُ ابْنِ مُرَّةَ".(2) "دا دَ ابن مره سپے دے".

نو دهٔ به ښکاري سپي ساتل پهٔ دې وجه بیا دے پهٔ کلاب باندې مشهور شو، کني دَ دهٔ خپل نوم علماء وائي: مهذّب دے. او څوک وائي: دَ دهٔ خپل نوم عُروه دے. او څوک وائي: خپل نوم ئې حکیم دے.

دَ قصیٔ حالت

بل نیکهٔ دَ نبي ﷺ هغه قصیٔ دے. دَ قصیٔ معنٰی ده: لرې. دا پهٔ معنٰی دَ بَعُدَ دے. دهٔ ته قُصیٔ ولې وائي؟؛ ځکه چې دے دَ خپلو خلقو نه لرې اوسیدو. او بیا دا تول خپل خلق دهٔ راغونډ کړي دي. دے هم یَو ډیر اوښیار سړے تیر شوے دے. خپل اولاد ته به ئې نصیحت کولو، او خپلو بچو ته به ئې وئیل:

"اِجْتَنِبُوْا الْخَمْرَةَ فَإِنَّهَا تُصْلِحُ الْأَبْدَانَ وَتُفْسِدُ الْأَذْهَانَ".(3)

هغې وخت کښې چې شراب لا نهٔ وو حرام شوي نو دهٔ به خپلو بچو ته وئیل: "شرابو نه ځان ساتئ (شراب مهٔ څښکئ)؛ دا کورے دَ انسان بدن تکړه کوي خو دَ انسان ذهن ختموي".

شراب دَ انسان ذهن خرابوي. دا ډیر اوښیار سړے وو.

---

(1) انظر: "شرح زرقاني على المواهب" للزرقاني: (1442/1).

(2) انظر: "فتح الباري" لابن حجر: (163/7).

(3) انظر: "طبقات ابن سعد": (66/1).

دَ عبد مناف حالت

بل نیکهٔ دَ نبي ﷺ عبد مناف وو. دَ عبد مناف خپل نوم مغیره وو. دا هم ډیر حسین وجمیل انسان وو. عبد مناف ته به ئې "قمر البطحاء" وئیلو. دا یَو ډیر ښائسته انسان وو، دې مخ به ئې سم چمک وهلو. او بطحاء دَ عربو کاړڅني زمکې ته وائي. "قَمَرُ الْبَطْحَاءِ" یعني "دَ کاړڅني زمکې سپوږمۍ".

او بیا "شرح المواهب" لیکلي دي: "وَيُدْعَى الْقَمَرُ لِجَمَالِه".(1)

"دَ ډیر خائست دَ وجې نه به ورته سپوږمۍ وئیلے کیده".

دا ډیر اوښیار انسان وو. موسٰی بن عقبه وائي: چې یَو ځل ما دَ دهٔ یَو خط اولیدو، چې یَو کاڼرې باندې ئې پاخهٔ لیکل کړي وو. او هغه مضمون دَ خط دا وو:

"أَنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ قُصَيْ آمُرُ بِتَقْوَى اللهِ وَصِلَةِ الرَّحِمِ".(2)

دَ دهٔ خپل نوم مغیره وو، وائي: "زهٔ مغیره ځوي دَ قُصئ یم او زهٔ خلقو ته وایم چې دَ الله نه دې ویره کوي او خپله خپلوَلي دې پالي (خپلوَلي دې نهٔ کټ کوي)".

دَ هاشم حالت

بل نیکهٔ دَ نبي ﷺ هاشم وو. دا هم ډیر اوچت سړے تیر شوے دے. دَ دهٔ خپل نوم عَمرو دے. او دهٔ ته دا هاشم ولې وائي؟ نو "هشم" ماتولو ته وائي، نو دَ دهٔ باره کښې راځي، چې:

"لِأَنَّهُ كَانَ يَهْشِمُ الثَّرِيْدَ لِقَوْمِهِ فِي الْجَدْبِ".(3)

"ځکه چې دهٔ به دَ خپل قوم خلقو ته دَ غوښې پهٔ شوربا کښې ډوډۍ ماتوله پهٔ زمانه دَ قحط سالۍ کښې".

قحط راغلے وو، چا به اوچه ډوډۍ نهٔ موندله. او دا دومره سخي انسان وو: چې میلمانهٔ به ئې راوستل او دَ خپل قوم خلق به ئې هم راوستل او هغوي له به ئې دَ قحط سالۍ پهٔ زمانه کښې چورې کاني کولې. پهٔ لوښي کښې به ئې ورته ډوډۍ ماته کړه او هغوي ته به ئې اووئیل: چې خورئ!. دَ

---

(1) انظر: "شرح زرقاني على المواهب": (73/1).

(2) انظر: "شرح زرقاني على المواهب": (73/1).

(3) انظر: "شرح زرقاني على المواهب": (73/1).

قحط سالئ پهٔ دوران کښې به دهٔ خلقو ته خوراکونه ورکول؛ دَ دې وجې نه يَو شاعر وائي:

عَمْرُو الْعُلَا هَشَمَ الثَّرِيْدَ لِقَوْمِهِ وَرِجَالُ مَكَّةَ مُسْنِتُوْنَ عِجَافُ[1]

"عَمرو العُلا (هاشم) دا هغه سړے دے چې دهٔ خپل قوم له ډوډئ چوري کړې وه او داسې زمانه وه چې دَ مکې خلق قحط وهلي وُو (او ټول تپ شوي او خراب شوي وو)".

نو هاشم ته پهٔ دغه وجه باندې هاشم وائي. او دا هاشم چې دے، "أَفْخَرُ قَوْمِهِ" دے. پهٔ خپل قوم کښې ډیر دَ فخر والا سړے وو. خلقو به پهٔ دهٔ باندې فخر کولو. او پهٔ ټولو خلقو کښې اوچت سړے وو. او هر وخت به دَ دهٔ پهٔ حُجره کښې درستخوان خور وو، او میلمانهٔ به راتلل او بے تپوسه خوراک به ئې کولو. داسې سخیان خلق دَ نبي ﷺ نیکونو کښې تیر شوي وو.

دا هغه سړے وو چې پهٔ هغې زمانه کښې دَ روم بادشاه وو "هرقل". دې بادشاه دهٔ پسې سؤال جواب رالیږلے وو: چې کهٔ ستا خوښه وي نو زهٔ تاله خپله لور پهٔ نکاح باندې درکوم. خو دهٔ انکار اوکړو. ولې؟ وائي: دومره ښائسته انسان ما چرته نهٔ دے لیدلے.[2]

دَعبدالمطلب حالت

بل نیکهٔ دَ نبي ﷺ عبد المطلب وو. عبد المطلب دَ نبي ﷺ نزدې نیکهٔ دے. دَ پلار پلار ئې وو. عبدَ المطلب هم يَو ډیر ښائسته انسان وو. مستجاب الدعوة وو. او "مُحَرِّمٌ خَمْرٍ عَلَى نَفْسِهِ" وو. دهٔ به چې کومه دعاء دَ الله تعالى نه غوښتله نو هغه به الله تعالى قبلوله. او دا هغه سړے وو چې شراب ئې پهٔ ځان باندې حرام کړي وو. اګر چې دَ شرابو حرمت روستو راغلے وو خو دهٔ به دَ اول نه نهٔ څښکل.

دَابن الاثیر ؒ قول

ابن الاثیر ؒ لیکلي دي:

"وَهُوَ أَوَّلُ مَنْ تَحَنَّثَ بِحِرَاءَ كَانَ إِذَا دَخَلَ شَهْرُ رَمَضَانَ صَعِدَهُ وَأَطْعَمَ الْمَسَاكِيْنَ".[3]

"دا اولنے هغه سړے وو چې پهٔ غارِ حراء کښې (کوم ځائے کښې چې نبي ﷺ باندې وحي

(1) انظر: "شرح زرقاني على المواهب": (73/1).

(2) انظر: "شرح زرقاني على المواهب": (72/1).

(3) انظر: "شرح زرقاني على المواهب": (72/1).

راغلي وه) به ئي په طريقه دَ ملت ابراهيمي دَ الله عبادت کولو. او چې کله به دَ رمضان مياشت راغله نو غارِ حراء ته به اوختو او ټول رمضان به ئي دَ الله تعالٰی عبادت کولو. او په ټول رمضان کښې به ئي دَ غريبانانو دَ خوراک انتظام کولو". داسې يَو عبادت ګُزار او سخي سړے وو.

او قتيبه رحمه الله وائي: "كَانَ يُرْفَعُ مِنْ مَّائِدَتِه لِلطَّيْرِ، وَالْوُحُوْشِ فِيْ رُءُوْسِ الْجِبَالِ، فكَانَ يُقَالُ لَهٗ: الْفَيَّاضُ؛ لِجَوْدِهِ وَمُطْعِمِ طَيْرِ السَّمَاءِ؛ لأَنَّهٗ كَانَ يُرْفَعُ مِنْ مَّائِدَتِه لِلطَّيْرِ".(1)

"دَ عبد المطلب دَ درستخوان نه به دَ مارغانو دپاره هم ډوډئ اوچتيده او دَ نورو ځناورو دپاره به هم چې کوم به دَ غرونو په سر کښې وو. او دے وو چې دهٔ ته به "فياض" (معنی ډير خير خوَرَونکے) به ورته وئيلے کيدو؛ دَ وجې دَ سخاء دَ دهٔ نه او دَ دې وجې نه چې دے وو چې مارغانو ته به ئي خوراک ورکولو؛ دغه وجه وه چې دَ دهٔ دَ درستخوان نه به مارغانو هم ډوډئ خوړله".

نو عبد المطلب داسې يَو شخصيت وو: چې انسان خهٔ کوې بلکه دَ آسمان مارغان به هم دَ دهٔ په کور کښې مړيدل داسې يَو انسان وو.

وائي: دهٔ به مارغانو ته درستخوان خور کړو او چې هغوي به خومره خوراک کولو نو هغه به ئي ورته واچولو.

دَ عبد المطلب نوم

او دَ دهٔ نوم "شيبة الحمد" دے. دا شيبه ورته ولې وائي؟ نو يا دَ دې وجې نه چې دے ډير ښائسته وو. لکه يَو شاعر وائي:

عَلٰى شَيْبَةِ الْحَمْدِ الَّذِيْ كَانَ وَجْهُهٗ   يُضِيْءُ ظَلَامَ اللَّيْلِ كَالْقَمَرِ الْبَدْرِيْ

"هغه شيبة الحمد چې دَ هغهٔ دا مخ داسې ځمکيدو چې دَ شپې تيَرې پرې ختميدې (تيَرې به ئي رڼرا کولې) لکه دَ څوارلسمي سپوږمئ باندې چې تيَرې ختميږي".

(١) نو يَو معنٰی دَ شيبه: شيبه ورته ځکه وائي: چې دے ډير ښائسته وو.

(٢) دويمه معنٰی: يا ورته شيبه په دې وجه وائي: چې دے پيدا شو نو دَ دهٔ په سر لږ غوندې

(1) انظر: "شرح زرقاني على المواهب": (72/1).

سپین ویښتهٔ وو.

(۳) **دریمه معنی**: یا دا دَ هغهٔ یَو قسم صفت دے، او پهٔ هغهٔ باندې زیرے دے چې دے به بوډاوالي پورې ژوندے وي.

دهٔ ته عبد المطلب ولې وائي؟

دَ دهٔ خو خپل نوم شیبة الحمد دے نو دا عبد المطلب ورته ولې وائي؟

علماء وائي: عبد المطلب ورته ځکه وائي: چې دا مطَّلِب دَ دهٔ ترهٔ وو. دَ عبد مطلب ماماګان پهٔ مدینه کښې وو. او دَ دهٔ پلار وفات شوے وو. او وصیت ئې دا کړے وو: چې زما دا ځوي به کلي ته بوځئ نو مطلب وریسې مدینې ته لاړے او دے ئې ځان سره راروان کړو. دے چونکه ماماګانو سره پاتې کیدو نو شلیدلې او شیرنې جامې ئې اچولې وې او دهٔ راروان کړے دے مکې ته ئې راولې. نو چې مکې ته رااورسیدل، هر چا به ترې تپوس کولو چې دا څوک دے؟ نو دهٔ به ورته وئیل: چې دا مې غلام دے؛ ځکه شرمیدو، دا خلق به بیا وائي: چې دا دَ دهٔ وراره دے او دا څنګه شیرنې جامې ئې اچولې دي. او دا وراره ئې پوهه کړے وو چې ته به غږ نهٔ کوې. نو خلقو کښې منشهوره شوه: چې دا دَ مطلب غلام دے، هغه راوستے دے. دَ عبد مطلب معنی هم دغه ده: دَ مطلب غلام. بیا ئې چې اولامبولو او صفا ئې کړو نو بیا ئې اووئیل: چې دا مې غلام نهٔ دے بلکه دا زما وراره دے. نو خلقو کښې پهٔ عبد مطلب باندې پهٔ دې وجه مشهور وو.

دې سره یَو اعتراض هم دفع شو: چې مطلب نوم خو دَ الله تعالی پهٔ اسماء کښې نشته دے نو دهٔ ته ئې څنګه عبد المطلب وئیلو؟

دا اولنے هغه سړے وو چې پهٔ عربو کښې ئې کیره توره کړې وه. او دَ دهٔ پهٔ دنیا کښې یَو سل څلویښت (۱۴۰) کاله عمر وو. خو دا ډیر عجیبه سړے وو. دَ دهٔ ډیر اوږد تاریخ دے.

دَعبدالمطلب آب زمزم کنستل

عبد المطلب آب زمزم کنستلے دے. چونکه اسماعیل علیه السلام پهٔ زمانه کښې چې هغهٔ دَ مور سره وړوکے ماشوم راغلے وو نو دغه ځائے کښې نهٔ بیت الله آباد وو، نهٔ انسانان وو، نهٔ ونې وې،

نۀ فصل وو. اسماعيل ﷺ چې تږے شوے الله تعالیٰ دَ زمزم هغۀ اوبۀ راوېستلې دي.

نو جُرهم قبيله پۀ دې طرف باندې تله، چې هغوي اوکتل چې دلته مارغان راخکته کيدل. او عربو کښې خو دَ اُوبو ډېر غټ کمے وو. هغوي اووئيل: دلته زما پۀ خيال اوبۀ دي. يَو کس ئې رااوليږلو، نو هغۀ چې اوکتل دلته اوبۀ وې. دوي راغلل امِّ اسماعيل ته وائي: "کۀ ستا اجازت وي نو مونږ به دلته کښې ديره شو؟". نو هغه خو يواځې وه، څوک ورسره نۀ وو، هغې اووئيل: "ډيره ښۀ ده، راشئ ديره شئ. ګاونډيان به راشي. خو شرط به دا وي: چې پۀ دې اوبو به دعوٰی نۀ کوئ". دوي اووئيل: چې دعوٰی پرې نۀ کوو، خو مونږ به پرېږدئ چې ځان له ترې اوبۀ راخلو. دا ورته وائي: "چې څومره ترې اوړئ نو اوړئ خو ګورے! دا به ستاسو ملکيت نۀ وي، دا به رانه اخلئ نۀ". هغوي اووئيل: "صحيح ده".

دا جُرهم قبيله راغله، او هلته کښې اوسيدل، اسماعيل ﷺ او دَ هغۀ مور هم اوسيدل. اسماعيل ﷺ الله رب العزة زلمے کړو، پۀ دې جُرهم قبيله کښې ئې وادۀ اوکړو. او دا اسماعيل ﷺ بيا الله تعالیٰ دوي ته پۀ پيغمبرئ باندې هم اوليږلو. دوي ته به ئې بيان هم کولو. دَ اسماعيل ﷺ يَو سل ديرش (۱۳۰) کاله عمر وو کله چې وفات شو. حطيم کښې اسماعيل ﷺ دفن شوے دے. او مور ئې هم دغه ځائے کښې دفن وه.

بيا دَ اسماعيل ﷺ نه روستو دَ هغۀ ځوي دے قيدار. نو قيدار بيا دَ بيت الله مشر او متولّي شو. دَ قريشو بچي هم لوي شوي دي، دَ عمالقؤ او جُرهم بچي هم لوئي شوي دي. جنګ جګړې به راتلې، دا عمالقه او جُرهم دوي به پۀ هغوي باندې زورَور شو. او بني اسماعيل مجبوره شول نو هغوي دا علاقه پرېخودله او بل خوا لاړل. دَ مکې پۀ اطرافو کښې آباد شول. چې هلته ديره شول نو دوي بيا ډېر ظلمونه شروع کړل دَ بني اسماعيلو سره او دَ خانه کعبې به ئې هم بے عزتي کوله.

نو دَ عربو نورې قبيلې راپاسيدې او هغوي دَ جُرهم قبيلې سره پۀ جنګ شول. دوي ئې اوزغلول، خانه کعبه ئې دَ دوي نه پاکه کړه. بني اسماعيل واپس راغلل او آباد شول. خو دا قبيله جُرهم چې تلل نو خانه کعبه ئې خو ورانولے نۀ شوه. وائي: دا اوبۀ دي دَ دې نه به خلق فائده اخلي نو

دا کوهے ئې مکمل بند کړو. او داسې ئې بند کړو چې چا ته پته هم اونهٔ لګېدله چې هغه کوهے چرته دے؟ بالکل همواره زمکه ئې جوړه شوه. بني اسماعیل راغلل خو هغوي هم پهٔ دې کوهي څهٔ غم وغرض اونهٔ کړو.

دَ عبد المطلب خوب لیدل

کله چې دا مشرت عبد المطلب ته حواله شو نو دهٔ یَو شپه خوب اولیدو: خوب کښې ورته یَو کس راغلے ورته وائي:

"اِحْفِرْ طَيِّبَةً". "طیبه اوکنه!". عبد المطلب وائي: ما ورته اووئیل: دا "طیبه" څهٔ شے دے؟ نو هغه زما نه لاړے.

پهٔ سبا له چې زهٔ بیا اودهٔ شوم نو دے بیا راغے وائي: "اِحْفِرْ بَرَّةً". "برّه اوکنه". دے ورته وائي: "وَمَا بَرَّةُ؟". "برّه څهٔ شے دے؟". هغه بیا لاړے.

وائي: پهٔ دریمه شپه مې بیا خوب اولیدو: راته وائي:

"اِحْفِرِ الْمَضْنُوْنَةَ. فَقُلْتُ: وَمَا الْمَضْنُوْنَةُ؟".

"مضنونه اوکنه! نو ما ورته اووئیل: دا مضنونه څهٔ شے دے؟".

دا درې وارهٔ دَ زمزم نومونه وو. هغه کس بیا لاړے.

پهٔ څلورمه شپه باندې بیا راغے، هغه ورته وائي:

"اِحْفِرْ زَمْزَمَ، قُلْتُ: وَمَا زَمْزَمُ؟".

"زمزم اوکنه! ما ورته اووئیل: چې دا زمزم څهٔ شے دے؟".

"قَالَ: لَا تَنْزِفُ أَبَدًا وَّلَا تَذِمُّ تَسْقِي الْحَجِيْجَ الْأَعْظَمَ بَيْنَ الْفَرْثِ وَالدَّمِ عِنْدَ نُقْرَةِ الْغُرَابِ الْأَعْصَمِ عِنْدَ قَرْيَةِ النَّمْلِ".[1]

"هغهٔ اووئیل: دا داسې چینه ده چې دَ دې اوبهٔ به نهٔ اوچیږي، نهٔ به کمیږي او دا به دَ حاجیانو لویو لویو ډلو له اوبهٔ ورکوي. او دوي به دَ دې نه سیراب کیږي. او دا به نهٔ بندیږي. (دا ئې

(1) انظر: "شرح زرقاني على المواهب": (173/1).

ښخښي دي:) چې دَ غُشانو او دَ وينو په مينځ کښې، دَ اعصم کارغهٔ دَ غوټه کيدو ځائے سره دے او دَ ميږو دَ ميږتون سره خوا کښې دے".

عبد المطلب اووئيل: چې دا کوهے خو زهٔ کهولاؤم او دا به زهٔ کورم. پهٔ خوب کښې خو ورته پوره ښخښې ښخښانې هم اوښودلے شوې لکه دغه مخکښې ذکر شوې. نو دهٔ قريش راغونډ کړل، چې دا کوهے راکښنو، ما ته پهٔ خوب کښې وئيلے شوي دي. هغوي ورته اووئيل: روره! مونږ پڪښې نهٔ يُو، کهٔ ته ئې کنستلے شې نو کښنه ئې خو مونږ پڪښې نهٔ يُو. عبد المطلب اووئيل: زهٔ خو به ئې کښنم.

کوهے ئې شروع کړو او هيڅ څوک ورسره نهٔ وو، يَو دے دے او يَو ورسره ځوي (حارث) وو. دوي دواړو کوهے کنستل شروع کړل. خو ډير ګران کار وو. چې کوهے ئې کله کنستلو نو دهٔ آرمان اوکړو چې زهٔ يَو يم او يَو مې ځوي دے. دهٔ به پڪښې لاندې کار کولو او ځوي به ترې خاورې راخيژولې. آرمان ئې دا اوکړو وائي: "چې زما لس (۱۰) ځامن وے او دا ئې راسره کنستلو، نو بيا به مې هيڅ چا ته ضرورت نهٔ وو! کهٔ الله تعالى ما له لس ځامن راکړل نو يَو ځوي به پڪښې دَ الله پهٔ نوم حلالوم.

هغه کوهے ئې هم اوکنستلو دا آرمان ئې هم پوره شو او لس ځامن ورله هم الله ورکړل دا آرمان ئې هم پوره شو. پهٔ دې لسو ځامنو کښې يَو دَ نبي ﷺ پلار هم وو، عبد الله. اوږده واقعه ده.

بيا چې عبد الله پيدا شو نو دے اودهٔ دے او خوب ئې اوليدو چې: تا چې هغه نذر منلے هغه اوس پوره کړه کنه؟

دهٔ ځامن راغونډ کړل وائي: يَو به پڪښې حلالوم چې هر يَو وي. نو هغوي ورته اووئيل: چې ستاسو خوښه ده. دهٔ اووئيل: چې ايڪس به واچوم کهٔ پهٔ چا رااوختلو نو هغهٔ به حلال کړم. چې ايڪس ئې واچولو نو ايڪس پهٔ عبد الله باندې رااوختلو.

نو عبد الله ئې دَ لاس نه اونيولو او صفا غونډئ طرف ته ئې روان کړو چې حلالوم ئې. تول ځامن او رونړه وريسې اولګيدل چې نهٔ به ئې حلالَوې. وائي: څهٔ اوکړم ما چې نذر منلے دے؟ دوي ورته اووئيل: چې لا ړشه! دَ يهودو مُليانو نه تپوس اوکړه. او بعضې علماؤ ليکلي دي: چې دا يَوه کاهنه وه پهٔ خيبر کښې دَ هغې نه ئې تپوس اوکړو. هغې ورته اووئيل: چې ستاسو دَ عربو دِيَت

ځومره دے؟ وائي: زمونږ دَ يَو کس ديت لس اوښان دي. نو دا کاهنه ورته وائي: لس اوښان يَو خوا کړه او دے (عبد الله) بل خوا کړه بيا ايکس واچوه، نو کۀ چرته ايکس پۀ اوښانو راوختو نو اوښان حلال کړه او کۀ پۀ دې ځوي باندې دې راوختلو نو بيا دَ اوښانو سره لس (۱۰) نور ملګري کړه او بيا ايکس واچوه، پۀ دې طريقه ايکس اچوه، چې کله دَ عبد الله ايکس راختو نو نور لس اوښان ورسره ملګري کوه او کۀ ايکس پۀ اوښانو باندې راوختو نو دا ځومره اوښان چې وي دا به خيرات کړې او دا عبد الله به پريږدې، دا به دَ عبد الله بدله کښې حلال شي.

دۀ اووئيل: ښه!. دے راغے لس اوښان ئې يَو خوا کړل او بل خوا ئې عبد الله (دَ نبي ﷺ پلار) اودرولو. چې ايکس ئې واچولو، هغه بيا پۀ عبد الله راوختو، لس ئې ورسره نور ملګري کړل.... پۀ دې طريقه به ئې لس لس ملګري کول او ايکس به بيا دَ عبد الله پۀ نوم راوتو، تردې چې سلو (۱۰۰) ته اوښان اورسيدل. يَو خوا يَو عبد الله دے او بل خوا سل اوښان شول، نو چې سل اوښان ئې کړل او ايکس ئې واچولو نو بيا ايکس پۀ اوښان راوختو. نو سل (۱۰۰) اوښان ئې خيرات کړل. تردې چې حيواناتو له ئې پکښې هم واچول. او عبد الله هغه دَ مرګ نه بچ شو. دَ چاړۀ نه خلاص شو.

نبي ﷺ فرمائي: «أَنَا ابْنُ الذَّبِيْحَيْنِ».[1]

"زۀ دَ هغي دوؤ کسانو بچے يم چې هغوي دواړه دَ چاړۀ نه خلاص شوي دي".

هغه دوه پلاران يَو عبد الله دے، دَ نبي ﷺ پلار او بل دَ نبي ﷺ نيکۀ سيدنا اسماعيل عليه السلام چې دا دَ ابراهيم عليه السلام ځوي وو. الله رب العزة ابراهيم عليه السلام ته وحي کړې وه: چې بچي دې حلال کړه. نو هغه الله بچ کړو او دَ هغۀ پۀ ځائے ګډ حلال شو. نو عبد المطلب هغه شخصيت وو چې دۀ وئيلي وو: چې زۀ به خپل بچے دَ الله پۀ نوم حلالوم.

دا دَ نبي ﷺ دَ نسب او خاندان مختصر حالات ما ذکر کړل، باقي تفصيل به وروستو بيا کوؤ ان شاء الله تعالیٰ.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لله رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

(1) انظر: "شرح زرقاني على المواهب": (180/1).

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيْصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ

(سورة التوبة: 128)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه دريمه

"د نبي ﷺ پيدائش"

بتاريخ: 2021-12-24

مقام: جلسئ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

سيرة النبي ﷺ حصه دريمه

"دَ نبي ﷺ پيدائش "

اَلْحَمْدُ لله نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِه وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِه وَأَصْحَابِه وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِالله مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ الله الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ﴾.[1]

وقال تعالىٰ: ﴿يَهْدِي بِهِ اللَّهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ سُبُلَ السَّلَامِ وَيُخْرِجُهُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِهِ وَيَهْدِيهِمْ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾.[2]

حاضرينو عزتمندو مسلمانانو رونړو! دَ رسول الله ﷺ سيرت شروع وو. دَ رسول الله ﷺ نسب او دَ هغهٔ خاندان دَ هغې وضاحت شوے وو.

دَ رسول الله ﷺ پيدائش

نن بيان كښې دَ رسول الله ﷺ دَ پيدائش بيان دے: چې رسول الله ﷺ پهٔ كوم وخت كښې پيدا شوے دے؟ او دَ هغهٔ دَ پيدائش څهٔ داسې نخښې وې چې دَ نورو ماشومانو نه بدلې وې؟

رسول الله ﷺ دَ واقعه دَ اصحاب الفيل نه پنځوس (٥٠) يا پنځهٔ پنځوس (٥٥) ورځې بعد رسول الله ﷺ پيدا شوے دے. واقعه دَ اصحاب الفيل هغه وه: چې ابرهه، سره دَ فوج نه راغلے وو

(1) [سورة التوبة: 128].

(2) [سورة المائدة: 16].

دَ بیت الله دَ ورانولو په اراده باندې. خو الله رب العزة هغه کامیاب نهٔ کړو او سره دَ هاتیانو ئې تباه کړو. شپیتهٔ زره (۶۰۰۰۰) فوج سره دَ هاتیانو راغلے وو. بیا هغوي الله رب العزة تباه کړي وو. مشهوره واقعه ده. قرآن کښې هم دَ دوي ذکر په مستقل سورت کښې شوے دے. الله رب العزة فرمائي:

﴿أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ * أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ﴾.(۱)

"آیا تهٔ نهٔ ګورې چې څهٔ رنګه کار کړے وو رب ستا دَ هاتیانو والا سره! آیا نهٔ ئې وو ګرځولے چل دَ دوي په تباهئ کښې".

ابرهه او دَ هغهٔ ډله اهل کتاب وو، نصارئ وو او دَ مکې خلق چې وو نو هغوي کافران وو، مشرکان وو. نو الله رب العزة چې خانه کعبه، بیت الله بچ کولو نو دا دَ مشرکینو څهٔ کمال نهٔ وو، دَ دوي دَ وجې نه الله دَ ابرهه مدد نهٔ کولو؛ ځکه الله دَ کافرانو امداد نهٔ کوي؛ خو دا ابرهه او دَ هغهٔ لښکر چې الله تعالیٰ تباه کړو نو دا دَ څو وجوهو نه وو:

(۱) **اوله وجه**: دا وه چې دَ خانه کعبې حفاظت الله تعالیٰ دنیا ته ښکاره کولو، چې دا خانه کعبه زهٔ محفوظ ساتلے شم دَ کافرانو او بے دینه خلقو نه.

(۲) **دویمه وجه** دا وه: چې دا الله تعالیٰ ابرهه او دَ هغهٔ ډله چې هلاکه کړه نو دَ رسول الله ﷺ دَ عظمت دَ وجې نه. چې په دې ښار کښې به الله تعالی نبي پیدا کوي. علماؤ لیکلي دي: چې دا یَو قسم مقدمه وه دَ رسول الله ﷺ دَ راتلو.

نو دَ اصحاب الفیل دَ واقعې نه پنځوس (۵۰) یا پنځهٔ پنځوس (۵۵) ورځې بعد رسول الله ﷺ پیدا شوے دے.

دَ نبي ﷺ دَ پیدائش تاریخ

نبي ﷺ په کوم تاریخ پیدا شوے دے؟ نو دَ رسول الله ﷺ دَ پیدائش په تاریخ کښې دَ علماؤ ډیر اقوال دي... تاریخ پیدائش چې ورته وائي، تاریخ ولادت چې ورته وائي.

شیخ الحدیث مولانا ادریس کاندهلوي رحمه الله ذکر کوي: چې رسول الله ﷺ په اتم (۸) تاریخ

---

(۱) [سورة الفيل: 1-2].

ربیع الاوّل دَ میاشتې پیدا شوے دے. دا دَ پیر ورځ وه. څوک ورته دوشنبه وائي، څوک ورته پیر وائي. دَ انګریزي تاریخ مطابق: ۱۱/اپریل/۵۷۰ عیسوي سال وو. اوس خو دوهزار اکیس (۲۰۲۱) په ختمیدو دے. دَ دې عیسوي کال پنځهٔ سوه او اویا (۵۷۰) کاله شوي وو. یعني نبي ﷺ دَ عیسٰی علیه السلام نه پنځهٔ سوه او اویا کاله بعد راغلے وو.

دَ نبي ﷺ دَ پیدائش وخت

نبي ﷺ تقریبًا دَ صبح صادق په وخت کښې پیدا شوے وو. او نبي ﷺ دَ ابو طالب په ځائے او مکان کښې پیدا شوے وو. بعضې علماء وائي: چې نبي ﷺ دَ شپې پیدا شوے دے. څوک وائي: دَ پیشمني وخت کښې پیدا شوے دے. دا دومره بعیده خبره نهٔ وه. بس تطبیق داسې دے: چې دَ شپې وخت نه تکلیف شروع شو، سحر سحر وخت کښې دَ الله نبي ﷺ پیدا شو. او څوک چې وائي: چې دَ ورځې پیدا شوے دے، نو کهٔ سحر وختي شي نو بیا صحیح ده. او کهٔ نهٔ روستو ورځ یادَوي وائي: چې نمر راختلے وو او پیدا شوے، نو دا قول ضعیف دے.

بعضې مشهور قول دا هم دے: چې نبي ﷺ په دولسم ربیع الاول پیدا شوے وو، ورځ دَ پیر (ګل) وه خو تاریخ دولسم (۱۲) ربیع الاول وو. کوم چې دا نن صبا مشهوره خبره ده. علامه ابن جوزي رحمه الله دا دعوٰی کوي: چې دَ علماؤ اتفاق په دې باندې دے: چې نبي ﷺ په باره ربیع الاول باندې پیدا وو.

دَ علامه زرقاني رحمه الله قول

علامه زرقاني رحمه الله وائي: "وَالْمَشْهُوْرُ: أَنَّهٗ وُلِدَ فِي شَهْرِ رَبِيْعِ الْأَوَّلِ، وَهُوَ قَوْلُ جُمْهُوْرِ الْعُلَمَاءِ، وَنَقَلَ ابْنُ الْجُوْزِي الْاِتِّفَاقَ عَلَيْهِ".

"مشهوره دا ده: چې نبي ﷺ دَ ربیع الاول په میاشت کښې پیدا شوے دے او دا دَ جمهورو علماؤ قول دے. او ابن جوزي په دې باندې اتفاق رانقل کړے دے".

خو بیا علامه زرقاني رحمه الله لیکلي دي:

"وَفِيْهِ نَظَرٌ".(1)

(1) انظر: "شرح زرقاني على المواهب": (245/1).

"په دې کښې نظر دے"؛ ځکه کۀ اتفاق وو نو دا دومره اختلاف دَ کوم ځائے نه راغلے؟
لهٰذا دَ اتفاق دا قول صحيح نۀ دے.

دَ شيخ الحديث مولانا محمد ادريس کاندهلوي رحمه الله قول

"ليکن جمهور محدثين اور مؤرخين کے نزديک راجح اور مختار قول يه ہے: کہ حضور صلى الله عليه وسلم اٹھ (۸) ربيع الاوّل کو پيدا ہوئے. عبد الله بن عباس اور جبير بن مطعم رضي الله عنهم سے بھی يہی منقول ہے اور اسی کو علامہ قطب الدين قسطلانی رحمة الله عليه نے اختيار کيا ہے".[1]

وائي: "دَ جمهورو محدثينو او مؤرخينو په نزد باندې راجح او غوره قول دا دے: چې حضور ﷺ په اتم (۸) رَبيع الاول باندې پيدا شوے دے. دَ عبد الله بن عباس او جبير بن مطعم رضي الله عنهم نه هم دا نقل دي. او دارنګې دا قول علامه قطب الدين قسطلاني رحمه الله هم غوره کړے دے".

نو ورځ دَ پير وه، څوک ورته دَ ګل ورځ وائي، څوک ورته دوشنبه وائي، ورځ کښې اختلاف نشته دے خو تاريخ کښې اختلاف دے. نو ادريس کاندهلوي رحمه الله اووئيل: چې اتم (۸) ربيع الاول باندې حضور ﷺ پيدا شوے وو.

دَ مفتي کفايت الله رحمه الله قول

مفتي کفايت الله رحمه الله ليکلي دي:

وائي: "دَ ډير پخوا نه دَ رسول الله ﷺ په دې پيدائش کښې دَ مؤرخينو اختلاف دے. په دې کښې ئې خو اتفاق دے چې نبي ﷺ دَ ګُل په ورځ پيدا دے. او په دې کښې هم اتفاق دے: چې نبي ﷺ دَ ربيع الاول په مياشت کښې پيدا شوے دے. دا دوه غټې خبرې اتفاقي دي. خو اختلاف په دې کښې دے چې دا تاريخ کوم يَو وو؟ نو دَ دې په تعيين کښې کنړ اقوال دي: څوک وائي: چې نبي ﷺ په دويم (۲) ربيع الاول پيدا وو. څوک وائي: چې په دريم (۳) ربيع الاول پيدا وو. څوک وائي: چې په اتم (۸) ربيع الاول پيدا دے. څوک نهم (۹) تاريخ دَ ربيع الاول يادَوي. او څوک دولسم (۱۲) تاريخ دَ ربيع الاول يادَوي. او څوک ديارلسم (۱۳) تاريخ دَ ربيع الاول يادَوي".

دا ټول پنځۀ اقوال شول.

---

(1) انظر: "سيرة المصطفى": (1/63-64)، وفي مكتبة عمر فاروق: (1/55-56).

مفتي صاحب رحمه الله بیا وائي: "از روئے حساب جانچا گیا تو نو (۹) ربیع الاوّل والا قول زیادہ قوی ثابت ہوا"۔[1] "چې سرې حساب اوکړي او معلومات اوکړي نو دَ نهم (۹) ربیع الاول والا قول زیات قوي معلومیږي".

نو مفتي کفایت الله رحمه الله دې لره ترجیح ورکوي: "چې نَهم (۹) ربیع الاول بهتر قول دے دَ پیدائش دَ نبي ﷺ او ډیر صحیح قول دے".

شیخ الحدیث محمد ادریس کاندهلوي رحمه الله اتم ربیع الاول راجح قول یاد کړو، او مفتي کفایت الله صاحب رحمه الله وائي: نهم ربیع الاول غوره قول دے. او بیا مفتي صاحب رحمه الله لیکي:

"اس وجہ سے مولانا شبلی نعمانی اور مولانا قاضی محمد سلیمان رحمة الله عليهما اسی قول کو راجح اور قوی فرمارہے ہیں"۔

وائي: "دغه وجه ده چې مولانا شبلي نعماني رحمه الله او قاضي محمد سلیمان رحمه الله دې دواړو دغه (۹ ربیع الاوّل) قول راجح او قوي ګنړلے دے".

نو نبي ﷺ پۀ نهم ربیع الاول پیدا شوے دے. خو عوامو کښې خو دولسم مشهور دے نو مفتي صاحب وریسې وائي:

"لیکن عوام میں بارویں تاریخ والا قول کی شہرت زیادہ ہوگئی؛ اس بناء پر عوام بارویں ربیع الاول کو یوم ولادت سمجھتے ہیں"۔[2]

"خو پۀ عوامو کښې دَ باره (۱۲) ربیع الاول والا قول زیات مشهور دے؛ پۀ دې وجه باندې عوام زیات تر دَ ولادت باره (۱۲) ربیع الاول ذهن کښې راوړلي".

نو دا دومره اختلاف پکښې شته دے.

پۀ باره ربیع الاول باندې عید مناؤول

بعضې خلق پۀ باره ربیع الاول عید مناؤوئ. دا یَو مستقل بدعت دے. هغه کۀ پۀ نهم ربیع الاول مناوے او کۀ پۀ اتم ئې کوې، کۀ پۀ هر یَو تاریخ عید میلاد النبي مناوے نو دا بهر حال بدعت دے. کۀ چرته ستا دا عقیده وي: چې پۀ دې تاریخ دَ الله نبي ﷺ پیدا دے او زۀ دا خوشحالي کوم نو دا عید مناؤول بدعت دے.

دَ نبي ﷺ پۀ وفات باندې اتفاق

خو بل خوا دَ یَو انصاف خبره دا ده: چې پۀ باره ربیع الاول اتفاقي خبره ده چې نبي ﷺ وفات

(1) انظر: "کفایت المفتي": (147/1).
(2) انظر: "کفایت المفتي": (147/1).

شوے وو. پهٔ ولادت باندې دومره اتفاق نشته، خلقو کښې مشهور صرف دے، لیکن ما درته اووئیل: چې کاندهلوي صاحب وائي: نبي ﷺ پهٔ اتم ربیع الاول باندې پیدا دے. او مفتي کفایت الله صاحب وائي: راجحه دا ده: چې پهٔ نهم ربیع الاول باندې پیدا دے، او مفتي صاحب پنځهٔ اقوال ذکر کړل. لیکن اتفاق دَ ټولو علماؤ پهٔ دې دے چې پهٔ باره ربیع الاول باندې نبي ﷺ وفات شوے دے. نو بعضې خلق پهٔ دغه ورځې خوشحالي مناؤوئ. کهٔ دا جائز وے نو بیا خو به دَ نبي ﷺ پهٔ وفات باندې غم مناؤول هم جائز وي. نو اوس کهٔ غم ښکاره کوې نو پهٔ دې ورځ خو پیدا وو نو غم څنګه کوې؟ او کهٔ خوشحالي ښکاره کوې نو پهٔ دې ورځ خو هغهٔ وفات وو نو خوشحالي څنګه ښکاره کوې؟؛ لهٰذا مهٔ غم ښکاره کوه او مهٔ خوشحالي ښکاره کوه.

هره ورځ خوشحالي کوه، صرف یَو ورځ ئې مهٔ کوه. مونږ دغه خبره کوو. تاریخ کښې به څوک دا اونهٔ ښائي: چې نبي ﷺ پهٔ کومه ورځ پیدا شوے وو نو نبي ﷺ پهٔ خپله یا صحابه کرامو ﷺ، یا تابعینو رحمهم الله او یا تبع تابعینو رحمهم الله دا ورځ مانځلې ده، یا ئې مناؤ کړې ده. ولې صحابه کرام ﷺ پرې خوشحاله نهٔ وو؟ تابعین پرې خوشحاله نهٔ وو؟ خو دا دَ دین حصه نهٔ ده بلکه دا بدعت دے. خاص ورځ به دې لره نهٔ وي.

خو بهر حال راجحه داده: چې پیدائش دَ نبي ﷺ پهٔ اتم یا نهم تاریخ دَ ربیع الاول باندې شوے دے.

دَ رسول الله ﷺ دَ پیدائش وخت کښې ناآشنا مناظر

رسول الله ﷺ چې کله پیدا کیدو نو پهٔ هغې وخت نا آشنا نا آشنا مناظر لیدلے شوي دي، هغه مونږ اوس ذکر کوو:

(۱) اول ناآشنا حالت: دَ نبي ﷺ پهٔ پیدائش باندې دَ هغوي کور دَ رنړا نه ډکیدل

عثمان بن ابي العاص ﷺ دَ دهٔ والده ده فاطمه بنت عبد الله ﷺ وائي: کله چې نبي ﷺ پیدا کیدو نو پهٔ دغه وخت کښې دَ نبي ﷺ مور سره دا زنانه وه.

نو دا زنانه وائي: "رَأَيْتُ الْبَيْتَ حِينَ وَقَعَ قَدِ امْتَلَأَ نُوْرًا، وَرَأَيْتُ النُّجُوْمَ تَدْنُوْ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهَا سَتَقَعُ عَلَيَّ".[1]

---

(1) انظر: "شرح الزرقاني على المواهب": (218/1)، واللفظ له. و"فتح الباري" لابن حجر العسقلاني: (583/6).

"چې کله رسول الله ﷺ پیدا کیدو نو په دغه وخت کښې په دې ټول کور کښې یو رڼرا بله شوه، یو سپین پړق شو، چې دَ هغې نه دا ټول کور ډک شو او چې ما اوکتل نو دَ آسمان نه دا ستورې په ښکته راروان وو، ما وئیل: کښې چې دا ستورې په مونږ باندې راکوزیږي او راغورځیږي".

دا یو نا آشنا کار وو دَ نبي ﷺ دَ پیدائش په وخت کښې: چې ټول کور کښې سپین پړق جوړ شو.

(۲) دویم نا آشنا حالت: داسې رڼرا راخوره شوه چې دَ شام محلات روښنا نه شول

عرباض بن ساریه ﷺ نه نقل دي، هغه وائي: چې کله دَ نبي ﷺ مور نبي ﷺ زیږولو نو مور ئې په دغه وخت کښې په خپله باندې یو رڼرا اولیدله چې دَ هغې رڼرا دَ وجې نه دَ شام هغه محلّات روښانه شول.

شام ته هغه رڼرا اورسیده او دَ هغې دَ وجې نه هغه لوئې لوئې بنګلې روښانه شوې. دا بل یو نا آشنا کار وو چې داسې چرته نۀ دي شوي.[1]

(۳) دریم نا آشنا حالت: او داسې رڼرا وه چې دَ بصری محل روښنا نه شو

بل یو روایت کښې راځي، وائي: دَ بصرې هغه محل دَ دې وجې نه روښانه شوے وو.[2]

حکمت

په دې کښې څۀ حکمت وو چې نبي ﷺ دنیا ته راغے، دَ هغۀ په راتلو سپینه رڼرا خوره شوه؟ ستورې هغه ښکته راروان شو دا ولې؟ نو دې کښې دې خبرې طرف ته اشاره وه: چې لږه زمانه بعد چې په دې دنیا باندې دَ کفر او دَ شرک یو تور څادر خور دے، په دې باندې به دَ نبي ﷺ دَ وجې نه الله تعالىٰ دَ دین، دَ هدایت هغه رڼراګانې خورې کړې. چې دَ هغې دَ وجې نه به دا ټوله زمکه روښانه شي. لکه څنګه چې دَ نبي ﷺ په پیدائش باندې یو پړق شو نو دغسې دَ هغۀ دَ نبوّت نه بعد به یو پړق خور شي دَ الله دَ توحید او دَ الله دَ دین.

او هم هغه شان اوشوه. په ټوله دنیا کښې الله تعالىٰ دا دین اوځلولو او ټوله دنیا کښې دَ هغې هغه رڼراګانې خورې شوې، خصوصًا په قیصر او کِسرىٰ او ګیر چاپیره علاقو کښې.

---

(1) انظر: "سیرة المصطفٰی": (64/1).

(2) انظر: "فتح الباري" لابن حجر العسقلاني: (583/6).

دَ نبي ﷺ باره کښې دَ الله تعالی اعلان

دَ دې وجې نه الله تعالیٰ دَ خپل نبي ﷺ باره کښې فرمائي:

﴿قَدْ جَاءَكُم مِّنَ اللَّهِ نُورٌ وَكِتَابٌ مُّبِينٌ﴾.[1]

"پهٔ تحقيق سره راغلے دے تاسو ته دَ الله دَ طرف نه رنړا او کتاب ښکاره بيان کونکے".

نبي ﷺ ته الله تعالیٰ رنړا وائي. رنړا سره تيَرې ختميږي نو دَ نبي ﷺ دَ راتلو سره الله تعالیٰ دَ کفر او دَ شرک تيَرې ختمې کړې. نو دا "نور" ورته پهٔ دغه بنياد وائي. دا نه چې بدن ئې نور وو، لکه څنګه چې بريلويان وائي. وائي: پيغمبر ﷺ نور وو، خوراک، څښکاک ئې نهٔ کولو.

﴿يَهْدِي بِهِ اللَّهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ سُبُلَ السَّلَامِ وَيُخْرِجُهُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِهِ وَيَهْدِيهِمْ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾.[2] "هدايت کوي الله تعالی پهٔ دهٔ باندې هغه چا ته چې خوک تابع شو دَ رضامندئ دَ الله، دَ سلامتيا دَ لارو او اوباسي دوي لره دَ تيَرو نه رنړا ته پهٔ خپل حکم باندې. او الله تعالیٰ هدايت کوي دې خلقو ته پهٔ طرف دَ لارې نيغې".

دَ دې نبي ﷺ پهٔ وجه باندې الله تعالیٰ دا خلق دَ تيَرو نه رنړا ته اوباسي. نو نبي ﷺ يَو رنړا وه، دا رنړا چې دنيا ته راغله نو لوئي لوئي محلات پهٔ دې رنړا کښې راګير شول. معنیٰ دا: چې دَ دې رنړا دَ وجې نه به الله دغې محلاتو ته دين رسوي.

(٤) څلورم نا آشنا حالت: قريشو ته دَ يهودي وينا

يعقوب بن سفيان دهٔ پهٔ سندِ حسن باندې دَ عائشې ﷺ نه نقل کړي دي: هغه فرمائي: دا خبره مشهوره وه: چې نبي ﷺ کله پيدا شو نو دَ هغهٔ دَ پيدائش پهٔ دغه وخت کښې پهٔ مکه کښې يَو يهودي وو. هغهٔ راغلے وو تجارت ئې کولو. هغهٔ هلته مکه کښې پاتې وو، لا حصار وو. پهٔ کومه شپه چې نبي ﷺ پيدا شو نو هغه يهودي راغلے او دَ قريشو نه ئې تپوس کولو: "چې اے قريشو! ستاسو پهٔ دې قريشو کښې پهٔ نن شپه کښې دَ چا ماشوم پيدا شوے دے کهٔ نهٔ؟ تاسو اوګورئ! چې دَ چا ماشوم پيدا شوے دے؟". قريشو ورته اووئيل: چې ولې پهٔ دې کښې دې څهٔ مطلب دے؟".

---

(1) [سورة المائدة: 15].

(2) [سورة المائدة: 16].

نو هغهٔ ورته وائي: "چې خبره دا ده: چې پهٔ دې شپه کښې دَ دې امت نبي ﷺ به الله پيدا کوي (دا واقعات مخکښې کتابونو کښې وو)، او نن هم هغه شپه ده چې کتابونو کښې ليکلي دي: چې پهٔ دې شپه کښې به دِ دې امت نبي پيدا کيږي. نو اوګورئ! چې ستاسو قريشو کښې خو دَ چا ماشوم نهٔ دے پيدا شوے؟". نو قريشو اووئيل: "مونږ ته خو پته نشته چې سحر پاڅو معلومات به اوکړو". چې سحر پاڅيدل نو وائي: "آوا بيګا دَ عبد المطلب نوَسے پيدا شوے دے".

هغه يهودي ورته وائي: "چې تاسو لاړشئ! معلومات اوکړئ چې چرته دَ هغهٔ دَ دې دواړو اوګو پهٔ دې مينځ کښې څهٔ مهر دَ نبوّت خو نشته دے؟". داسې پسته غوښه غوندې وه. نو هغوي چې روان شول نو دې يهودي ورته اووئيل: "چې زهٔ هم درسره ځم چې دا هلک اووينم". يهودي هم راغلے، دَ نبي ﷺ ملاقات ته راغلل. نبي ﷺ وړوکے دے، ايله پيدا شوے دے. کله چې يهودي دا ماشوم اوليدو او دَ هغهٔ دَ دواړو اوګو ترمينځه هغه مهر نبوّت ئې هم اوليدو نو دا يهودي راپريوَتو او بے هوشه شو. ډير پريشانه شو او دَ ډيرې پريشانئ دَ وجې نه بے هوشه شو.

چې کله پهٔ هوش کښې راغلے چا ورته اووئيل: "چې اے يهودي! څهٔ چل شوے دے چې تهٔ ناڅاپه رااوغورځيدې او بے هوشه شوې؟". نو هغه يهودي ورته وائي: "يَو آرمان راغے او يَو ډير لوئي افسوس راغے". نو دوي ورته اووئيل: "څهٔ؟". يهودي وائي: "زمونږ دا آرمان وو چې دا نبي ﷺ به پهٔ مونږ کښې پيدا شي! نبوّت دَ بني اسرائيلو نه ختم شو. دا خو هغه نبي دے چې الله به ئې دې قوم ته پيغمبر راليږي. نو کاش چې دے زمونږ پهٔ قوم کښې پيدا ... ے وے! نو دا به ډيره ښهٔ خبره وه. زمونږ نه هغه نبوت ختم شو او عربو کښې قريشو ته راغے". او ىهٔ دې باندې هغه ډير زيات پريشانه وو دَ پريشانئ دَ وجې نه بے هوشه شوے وو.

او بيا قريشو ته وائي: "چې اے قريشو! دا واورئ! زما دې دَ الله پهٔ ذات باندې قسم وي چې دا ماشوم چې کله زلمے شي نو دے به پهٔ تاسو باندې يَو داسې حمله کوي او داسې يَو فتحه به الله تعالیٰ دهٔ له ورکوي پهٔ تاسو باندې چې دَ هغې هغه خبر به پهٔ مشرق او مغرب کښې خور شي. ټوله دنيا به بيا دَ هغې حملې تذکرې کوي".

مؤرخینو لیکلي دي: چې مراد دَ دغې یهودي دَ حملې نه هغه فتح مکه وه، پهٔ مکې باندې به حمله کوي او مکه به فتحه کوي.

او هغه شان بیا اوشوه هم: نبي ﷺ او صحابه کرامو ﷺ مکه فتحه کړه. دَ بیت الله اختیار دوي ته حواله شو، دَ مکې حکومت دوي ته حواله شو. او دا خبره پهٔ ټوله دنیا کښې خوره شوه: چې مسلمانانو مکه فتح کړه او کافرانو شکست اوخوړو. خو یهودي هغه وخت کښې وئیلي وو: چې دے به پهٔ تاسو باندې حمله کوي او داسې حمله به کوي چې دَ هغې خبر به پهٔ مشرق او مغرب کښې خور شي؛ نو دا ځکه چې تورات کښې دا خبرې وې.[1]

(۵)، (٦) پنځم او شپږم نا آشنا حالت: دَ کسرىٰ په محلاتو کښې زلزله راتلل او څوارلس خختې غورځیدل، او دَ مجوسو اُور مړ کیدل

بله یَو نا آشنا واقعه داسې اوشوه: پهٔ کومه شپه چې نبي ﷺ پیدا شو پهٔ دغې شپه دَ کِسرىٰ پهٔ هغې محلّاتو کښې یَو زلزله راغله. او کوم چې هغه اوچت محل وو دَ کسرىٰ دَ بادشاه چې هغه دهٔ پهٔ ډیره عجیبه طریقه باندې جوړ کړے وو، هغه شاهي محل چې وو دَ هغې څوارلس خختې اوغورځیدې.

داسې ځکښې چرته نهٔ وو شوي؛ ځکه زلزله کښې خو یا ټول آبادے اوغورځیږي او یا ټول بچ شي. او دَ هغې نه صرف څوارلس خختې رااوغورځیدې.

او پهٔ دغه شپه باندې پهٔ کومه شپه چې رسول الله ﷺ پیدا شو... چونکه فارس والا خو دَ اُور عبادت کونکي وو، هغوي به اُور ته سجدې کولې. نو ځنګه چې نبي ﷺ پیدا شو پهٔ هغې شپه دَ هغوي هغه اُور هم مړ شو. او علماؤ لیکلي دي: چې دا اُور هغوي پهٔ آتش کده کښې شروع کړے وو. پهٔ زرګونو کاله بل شوے اُور، چې چرته هم نهٔ وو مړ شوے، شپه او ورځ به هغوي دا اُور بلولو، پهٔ هغې باندې به ئې نوے نوے خشاک اچولو، نوي نوي خلق به دَ هغې بلولو ته راتلل. چرته هم دَ هغوي نه هغه اُور مړ شوے نهٔ وو؛ ځکه چې دَ هغې عبادت به ئې کولو نو کهٔ اُور مړ شوے وو نو عبادت به ئې بیا دَ چا کولو. پهٔ دې وجه هغوي دَ دې ډیر خیال ساتلو. او دوي ټول راچاپیره دي اُور

(1) انظر: "شرح الزرقاني على المواهب": (120/1).

بلَوي او بليږي نۀ، اُور مړ دے. هغوي ډير پريشانه دي چې دا څۀ وجه کيدے شي چې زرګونه کاله اوشول دا اُور چرته مړ شوے نۀ دے نن دا مړ شو او بليږي نۀ؟

نو پۀ دغه شپه دَ هغوي هغه اُور هم مړ شوے وو.

دَ نبي ﷺ دَ پيدائش پۀ شپه مؤرخين ليکي: کله چې صبا شو نو دَ کسرٰی بادشاه انتهائي پريشانه دے خو کسرٰی بادشاه خلقو ته غږ نۀ کوي چې خلقو کښې يَو خوف خوريږي. ټول وزراء او سرمايه داران ئې راټول کړل او يَو مجلس ئې منعقد کړو: چې دا څۀ داسې نوې حادثه راغلې ده؟ نو دوي دا خبرې کوي او هغه غټ غټ سرداران او غټ غټ وزيران ورسره هم ناست دي پۀ دې کښې يَو کس اووئيل: چې خبر داسې راغلے دے چې بيګا دَ فارس والا آتش کده هم مړه شوې وه، او هغه اُور بيا بليدو نۀ. نو کسرٰی بادشاه نور هم پريشانه شو. وائي: دا څۀ نا آشنا کار دے چې زمونږ دَ محل نه هم بيګا څوارلس (۱٤) خختې راغورځيدلي دي او دَ فارس والا اُور هم مړ شوے دے! نو پۀ دې سره دَ بادشاه هغه خوف او يره نوره هم سهوا شوه. بيا پۀ دې دوران کښې يَو کس پاځيدو او وائي: ما بيګا خوب ليدلے...

(۷) اووم نا آشنا حالت: دَ موبذان خوب ليدل

نو پۀ دې دوران کښې هغۀ ته دَ خپل قوم يَو کس (موبذان نوم ئې دے) وائي: "چې يره جي! ما بيګا يَو خوب ليدلے دے، هغې خوب ډير ګډوډ کړے يم". بادشاه ورته وائي: "چې هغه خوب دې راته اووايه! چې څۀ دې ليدلي دي؟". نو دۀ ورته اووئيل: "خوب مې ليدو: چې يَو عربي سړے دے او پۀ يَو عربي اَس باندې سور دے، ډير قيمتي اَس باندې سور دے او هغه راروان دے تر دې پورې چې زمونږ دريائے دجله (دا لوئي سمندر دے) چې دے پۀ دې سمندر باندې راپورې شو، او پۀ دې تمامو ملکونو کښې اوګرځيدو. او بيا واپس لاړو".

نو کسرٰی نور هم حيران شو، چې دا څنګه چل دے؟ نو وائي: "يَو داسې سړے راولئ چې ما له دَ دې خوب تعبير اوباسي، چې دَ دې خوب څۀ تعبير دے؟ او ما پۀ دې خوب باندې مطمئن کړي". نو کسرٰی بادشاه يَو ملګرے وو، لوئي عيسائي وو. هغۀ ته ئې خط اوليکلو. نعمان بن منذر ته چې ما له

يَو لوئي عالم او يَو لوئي سړے اوګوره چې ما له ئې رااوليږې؛ چې ما له دَ دې خوب تعبير اوباسي.

نو نعمان بن منذر چې دا خط اوکتلو نو هغهٔ ورله يَو عالم دَ هغې زمانې اوليږلو. دُ هغهٔ نوم عبد المسيح غساني وو، عيسائي وو، دَ عيسٰی ؑ پهٔ مذهب باندې وو. نعمان بن منذر دې عالم ته اووئيل: "چې کسرٰی بادشاه پريشانه دے، څهٔ مسئله ئې ده. تهٔ هلته لاړ شه او دغه مسئله ورله حل کړه". دے چې راغلے نو کسرٰی بادشاه دهٔ ته وائي: "تهٔ خو راغلے ئې خو زما څهٔ تپوسونه دي ما له به جواب راکړے شې او کهٔ نهٔ؟". نو دے ورته وائي: "تپوس اوکړه کهٔ جواب راځي خو ډيره ښهٔ او کهٔ جواب نهٔ راځي نو داسې يَو کس به درته اوښايم چې هغه به درته دا مسئله معلومه کړي؛ ځکه ما له به جواب راځي يا به نهٔ راځي".

بادشاه ورته وائي: "چې زما دې ملګري خوب ليدلے دے: چې يَو عربي سړے دے او پهٔ يَو عربي آس باندې سور دے، ډير قيمتي آس باندې سور دے او هغه راروان دے تردې پورې چې زمونږ دريائے دجله چې دے پهٔ دې سمندر باندې راپورې شو، او پهٔ دې تمامو ملکونو کښې اوګرځيدو. او بيا واپس لاړو. نو دَ دې خوب تعبير څهٔ دے؟". دے ورته وائي: "دا خو څهٔ ډير نا آشنا خوب دے ما خو وئيل: چې تهٔ به دَ څهٔ مسئلې تپوس کوې. دَ دې خوب دَ تعبير خو ما ته پته نشته. خو لږ صبر اوکړه زهٔ ځم او زهٔ درله معلومات کوم؛ ځکه زما يَو ماما دے، دَ هغهٔ نوم دے سطيح، پهٔ شام کښې اوسيږي نو زهٔ ځم هغه پهٔ دې تعبيرونو ښهٔ پوهيږي. دَ هغهٔ نه به درله جواب راوړم". دهٔ له ئې يَو تيز رفتار آس ورکړو، چې شابه! ځان اورسوه، هغه مهٔ راوله تهٔ لاړ شه، او دَ هغهٔ نه به ما له جواب راوړې.

عبد المسيح چې کله دَ خپل ماما خواته اورسيدو نو هغه پهٔ حالت دَ زنکدن کښې وو، آخري سلګئ ئې وې خو لا سوچ، سمجهه ئې برابر وو، دماغ ئې کار کوي. نو دهٔ ته وائي: چې څنګه راغلے ئې؟ دهٔ ورته دا خپله قيصه بيان کړه: چې داسې خوب چا ليدلے دے، دَ دې تعبير به څهٔ وي؟ نو هغه ورته وائي: چې کار دا دے: چې داسې يَو کس به پهٔ عربو کښې پيدا کيږي چې ستاسو دا حکومتونه به دَ هغهٔ دَ لاسه رانسکوريږي، ستاسو دا ټول حکومتونه او ستاسو دا بادشاهت به دَ هغهٔ دَ لاسه ختميږي.

بادشاه ته ئې چې واپس خبر راوړو نو هغه نور هم پریشانه شو، چې دا به څنګه چل وي؟ خو بادشاه اوونيل: "چې دې دومره وخت پس ایله دا څوارلس خختې راپریوتې دي نو چې دا دومره حکومتونه ورانیږي نو پهٔ دې به وخت لګي".

دا خوب ریښتیا راااوتو؛ څهٔ ملکونه دَ نبي ﷺ پهٔ زمانه کښې فتح شول او څهٔ دَ عمر رضی الله عنه پهٔ دور کښې او نور دَ عثمان رضی الله عنه پهٔ دور کښې فتح شو.

نو داسې نا آشنا نا آشنا مناظر دَ نبي ﷺ دَ پیدائش پهٔ وخت کښې راغلي وو.

(۸) اتم نا آشنا حالت

علماء کرامو لیکلي دي: "چې کله نبي ﷺ پیدا شو نو دَ هغهٔ دا پیدائش نا آشنا داسې هم وو چې نبي ﷺ مختون شوے وو (سُنَتْ وو)".

پهٔ دې کښې هم اختلاف دے، او دَ علماؤ پکښې درې (۳) اقوال دي:

(۱) یَو قول دا دے: چې نبي ﷺ سُنَتْ پیدا شوے وو. پیدائشي سُنَتْ وو. چا ورله سُنَتْ نهٔ وو کړے؛ او دَ هغې وجه دا وه: چې دَ رسول الله ﷺ پهٔ عورت باندې دَ چا نظر اونهٔ لګي.

(۲) دویم قول دا دے: چې نبي ﷺ خپل نیکهٔ عبد المطلب پهٔ اومه ورځ سُنَتْ کړے وو.

(۳) دریم قول دا دے: چې نبي ﷺ چې حلیمه سعدیه دَ ځان سره بوتلے وو نو هلته کښې ئې ورله سُنَتْ کړے وو. خو دا یَو قول ضعیف دے. او دا مخکښې دوه قوله دَ علماؤ قوي دي: یا پیدائشي سُنَتْ وو او یا عبد المطلب سُنَتْ کړے وو.

بعضې محدثینو تطبیق کړے دے، وائي: نبي ﷺ سُنَتْ شوے پیدا وو خو کهٔ معمولي څهٔ فرق وو نو عبد المطلب سُنَتْ کړو. اکثر ماشومان داسې وي، ډاکټران وائي: دَ دهٔ سُنَتْ ته ضرورت نشته دے. او کهٔ معمولي ضرورت ورته وي نو بیا ئې سُنَتْ کړي. نو دغه شان نبي ﷺ هم وو: چې پیدائشي سُنَتْ وو خو لیکن بیا هم عبد المطلب دَ احتیاط دپاره سُنَتْ کړو. نو پهٔ دې صورت کښې دا دواړه اقوال صحیح شول.

نو دا هم یَو نا آشنا خبره وه: چې نبي ﷺ سُنَتْ شوے پیدا وو. بیا دَ نبي ﷺ عقیقه، دَ هغهٔ نوم دا به ورپسې جُمعه کښې وایُو، ان شاء الله.

الله رب العزة دې دا خبرې زمونږ علم او عمل کښې راولي (آمین!).

وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ.

بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ

(سورة التوبة: 128)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه ثلورمه

"دَ نبي ﷺ عقيقه، تسميه او رضاعت"

بتاريخ: 2021-12-31

مقام: جلسئ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

سيرة النبي ﷺ حصه څلورمه

"دَ نبي ﷺ عقيقه، تسميه او رضاعت"

اَلْحَمْدُ لله نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِه وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِه وَأَصْحَابِه وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ﴾.[1]

حاضرينو عزتمندو مسلمانانو رونړو! په تېرو څو جمعو کښې دَ رسول الله ﷺ دَ سيرت څهٔ حصه بيان شوې وه. تردې ځائے پورې خبره راغلې وه: چې دَ رسول الله ﷺ دَ ولادت پهٔ وخت کښې يا دَ ولادت نه مخکښې چې کوم امور خارقه للعادة وو، نا آشنا نا آشنا حالات وو کوم چې آمنې بي بي ليدلي وو يا نورو خلقو ليدلي وو، فارس، روم والا ليدلي وو چې دَ هغې نه هغوي پوره پريشانه شوي وو، دَ هغې تذکرې شوې وې.

دَ نبي ﷺ دَ پلار وفات

رسول الله ﷺ چې دنيا ته راغلے نو علماؤ ليکلي دي: "چې دَ نبي ﷺ پلار دَ رسول الله ﷺ دَ پيدائش نه مخکښې وفات شوے وو".

نبي ﷺ لا دَ مور پهٔ کېده وو، حمل وو چې دَ هغهٔ پلار عبد الله وفات شو. علماؤ ليکلي دي: چې دَ نبي ﷺ پلار عبد الله پهٔ لاره کښې پهٔ مدينه کښې وفات شوے وو. هغه وخت کښې دَ نبي ﷺ

(1) [سورة التوبة: 128].

خاندان په مکه کښې اوسیدو.

دَ عبدالله شام ته دَ تجارت دپاره تلل

دَ عربو دا طریقه وه: چې هغوي به تجارتونه کول په اوښانو او خرو باندې، او اوږدۀ اوږدۀ سفرونه به وو په میاشتو میاشتو او په کلونو کلونو باندې، هغې زمانه کښې نۀ څۀ خطونه وو، نۀ څۀ ټیلیفونونه وو، نۀ څۀ نورې رابطې وې. عبد الله شام ته دَ تجارت دپاره روان شو. او هغه تجارتونه به یواځې نۀ کیدل. نور ملګري به ورسره هم ملګري شول، یَو قافله به جوړه شوه، هغې قافلې سره به تلل. عبد الله دَ قافلې سره روان شو. کله چې هغه قافله مدینې ته اورَسیده نو عبد الله هلته کښې بیمار شو. قافلې والا ورله څۀ دم درود اوکړو، دوائي ئې اوکړه خو دے دَ هغوي سره تلے نۀ شو. نو هغوي خو تجارت له تلل. دَ عبد الله ماماخیلې چې وه هغه مدینه کښې وه بنو نجّار، نو دے دَ هغه خپلې ماماخیلئ سره پاتې شو، چې تاسو ځئ او زۀ خو بیمار یم تلے نۀ شم. نو قافله ترې لاړه. دلته مکه کښې چا ته پته نۀ وه: چې ګني عبد الله بیمار دے او مدینه کښې پاتې شوے دے، ژوندے دے یا مړ دے؟ دَ دوي خو دا خیال وو چې تجارت له لاړو، او الله رب العزة به ورله ګټه ورکړي او واپس به راځي.[1]

دَ عبدالله باره کښې دَ عبدالمطلب تپوس

قافلې چې هر څومره وخت تیر کړو. چې واپس مکې مکرمې ته راغلل، تاجران راغلل، ټول ملګري راغلل خو یَو عبد الله ورسره نۀ وو. عبد المطلب تپوس اوکړو: "چې زما ځوي عبد الله څۀ شو؟". نو قافلې والا ورته اووئیل: "چې عبد الله خو مونږ سره تجارت ته نۀ دے تلے. مونږ سره وو خو چې مدینې منورې ته لاړو نو مدینه کښې هغه بیمار شو، مونږ ترې لاړو او هغه دَ ماماګانو ځائے کښې مدینه کښې حصار شو. عبد المطلب ته چې دا خبر میلاؤ شو نو دَ هغۀ مشر ځوي وو حارث، هغۀ ته ئې اووئیل: چې شابه! ځان اورَسوه رور به دې بیمار وي، هلته نه ئې راوله چې علاج معالجه ورله اوکړو. دے چې لاړو ماماګانو کره نو عبد الله نۀ وو، دۀ تپوس اوکړو: چې

---

(1) انظر: "سیرة المصطفی": (57/1)، وفي طبع: مکتبة عمر فاروق: (51/1).

عبد الله څهٔ شو؟ هغوي ورته اووئیل: چې هغه خو يَو میاشت دلته پروت وو، مونږ ورته ډیر علاجونه او دوایاني اوکړې، آخر سرے ښهٔ نهٔ شو، وفات شو، او مونږ دفن کړو.

هغه وخت کښې دَ جنازو تذکرې نهٔ وې، دَ جاهلیت زمانه وه، او هسې هم مونږ وئیل: کهٔ خبر شي نو مړي سره به څهٔ کوي؟ نو پهٔ دې وجې مونږ وئیل کهٔ کله هم خبر شول بس خبر به شي، مونږ دغسې کار کړے دے: چې میاشت مونږ کره پروت وو، بیا وفات شو او مونږ دفن کړو. نبي ﷺ پهٔ هغهٔ وخت کښې لا دَ مور پهٔ خیټه کښې وو، حمل وو چې پلار ئې وفات شو.[1]

دَ عبد الله دَ وفات کیدو وخت کښې عمر

پهٔ دې خبره کښې دَ علماؤ اختلاف دے چې عبد الله چې وفات کیدو نو دے دَ څومره عمر وو؟ نو څوک وائي: دَ دیرشو (۳۰) کالو پهٔ عمر کښې وفات شوے وو. څوک وائي: پنځوس (۵۰) کاله عمر ئې وو. او څوک وائي: دَ اتلسو (۱۸) کالو وو. امام سیوطي رحمه الله دې له ترجیح ورکوي: چې عبد الله دَ اتلسو (۱۸) کالو پهٔ عمر کښې وفات شوے وو.[2]

نبي ﷺ لا پیدا نهٔ وو چې پلار ئې وفات شو. دَ دهٔ دَ وفات نه بعد الله تعالیٰ نبي ﷺ پیدا کړو. نبي ﷺ ته ترونه او نیکهٔ ډیر زیات خوشحاله وو. وائي: څکه زمونږ هغه ځوي خو هسې هم نشته دا دَ هغهٔ نه پس مرګي ځوي دے نو دَ هغهٔ پهٔ نظر به دهٔ ته ګورو. نو نبي ﷺ پیدا شو.

چې کله نبي ﷺ پیدا شو نو دَ ابولهب وینزه وه (روستو دَ دې وضاحت کوو) نو هغه پهٔ منډه منډه ابولهب ته راغله او ابو لهب ته ئې اووئیل: "چې مبارک شه! ستا پس مرګي ورارهٔ اوشو. ستا دَ هغه رور دَ وفات نه پس الله دَ هغهٔ ځوي پیدا کړو". ابو لهب دَ ډیرې خوشحالئ نه هغه وینزې ته اووئیل: "چې تا ما ته زما دَ ورارهٔ زیرے راواورَسَولو نو "فَأَنْتِ حُرَّةٌ" تهٔ آزاده ئې".

ابو لهب دَ ډیرې خوشحالئ نه وینزه دَ غلامئ نه آزاده کړه.

دَ نبي ﷺ عقیقه

عبد المطلب هم ډیر زیات خوشحاله وو. دا طریقه دَ پخوانه راروانه وه چې دَ ماشوم پهٔ

---

(1) انظر: "الطبقات": (61/1)، و"شرح الزرقاني على المواهب": (109/1).

(2) انظر: "شرح الزرقاني على المواهب": (109/1).

پیدائش کښې به هغوي عقیقه کوله. چې هلک پیدا شي نو دوه ګډان حلالول دي، او که جینۍ پیدا شي نو یَو څاروے به حلالَوې، چې دَ کال څاروے وي او قرباني پرې کیږي. عبد المطلب په اوومه ورځ عقیقه اوکړه او ټولو قریشو له ئې دعوت ورکړو، چې راځئ به! زما نوَسے شوے دے، دَ هغۀ عقیقه ده. نو دَ نبي ﷺ عقیقه اوشوه.[1]

نبي ﷺ له نوم کیخودل

نو په اوومه ورځ عقیقه هم وي او په اوومه ورځ به ماشوم له نوم هم ایږدې. نو عبد المطلب نبي ﷺ ته نوم کیخودو "محمد". قریشو ورته اووئیل: چې عبد المطلبه! عجیبه سړے ئې تا خو دۀ ته داسې نوم کیخودو چې دا خو چرته ستا په پلارانو، نیکونو او خاندان کښې چرته داسې نوم نۀ دے تیر شوے او نۀ عربو چرته داسې نوم کیخودلے دے. عبد المطلبه دا ولې تاسو داسې نوم کیخودو؟ نو عبد المطلب ورته خپل یَو خوب بیان کړو: چې ما یَو خوب لیدلے وو په کوم وخت کښې چې دا ماشوم لا شوے نۀ وو، حمل وو.... هغه خوب دا دے:

(١) اوله وجه دَ کیخودودَ "محمد" نوم: دَ عبد المطلب خوب لیدل

عبد المطلب دا محمد نوم څکه خوښ کړے وو؛ چې بعضې علماؤ لیکلي دي: چې عبد المطلب یَو خوب اولیدو او په خوب کښې ئې دا اولیدل: "چې الله رب العزة زما دَ شاه نه یَو زنځیر راښکاره کړو، یَو زنځیر ئې جوړ کړو او هغه زنځیر څلور شاخونه وو: یَو سر ئې بره لاړو آسمان طرف ته، یَو سر ئې زمکې طرف ته راغلے، یَو سر ئې مشرق طرف ته لاړو او بل سر ئې مغرب طرف ته لاړو. او بیا مې کتل چې: دَ دې نه بعد دَ هغې زنځیر نه یَو اونه جوړه شوه او دَ هغې اونې شاخونه ګیر چاپیره خوارۀ شول او دَ هغې هغه هر یَو شاخ کښې پاڼې وې، او هغې کښې داسې رڼرا وه چې داسې رڼرا دَ نمر هم نۀ وه، دَ نمر دَ رڼرا نه هغه اویا (٧٠) درجې سېوا وه".

خوب ئې چې اولیدو نو معبِّرین ئې راغونډ کړل چې: دَ دې خوب تعبیر راته اوباسئ؟ معبِّرینو ورته اووئیل: "چې دَ دې تعبیر داسې معلومیږي چې ستا په خاندان او نسل کښې به الله تعالی داسې یَو هلک پیدا کوي چې دَ هغۀ ملګري او تابعدار به په دنیا کښې خوارۀ وي، مشرق او

(1) انظر: "سیرة المصطفی": (72/1)، وفي طبع: مکتبة عمر فاروق: (63/1).

مغرب ته به رسيږي او په زمکه او آسمان به دَ هغهٔ تعريفونه او صفتونه کيږي".

عبد المطلب دا هم ليدلي وو: "چې څهٔ خلق دَ هغې اونې خواته راځي او هغه رانيسي او هغې سره کښيني او هغې سره خوشبوياني اخلي، رنړاګانې اخلي او څهٔ خلق دَ هغې هغه لښتې رانيسي او دَ هغې دَ کټ کولو کوشش کوي چې کټ ئې کړي. خو چې کله څوک دَ کټ کولو پهٔ اراده ورځي نو هلته کښې يَو ښائسته نوجوان ولاړ دے او هغه ئې روستو واپس کوي او ورته ئې نهٔ پريږدي".

نو معبِّرينو دَ هغې تعبير داسې اوويستو: "چې دَ دهٔ تابعدار به الله تعالى دنيا کښې ډير کړي، مشرق او مغرب کښې به ئې تابعدار وي، زمکه او آسمان کښې به ئې خلق صفتونه کوي او چې څوک دَ دهٔ خلاف کوي نو الله به داسې خلق پيدا کوي چې دَ دهٔ نه به دفاع کوي".

عبد المطلب چې دا تعبير واوريدو نو راغلے او خپلې اينګور ته ئې اووئيل: "چې ما داسې خوب ليدلے دے... او ما ته معبِّرين وائي: چې تا لره به الله ستا پهٔ نسل کښې داسې يَو کس پيدا کوي نو زما پهٔ خيال هغه به هم دا وي چې ستا پهٔ خيټه کښې کوم حمل دے. دَ دې ډير خيال ساته".

نو چې کله پيدا شو هغه خبره خو دَ هغهٔ پهٔ ذهن کښې وه نو پهٔ دې وجه ئې دې ماشوم ته نوم کيخودو: "محمد".[1]

(۲) دويمه وجه دَ محمد نوم دَ کيخودو

دَ محمد نوم ئې ورله ولې کيخودو؟ دَ دې بله وجه داده: چې دَ "محمد" معنٰى ده: "هغه شخصيت چې پهٔ تمام جهان کښې دَ هغهٔ تعريفونه او صفتونه شوي وي". هر څوک دَ هغهٔ تعريفونه کوي، هر څوک دَ هغهٔ مدحې کوي؛ ځکه ئې ورته دَ "محمد" نوم کيخودو. بعضې وائي: چې نوم ئې ورله احمد کيخودو. دَ رسول الله ﷺ کنړ نومونه دي. "صحيح البخاري" کښې راځي: رسول الله ﷺ فرمائي:

«لِي خَمْسَةُ أَسْمَاءٍ: أَنَا مُحَمَّدٌ، وَأَحْمَدُ وَأَنَا المَاحِي الَّذِي يَمْحُو اللهُ بِيَ الكُفْرَ، وَأَنَا الحَاشِرُ الَّذِي يُحْشَرُ النَّاسُ عَلَى قَدَمَيَّ، وَأَنَا العَاقِبُ».[2]

(1) انظر: "شرح الزرقاني على المواهب": (270/4).

(2) أخرجه البخاري في كتاب المناقب، باب ما جاء في أسماء رسول الله ﷺ، برقم: (3532)، ومسلم في كتاب الفضائل، باب في أسمائه ﷺ: (2354).

دَ الله نبي ﷺ فرمائي: "زما پنځهٔ نومونه دي: زهٔ محمد يم، زهٔ احمد يم، زهٔ ماحي يم هغه چې الله به زما پهٔ وجه کفر ختموي، او زهٔ حاشر يم هغه چې خلق به زما پهٔ قدمونو راپورته کولے شي او زهٔ عاقب يم".

نو صرف يَو نوم ئې نهٔ دے پنځهٔ نومونه دي حديث کښې ذکر شول او دَ هر يَو خپل خپل مطلب دے:

(۱) دَ محمد معنٰى: دا چې کله مبني للمفعول شي نو معنٰى: ډير صفت ئې شوے دے. او کهٔ محمد مبني للفاعل شي نو بيا ئې معنٰى دا ده: چې ډير صفت او حمد ويونکے دَ الله.

(۲) دَ احمد معنٰى ده: دَ ډيرو صفتونه والا.

(۳) دَ ماحي معنٰى: ورانونکے. زهٔ هغه شخص يم، هغه انسان يم چې يَمْحُو اللهُ بِي الكُفْرَ الله به زما پهٔ وجه باندې کفر ختموي، او ورانَوي به ئې، دَ دنيا نه به دَ کفر څادر لرې شي.

(٤) دَ "وَأَنَا الحَاشِرُ الَّذِي يُحْشَرُ النَّاسُ عَلَى قَدَمَيَّ" معنٰى: او زهٔ حاشر يم. دَ حاشر معنٰى دا: چې دا خلق به زما پهٔ قدمونو راژوندي کيږي. يعني زما نه روستو به دا خلق راژوندي کيږي، پهٔ قيامت کښې به اول الله تعالىٰ ما راژوندے کوي.

(٥) او بل نوم زما "عاقب" دے: "الَّذِي لَيْسَ بَعْدَهُ نَبِيٌّ".[1] "عاقب هغه چا ته وائي: چې دَ هغهٔ نه پس بل نبي نهٔ راځي". دَ عاقب معنٰى علامه ابن حجر عسقلاني رحمه الله پهٔ "فتح الباري" کښې کړې ده: "الَّذِي لَيْسَ بَعْدَهُ نَبِيٌّ".[2] "عاقب هغه وي چې دَ هغهٔ نه بعد بل نبي نهٔ وي".

او "صحيح مسلم" کښې پهٔ دې روايت کښې باقاعده دا زيادت (الَّذِي لَيْسَ بَعْدَهُ نَبِيٌّ") راغلے دے. لکه حواله مخکښې تيره شوه.

دا پنځهٔ نومونه پهٔ خپله نبي ﷺ څان ته بيان کړي دي.

دوه مشهور نومونه

او دَ نبي ﷺ دوه مشهور نومونه داسې دي چې دا ډير مشهور دي: يَو محمد او بل احمد. او دا دواړه نومونه دَ نبي ﷺ پهٔ قرآن کښې هم ذکر شوي دي: محمد نوم دَ نبي ﷺ سورة الفتح کښې

(1) أخرجه مسلم في كتاب الفضائل، باب في أسمائه ﷺ: (2354).

(2) انظر: "فتح الباري" لابن حجر: (557/6).

راځي، الله رب العزة فرمائي:

﴿مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ﴾.(1)

"محمد رسول دَ الله دے. او هغهٔ کسان چې دَ دهٔ سره دي سختې کونکې دي پهٔ کافرانو باندې او نرمي کونکي دي پهٔ خپل مينځ کښې".

نو دَ نبي ﷺ محمد نوم الله پهٔ قرآن کښې بيان کړے دے.

دويم نوم: دَ نبي ﷺ "احمد" دے، سورة صف کښې راځي: الله تعالیٰ فرمائي:

﴿وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِنْ بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ﴾.(2)

"او ياد کړه هغه وخت چې وئيلي وو عيسیٰ ځوي دَ مريم ﷺ اے بني اسرائيلو! يقينًا زهٔ پيغمبر دَ الله يم تاسو ته، رښتونے ويونکے يم هغهٔ څهٔ ته چې مخکښې زما نه دي يعني تورات ته، او زيرے درکونکے يم تاسو ته پهٔ يَو پيغمبر سره چې زما نه به روستو راځي نوم دَ هغهٔ به "احمد" وي".

نو دَ نبي ﷺ نومونه احمد او محمد دا دواړه قرآن کښې راغلي دي. او پهٔ دې دواړو نومونو کښې ماده دَ حمد ده. حمد صفت جميله ته وائي. معنیٰ نبي ﷺ داسې پيغمبر دے، دَ دهٔ به داسې اوصاف حسنه وي، داسې ښائسته خويونه به ئې وي چې هر څوک به دَ دهٔ صفت کوي او هر څوک به پهٔ دهٔ باندې مئين وي.(3)

شعر

دَ دې وجې نه بعضې علماؤ ليکلي دي: چې دَ ابو طالب يَو شعر دے. او څوک وائي: چې دَ حسان ﷺ شعر هم داسې شته دے. وائي:

وَشَـقَّ لَهُ مِنَ اسْمِهِ لِيُجِلَّهُ فَذُو الْعَرْشِ مَحْمُودٌ وَهَذَا مُحَمَّدُ(4)

(1) [سورة الفتح: 29].

(2) [سورة الصف: 6].

(3) انظر: "سيرة المصطفى": (73/1).

(4) انظر: "فتح الباري" لابن حجر: (555/6).

"الله رب العزة دَ دهٔ دپاره نوم دَ خپل نوم نه راویستلے دے، نو خاوند دَ عرش محمود دے او دا محَمَّد دے".

نو الله رب العزة دَ خپل نبي ﷺ دپاره داسې نوم منتخب کړو او تجویز ئې کړو چې هغې دَ الله دَ نوم سره مشابهت لرلو، دَ هغې نه راویستلے شوے دے؛ ځکه دَ عرش دَ مالک نوم محمود دے او محمد دَ هغهٔ دَ بنده نوم دے او هغه محمد دنیا کښې دے.

نو دَ نبي ﷺ دا نوم (محمد) دَ هغهٔ نیکهٔ خوښ کړے وو.

(۳) دریمه وجه دَ محمد دَ نوم کیخودو

بعضې علماؤ لیکلي دي: چې دا نوم ئې ورله ځکه کیخودو؛ چې دا عبد المطلب ته الله پهٔ زړهٔ کښې اچولے وو. نو هغې خوب لیدو ته څهٔ ضرورت هډو رانغلے. بس زړهٔ کښې ورته الله داسې واچول. او دا هغه نوم وو چې دَ نبي ﷺ دَ راتلو نه مخکښې الله تعالیٰ دا پهٔ قرآن کریم کښې ذکر کړے وو، چې عیسیٰ علیه السلام وئیلے وو: چې زما نه بعد به نبي راځي او دَ هغهٔ نوم به احمد وي. تورات کښې ئې هم دا نوم لیکلے وو. نو الله رب العزة دَ عبد المطلب زړهٔ کښې واچول چې دې نوَسي له دې محمد نوم کیږده؛ ځکه دا به هغهٔ رسول وي چې مبَشَّر بِلِسانِ عیسیٰ علیه السلام وو.

نو دا هغه نبي ﷺ دے چې دَ دهٔ صفت هم ډیر شوے دے. دَ دهٔ امت له هم الله ډیر لوئي مقام ورکړے دے، دَ هغوي هم ډیر لوئې صفتونه شوي دي. یا دا چې: دا نبي ﷺ او دَ دهٔ امت به دَ الله حمد وثناء ډیره وائي.

(٤) څلورمه وجه دَ محمد دَ نوم کیخودو

یا دا وجه ده چې: دې امت له الله تعالیٰ پهٔ قرآن کریم کښې یَو سورت ورکړے دے چې هغه موسوم دے پهٔ "سورة الحمد" باندې، دَ هغې نوم سورة الفاتحه دے:

﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ * الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ * مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ * إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ * اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ * صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ﴾.[1]

---

(1) [سورة الفاتحة: 2-7].

دیته سورة الحمد وائي. معنیٰ: هغه سورت چې دَ الله صفتونه دي پکښې. لکه الله تعالیٰ دَ دې سورت باره کښې قرآن کښې فرمائي:

﴿وَلَقَدْ آتَيْنَاكَ سَبْعًا مِنَ الْمَثَانِي وَالْقُرْآنَ الْعَظِيمَ﴾.[1]

الله رب العزة فرمائي: "اے نبي ﷺ! مونږ درکړي دي تا له اووۀ هغه آيتونه چې بيا بيا لوستلے شي (مکرّرولے شي). او درکړے مونږ تا ته قرآن عظيم (لوئي)".

نو دا سورت الحمد دے او دَ نبي ﷺ نوم دے احمد او دَ دې امت نوم دے حمّادِين، دَ الله حمد ويونکي. دا نبي ﷺ او دَ دۀ امت به هر حال کښې دَ الله حمد وائي.

هر حال کښې دَ الله حمد وئيل

"اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ علٰی کُلِّ حَالٍ"، کوم نعمت چې هم ورته ميلاويږي نو حمد وائي: لکه اوګوره! چې خوراک کوي نو هم دوي وائي:

"اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِينَ".[2]

"صفتونه دَ خدائيتوب خاص الله هغه ذات له دي چې مونږ ته ئې خوراک راکړو او مونږ ته ئې څښاک راکړو او مونږ ئې مسلمانان کړځولي يُو".

او کۀ څښاک کوي نو هم وائي:

"اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَطْعَمَ وَسَقَى وَسَوَّغَهُ وَجَعَلَ لَهُ مَخْرَجًا".[3]

"صفتونه دَ خدائيتوب خاص الله هغه ذات له دي چې خوراک ورکوي او څښاک ورکوي او پۀ آسانه سره تيرَوي دې له او ګرځولې ئې ده دَ دې دپاره ځائے دَ وتلو".

کۀ جامې اغوندي نو هم وائي:

"اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي كَسَانِي هَذَا وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ".[1]

(1) [سورة الحجر: 87].

(2) أخرجه الترمذي في أبواب الدعوات، بَاب مَا يَقُولُ إِذَا فَرَغَ مِنَ الطَّعَامِ، برقم: (3457)، وأبو داود في كتاب الأطعمة، بَابُ مَا يَقُولُ الرَّجُلُ إِذَا طَعِمَ، برقم: (3850)، واللفظ لهما.

(3) أخرجه أبو داود في كتاب الأطعمة، بَابُ مَا يَقُولُ الرَّجُلُ إِذَا طَعِمَ، برقم: (3851).

"صفتونه دَ خدائیتوب خاص الله هغه ذات لره دي چې ما ته ئې دا جامه واچوله او ما ته ئې رزق را کړے دے بغیر دَ څهٔ ارولو زما نه او بغیر دَ څهٔ طاقت زما نه".

نو چې کوم نعمت پرې الله کوي نو وائي: "الحمد لله". اودهٔ شوے دے دَ خوب نه چې راپاخي نو وائي: «اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ».(2)

"صفتونه دَ خدائیتوب خاص الله هغه ذات لره دي چې مونږ ئې راژوندي کړو پس دَ مرهٔ کولو زمونږ نه، او خاص دغې الله طرف ته راپورته کیدل دي".

بس پهٔ هر ځائے کښې دَ الله حمد وائي؛ نو ځکه ئې نبي ﷺ ته دَ احمد نوم کیخودو او دَ دهٔ امت له ئې دَ حمّادین نوم کیخودو.

(٥) پنځمه وجه دَ محمد نوم کیخودو

یا دا چې حمد اکثر دَ نعمت پهٔ آخر کښې وئیلے کیږي نو دَ دي نبي ﷺ نوم محمد ځکه دے چې دے دَ ټولو پیغمبرانو نه آخرنے پیغمبر دے.

دَ جنتیانو آخري خبره

دَ دې وجې نه جنتیان به پهٔ جنت کښې ناست وي، کپ شپ به لګوي، خبرې اترې به کوي او چې کله مجلس ختموي نو آخر کښې به وائي:

﴿وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾.(3) "او آخري خبره به دَ جنتیانو دا وي چې: حمدونه دي الله لره، هغه الله چې دَ تمام عالَم پالونکے دے".

دغه شان چې سورت ختموي یا یو بحث ختموي نو وائي:

﴿سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ * وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ * وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾.(4)

---

(1) أخرجه أبو داود في كتاب اللباس، برقم: (4023).

(2) أخرجه البخاري في كتاب الدعوات، باب ما يقول إذا نام، برقم: (6312)، ومسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والإستغفار، باب ما يقول عند النوم وأخذ المضجع، برقم: (2711). واللفظ لهما.

(3) [سورة يونس: 10].

(4) [سورة الصافات: 180-182].

"پاکي ده پالونکي ستا لره چې رَبّ دَ عزت دے دَ هغه څۀ نه چې دوي ئې بيانوي او سلامتيا دې وي پۀ ليږلے شوو پيغمبرانو، او صفتونه دَ خدائيتوب دي الله لره چې پالونکے د مخلوقاتو دے".

نو ځکه ئې دَ نبي ﷺ نوم کيخودو محمد او يا احمد. او دَ دۀ امت شو "حَمَّادين".

دَ نبي ﷺ دَ رضاعت مسئله

بله نا آشنا خبره دا چې: کله نبي ﷺ پيدا شو نو درې خلور ورځې نبي ﷺ له خپلې مور پئ ورکولې. لا وړوکے دے مور سره؛ ځکه دَ مور تازه پئ هغه وخت کښې ډير ضروري وي نو درې خلور ورځې نبي ﷺ ته مور پئ ورکړل. بيا دَ هغې نه بعد هغه وينزه ثويبه چې کومه ابو لهب آزاده کړې وه هغې به نبي ﷺ له پئ ورکول. ثويبه آزاده شوه خو دَ نبي ﷺ دَ خاندان نه نۀ تله. نو هغې رسول الله ﷺ له پئ ورکول.

دَ نبي ﷺ فرمان مبارکه

دا ثويبه چې وه "صحيح بخاري" کښې حديث راځي، رسول الله ﷺ فرمائي:

«أَرْضَعَتْنِي وَأَبَا سَلَمَةَ ثُوَيْبَةُ».[1] "چې ما او ابو سلمه مونږ له ثويبې پئ راکړي".

نبي ﷺ او ابو سلمه پۀ خپله کښې رضاعي رونړه وو. دوي دَ ثويبه پئ خښکلي وو.

دا يَو اختلافي مسئله ده: چې ثويبه بيا مسلمانه شوې ده او کۀ نه؟ پۀ دې کښې اختلاف دے: بعضې علماء وائي: چې دَ هغې نوم پۀ صحابياتو کښې نشته؛ لهٰذا هغه مسلمانه شوې نۀ ده. او امام ابو منده رحمه الله ثويبه پۀ صحابياتو کښې شماري. وائي: دا مسلمانه وه. والله أعلم.[2]

مسلمانه شوې وه او يا نۀ وه خو نبي ﷺ به دَ هغې ډير قدر کولو. وئيل به ئې: چې دا زما رضاعي مور ده، ما دَ دې پئ خښکلي دي.

دَ رضاعي مور خيال ساتل

کله چې دَ نبي ﷺ نکاح دَ سيدة خديجة الکبرٰی رضي الله عنها سره اوشوه نو يَو ځل ثويبه دَ نبي ﷺ پۀ خدمت کښې حاضره شوه. نو نبي ﷺ ورله ډير زيات قدر او عزت اوکړو.

---

(1) انظر: "فتح الباري" لابن حجر: (124/9).

(2) أخرجه البخاري في كتاب النفقات، باب المراضع من المواليات وغيرهن، برقم: (5372).

بیا کله چې نبي ﷺ مديني منورې ته هجرت اوکړو نو هلته نه چې به څوک مکې ته راتلل نو نبي ﷺ به وئيل: چې دا ثويبه ته يَوسه. وائي: دا زما رضاعي مور ده. نو دَ الله نبي ﷺ به ورله څهٔ تحفه، هديه راليږله.[1]

نبي ﷺ دَ رضاعي ميندو دومره خيال ساتلے دے.

کله چې مکه فتح شوه نو بيا خو دَ کافرانو زور ختم شو، پهٔ مدينه کښې هم مسلمانان شول او پهٔ مکه کښې هم مسلمانان شول. نو نبي ﷺ مکه کښې دے، تپوس ئې اوکړو: "چې هغه ثويبه به چرته وي چې لږ ورشم او ملاقات ئې اوکړم؟". بيا ئې اووئيل: "چې مسروح (دَ هغې يَو څوي وو) به چرته وي؟". چې معلومات ئې اوکړل، چونکه وخت ډير تير شوے وو نو ثوبيه هم بيا وفات شوې وه او څوي ئې هم وفات شوے وو. بيا نبي ﷺ اووئيل: "دَ هغې خپلوان، دَ هغې رشته داران څوک شته دے؟". چا ورته اووئيل: "ولې؟".

نبي ﷺ اوفرمائيل: "چې کهٔ نن ثويبه او دَ هغې بچے نشته نو چې زهٔ دَ هغې خاندان سره احسان اوکړم". څکه دَ يَو انسان سره دَ مرګ نه بعد احسان دا وي: چې دَ هغهٔ خاندان او دَ هغهٔ دَ رشته دارانو سره احسان اوکړې. دا پهٔ زړهٔ کښې مهٔ وايه چې زما ملګري وو، بس لاړل ختم شول، او خبره ختمه شوه. نا! بلکه کهٔ دَ هغهٔ بچي وي دَ هغوي خيال اوساته، کهٔ دَ هغوي رونړه وي دَ هغوي خيال اوساته، کهٔ دَ هغهٔ خاندان وي نو دَ هغوي خيال اوساته. دا چې کله ستا پوره مينه وي نو دَ هغهٔ دَ مرګ نه بعد به مينه دا وي: چې دَ هغهٔ خاندان سره مينه اوساتې.

بيا نبي ﷺ تپوس اوکړو: "کهٔ څوک وي چې دَ هغوي سره زهٔ تعاون اوکړم؟؛ څکه چې ثويبې ما له پئ راکړي دي".

نو نبي ﷺ له ثويبې پئ ورکړي وو.

دَ نبي ﷺ رضاعي مور حليمه سعديه ﷺ

بيا دَ ثويبې نه بعد حليمه سعديه ﷺ نبي ﷺ له پئ ورکړي وو، چې دا بيا روستو مسلمانه شوې وه. نو دا هم دَ نبي ﷺ رضاعي مور وه.

(1) انظر: "سيرة المصطفى": (79/1).

عربو به ماشوم دَ پيؤ دپاره باندو ته ليږلو دَ څو وجوهو په بناء باندې

دَ عربو دا طريقه وه: چې هغوي به خپل بچي له يَو څو ورځې پېئ ورکړل نو بيا به هغوي خپل بچي له نور پېئ نهٔ ورکول:

(۱) **اوله وجه:** وائي: دا ځکه چې دَ دې سره زنانه کمزورې کيږي.

(۲) **دويمه وجه:** دا چې دَ بلې زنانه پېئ ماشوم څښکي نو دې سره صحت ښهٔ کيږي.

(۳) **دريمه وجه دا وه:** چې دوي به بيا دا ماشوم باندو ته ليږو؛ ځکه چې دَ باندو اوبهٔ صفا وي، موسم ئې هم صفا وي، هواء ئې هم صفا وي پهٔ نسبت دَ ښاريو باندې. نو پهٔ دې وجه به دوي ماشوم دَ باندو زنانؤ ته ورکولو دَ پيؤ دپاره. آب وهواء ئې هم صفا وي نو ماشوم به دَ بيمارو نه بچ وي.

(٤) **څلورمه وجه به دا وه:** چې دَ باندو دَ خلقو ژبه به ډيره فصيحه وه او عربو کښې خو دَ عربيت ډيره مينه وه. زمونږ خلقو خو ژبې ختمې کړې، چا پکښې دَ اُردو ټکي وردننه کړل او چا پکښې دَ هندکو وردننه کړل، چا پکښې دَ انګلش ټکي وردننه کړل. پهٔ پته به نهٔ پوهيږې چې دا دے څهٔ وائي؟ پښتون به درسره پښتو وائي او ته به پرې نهٔ پوهيږې. نو عربو کښې دا خبره وه چې هغوي به صفا عربي وئيله. نو دَ ښار دَ خلقو ژبه کښې خامخه څهٔ نا څهٔ ټکي دَ نورو ژبو وردننه شي خو دَ باندو ژبه صفا وي، مورنۍ ژبه وي.

نو دوي به دا خپل بچي ليږل چې هلته به ښهٔ صحت مند هم شي او بيماريږي به نهٔ ډير، دلته کښې دَ دهٔ مور به هم ډيره نهٔ کمزورې کيږي او ژبه به هم ښهٔ ياده کړي. نو نبي ﷺ پخپله حليمې ؓ دَ ځان سره بوتلے وو.

حليمه سعديه ؓ پخپله خپله واقعه بيانَوي، وائي: "مونږ دَ باندو زنانه به پهٔ خپله يَو ځل پهٔ کال کښې راتلو. مونږ به دَ مکې او دَ اطرافو دَ زنانؤ نه تپوسونه کول: چې کهٔ دَ چا ماشومان شوي وي او دَ پيؤ دپاره ئې ورکوي نو چې مونږ ئې دَ ځان سره بوځو؟ وائي: زهٔ او زما خاوند راغلو، داسې دور وو چې ډيره غريبي وه، ډيره کمزوري وه، دَ خوراک څهٔ نهٔ ميلاويدل او قحط وو، بارانونه نهٔ کيدل، کياکانې هم نهٔ وې، فصلونه هم نهٔ وو. خو بس يَو ټپه غوندې اوښه وه او يَو راسره خر وو، پهٔ هغې باندې راغلو. او نورې زنانه هم ډير شے راغلې".

نو حليمه سعديه ﷺ وائي: " دا نور ځاروي تيز وو او زما اوښ تيز نۀ شو تلے؛ ځکه لوږې تندې خراب کړے وو، او زۀ هم دَ بدن نه کمزورې اوم او زما سره يَو بل بچے وو هغه هم ډير کمزورے وو. وائي: قسم دے! چې پۀ دغې وجه باندې ما کښې يئ هم نۀ وو، ما به خپل بچے نۀ شو مړولے! او نورې ښځې زما نه مخکښې راغلې وې هغوي کتل چې ځان له ماشومان پيدا کړي".

وائي: "دَ نبي ﷺ دا کور چې وو پۀ هغې باندې دا ټول تير شوي وو، خو هغوئ دا ماشوم نۀ راغستو. ولې؟ نو وائي: دا يئ خو به ئې دَ الله دَ رضا دپاره نۀ ورکول، بلکه دَ هغوي مطلب به دا وو: چې دَ دۀ پلار به راته پيسې راکړي، تنخوا به راکړي. نو هر چا به وئيل: چې دا يتيم دے او دَ دۀ پلار نشته دے، نو کۀ مونږ دے بوځو نو مونږ له به بيا پيسې څوک راکوي؟ نو ټولو زنانو به دَ دۀ نه ډډه کوله".

نو وائي: "زۀ اوګرځيدم او ما ترې هم ډډه اوکړه، خو چې اوګرځيدم اوګرځيدم او څوک راته ميلاؤ نۀ شو او نورو زنانو خو يَو يَو ماشوم پيدا کړو او ځان سره ئې روان کړو. او زما دپاره څوک ميلاؤ نۀ شو نو ماخپل خاوند ته اووئيل: چې دغسې ځو او کۀ نه دا يتيم بچے دَ ځان سره بوځو؟ نو ما ته مې خاوند اووئيل: چې دغسې ځو نو دَ دې نه ښۀ دا ده: چې دا يتيم دے، دے به دَ ځان سره بوځو ځه! څۀ خو به راکړي کنه او کيدے شي دَ دې يتيم پرورش اوکړو، او الله مونږ له خير او برکت راکړي".

دَ حليمې سعديه ﷺ قول

او هغه شان اوشوله. الله ورته ډير خير ورکړو. حليمه ﷺ خپل خاوند ته وائي:

"وَاللهِ إِنِّيْ لَأَكْرَهُ أَنْ أَرْجِعَ مِنْ بَيْنِ صَوَاحِبِيْ لَيْسَ مَعِيَ رَضِيْعٌ، لَأَنْطَلِقَنَّ إِلٰى ذٰلِكَ الْيَتِيْمِ فَلَآخُذَنَّهٗ".

"زما دې پۀ الله قسم وي! تش نۀ ځو، زۀ دا بده ګڼړم چې زۀ دې داسې واپس شمه او زما ملګرو سره دې ماشومان وي. هغۀ يتيم له به ځم او هغۀ به ځان سره بوځم".

خاوند ئې ورته وائي: "لَا عَلَيْكِ أَنْ تَفْعَلِيْ، عَسَى اللهُ أَن يَّجْعَلَ لَنَا فِيْهِ بَرَكَةً".[1]

"پۀ تا باندې څۀ حرج او تنګسيا نشته دے کۀ تۀ دا کار کوې، نزدې ده چې الله به مونږ له پۀ دۀ کښې برکت او خير واچوي".

وائي: "زړۀ مې ډير نۀ وو خو راوامې غستو. کله چې ما هغه ماشوم راواغستو او مونږ راروان شو".

(1) انظر: "سيرة ابن هشام": (173/1).

گوره! بنده چې څنګه ګمان اوکړي الله ورسره هغه شان معامله کوي. دوي وئيلي وو: چې الله تعالی به مونږ له په دې کښې برکت واچوي. نو الله ورله پکښې برکت واچولو. حليمه ﷺ وائي: "چې مونږ راروان شو او په لاره راتلو نو زما اوښه کښې بالکل يئ نه وو او ډيره کمزورې وه او ما کښې هم يئ نه وو. چې دا ماشوم مونږ راواغستو او په اوښه مو کيښنولو نو دَ اوښې غُلانز دَ پيؤ نه ډکه شوه او زما په سينه کښې هم الله تعالى يئ پيدا کړل، اول به مې دا يو بچے نه شو مړولے بيا به مې دا دواړه بچي مړول او دَ اوښې غُلانز به هر وخت دَ پيؤ نه ډکه وه. او زما اوښه دَ تلو نه وه خو بيا مونږ هغې له چرته ګُزار نه دے ورکړے. داسې روانه وه چې تا به نه وئيل: چې دا ګني هغه اوښه ده".

حليمه سعديه ﷺ وائي: "کله چې مونږ خپل ځائے ته اورسيدو نو زما ګډې بيزې وې، څاروي وو، ګيا به نه وه، چې سحر به مې اوليږل او شپونکي ته به مې حواله کړل نو چې ماښام به ئې راوستل نو ټول به ښه ماړه وو، غُلانزې به ئې دَ پيؤ نه ډکې وې. او دَ نورو خلقو څاروي هغه به دَ لوږې نه خراب وو، يئ به پکښې نه وو. هغوي به خپلو شپونکيانو سره جنګونه کول چې تاسو چرته لوبې کوئ! دَ فلانکي دَ شپونکيانو سره څاروي بوځئ چې ستاسو څاروي هم هغه شان مړيږي. هغوي به چرته بوتلل؟ زما څاروي به الله رب العزة غيبي مړول".

وائي: يَو ځل ما ته زما خاوند وائي: "تَعْلَمِيْ وَاللهِ يَا حَلِيْمَةُ! قَدْ أَخَذْتِ نَسَمَةً مُّبَارَكَةً".[1]

"حليمې! زما دې په الله قسم وي ته ښه پوهيږې چې تا يَو برکت نه ډک بچے راوستے دے". چې دَ هغهٔ په وجه الله رب العزة په مونږ باندې رحمتونه راورَوي، مونږ له الله خير او برکت راکوي.

نو حليمه ﷺ وائي: "زمونږ هر څهٔ ډير، څاروي ډير، ګډې بيزې ډيرې، په هغې کښې يئ ډير، دَ هغې دپاره ګياګانې ډيرې او هر څيز به ډير ډير ميلاويدو. نو دوي پوهه شول چې دا برکت ټول دَ دې ماشوم دَ وجې نه الله راورَوي".

بيا حليمې ﷺ دا ماشوم دَ ځان سره حصار کړے دے. ان شاء الله راروانه جُمعه کښې به دَ هغې وضاحت کوو چې بيا په څهٔ وجه هغې نبي ﷺ واپس راوستے وو؟ او بيا ئې څنګه بوتلو نو دا ټوله واقعه به بيا بيانوؤ ان شاء الله.

وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

(1) انظر: "سيرة ابن هشام": (173/1)، و"سيرة المصطفى": (81/1).

بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ

(سورة التوبة: 128)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه پنځمه

"دَ نبي ﷺ دَ شق الصدر واقعه او دَ موربي بي وفات"

بتاريخ: 2022-01-07

مقام: جلسئ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّآني حفظه الله

سيرة النبي ﷺ حصه پنځمه

"دَ نبي ﷺ دَ شق الصدر واقعه او دَ موربي بي وفات"

اَلْحَمْدُ لله نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِه وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْه وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِه وَأَصْحَابِه وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ﴾.[1]

حاضرينو عزتمندو مسلمانانو رونړو! په تېرو څو جمعو کښې دَ رسول الله ﷺ دَ سيرت څۀ حصه مخکښې مونږ بيان کړې وه: "دَ رسول الله ﷺ دَ پيدائش حالات او بيا دَ پيدائش نه بعد مسئله دَ رضاعت دَ نبي ﷺ" هغه مونږ بيان کړې وه. چې حليمې سعديې دَ ځان سره بوتلے وو دَ پيؤ ورکولو دپاره، په هغې کښې چې کوم نا آشنا نا آشنا حالات وو، کوم برکات وو دَ رسول الله ﷺ هغه هم بيان شوي وو. ●

دَ نبي ﷺ په ماشوموالي کښې حالات

نن جُمعه کښې دَ نبي ﷺ په ژوند کښې چې کوم حالات پېښ شوي وو دَ هغې تذکره کوو. دَ رسول الله ﷺ عمر چې دوؤ کالو ته اورسيدو، نو عام طور موده دَ رضاعت دوه کاله وي نو هغه موده دَ رضاعت پوره شوه نو حليمې او دَ هغې خاوند نبي ﷺ واپس روان کړو؛ چې خپلې مور ته ئې حواله کړي. خو زړۀ ئې نۀ وو چې دا ماشوم هغوي ته حواله کړي؛ ځکه چې دَ هغۀ سره کوم

(1) [سورة التوبة: 128].

برکتونه او خیرونه راناززلیدل نو دوي دَ دې پهٔ قطع کیدو باندې پریشانه وو. وائي: کهٔ دا ماشوم مونږ ورکړو نو دَ لوئي خیر نه به محروم شو، هغه برکت به بیا نهٔ وي، هغه خیر به بیا نهٔ وي، هغه لذت به بیا زمونږ دَ ژوند نهٔ وي. خو مجبوره وه، پردے ماشوم ئې څنګه حصار کړے وے. نو دوي لاړل، مکې ته روان شو.

کله چې هلته اورسیدل نو خبره خوره وه چې پهٔ مکه باندې وباء راغلې ده. وباء یَو بیماري ده چې پهٔ چا باندې چې اولګي نو هغه یَو څو ورځې بیمار وي، او بیا وفات شي. او دا یَو متعدّي بیماري وي، بل ته لګي. نو دوي اووئیل: کیدے شي اوس څهٔ سمے اوخوري، هسې هم دلته وباء راغلې ده.

دَ حلیمې سعدیې رضي الله عنها دَ نبي ﷺ باره کښې منت کول

نو حلیمې دَ رسول الله ﷺ مور ته منتونه شروع کړل دَ نبي ﷺ باره کښې. او ورته ئې اووئیل: "چې دا ماشوم به مونږه بوځو، دَ پیؤ موده خو پوره شوه. ګوره! زمونږ باندې دي، اطراف دي، صحراګانې دي نو هلته کښې بیمارئ او وباګانې دومره نهٔ وي او دا ښاریه ده هسې نه چې وباء ورباندې اولګي، دا ماشوم درنه ضائع نهٔ شي، مړ نهٔ شي".

نو چونکه هلته دا خبره مشهوره وه چې وباء بل ته لګي نو مور ئې هم اووئیل: چې هسې نهٔ چې رانه مړ شي. نو ورته ئې اووئیل: "څه! زما خوښه ده، ما اولیدو، ملاقات مې ورسره اوکړو، واپس ئې بوځئ". دوي ښځه او خاوند ډیر زیات خوشحاله شول، وائي: شکر دے چې ماشوم راته بیا میلاؤ شو. دوي ماشوم ځان سره واپس روان کړو او راغلل.

کله چې واپس راغلل او یَو څو میاشتې تیرې شوې نو بیا رو رو نبي ﷺ پهٔ ګرځیدو باندې شروع شو.

دَ نبي ﷺ پهٔ ړومبئ پیره دَ شق الصدر واقعه

نو بعضې علماء وائي: دَ نبي ﷺ دَ دغې راتلو نه یَو څو میاشتې بعد، او څوک وائي: دَ نبي ﷺ دَ عمر څلورم کال وو چې دَ نبي ﷺ دَ شق الصدر او دَ سینې دَ شلولو او دَ زړهٔ دَ شلولو هغه واقعه راپیښه شوه.

دَ نبي ﷺ نور رضاعي رونړه وو، دَ حلیمې بچي وو، نو ماشومان خاڅه یواځې تنګیږي، نو هغوي به چې څاروي بوتلل نو مور به ورته وئیل: "دا محمد هم دَ ځان سره بوځئ لوبې به اوکړي، چکرې به

اووهي". نو دوي به دَ ځان سره نبي ﷺ هم بوتلو، لوبې به ئې اوکړې، چکر به ئې اووهلو، بيا به راتلل.

يَو ورځ دَ دهٔ رضاعي رور کور ته پهٔ منډه منډه راغے او مور ته وائي: "چې نن خو مي يَو نا آشنا ځيز اوليدو او شابيځ! خلق راغلل او محمد ئې اووژلو". مور ورته وائي: "څهٔ وو؟". دهٔ ورته اووئيل: "دوه کسان راغلل او سپينې جامې ئې اچولې وې او دوارو زمونږ هغه قريشي رور چې وو هغه ئې دَ دوارو لاسونو نه اونيولو او پهٔ زمکه ئې راواچولو او پهٔ چارهٔ باندې ئې ورته سينه اوسيرله او دَ هغې نه ئې زړهٔ بهر رااوباسلو او اوس لګيا دي او کنډي ئې. نو ما رامنډه کړه چې تاسو له خبر راورسوم".

دا اوس الله دوه فرښتې رالیږلې دي، هغوي دواړو نبي ﷺ دَ دوارو لاسونو نه اونيولو، دَ يَو لاس نه يَوې فرښتې او دَ بلې لاس نه بلې فرښتې. او پهٔ زمکه ئې واچولو او دَ نبي ﷺ سينه ئې پهٔ مينځ دوه ټکړې کړه او دَ نبي ﷺ زړهٔ ئې دَ هغهٔ دَ سينې نه رابهر کړو، يَو دوه خاځکي وينه وه چې هغه زړهٔ پورې انختې وه هغه ئې ترې نه لرې کړه. دا يَو فرښته هغې بلې فرښتې ته وائي: "چې دا دَ شيطان دَ وسوسې هغه ځائے دے دا ترې لرې کوو". نو هغه ئې ترې لرې کړو او بيا ئې واپس دَ نبي ﷺ هغه زړهٔ صفا سُتره اووينځلو او دَ واورې اوبهٔ ورسره وې پهٔ هغې باندې ئې يخ کړو، پهٔ هغې کښې ئې لږ ساعت کيخودو او بيا ئې واپس دَ نبي ﷺ زړهٔ پهٔ سينه کښې بند کړو، او بيا ئې زر زر اوګنډلو واقعه وه.

دلته نه دَ نبي ﷺ رضاعي مور حليمه ﷺ او دَ هغې خاوند خپې يَبله خپې او سرتور سر پهٔ ځنګلو کښې منډې وهي: چې چرته به محمد ﷺ مړ پروت وي. چې دوي راغلل نو نبي ﷺ داسې يَو ديوال سره ولاړ وو او رنګ دَ نبي ﷺ تک زيَړ وو. دوي ورته اووئيل: "څهٔ دي؟". نبي ﷺ اووئيل: "څهٔ خو شته نهٔ". بيا ئې دَ نبي ﷺ نه واقعه معلومه کړه، نبي ﷺ ورته خپله قيصه اوکړه: "چې داسې دوه کسان راغلل او زما سينه ئې اوسيرله، زړهٔ ئې رااويستو او دَ هغې نه ئې يَو دوه تور ټکي لرې کړل وائي: دا پکښې دَ شيطان هغه حصه ده او بيا ئې واپس زما زړهٔ پهٔ سينه کښې بند کړو". چې دوي ئې لَمَن اوچته کړه نو دَ نبي ﷺ پهٔ سينه باندې صرف يَو نخښنه وه، لکه چې سړي آپريشن کړے وي او بيا ئې دَ آپريشن هغه زخم ګنډلے وي او هغه نخښنه ئې پاتې وي، نو هغه نخښنه صرف ښکاريده. او نوره دَ نبي ﷺ هغه سينه پهٔ لږ وخت کښې الله جوړه کړې وه.

دا نا آشنا واقعه وه چرته داسې شوې نۀ وو نو حليمې ﷺ سره غم شو: چې يره! پردے ماشوم مې راوستے دے او ما خو وئيل: "چې وباء پرې رانۀ شي نو کۀ دے رانه دشمنانو مړ کړو، دَ دې څۀ پته لګي، نو دا خو به ما ته لويه مسئله جوړه شي".

دَ حليمې ﷺ نبي ﷺ واپس راوستل

حليمې ﷺ نبي ﷺ بيا واپس راروان کړو او مور ته ئې ورته ټوله قصه اوکړه. چې زړۀ مې پرې نۀ کيږي خو دَ دغې وجې نه ئې راولَم، چې هسې نه چې څوک ئې رانه مړ کړي؛ دا ځل ئې خو ورته صرف سينه راکولاؤ کړې ده. اوس هغې وخت کښې خو هغه مسلمانه نۀ وه، او نۀ نبي ﷺ ته پيغمبري ميلاؤ شوې وه، نۀ ورته دا پته وه: چې دا ملائک دي، او داسې قيصه اوشوه. وائي: څوک به وو، خو څوک سړي وو. حليمې ﷺ سره غم شو نو پۀ دې وجه ئې ماشوم راوستو او نبي ﷺ ئې خپلې مور ته حواله کړو چې دا ماشوم دې واخله. نو مور ئې ورته اووئيل: "چې نا! ما خو دَ دې ماشوم دَ پيدائش پۀ وخت کښې ډير نا آشنا نا آشنا حالات ليدلي دي، زما دَ ربّ نه اُميد دے چې دے به الله نۀ ضائع کوي". خو هغې ورله حواله کړو: "چې دے واخله".

څلور پيرې دَ نبي ﷺ سينه کولاؤ شوې ده

مؤرخين ذکر کوي: دَ نبي ﷺ سينه مبارکه څلور کرته فرشتو کولاؤ کړې وه، زړۀ ئې ورته بهر راويستلے وو:

(۱) يَو پيره خو دغه ماشوم والي کښې.

(۲) دويم ځل دَ نبي ﷺ عمر لس کاله وو. چې دَ نبي ﷺ سينه مبارکه سيرلے شوې وه: دوه فرشتې راغلې او دَ نبي ﷺ سينه ئې دَ دې مرئ نه واخلې تر دَ خيټې تر آخره حده پورې اوسيرله او دَ نبي ﷺ زړۀ مبارک ئې رابهر کړو، وائي: دا پکښې دَ شيطان هغه حصه ده او بيا ئې اووينځلو. او بيا ئې دَ نبي ﷺ هغه زړۀ واپس دننه کړو او سينه ئې ورله واپس اوګنډله.

(۳) پۀ دريم ځل: نبي ﷺ دَ بعثت پۀ وخت کښې چې کله الله پيغمبري ورکوله نو پۀ دغه وخت کښې هم جبرئيل امين ﷺ راغلے وو او دَ نبي ﷺ سينه مبارکه ئې سيرلې وه. زړۀ ئې ورله راويستلے

رو او وینځلے ئې وو او بیا ئې ورله وردننه کړو. او ملغرې دَ حکمت او دَ ایمان ئې پکښې واچولې.

(٤) پۀ څلورم ځل باندې چې نبي ﷺ کله دَ معراج پۀ شپه باندې آسمان ته سیل کولو، چکر ته تلو نو پۀ دې موقع باندې هم دَ رسول الله ﷺ سینه مبارکه څکښې اوسیرَلے شوه او هغې نه بعد ئې ورله بیا زړۀ رااُوِیستلو او بیا ئې دَ زمزم پۀ اوبو اووینځلو، دَ سرو زرو پۀ لوښې کښې ئې ورته اوبۀ راوړې وې، بیا ئې ورله زړۀ دننه کړو او سینه ئې ورله اوګنډله.

نو څلور ځله دَ نبي ﷺ زړۀ مبارک رابهر شوے دے. ملائکو رابهر کړے دے او سینه ئې ورله کولاؤ کړې ده. دَ شق الصدر دا واقعه څلور ځله راغلې ده. بعضې علماء وائي: پنځۀ ځله راغلې ده خو دا قول ضعیف دے.

دَ سینې دَ سیرَلو (شلول) حکمت

علماؤ لیکلي دي: چې پۀ دې کښې څۀ حکمت وو چې څلور ځله ئې دَ نبي ﷺ سینه مبارکه کولاؤوله؟ پۀ ماشوم والي کښې ئې دَ نبي ﷺ سینه کولاؤ کړه، زړۀ نه ئې ورله هغه تور ټاکے او وینې لرې کړې وې؛ نو دا دَ دې غرض دپاره چې دَ نبي ﷺ زړۀ ته شیطان وسوسې نۀ اچوي. شیطان دَ انسانانو زړونو کښې وسوسې اچوي، چې دَ نبي ﷺ زړۀ دَ شیطان دَ وسوسو نه محفوظ وي.

او پۀ دویم ځل چې دَ لسو کالو عمر کښې وو بیا ئې دَ نبي ﷺ سینه مبارکه کولاؤ کړې وه؛ دَ دې دپاره چې دَ نبي ﷺ دا زړۀ دَ لهو ولعب نه پاک شي؛ ځکه لهو ولعب سړے دَ الله دَ دین نه غافله کوي. انبیاء علیهم السلام خو دَ ماشوم والي نه شریف وي او عزتمند وي، وراني نۀ کوي، مستیاني نۀ کوي، چرته غلط قدم نۀ کیږدي.

دَ یحیی علیه السلام قول

دَ یحیٰی علیه السلام باره کښې راځي: دے وړوکے ماشوم وو. نو ماشومانو به ورته وئیل: "یحیٰی راځه! مونږ سره ملګرے شه، لوبې کوو". وائي: یحیٰی به ورته اووئیل:

"إِنَّا لَمْ نُخْلَقْ لِهَذَا!". "مونږ دَ لوبو دپاره نۀ یو پیدا شوي".

مونږ دنیا ته دَ لوبو دپاره نۀ یُو راغلي. دَ پیغمبرانو طبیعت دَ وړوکوالي نه صحیح وي. نو دَ لسو کالو

عمر کښې ماشومان لوبو پسې ګرځي. جبرئیل امین او میکائیل علیهما السلام دَ نبي ﷺ سینه کولاؤ کړه، زړهٔ ئې ترې رااویستو او اوئې وینځلو؛ دَ دې دپاره چې دَ دهٔ دَ زړهٔ نه دَ لهو ولعب هغه ماده لرې کړي.

پهٔ دریم ځل دَ نبي ﷺ دَ بعثت پهٔ وخت کښې بیا ئې دَ نبي ﷺ سینه مبارکه اوشلوله او زړهٔ ئې ترې راویستو؛ پهٔ دې کښې حکمت دا وو: چې الله وحي رالیږي، دَ قرآن علوم رالیږي چې دا دَ رسول الله ﷺ پهٔ سینه کښې کیخودلے شي؛ ځکه دا برداشت کول او یادول هم آسان کار نهٔ دے. دا دیرش سپارې قرآن نبي ﷺ ته پهٔ یَو ځل اوریدو سره پهٔ سینه کښې الله کیخودو. دَ دې دَ برداشت دپاره دَ نبي ﷺ زړهٔ وینځلے شوے وو.

او څلورم ځل باندې نبي ﷺ دَ آسمانونو سیل کولو، پهٔ بره تلو. نو پهٔ دومره بره تلو باندې دَ انسانانو پهٔ زړهٔ باندې بے هوشي راځي، انسان باندې څهٔ چل کیږي چې داسې نا آشنا عذابونه ویني او چې داسې نا آشنا منازل ویني. نو هر سړے هغه برداشت کولے نهٔ شي دَ هغهٔ پهٔ زړهٔ ورته څهٔ چل کیږي نو پهٔ دې وجه جبرئیل امین او میکائیل علیهما السلام دَ نبي ﷺ زړهٔ رااویستو او اوئې وینځلو؛ دَ دې دپاره چې دَ نبي ﷺ دا زړهٔ چې دے هغې کښې نورانیت وردننه شي او چې زړهٔ ئې وانوړي، زړهٔ ئې مضبوط شي. نو څلور ځله دَ شق الصدر واقعه پیښې راغلې وه.

پهٔ اول ځل دَ سینې کولاؤلو کښې ئې پهٔ واوره کیخودلو، نو واورې ته څهٔ ضرورت وو؟

پهٔ اول ځل ئې چې دَ نبي ﷺ سینه کولاؤ کړه نو حدیث کښې راځي: دَ واورې اوبهٔ وې او واوره هم پکښې وه پهٔ هغې کښې ئې دَ نبي ﷺ دا زړهٔ وینځلے وو. نو دَ واورې اوبو ته څهٔ ضرورت وو؟

علماؤ لیکلي دي: چې دَ واورې اوبو ته ضرورت دا وو: چې دا واوره چې ده، پهٔ دې کښې برودت دے، یخ والے دے او پهٔ ګناهونو کښې حرارت او ګرمائش دے؛ نو دَ دې وجې نه ئې دَ نبي ﷺ زړهٔ پهٔ واوره باندې اووینځلو چې دَ ګناه هغه ماده ترې بالکل ختمه شي، هغه حرارت او ګرمائش ترې ختم شي. دغه وجه ده اثر دَ ګناه ګرم دے، چې اُور دَ جهنم دے هغه هم ګرم دے.

ګناه کښې حرارت وي

الله ربّ العزة فرمائي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَىٰ ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا﴾.(1)

(1) [سورة الفتح: 29].

"یقینًا هغه کسان چې هغوي دَ یتیمانانو مالونه پۀ دهوکې او ظلم باندې خوري یقینًا دوي پۀ خپلو خیټو کښې اُور اچوي او زر دے چې دننه به شي دوي اُور کرم ته".

نو کوره! دَ یتیم مال خوړل داسې دي لکه اُور خوړل؛ ولې دَ دې سزا دَ جهنم اُور دے کنه. نو گناه کښې حرارت وي.

دَصدقې ترغیب

دَ صدقې متعلق نبي ﷺ فرمائي: چې صدقه ورکوئ! ولې؟؛ څکه چې:

«وَالصَّدَقَةُ تُطْفِئُ الخَطِيئَةَ كَمَا يُطْفِئُ الْمَاءُ النَّارَ».(1)

"صدقه گناه مړه کوي لکه ښنکه چې اُوبۀ اُور مړ کوي".

نو صدقه چې ده نو هغه گناه داسې سړوي لکه ښنکه چې اوبۀ سړے پۀ اُوز باندې وارَوي نو اُور مړ شي نو داسې دَ صدقې سره گناه ختمیږي.

نو دَ گناه مثال دَ الله نبي ﷺ دَ اُور سره ورکړو او دَ صدقې مثال ئې دَ اُوبو سره ورکړو. نو چې اُور بل شي نو دَ هغې علاج څۀ دے؟ پۀ هغې اوبۀ اړول، نو چې گناهونه درنه شوي دي نو صدقه ورکول چې تۀ صدقه ورکوې نو ستا گناهونه به پرې الله تعالٰی ختموي.

دَ غُصې علاج

او دغه وجه ده چې غُصه گناه ده او دَ دې علاج يخې اوبۀ ښنکل دي، پۀ يخو اوبو اودس کول دي. نبي ﷺ فرمائي:

«إِنَّ الْغَضَبَ مِنَ الشَّيْطَانِ، وَإِنَّ الشَّيْطَانَ خُلِقَ مِنَ النَّارِ، وَإِنَّمَا تُطْفَأُ النَّارُ بِالْمَاءِ، فَإِذَا غَضِبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَتَوَضَّأْ».(2)

"یقینًا غُصه دَ شیطان یَو وسوسه وي او یقینًا شیطان چې دے نو دے دَ اُور نه پیدا کړے شوے دے، او اُور چې مړ کولے شي نو هغۀ پۀ اوبو باندې مړ کیږي؛ لهٰذا کله چې یَو سړے غُصه شي نو پکار دے چې دے اودس اوکړي".

(1) أخرجه الترمذي في أبواب السفر، باب ما جاء في فضل الصلوة، برقم: (614)، وأحمد في "مسنده": (321/3).

(2) أخرجه أبو داود في كتاب الأدب، باب ما يقال عند الغضب، برقم: (4784).

نو اودس سره به ئې غُصه کمه شي، اُور بليږي چې اوبهٔ پرې ورواچوې نو اُور مړ شي نو چې غُصه درله راشي نو اودس اوکړه. پهٔ دې سره به ستا غُصه ختمه شي.

دَ امام غزالي رحمه الله قول

دَ دې وجې نه امام غزالي رحمه الله وائي: "چې څومره انسان له ډيره غصه ورځي نو دومره دې ډير پهٔ يخو اوبو اودس کوي نو غُصه به ئې راکميږي. زمکه کښې هم برودت دے، نو چې غُصه درله درغله او تهٔ ولاړ ئې نو کښېنه، او کهٔ ناست ئې نو ډډه اولګوه نو ستا نه به غصه لاړه شي.[1]

دَ نبي ﷺ دعاء

دَ دې وجې نه نبي ﷺ به دعاء کوله:

«اللَّهُمَّ اغْسِلْ عَنِّي خَطَايَايَ بِمَاءِ الثَّلْجِ وَالْبَرَدِ».[2]

"يا الله! زما ګناهونه اووينځه پهٔ اوبو دَ واورې او دَ ګلئ باندې".

نو ګوره! پهٔ يخو اوبو باندې ښيرے نهٔ ځي، رنانه چې کپړې وينځي نو اوبهٔ ورته ګرموي او کهٔ دَ ګرمو اوبو څهٔ پروګرام نهٔ وي نو تازه ورته راخلي؛ ځکه څومره چې اوبهٔ يخې وي نو دومره ښيري سختَوي، بيا ترې نه نهٔ لرې کيږي او حال دا دے: چې دَ الله نبي ﷺ وائي: چې زما ګناهونه اووينځه پهٔ اوبو دَ واورې او دَ ګلئ باندې الله! دَ واورې پهٔ اوبو زما ګناهونه اووينځه او الله! دَ ګلئ پهٔ اوبو زما ګناهونه اووينځه!. نو اوس دا ولې؟

دَ "بماء الثلج والبرد" وجه څهٔ ده؟

نو ما درته اول اووئيل: چې ګناهونو کښې ګرمائش دے. نو دَ ګرم څيز دپاره يخ څيز پکار وي نو دَ واورې دَ اُوبو نه نورې يخې نهٔ وي، دَ ګلئ دَ اُوبو نه نورې يخې نهٔ وي؛ نو دَ دې وجې نه دَ نبي ﷺ زړهٔ مبارک ئې دَ واورې پهٔ اوبو وينځلو، چې دَ ګناه هغه ماده ترې مکمل ختمه شي.

څلور ځله دَ نبي ﷺ دَ شق الصدر واقعه پيښه شوه.

دَ نبي ﷺ خپلې مورته حواله کيدل

بهر حال چې دَ نبي ﷺ دَ شق الصدر واقعه راغله نو حليمه رضي الله عنها اويريده او هغې اووئيل: چې

(1) انظر: "سيرة المصطفى": (88/1)، وفي طبع: مكتبة عمر فاروق: (77/1).

(2) أخرجه البخاري في كتاب الدعوات، بَابُ التَّعَوُّذِ مِنَ المَأْثَمِ وَالمَغْرَمِ، برقم: (6368).

خوک رانه دا ماشوم ضائع نهٔ کړي. هغې دا ماشوم راوستو او مور ته ئې حواله کړو. کله چې نبي ﷺ مور ته حواله کړے شو نو دے دَ مور سره وو. کله چې دَ دهٔ عمر شپږو کالو ته اورسیدو نو چونکه پلار ئې خو دَ پیدائش نه مخکښې وفات وو خو چې دے دَ شپږو کالو شو نو دَ دهٔ مور آمنه بي بي هم وفات شوه. چونکه آمنه بي بي خو اصل کښې دَ مدینې وه، دَ نبي ﷺ دَ نیکهٔ دَ طرف نه نیا چې کومه وه نو هغه دَ مدینې وه. بنو نجار نه دَ نبي ﷺ نیکهٔ وادهٔ کړے وو. او دَ عبد الله هغه واقعه ما تاسو ته کړې وه: چې عبد الله شام ته دَ تجارت پهٔ غرض باندې تلو نو لار کښې بیمار شو. او پهٔ مدینه کښې وفات شو، ماماګانو کره یَو میاشت بیمار پروت وو، وائي: چې ښهٔ شم نو کور ته به لاړشم. دلته وارثانو ته ئې هم پته نهٔ وه او نهٔ څهٔ ټیلیفونونه او رابطې وې، بلکه پیدل سفرې به وې نو هغوي اووئیل: چې ښهٔ شي نو اوبه ئې لیږو، خو هغه دَ ماماګانو پهٔ ځائے کښې وفات شو.... پوره واقعه اوس مخکښې اووئیلے شوه.

بهر حال دَ نبي ﷺ مور آمنه بي بي دې اووئیل: چې لاړه به شم مدینې ته او دَ خپل خاوند قبر ته به هم لاړه شم. او نبي ﷺ ئې هم دَ ځان سره روان کړو، وړوکے بچے وو، دَ شپږو کالو پهٔ عمر کښې وو او یَو دَ دهٔ دَ پلار نه وینځه پاتې شوې وه "ام ایمن رضي الله عنها" چې نبي ﷺ ته هغې هم پئ ورکړي وو، هغه هم ورسره روانه وه بطور خادمه وه. او دا ام ایمن رضي الله عنها بیا مسلمانه شوې هم وه.

البته دَ نبي ﷺ خپل مور پلار دا مسلمانان دي او کهٔ نهٔ دي؟ نو پهٔ دې کښې توقُّف دے: چې دا مسلمانان دي او کهٔ نهٔ دي، بس مونږ ته دَ دې پته نشته، دَ دې پته صرف یَو الله ته ده. خو دَ نبي ﷺ دَ رضاعي دوؤ موریانو (دَ حلیمه سعدیه او ام ایمن) باره کښې راځي چې دوي مسلمانې شوې وې او دَ نبي ﷺ دَ بلې مور چې ثویبه وه نو دَ ثویبې رضي الله عنها باره کښې هم یَو قول مونږ نقل کړے وو: چې دا مسلمانه شوې وه. دَ نبي ﷺ ټولې خلور موریانې وې: یَو خپله مور وه او درې رضاعې وې.

دَ نبي ﷺ دَ مور (آمنه بي بي) وفات

نو دَ نبي ﷺ مور آمنه بي بي رضي الله عنها مدینې منورې ته روانه شوه، سره دَ نبي ﷺ او دَ ام ایمن رضي الله عنها نه. او بعضې علماء وائي: چې دَ نبي ﷺ نیکهٔ هم ورسره وو. او بعضې وائي: چې نا! دے ورسره نهٔ وو. مدینې

ته چې لاړل دَ نبي ﷺ دَ پلار دَ قبر ملاقات ئې اوکړو. بیا مدینه کښې یَو میاشت هلته کښې وه.

یَو میاشت بعد بیا دَ نبي ﷺ مور او نبي ﷺ سره دَ خپلې خادمې نه مکې ته واپس راروان دې. په لاره باندې دَ نبي ﷺ مور ناجوړه شوه. چې ناجوړه شوه نو نهٔ ډاکټران وو، نهٔ هسپتالونه وو، او نهٔ نور څهٔ علاج معالجه شته. ښارې او صحراګانې وې. اوس هم چې څوک دَ مکې او مدینې په مینځ کښې هغه صحراګانې اوګوري نو اوس هم هغې کښې آبادے نشته. ښارې لارې وې. ابواء مقام ته چې را اورسیده بیماري زیاته شوه، نو ابواء مقام کښې دَ نبي ﷺ مور وفات شوه. بس په هغه ځائے کښې دفن شوه. نو یَو ام ایمن ﷺ وه، او یَو نبي ﷺ وو، نبي ﷺ ئې دَ لاس نه اونیولو او دَ خپل نیکهٔ کور ته ئې راوستو. نو مور ئې هم وفات شوه. او چې کله ئې مور وفات شوه نو بیا دَ نبي ﷺ دَ پرورش نور څوک نهٔ وو.

نبي ﷺ عبد المطلب ته حواله کیدل

نو عبد المطلب دَ نبي ﷺ نیکهٔ وو؛ په دې وجه نبي ﷺ عبد المطلب ته حواله شو. نیکهٔ وو خو دَ پلار نه ئې ورسره ډیره مینه وه. دَ عبد المطلب په باره کښې راځي: چې هغهٔ دَ نبي ﷺ سره دومره مینه کوله چې هغه وخت خو دومره اوني نهٔ وې لکه اوس چې څنګه اونې هلته نشته دے، سورې نهٔ وو، نو په هغې وخت کښې بیت الله صرف یَو کمره وه او دَ هغې سره ګیر چاپیره میدان وو. نو دهٔ به نبي ﷺ ځان سره راوستو دَ خانه کعبې سورې سره به ئې ورته بستره واچوله، وئیل به ئې: چې دې سورې ته به محمد کیښني، او ځامنو ته به ئې وئیل: چې تاسو به په دې خاورو کښې کښینئ. نو نبي ﷺ له به ئې دومره قدر او عزت کولو، چې نبي ﷺ به نهٔ وو راغلے نو په هغې بستره به څوک نهٔ کیناستل. وائي: دا زما دَ نوَسي بستره ده، په دې باندې به هغهٔ کښیني.

کله به دَ نبي ﷺ بعضې ترونه غُصه وو چې: "دا وړوکے ماشوم دے او دے ئې زمونږ نه هم اوچت کړے دے، کله ئې یَو ځائے کښې کرځوي او کله ئې بل ځائے کښې کرځوي". هغهٔ به ورته وئیل: "چې هر څهٔ منم خو کورے دَ دهٔ باره کښې خبره نهٔ منم، دَ دهٔ به ډیر زیات خیال ساتئ"؛ ځکه عبد المطلب هم داسې نا آشنا نا آشنا حالات لیدلي وو چې هغه هم دَ نبي ﷺ نه ډیر متأثره وو. نو دَ

نبي ﷺ سره ئې دومره مینه وه نو!

دَ یو راوي قول

یَو راوي دے کِندیر بن سعید هغه دَ خپل پلار نه نقل کوي، وائي: "دَ جاهلیت زمانه وه، زهٔ حج له تلے اوم (دا حج دَ نبي ﷺ دَ زماني نه مخکښې نه راروان دے، دَ ابراهیم علیه السلام دَ دور نه دا راروان دے)، نو چې کله مکې ته لاړم، یَو سړے پهٔ طواف کښې زوان دے او پهٔ دې طواف طواف کښې یَو شعر وائي:

يَا رَبِّ رُدَّ رَاكِبِي مُحَمَّدَا يَا رَبِّ رُدَّهُ وَاصْطَنِعْ عِنْدِي يَدَا[1]

"یا الله! ما ته زما شهسوار نوَسے محمد واپس راوله، یا الله! دا احسان پهٔ ما اوکړه زما هغه نوَسے ما ته واپس راوله، دا به ستا پهٔ ما ډیر لوئې احسان وي".

وائي: ما اووئیل: چې دا سړے څهٔ وائي! خلق ذکر کوي، دعاګانې غواړي، او دے دا ذکر کوي چې ما له محمد (ﷺ) واپس راوله او شعر وائي، دے لا څهٔ وائي! نو ما تپوس اوکړو: چې دا بابا څهٔ وائي؟ وائي: یَو کس راته اووئیل: چې دا عبد المطلب دے. دهٔ خپل نوسے وو دَ دهٔ یَو اوښ روک شوے وو هغې پسې ئې لیږلے وو، چې تهٔ اوګوره! چې زما اوښ به چرته وي؟ نو هغه ماشوم لا نهٔ دے راغلے، دے وائي: چې اوښ خو روک دے، سر دې اوخوري خو زما هغه نوَسے لا نهٔ دے راغلے، هغهٔ له څهٔ تکلیف نهٔ وي رسیدلے. نو دَ طواف پهٔ دوران کښې دے دا دعاء کوي: چې الله! ما له زما هغه نوَسے واپس راوله. وائي: لږ حصار شو چې پهٔ دې کښې مونږ کتل نو نوَسے یعني محمد ﷺ هم راغے او اوښ ئې هم دَ ځان سره راوستو".

داسې یَو خوش نصیب انسان چې روک اوښ پسې لاړشي نو څنګه به نهٔ پیدا کیږي؟ اوښ پیدا شو اوښ ئې نیولے وو، او راغے. نو عبد المطلب سره ډیر غم وو. کوم مور پلار چې پهٔ بچو باندې مئین وي نو چې دَ ماښام بانګ اووئیلے شي نو هغه کله دننه او کله بهر چې یره! هلکانو ناوخته کړو، چې چرته به وي؟ او چې چا سره ئې غم نهٔ وي نو دَ شپې یَو بجه وي او هغه بے غمه اودهٔ وي او دَ بچو پته ئې نهٔ لګي: چې کوم ځائے کرځي. نو دا مینې پورې تعلق ساتي. نو عبد المطلب

(1) انظر: "دلائل النبوة" للبیهقي: (151/1).

ورسره انتهائي مينه او محبت ساتلو.

دَ عبد المطلب وفات او دَ هغهٔ دَ عمر باره کښې اقوال

دَ نبي ﷺ عمر چې شپږ کاله وو نو مور ئې وفات شوه نو چې دوه کاله عبد المطلب اوساتلو او هغه ورسره مينه شروع کړه نو دَ الله تقسيم وُو بابا ترې هم الله واغستو. دوه کاله بعد دَ نبي ﷺ نيکهٔ عبد المطلب هم وفات شو. پهٔ دې وخت کښې دَ نبي ﷺ عمر اتهٔ کاله وو.

دَ عبد المطلب پهٔ عمر کښې اختلاف دے:

(۱) يَو قول دَ علماؤ دا دے: چې دَ عبد المطلب دوه اتيا (۸۲) کاله عمر وو.

(۲) بل قول دا دے: چې پنځهٔ اتيا (۸۵) کاله عمر ئې وو.

(۳) بل قول دا دے: چې پنځهٔ کم سل (۹۵) کاله عمر ئې وو.

(٤) بل قول دا دے: يَو سل لس (۱۱۰) کاله عمر ئې وو.

(٥) او بل قول دا دے: چې يَو سل شل (۱۲۰) کاله عمر ئې وو.

دَ عبد المطلب وصيت ابو طالب ته دَ نبي ﷺ باره کښې

کله چې عبد المطلب وفات شو نو دَ نبي ﷺ عمر اتهٔ (۸) کاله وو. خامخه چې يَو انسان دَ يَو سړي پرورش کړے وي او بيا ئې بابا هم وي نو انسان پريشانه وي. جحون کښې عبد المطلب وفات شو، او هغهٔ خپل ځوي ابو طالب ته وصيت اوکړو: "چې بچيه! کهٔ زهٔ نهٔ ووم نو زما نه بعد زما دَ دې نَوَسي پرورش تاته حواله کوم. دَ دهٔ به خيال ساتې، او دَ خپل ځان نه او دَ خپلو بچو نه به ئې ډير زيات خيال ساتې".

ام ايمن رضي الله عنها وائي: "چې کله دَ عبد المطلب کټ اوچت کړے شو او قبر ته ئې اوړو نو نبي ﷺ هغهٔ ته کتل او ژړل ئې"؛ ځکه چې بابا لاړے، دا پريشاني هم نبي ﷺ تيره کړه.

ابو طالب ته دَ نبي ﷺ کفالت حواله کيدل

دَ دې نه بعد نبي ﷺ دَ ابو طالب پهٔ کفالت کښې راغې. چې کله ابو طالب ته حواله شو نو ابو طالب ورسره دَ ټولو نه سېوا محبت شروع کړو. نبي ﷺ ئې دَ خپل اولاد نه ډير خوښ ګڼړلو. اولاد سره به ئې دومره مينه نهٔ کوله لکه څومره ميته چې به ئې دَ نبي ﷺ سره کوله. يَو خو دَ مړ رور بچے وو دَ هغهٔ پهٔ سترګو به ئې ورته کتل، بل دَ نبي ﷺ خويونه داسې وو، عادتونه ئې داسې وو

چې چا به لیدو نو دَ هغهٔ به ورسره مینه پیدا کیده.

یَو ځل قحط وو او ابو طالب ته خلق راغلل چې باران نشته دے، څومره زمانه اوشوه، قحط دے او خلق ډیر زیات مُشکلاتو کښې کیر دے، دَ الله نه سؤال اوکړئ! (ځکه کافرو هم الله منلو) چې الله پهٔ مونږ باندې باران رحمت اوکړي. ابو طالب ورته وائي: لږ صبر اوکړئ ما ته یَو چل راځي. نبي ﷺ ئې پهٔ غیږ کښې واغستلو او ځان سره ئې روان کړو، دَ دهٔ شاه ئې خانه کعبې طرف ته ورتاؤ کړه او دهٔ ته ئې اووئیل: بچیه! کوته اوچته کړه او دَ الله نه اوغواړه چې الله پهٔ مونږ باران اوکړي. چې دهٔ څنګه آسمان ته لاس اوچت کړل نو حدیث کښې راځي، دَ "صحیح البخاري" حدیث دے چې: پهٔ آسمان وریځ چرته پهٔ نظر باندې نهٔ وه او یک دم آسمان کښې وریځ راغله او باران شروع شو او ډیر زیات باران اوشو. ابو طالب دَ دهٔ پهٔ باره کښې دا شعر وئیلے وو:

وَأَبْيَضُ يُسْتَسْقَى الْغَمَامُ بِوَجْهِهِ ثِمَالُ الْيَتَامَى عِصْمَةٌ لِلْأَرَامِلِ[1]

"تک سپین مخ والا دے، دومره بختور دے، دومره خوش نصیبه دے چې دَ دهٔ پهٔ وجه (مخ) الله پهٔ خلقو بارانونه راوروي، دَ یتیمانانو فریاد رست دے او دَ کونډو دپاره او دَ بے وسو خلقو دپاره دَ بچاؤ یَو باعث دے".

باران چې اوشي نو پهٔ یتیمانانو هم راحت شي، پهٔ کونډو او غریبانانو هم راحت شي. دَ دهٔ پهٔ وجه به الله کونډو او یتیمانانو ته راحت رسوي. ابو طالب دَ دهٔ نه ډیر متأثره وو. او ابو طالب تر خپل مرګه پورې دَ نبي ﷺ داسې دفاع کړې وه چې کافرانو به وئیل: دا نبي وژنو، وائي: ابو طالب سره به بیا څوک څهٔ کوي؟ دَ هغهٔ نه به مو څوک خلاصَوي؟ دَ پیغمبر پاک ﷺ مسئله ئې منلې نهٔ وه خو دَ الله نبي ﷺ ته چې پیغمبري هم میلاؤ شوه نو بیا به هم ورته ابو طالب وئیل: "وراره! دا به نهٔ وائې چې کني خلق به راته دا اووائي یا به راته هغه اووائي، چې څنګه دې زړهٔ کښې راځي هغه شان وایه. او خلق پوهه شه او زهٔ پوهه شه".

ان شاء الله دَ ابو طالب هغه شعرونه او دَ هغهٔ هغه حالات هغه به روستو راشي. ابو طالب نبي ﷺ سره بے انتهائي مینه کړې وه. دَ هغهٔ پهٔ پرورش کښې نبي ﷺ بلوغ ته اورسیدو. دَ هغې حالات به ان شاء الله وریسې جُمعه کښې راځي.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

(1) انظر: "صحیح البخاري"، أبواب الاستسقاء، باب سؤال الناس الإمام الاستسقاء إذا قحطوا: (27/2)، رقم: (1008).

بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ

(سورة التوبة: 128)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه شپږمه

"دَ نبي ﷺ ابو طالب سره شام ته تلل او دَ بحيرا راهب سره ملاقات او دَ خديجة الكبرىٰ رضي الله عنها سره دَ نبي ﷺ نكاح"

بتاريخ: 14-01-2022

مقام: جلسئ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

سيرة النبي ﷺ حصه شپږمه

"دَ نبي ﷺ ابو طالب سره شام ته تلل او دَ بحيرا راهب سره ملاقات او دَ خديجة الكبرىٰ ﷺ سره دَ نبي ﷺ نکاح "

اَلْحَمْدُ للهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنُؤْمِنُ بِه وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ وَحْدَهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهُ وَلَا آخِرَ لَهُ لَا ضِدَّ لَهُ وَلَا نِدَّ لَهُ وَلَا مُمِدَّ لَهُ وَلَا بَشِيْرَ لَهُ وَلَا نَذِيْرَ لَهُ وَلَا وَزِيْرَ لَهُ وَلَا مُشِيْرَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِه وَسَلَّمَ عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ﴾.[1]

حاضرينو عزتمندو مسلمانانو رونړو! دَ رسول الله ﷺ سيرت شروع وو. دَ رسول الله ﷺ دَ پيدائش او بيا دَ پيؤ ورکولو واقعات او حالات، بيا دَ رسول الله ﷺ دَ مور وفات، بيا دَ نيکهٔ پهٔ پرورش کښې راتلل او بيا دَ نيکهٔ وفات، دَ هغهٔ نه بعد بيا دَ ابو طالب پهٔ پرورش کښې راتلل تردې پورې واقعات مخکښې بيان شوي وو. دَ عبد المطلب دَ وفات نه پس دَ رسول الله ﷺ سکه ترهٔ ابو طالب هغهٔ ته دَ رسول الله ﷺ برورش حواله شو. او ابو طالب به دَ نبي ﷺ سره دَ خپلو بچو نه هم زياته مينه او محبت کولو.

دَ ابو طالب شام ته سفر

ابو طالب هغهٔ نبي ﷺ له ره لويولو. کله چې دَ نبي ﷺ عمر دولسو کالو ته اورسيدو نو ابو طالب دَ قريشو دَ يو قافلې سره شام ته تلو دَ تجارت دپاره. رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل: "کاکاجي! زهٔ هم درسره

(1) [سورة التوبة: 128].

ځم". ابو طالب چې دې ته اوکتل چې سفر دے، مشکلات دي، تکليفونه دي نو هغه اووئيل: "چې ته راسره مهٔ ځه". خو رسول الله ﷺ داسې خفه شو. نو دَ ابو طالب خو ورسره مينه ډيره وه، ډير محبت ئې وو ورسره، نو هغهٔ اووئيل چې: "يره! سفر هم ګران دے خو بل خوا دے هم خفه کيږي". وائي: "خير دے کهٔ تکليف وي پهٔ مزه مزه به لاړ شو خو دے بوځم؛ ځکه چې دے به خفه شي".

ابو طالب سره دَ نبي ﷺ تلل او بحيرا راهب سره ملاقات

نو دَ دې دَ وجې ابو طالب نبي ﷺ ځان سره روان کړو. پهٔ دې سفر کښې هم ډير عجائبات وو. چې کله دوي روان شول، يَو علاقه راځي هغې ته بُصْرٰی وائي. چې دوي کله بصرٰی ته اورسيدل نو هلته کښې دَ نصاراؤ يَو ډير نيک پير او راهب وو، الله والا سړے وو. دَ هغې پير صاحب نوم دے جرجيس. خو پهٔ نوم باندې دومره مشهور نهٔ وو، پهٔ بحيرا راهب باندې ډير مشهور وو. چونکه پهٔ "انجيل" او پهٔ "توراة" کښې دَ نبي ﷺ هغه نخښې او علامې ذکر وې، دوي پهٔ دې انتظار وو چې هغه آخري نبي به دنيا ته راځي، هغه وخت هم راغلے وو. پهٔ آسماني کتابونو کښې چې دَ نبي ﷺ کومې نخښې ذکر وې، هغه دهٔ ټولې ليدلې وې، او يادې کړې ئې هم وې او پهٔ هغې باندې ذے پوهه هم وو.

کله چې نبي ﷺ دَ خپل ترهٔ سره روان شو، قافله روانه شوه او لاړل، بصرٰی ته چې اورسيدل نو دا راهب چې وو دَ دهٔ دا عبادت خانه او دا جونګړه داسې اوچت ځائے کښې وه. دے دَ دې قافلې دپاره راکوز شو او پهٔ دې قافلې کښې ئې دَ رسول الله ﷺ سره ملاقات اوکړو. نبي ﷺ ئې دَ دې لاس نه اونيولو او هغه ټولې نخښې ئې پکښې معلومې کړې کومې چې دَ نبوّت نخښې وې او "توراة" او "انجيل" او نورو آسماني کتابونو کښې ذکر وې. دے پوهه شو چې دا خو هم هغه سړے دے.(1)

دَ ابو موسی اشعري رضي الله عنه روايت

"سنن الترمذي" کښې يَو روايت راځي: ابو موسٰی اشعري رضي الله عنه فرمائي: چې ابو طالب دې نورو مشرانو دَ قريشو دَ ځان سره روان کړو او شام ته تلل نو چې کله دَ دې راهب پهٔ خوا باندې تيريدل نو راهب خو دَ الله والا سړي وي، هغه پهٔ خلقو څهٔ کوي؟ چرته دَ دې نه مخکښې چې خو خو

(1) انظر: "شرح الزرقاني على المواهب": (194/1).

ځله دوي پۀ دې لاره باندې تلي دي خو دۀ به ورته هډو توجُه نۀ کوله، چرته به ئې ورته بخير راغلې هم نۀ وئيلې. دا ځل چې دوي تلل نو هغه راهب دَ خپلې جونګړې نه راکوز شو او پۀ دې کښې دَ رسول الله ﷺ تلاش کولو، چې هغه هلک څۀ شو؟ چې کله ئې نبي ﷺ اوليدو نو بے اختياره هغه راهب چغې کړې:

"هَذَا سَيِّدُ العَالَمِينَ، هَذَا رَسُولُ رَبِّ العَالَمِينَ، يَبْعَثُهُ اللهُ رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ".[1]

"دا دَ ټول مخلوق سردار دے، دا دَ ټولو مخلوقاتو دَ پالونکي ذات پيغمبر او استاذے دے او الله تعالٰی به دۀ لره دَ ټول مخلوقاتو دپاره رحمت راليږي".

دا راهب دَ دې عربو پۀ مخکښې لګيا دے. او عربو ته لا دغه وخته پورې پته نۀ وه چې دا هغه نبي دے او دے به الله نبي او پيغمبر جوړوي، نا آشنا نا آشنا مخښې ئې ليدلې وې خو چا ته دومره علم نۀ وو. نو دوي دې راهب ته وائي: عجيبه سړے ئې سړے دې دَ لاس نه اونيولو او وائي "هَذَا سَيِّدُ العَالَمِينَ، هَذَا رَسُولُ رَبِّ العَالَمِينَ، يَبْعَثُهُ اللهُ رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ"، نو تا ته څنګه پته اولګيده چې دا دَ الله رسول دے؟ دا خو لا وړوکے دے، دَ دولسو کالو عمر کښې دے.[2]

دَ نبي ﷺ پۀ باره کښې دَ راهب ګواهي

هغه راهب ورته وائي: "کله چې ستاسو دا قافله راروانه وه نو ما به دَ دې ځائے نه تاسو ته کتل، چې دا ماشوم راروان وو نو پۀ دې لاره باندې چې به چرته اُونه راغله، چرته چې به ګټه راغله نو هغې به دې ماشوم طرف ته سجده کوله. او دارنګې زمونږ پۀ کتابونو کښې ئې ليکلي دي: چې اُونې او ګټې سجده بل چاته نۀ کوي مګر صرف رسول ته به ئې کوي. نو دَ دې وجې نه ما معلومه کړه چې دا دَ الله هغه پيغمبر دے". او بيا ورته شاه طرف ته راتاؤ شو چې اوئې کتل دَ رسول الله ﷺ دَ دواړو اوګو تر مينځه دَ نبوّت هغه مهر ئې هم اوليدو، چې داسې برابر دَ سيب پۀ انداز باندې وو، دَ غوَښې يَو ټکړه وه. نو دې سره ئې نور هم يقين سېوا شو چې دا دَ الله هغه رسول دے.[3]

(1) أخرجه الترمذي في أبواب المناقب، بَابُ مَا جَاءَ فِي بَدْءِ نُبُوَّةِ النَّبِيِّ ﷺ، برقم: (3620).

(2) انظر: "سيرة المصطفٰى": (95/1)، وفي طبع: مكتبة عمر فاروق: (83/1).

(3) انظر: "سيرة المصطفٰى" لمحمد ادريس كاندهلوي رحمه الله: (95/1)، وفي طبع: مكتبة عمر فاروق: (83/1).

دَ بحیرا راهب قافلې والو له دعوت کول

بحيرا راهب دوي ته وائي: چې زۀ تاسو له دعوت کوم، ډوډئ درله کوم او تاسو به ما سره ميلمانۀ کيږئ. دوي له ئې دَ ډوډئ انتظام اوکړو. چې مخکښې ئې پرې چرته اوبۀ هم نۀ وې څښکولې. ټول قافلې رالا ئې ميلمانۀ کړل. نبي ﷺ کشر وو، او کشر ماشوم خلق خدمتونو پسې ليږي. نو دَ ډوډئ ټائم چې راغے او دوي ټول لاړل او نبي ﷺ ورسره نۀ وو نو بحيرا راهب ورته اووئيل: "چې تاسو سره يَو ملګرے وو، هغه څۀ شو؟". نو دوي ورته اووئيل: "چې هغه خو مونږ ليږلے دے چې اوښان اوڅَروي، اوبۀ به ئې کړې نو هغه اوښانو سره تلے دے". راهب وائي: "خه! اوښانو سره تلے دے؟". دوي ورته اووئيل: "آو!". وائي: "هغه سړے پکار دے، هغه پسې څوک اوليږئ چې هغه راشي". نبي ﷺ ئې رااوغوښتو.

نو دوي بياباز کښې دَ يَوې اونې لاندې ناست وو، او دومره کسان وو چې ايله دَ دغې اونې دَ سورې لاندې راغلي وو. کله چې رسول الله ﷺ راغے نو نبي ﷺ خو کشر وو، نو دوي سره داسې اړخ ته کيناستو نو هغه اونه دَ هغۀ طرف ته راکږه شوه، او هغه سورے دَ دوي نه تاؤ شو او نبي ﷺ باندې جوړ شو. دوي چې دا اوليدل نو دا راهب ورته وائي: "اومو ليدل: چې دۀ پسې دَ اونې دا سورے څنګه راتاؤ شو او تاسو ئې پۀ ځائے پريښودئ او سورے دۀ لره راغے؟". عربو اومنل: چې واقعي سړي کښې ډير کمالات دي.[1]

بيا ورته دا راهب وائي: چې "تاسو چرته ځئ؟". نو دوي ورته اووئيل: چې "مونږ خو تجارت له روان يُو، روم، شام دې غلاقو ته ځو". دا راهب ورته وائي: "چې زۀ درته يَو مِنَت کوم چې دا هلک دَ ځان سره مۀ بوځئ! ولې؟؛ دَ دۀ دَ نبوت نخښې چې کومې پۀ کتابونو کښې ذکر شوې دي هغه ټولې نخښې دۀ کښې شته. او کۀ چرته دے دَ روم نصاراؤ اوليدو نو هسې نه چې درنه شهيد ئې کړي او مړ ئې کړي؛ ځکه هغه خو دَ دين دشمنان دي، دَ دې پيغمبر دشمنان دي، لهٰذا دے ځان سره مۀ بوځئ!". ابو طالب ورسره دوه کسان يَو ځائے کړل او دَ هغې ځائے نه ئې واپس مکې ته

(1) انظر: "سيرة المصطفى" لمحمد ادريس كاندهلوي رحمه الله: (95/1)، وفي طبع: مكتبة عمر فاروق: (84/1).

راوستو، او دوي خپل تجارت ته لاړل.[1]

دَ روم نه څهٔ کسان راتلل

پهٔ یَو روایت کښې دا هم دي: چې دا پیغمبر ﷺ دَ هغوي سره لا پهٔ هغې ځائے کښې وو چې پهٔ دې کښې څهٔ کسان دَ روم نه راغلل، تورې ئې غارې ته اَویزاندې وې. دې راهب ته وائي: چې "پهٔ دې لاره څوک مسافر خو نهٔ دي راغلي؟". راهب ورته وائي: "څهٔ کوئ؟". دوي اووئیل: "هغه دور او هغه زمانه راغلې ده چې پهٔ هغې کښې دا دي چې آخرئ نبي به پهٔ عربو کښې پیدا کیږي، نو مونږ دَ هغهٔ مرګ پسې راوتلې یُو چې پیدا نهٔ شي". نو دا راهب ورته وائي: "زهٔ تاسو سره یَو خبره کوم ماته لږه توجُه اوکړئ! چې الله رب العزة یَو شے موجود کړے وي او پیدا کړے ئې وي نو تاسو هغه روکولے شئ! مړ کولے ئې شئ!". نو دوي اووئیل: "نا!". نو راهب ورته وائي: "چې الله ئې دَ ژوند فیصله کړي وي هغه تاسو مړ کولے نهٔ شئ او چې الله ئې دَ ژوند فیصله نهٔ وي کړي نو تاسو ئې بچ کولے نهٔ شئ؛ لهذا ځان مهٔ ستړے کوئ. چې الله وئیلي دي: چې زهٔ به دا پیغمبر راليږم نو بیا الله دَ هغه حفاظت هم کولے شي او تاسو هغه بیا نهٔ شئ وژلے". دوي ئې مطمئن کړل. دوي ورته اووئیل: چې "مونږ ئې خو مرګ پسې راغلي وو خو چې تهٔ وائي نو مونږ به واپس لاړ شو". بیا ئې سوچ اوکړو: چې واپس څهٔ له ځو؟ نو دَ هغې راهب سره پاتې شول. او دَ هغهٔ نه ئې بیا دَ دین څهٔ خبرې هم یادې کړې وې.[2]

نبي ﷺ ئې واپس مکې مکرمې ته رااولیږلو؛ ځکه چې هلته رانه نبي ﷺ څوک شهید نهٔ کړي، څوک ئې مړ نهٔ کړي.

علماؤ لیکلي دي: چې دَ رسول الله ﷺ سره ابوطالب سیدنا بلال رضی الله عنه او سیدنا ابو بکر رضی الله عنه رااولیږل، او نبي ﷺ ئې واپس راوستو. خو دا ټکے مُدرَج دے مِن الراوي. صحیح روایت کښې دا دي: چې یَو ابوبکر رضی الله عنه وو او بل "رَجُلٌ" یَو بل سړے وو. دَ هغوي سره نبي ﷺ واپس راوستے شو.

(1) انظر: "سیرة المصطفٰی" لمحمد ادریس کاندهلوي رحمه الله: (95/1)، وفي طبع: مکتبة عمر فاروق: (84/1).

(2) انظر: "سیرة المصطفٰی" لمحمد ادریس کاندهلوي رحمه الله: (96/1)، وفي طبع: مکتبة عمر فاروق: (84/1).

دَ حافظ عراقي رحمه الله اشعار دَ دې واقعې باره کښې

دَ حافظ عراقي رحمه الله يو رساله ده: "ألفية السيرة النبوية". نو پۀ هغې کښې ئې دا واقعه پۀ شعرونو کښې راوړې ده. هغۀ وائي:

أَوْصَى بِهِ جَدُّهُ عَبْدُ الْمُطَّلِبْ ۔۔۔ إِلىٰ أَبِي طَالِبِ الْحَامِي الْحَدِبْ

"وصيت کړے وو دَ نبي ﷺ باره کښې نيکۀ دَ دۀ چې عبد المطلب وو ابو طالب ته هغه ابو طالب چې ښۀ حفاظت کونکے وو او ښۀ شفقت کونکے وو".

يَكْفُلُهُ بَعْدُ، فَكَانَتْ نَشْأَتُهْ ۔۔۔ طَاهِرَةً مَأْمُوْنَةً غَائِلَتُهْ

"چې کفالت به کوي زما نه پس ته. نو تربيت دَ نبي ﷺ پاک وو، او محفوظ وو دَ هلاکتونو نه".

فَكَانَ يُدْعٰى بِالأَمِيْنِ، وَرَحَلْ ۔۔۔ مَعْ عَمِّهِ لِلشَّامِ حَتّٰى إِذْ وَصَلْ

"نو وو دا نبي ﷺ چې دے به پۀ امين سره رابللے کيدو. او دۀ سفر کړے وو دَ خپل ترۀ سره شام ته تردې پورې چې کله اورسيدو....".

بُصْرٰى، رَأٰى مِنْهُ بَحِيْرَا، الرَّاهِبُ ۔۔۔ مَا دَلَّ أَنَّهُ النَّبِيُّ الْعَاقِبُ

"بُصْرٰى ته نو بحيرا پير صاحب دَ دۀ نه هغه نخښې اوليدلې چې خبردارے ئې ورکولو پۀ دې خبره چې دے به پيغمبر وي او آخرے پيغمبر به وي....".

مُحَمَّدٌ نَبِيُّ هٰذِهِ الأُمَّةْ ۔۔۔ فَرَدَّهُ؛ تَخَوُّفًا مِنْ ثَمَّهْ

"چې نوم ئې محمد دے او دَ دې امت نبي به وي، نو واپس ئې کړو دۀ لره؛ ځکه چې يريدو پۀ دۀ باندې دَ دغې ځائے دَ يهودو نه (دَ ضرر او نقصان دَ هغوي نه)".

مِنْ أَنْ يَرَى بَعْضُ الْيَهُوْدِ أَمْرَهْ ۔۔۔ وَعُمْرُهُ إِذْ ذَاكَ ثِنْتَا عَشْرَهْ

"دَ دې دَ وجې نه چې يهود چرته دَ دۀ دَ نبوّت نه خبر نۀ شي (هسې نه دا څوک شهيد کړي). او دغه وخت کښې دَ نبي ﷺ عمر مبارک دولس (۱۲) کاله وو".

نو نبي ﷺ يو پيره دَ دولسو کالو پۀ عمر کښې تجارت دپاره تلے وو. او بيا دوباره چې تجارت ته تلو نو هغه بيا خديجې رضي الله عنها ليږلے وو. دَ هغې تذکره هم وروستو حافظ عراقي صاحب رحمه الله کوي او وائي:

ثُمَّ مَضَى لِلشَّامِ مَعْ مَيْسَرَةِ ۔۔۔ فِيْ مَتْجَرٍ، وَالْمَالُ مِنْ خَدِيْجَةِ

"بیا نبي ﷺ شام ته لا ړو سره دَ میسره (دا دَ خدیجي ﷺ غُلام وو) نه دَ تجارت دپاره او مال دَ خدیجي ﷺ وو".

مِنْ قَبْلِ تَزْوِيْجٍ بِهَا، فَبَلَغَا بُصْرٰى فَبَاعَ وَتَقَاضٰى مَا بَغٰى [1]

"مخکښې دَ نکاح کولو دَ خدیجي ﷺ نه. نو دا دواړه اورسیدل بُصرٰی (شام) علاقې ته او هلته کښې ئې سوداګانې خرڅې کړې او پوره ئې واغستل هغه څۀ کوم چې دوي طلب کول".

حرب الفجار

دَ نبي ﷺ پۀ زمانه کښې چونکه لا نبوّت خو نۀ وو میلاؤ، جنګونه به هم راتلل، او جګړې به هم راتلې. دَ رسول الله ﷺ عمر مبارک څوارلس یا پنځلسو کالو ته اورسیدو (بعضو پکښې شل کاله هم لیکلي دي) نو پۀ عربو کښې یَو لوئې جنګ واقع شوے وو، چې هغې ته "حَرْبُ الْفِجَار" وائي، یا "حَرْبُ الْفُجَّار" وائي.

دا حرب الفجار چې دے دا جنګ دَ قریشو او دَ قیس قبیلې پۀ مینځ کښې راغلے وو. چونکه دَ الله نبي ﷺ ته خو لا نبوت نۀ دے میلاؤ شوے، دَ الله نبي ﷺ ایله بالغ شوے دے؛ څکه دَ څوارلسو یا پنځلسو کالو کښې ایله ماشوم بالغ شي. اول کښې داسې اوشول چې دا قیس قبیله پۀ قریشو باندې زورَوره شوه او چې روستو بیا جنګ اوشو نو قریش والا پۀ قیس باندې زورَور شو، آخر دا چې دَ دې دواړو فرِیقَیْنو مینځ کښې روغه او صُلحه اوشوه.

پۀ حرب الفجار کښې دَ نبي ﷺ شرکت

بعضې علماؤ لیکلي دي: چې پۀ دې حرب الفجار کښې رسول الله ﷺ شریک شوے وو، رسول الله ﷺ به خپلو ترونو له غشي ورکول. یعنې به دَ غشو تورو او نیزو جنګونه وو.

علامه سهیلي ﷺ لیکلي دي: "وَإِنَّمَا لَمْ يُقَاتِلْ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مَعَ أَعْمَامِهِ وَكَانَ يَنْبُلُ عَلَيْهِمْ وَقَدْ كَانَ بَلَغَ سِنَّ الْقِتَالِ لِأَنَّهَا كَانَتْ حَرْبَ فِجَارٍ وَكَانُوا أَيْضًا كُلُّهُمْ كُفَّارًا، وَلَمْ يَأْذَنْ اللهُ تَعَالَى لِمُؤْمِنٍ أَنْ يُقَاتِلَ إِلاَّ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللهِ هِيَ الْعُلْيَا".[2]

---

(1) انظر: "ألفية السيرة النبوية" للحافظ العراقي: (38/1).

(2) انظر: "الروض الأنف" للسهيلي: (147/2).

وائي: "رسول الله ﷺ دې حرب الفجار کښې جنګ نۀ کړے وو دَ ترونو پۀ ملګرتيا کښې، ليکن هغوي له ئې غشي ورکول او حال دا وو چې پيغمبر پاک ﷺ دَ جنګ عمر ته رسيدلے هم وو (دَ جنګ قابل وو)، ځکه دا خو دَ ګناه جنګ وو (چې تا داسې اوکړل او ما داسې اوکړل)، او دارنګې دوي ټول دواړه طرف ته کافران وو او پيغمبر پاک ﷺ خو پيدائشي مومن وو، الله تعالیٰ اجازت نۀ کوي يَو مؤمن ته چې اوجنګيږي مګر کۀ اجازت ورته کوي نو صرف دَ دې دپاره چې دَ الله دَ دين کلمه اوچته شي".

نو پيغمبر ﷺ هسې جنګونه نۀ کوي، بلکه پيغمبر چې جنګ کوي نو دَ دې دپاره ئې کوي چې: "لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللهِ هِيَ الْعُلْيَا" چې پۀ ملک کښې توحيد اوچت شي، دَ الله تعالیٰ دين بلندي حاصله کړي. نو چونکه دغه جنګ کښې دَ دين څۀ خبره نۀ وه نو ځکه دَ الله نبي ﷺ جنګ نۀ وو کړے.

دَ دې نه پس چې دا جنګونه او اختلافات راغلل. عربو کښې څۀ خلق رااوچت شول يَو دے فضل بن فضاله، بل دے فضل بن وداعه او دريم دے فضيل بن حارث دا سرداران وو. نور څۀ خلق ورسره ملګري شول نو دوي پۀ خپلو کښې يَو تنظيم او کُميټي جوړه کړه؛ چې ځو او دَ دې خلقو پۀ مينځ کښې دا جنګونه ختمَوو، او دا ظلمونه ختموؤ. دَ دې وجې نه زبير بن عبد المطلب دَ هغې هغه بعضې حالات پۀ اشعارو کښې ذکر کوي:

إِنَّ الْفُضُولَ تَحَالَفُوا، وَتَعَاقَدُوْا ... أَلَّا يُقِيمَ بِبَطْنِ مَكَّةَ ظَالِمُ

"فضول چې دي دوي يَو بل سره لوظونه او وعدې اوکړې چې مکه کښې به ظالم سړے نۀ اوسيږي".

فضول نه مراد دلته کښې هغه درې کسان دي چې دَ هر يَو پۀ نوم کښې فضل راځي: فضل بن فضاله، فضل بن وداعه او دريم فضيل بن الحارث. دې درې وارو يَو بل سره لوظ کړے وو: چې پۀ مکه کښې به ظالم سړے نۀ پاتې کيږي او څوک چې ظلم کوي نو هغه به دَ مکې نه اوباسو. پۀ دې باندې ئې کُميټي جوړه کړې وه. او بيا زبير بن عبد المطلب وائي:

أَمْرٌ عَلَيْهِ تَعَاهَدُوا، وَتَوَاثَقُوا ... فَالْجَارُ وَالْمُعْتَرُّ فِيهِمْ سَالِمُ[1]

"پۀ خبره هغوي دَ يَو بل سره لوظونه او وعدې اوکړې چې پۀ دې مکه کښې کير چاپيره

(1) انظر: "الروض الأنف" للسهيلي: (47/2).

علاقو والا، گاونډ والا دي او کوم چې دَ بل ځائے نه مسافر راغلے وي نو دې ټولو له به پۀ دې مکه کښې سلامتيا او امن وي".

نو کۀ دلته هر څوک وي دَ ټولو دپاره به امن او سلامتيا وي. څوک به هم دَ چا سره نۀ چيړي، دا به نۀ وائي: چې دَ دۀ خاندان وړوکے دے نو بس دے به وهو؛ ځکه دَ دۀ دَ تپوس کولو څوک نشته دے. نو دا کُميټي به داسې کار کوي چې څوک ظالم وي دَ هغۀ لاس به نيسي، هغه به دَ ظلم نه منع کوي، کنې دَ مکې نه به ئې اوباسي.

داسې يَو جماعت او تنظيم جوړ شو. دا هغه زمانه وه چې نبي ﷺ ته لا نبوّت ميلاؤ شوے نۀ وو، نو نبي ﷺ هم پۀ دې عهد کښې او پۀ دې کُميټۍ کښې ځان شامل کړو. او نبي ﷺ دَ عبد الله بن جدعان پۀ کور کښې حاضر شوے وو. عبد الله بن جدعان دې ټولې کُميټۍ له ډوډۍ هم کړې وه او هلته کښې دا فيصله اوشوه.[(1)]

نبي ﷺ فرمائي: "کۀ ما له څوک دَ عربو هغه سرۀ قيمتي اوښان راکوي دَ دغې کُميټۍ پۀ مقابله کښې نو زما هغه سرۀ اوښان نۀ دي خوښ خو پۀ دې ډير خوشحاله يم چې شکر دے چې پۀ دې کښې ما له دَ حاضرۍ موقع الله راکړې وه، چې دا دَ خير کار ما دَ مخکښې نه هم کړے وو".

نو عبد الله بن جدعان ورته ډوډۍ اوکړه. دا کُميټي جوړه شوه، پۀ دې کښې چونکه نبي ﷺ وو نو خلق به ئې پۀ فيصله باندې ډير خوشحاله وو.

بيا دَ نبي ﷺ عمر مبارک چې کله پنځۀ ويشت کالو ته نزدې شو نو نبي ﷺ پۀ خلقو کښې رو رو مشهوريدو: چې پۀ عربو کښې يَو سړے دے، حسين هم دے، انتهائي ښائسته اخلاقو والا هم دے، انتهائي صبرناک هم دے او انتهائي ادب ناک هم دے، او انتهائي امين او امانت دار هم دے. دَ هغۀ امانت او دَ هغۀ صداقت او ريشتونوالے پۀ ټولو خلقو کښې مشهور شو.[(2)]

دَ نبي ﷺ دَ امانت دارۍ نه دَ خديجة الكبرى رضي الله عنها خبريدل

پۀ دې کښې دَ رسول الله ﷺ دَ امانت دارۍ نه خديجة الكبرىٰ رضي الله عنها هم خبر شوه. خديجه رضي الله عنها

(1) انظر: "الطبقات" لابن سعد: (128/1-129).

(2) انظر: "سيرة المصطفى": (101/1)، وفي طبع: مكتبة عمر فاروق: (87/1).

دا ډېره مالداره زنانه وه. او دا په عربو کښې دَ ډېر مالدار خاندان والا زنانه وه. سره دَ دې چې مال ډېر وو خو دا يَو ډېره پاک دامنه زنانه وه. نسب او خاندان ئې ډېر اوچت او پاک وو. او دا دومره پاکه زنانه وه چې دَ جاهليت په زمانه کښې به هم خلقو خديجه ﷺ ته طاهره (پاکه) وئيله، چې دا دَ دهوکې نه هم پاکه ده، دَ ظلم او دَ زياتي نه هم پاکه ده، او طاهره معنیٰ دا چې: دَ زِنا او بدکارئ نه هم پاکه ده. عفيفه ښځه وه.[1]

نو دا چې دَ نبي ﷺ دَ امانت دارئ نه خبر شوه نو دَ دې نه به خو چونکه خلقو پيسې ورلې دَ تجارت دپاره او بيا به ئې ورله پکښې ګټه ورکوله، نو دې اووئيل: چې ماله خو الله مال راکړے دے او چې نبي ﷺ دومره صادق او امين دے نو زما مال دې هم يوسي. نو دې ابو طالب پسې سؤال جواب اوکړو: "کهٔ چرته تهٔ او ستا دا ورارهٔ دَ تجارت دپاره ځئ نو ما ته پته لګيدلې ده: چې دا ډېر صادق او امين دے، نو زهٔ وايم چې دا خپل مال ورله ورکړم او په دې باندې دے تجارت اوکړي، خير دے چې نورو له څومره معاوضه ورکوم دهٔ له به دَ هغې په ډبل ورکړم".

نو ابو طالب ورته اووئيل: "چې دا خو ډېره ښهٔ خبره ده". نبي ﷺ ته ئې مال رااوليږلو، نبي ﷺ هغه مال روان کړو او تجارت دپاره روان شو په پنځهٔ ويشتو کالو عمر کښې. بل خوا دَ خديجة الکبریٰ ﷺ يَو خادم دے، غلام دے "مَيْسره". هغه ورسره هم ملګرے شوے. دې ورته اووئيل: ځه! ته هم ورسره لاړشه، ته به ئې خدمت کوې. ميسره چې دَ نبي ﷺ سره په دې سفر کښې روان دے نو هغهٔ به هم څهٔ نا آشنا نا آشنا حالات ليدل: وريځ به دَ نبي ﷺ دپاسه سورے کيده؛ چې پهٔ نمر ورته تکليف ميلاؤ نهٔ شي، او دَ نبي ﷺ صداقت، امانت داري او اخلاق به ئې هم ليدل.

دَ خديجة الکبریٰ ﷺ دَ غلام ميسره او دَ نبي ﷺ واپس راتلل

نو سيدة خديجة الکبریٰ ﷺ ته چې کله دوي واپس راغلل، تجارت ئې اوکړو او الله ورله پکښې ډېره ګټه ورکړه، دومره ډېره ګټه وه چې چرته چا هم دَ خديجې ﷺ په مال کښې دومره پيسې نهٔ وې ګټلې څومره چې رسول الله ﷺ ته په لږ وخت کښې الله ګټه ورکړه. نو چې رسول الله ﷺ واپس

(1) انظر: "فتح الباري" لابن حجر: (100/7).

راغے او هغې له ئې مال ورکړو او نبي ﷺ له ئې ګټه ورکړه. نو میسره خدیجې ﷺ ته هغه ټوله واقعه بیان کړه: چې داسې داسې نا آشنا نا آشنا قِصې وې، اوني به دهٔ له سورے کولو، وریځې به ورله سورے کولو، او لاره کښې ورسره يو پير ميلاؤ شوے وو.

دويم ځل چې دا کوم پير وو هغهٔ ته نسطورا وائي. راهب هم دا پيشن ګوياني ورکړې وې، چې دَ الله نبي ﷺ ئې اوليدو نو وائي: دا هغه آخري پيغمبر ﷺ دے.

دَ خديجة الكبرٰى ﷺ دَ نبي ﷺ سره دَ نكاح اراده

نو خديجه ﷺ پوهه شوه: چې واقعي دا آخري نبي دے.

بعضې علماؤ ليکلي دي: چې کله ميسره او نبي ﷺ واپس راتلل نو خديجه ﷺ دَ خپل کور پهٔ بالاخانه باندې وه، پهٔ چت باندې ولاړه وه، خديجې ﷺ چې هغه نا آشنا مناظر: وريځ پرې دَ پاسه سورے وه، اوليدل نو نوره ئې هم مينه او محبت دَ نبي ﷺ سره پيدا شوه. چې مينه او محبت ئې دَ پيغمبر پاک ﷺ سره پيدا شو نو هغې اووئيل: "کهٔ چرته دا پيغمبر وادهٔ کوي نو زهٔ ورسره وادهٔ کولو ته تياره يم، زهٔ ورسره وادهٔ کوم".

دَ نبي ﷺ عمر پهٔ دغه وخت کښې پنځهٔ ويشت (۲۵) کاله وو او دَ خديجة الكبرٰى ﷺ عمر څلويښت (٤٠) کاله وو. او خديجة الكبرٰى ﷺ دَ دې نه مخکښې دَ دوؤ خاوندانو نه هم کونډه شوې وه. نو وائي: کهٔ دے زما سره وادهٔ کوي نو زهٔ تياره يم. ابو طالب ته ئې پيغام راواوليږلو. ابو طالب اووئيل: "زما خوښه ده". نبي ﷺ ته ئې اووئيل: "وراره! کهٔ ستا خوښه وي نو دَ دې زنانه سره به درته نکاح اوکړو؟". نبي ﷺ ورته اووئيل: "ډيره ښهٔ ده".

ابو طالب لاړو او څهٔ کسان نور هم لاړل دَ نکاح کولو دپار. خديجة الكبرٰى خو هغه وخت لا مسلمانه نهٔ وه. دَ هغې دَ پلار نوم خويلد وو، او دا خويلد وفات شوے وو، چې هغه خو دَ هغې يَو قسم مشر او وکيل دَ نکاح وو. نو نکاح به ورله څوک تړي؟ هغه خو پهٔ خپله زنانه وه نو دَ خديجې ترهٔ دے عَمرو بن اسد هغه موجود وو نو هغهٔ دَ دې دَ طرف نه وکيل شو.

علماؤ ليکلي دي: چې ابو طالب نکاح خوان شو. او ابو طالب پهٔ هغې وخت کښې يَو خُطبه

هم وئيلي وه، دَ هغې بعضې تکي علماؤ ليکلي دي:

«أَمَّا بَعْدُ: فَإِنَّ مُحَمَّدًا مِمَّنْ لَا يُوَازَنُ بِهِ فَتًى مِنْ قُرَيْشٍ إِلَّا رَجَحَ بِهِ شَرَفًا وَنُبْلًا وَفَضْلًا وَعَقْلًا، وَإِنْ كَانَ فِي الْمَالِ قَلٌّ، فَإِنَّمَا الْمَالُ ظِلٌّ زَائِلٌ، وَعَارِيَةٌ مُسْتَرْجَعَةٌ، وَلَهُ فِي خَدِيجَةَ بِنْتِ خُوَيْلِدٍ رَغْبَةٌ، وَلَهَا فِيهِ مِثْلُ ذَلِكَ». (1)

دَ الله حمد او ثناء ئې اووئيله، بيا وائې: "دَ دې نه پس يَو خبره کوم: محمد ﷺ چې دے نو دا يَو داسې نوجوان دے چې په ځوانانو کښې په قريشو کښې يَو ځوان هم دَ ده سره برابريدلے نۀ شي، نۀ په عزت کښې، نۀ په شرافت کښې، نۀ په فضيلت کښې، او نۀ په عقل کښې. هاں! دا منم چې غريب دے، فقير دے، صحيح ده چې مال به ورسره دومره نۀ وي (خديجه خو مالداره ده، او دۀ سره به دومره مال نۀ وي) خو دا مال دومره څۀ شے نۀ دے؛ ځکه چې دا مال خو يَو سورے دے چې نن په تا دے او بيا روان دے (هميشه نۀ وي)، او دا داسې يَو سؤالي سامان دے چې بيا راتلونکے دے، نن نشته، صبا به ورسره وي. او دے (محمد) په نکاح دَ خديجه بنت خويلد کښې رغبت او مينه لري، او دا خديجه هم دغه شان ده (محمد سره ئې مينه ده)".

نو ابو طالب ورته وائې: کۀ محمد سره مال نشته نو دې ته مۀ ګورے ځکه دا مال چې دے نو دا يَو سورے دے، نن په تا صبا په ما دے، او دا مال چې دے نو "عَارِيَةٌ مُسْتَرْجَعَةٌ"، دا يَو سؤالي سامان دے چې بيا راتلونکے دے، نن نشته نو صبا به ورسره وي. کله خلق وائې: دا غريب دے، دۀ له ئې نۀ ورکوو. هغه له الله دومره مال ورکړي چې دَ مالدار نه ډير وي. وائې: دا مالدار دے دۀ له ئې ورکوو. نو هغه الله داسې غريب کړي چې بيا بل ته ناست وي. دَ مال څۀ پته لګي.

نکاح اوتړلے شوه او په هغې کښې شل (۲۰) اوښان په مهر کښې مقرر شول. بعضې علماء وائې: دَ هغې قيمت پنځۀ سوه (۵۰۰) دراهم وو. دَ نبي ﷺ نکاح دَ خديجة الکبرٰی رضي الله عنها سره چې شوې وه نو هغه وخت دَ نبي ﷺ عمر پنځۀ ويشت کاله وو او دَ خديجة الکبرٰی رضي الله عنها عمر څلويښت (۴۰) کاله وو.

دَ حافظ عراقي رحمه الله اشعار

علامه حافظ عراقي رحمه الله ديته هم اشاره کړې ده: چې په دويم سفر دَ نبي ﷺ چې وو نو هغۀ دَ

(1) انظر: "الروض الأنف": (238/2).

خدیجې ﷺ دَ تجارت دپاره تلے وو. نو حافظ عراقي ؒ وائي:

ثُمَّ مَضَى لِلشَّامِ مَعْ مَيْسَرَةِ ... فِيْ مَتْجَرٍ، وَالْمَالُ مِنْ خَدِيْجَةِ

"بیا نبي ﷺ شام ته لاړو، سره دَ میسره (دا دَ خدیجې ؓ غلام وو) نه دَ تجارت دپاره او مال دَ خدیجې ؓ وو".

مِنْ قَبْلِ تَزْوِيْجِ بِهَا، فَبَلَغَا ... بُصْرٰى فَبَاعَ وَتَقَاضٰى مَا بَغٰى

"مخکښې دَ نکاح کولو دَ خدیجې ؓ نه. نو دا دواړه (غلام او دَ الله نبي ﷺ) اورسیدل بُصرٰی (شام) علاقې ته او هلته کښې ئې سوداګانې خرڅې کړې او پوره ئې واغستل هغه څۀ کوم چې دوي طلب کول".

اول ئې دَ خدیجې ؓ مال تجارت دپاره یوړو، بیا ئې ورسره روستو وادۀ کړے وو.

وَقَدْ رَأٰى مَيْسَرَةُ الْعَجَائِبَا ... مِنْهُ وَمَا خُصَّ بِهِ مَوَاهِبَا

"میسره پۀ دې لاره کښې ډیر عجائبات دَ الله دَ پیغمبر ﷺ نه اولیدل، او هغۀ تحفې ئې هم دَ دۀ سره اولیدلې چې دۀ سره کومې خاص وې".

وَحَدَّثَ السَّيِّدَةَ الْجَلِيْلَهْ ... خَدِيْجَةَ الْكُبْرٰى فَأَحْصَتْ قِيْلَهْ

"دۀ هغۀ ټوله قیصه هغه سردارې او لوئې شان والا زنانه چې خدیجې ؓ وه هغې ته اوکړه نو هغې دَ دۀ دا خبرې ښائسته اوګنړلې، او دَ وادۀ نیت ئې زړۀ کښې راغے".

وَرَغِبَتْ، فَخَطَبَتْ مُحَمَّدَا ... فَيَا لَهَا مِنْ خِطْبَةٍ مَّا أَسْعَدَا!

"او دَ هغې دَ الله نبي ﷺ سره پۀ زړۀ کښې مینه پیدا شوه نو دَ نکاح پیغام ئې دَ الله نبي ﷺ ته اولیږلو. نو څومره بختوره وه، دَ څومره اوچت انسان پۀ نکاح کښې راغله! او څومره خوش نصیبه بي بي وه!".

وَكَانَ إِذَا زُوِّجَهَا ابْنَ خَمْسِ ... مِنْ بَعْدِ عِشْرِيْنَ بِغَيْرِ لَبْسِ[1]

"او وو دا نبي ﷺ چې کله ورته دا خدیجه ؓ پۀ نکاح شوه دَ پنځۀ ویشتو کالو بغیر دَ څۀ شک نه".

ان شاء الله کۀ ژوند وو نو نور واقعات به بیا راځي. سیده خدیجه الله تعالٰی دَ خپل نبي ﷺ پۀ

(1) انظر: "ألفية السيرة النبوية" للحافظ العراقي: (38/1).

نکاح کښې راوسته.

دَ الله حکمتونه

سیدة خدیجة الکبرٰی رضي الله عنها الله تعالٰی دَ خپل نبي ﷺ پهٔ نکاح کښې راوسته نو پهٔ دې کښې ډېر حکمتونه وو:

(۱) يَو خوا خو دَ الله نبي ﷺ کمزورے وو، غریب وو، یتیم پاتې شوے وو. لکه الله تعالٰی وائي: ﴿وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَىٰ﴾.[1]

"او موندلے وې الله رب العزة تهٔ غریب نو مالداره ئې کړې".

نو پیغمبره تهٔ ئې مالداره کړې پهٔ مال دَ خدیجې رضي الله عنها سره. دَ پیغمبر پاک ﷺ پهٔ نکاح کښې الله تعالٰی مالداره ښځه راوسته، چې دے مالداره شي. دَ هغې پهٔ مال ئې اول تجارت شروع کړو او بیا ورته هغې هغه ټول هر څهٔ ورواوبخښل. نو دا پکښې دَ الله تعالٰی راز وو.

(۲) دویم دا: کهٔ دَ الله نبي ﷺ دَ یَو جینۍ سره نکاح کړے وے، نو دَ جینۍ سوچ دومره نهٔ وي، دَ هغې فکر هم دومره نهٔ وي، دَ هغې صبر هم دومره نهٔ وي او پهٔ نبوّت کښې خو پهٔ اول کښې ډېر تکلیفونه راځي، ډېرې سختې راځي، ډېر مصائب راځي نو هغه به دَ الله دَ نبي ﷺ نه مخکښې پریشانه وه. کله چې به دَ الله نبي ﷺ ته تکلیف میلاویدو، سخته به میلاویده نو دَ ټولو نه لویه تسلّي به خپلې بي بي خدیجة الکبرٰی رضي الله عنها ورکوله او کله چې سړي ته څهٔ تکلیف میلاؤ شي او دَ کور طرف نه ورته بیا داډ او تسلّي میلاؤ شي نو بیا څهٔ پروا نهٔ وي. خو دا چې دَ بهر نه هم تکلیف وي او کور کښې هم خلق لګیا وي، پلار هم لګیا وي، مور هم لګیا وي، ښځهٔ هم لګیا وي نو بیا سړے وائي: چې دا پهٔ څهٔ غضب واوړېدم. بیا کهٔ دَ هغهٔ هر څومره اوچته حوصله وي نو هغه رااوغورځیږي.

نو دَ الله دَ نبي ﷺ نکاح دَ خدیجې رضي الله عنها سره اوشوه نو پهٔ دې کښې دا حکمت او دا راز هم وو چې نبي ﷺ له به تسلي ورکوي. دَ دې به درته یَو مثال اووایم:

"دَ الله نبي ﷺ له چې کله اوله وحي راغله او یریدو، کور ته راغلے، تبه ئې ده او پریشانه دے

(1) [سورة الضحى: 8].

نو خديجة الكبرىٰ ﷺ ته وائي:

«لَقَدْ خَشِيْتُ عَلَى نَفْسِيْ».

"خديجې! په ځان باندې اوېرېدم (بس نور جوړې مړ کېږم)". نا آشنا نا آشنا حالات مې اولېدل.

سيدة خديجة الكبرىٰ ﷺ دَ الله نبي ﷺ ته اوله خبره دا کوي:

"فَوَاللهِ لَا يُخْزِيكَ اللهُ أَبَدًا".[1]

قسم په الله چرته به هم الله تعالىٰ تا نۀ رسوا کوي، چرې هم داسې نۀ ده، چرې به هم الله تعالىٰ تا نۀ پرېږدي. او بيا نبي ﷺ ته ډاډګيرنه ورکوي، تسلّي ورله ورکوي: چې پرواه اونۀ کړې تا به الله تعالىٰ نۀ خرابَوي؛ ځکه ستا په شان خلق الله نۀ ضائع کوي. نو اوله تسلي خديجة الکبرىٰ ﷺ ورکوې. او دا دَ تکليف دَ وخت بي بي وه. دَ الله دَ نبي ﷺ چې دَ دې سره څومره مينه وه (روستو به حالاتو کښې زاشي) دومره مينه ئې دَ بلې بي بي سره نۀ وه. او دَ دې په ژوند دَ الله نبي ﷺ دَ بلې بي بي سره وادۀ هم نۀ وو کړے. دَ دې دَ وفات نه پس ئې بيا ډېر ودونه کړي دي. خو دا چې تر څو ژوندئ وه نو پيغمبر ﷺ بل وادۀ نۀ وو کړے.

باقي حالات به نورو جُمعو کښې راځي ان شاء الله.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

---

(1) انظر: "شرح الزرقاني على المواهب": (444/1).

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ (1) خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ (2) اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ (3) الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ (4) عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ

(سورة العلق: 1-5)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه اوومه

"دَ وحي ابتداء "

بتاريخ: 2022-01-21

مقام: جلسئ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

سيرة النبي ﷺ حصه اوومه

"دَ وحي ابتداء "

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ * خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ * اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ * الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ * عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ﴾.(1)

حاضرينو عزتمندو مسلمانانو رونړوا دَ رسول الله ﷺ سيرت دَ هغي څۀ حصې مخکښې جُمعو کښې بيان شوے دے: دَ نبوّت نه مخکښې حالات دَ رسول الله ﷺ مخکښې جُمعو کښې ذکر شول. نن بيان کښې به دَ وحي دَ ابتداء متعلق بحث اوکړو.

دَ محمد رسول الله ﷺ دَ نبوّت ابتداء

دَ رسول الله ﷺ عمر مبارک چې کله څلويښتو (۴۰) کالو ته قريب شو نو حديث کښې راځي: "چې نبي ﷺ به ښائسته ښائسته خوبونه ليدل او بيا هغه خوبونه به هم دغه شان تعبير والا وو څنګه چې به محمد عربي ﷺ ليدلي وو (يعني ښائسته تعبير به ئې وو)".

بيا رسول الله ﷺ ته دَ دې خلقو دَ ناروا دَ کتلو دَ وجې نه.... چې پۀ ملک کښې ډير ناروا وو، نو رسول الله ﷺ ته خلاء او ځانله والے محبوب شو. چې بيان کولے نۀ شم، اصلاح کولے نۀ شم نو راشه دَ دې خلقو نه ځان له شه.

(1) [سورة العلق: 1-5].

دَ سيده عائشه رضي الله عنها فرمانِ مباركه

دَ دې هغه نقشه سيده عائشه رضي الله عنها بيانَوي، په "صحيح البخاري" كښې حديث دے: عائشه رضي الله عنها فرمائي:

"أَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُولُ اللهِ ﷺ مِنَ الوَحْيِ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ فِي النَّوْمِ".[1]

"اول هغه چې شروع دَ وحي اوشوه رسول الله ﷺ ته دَ وحي نو هغه ښائسته ښائسته خوبونه ليدل وو په خوب كښې".

نو اول چې رسول الله ﷺ ته كومه وحي شروع شوې وه هغه ښائسته ښائسته خوبونه ليدل وو. او دا مسئله ده: چې

"رُؤْيَا الأَنْبِيَاءِ وَحْيٌ".

"دَ انبياء كرامو عليهم السلام خوبونه ليدل هغه هم وحي وي".

يَو زمونږ خوبونه وي نو زمونږ خوبونه به كله صحيح وي او كله به غلط وي، او يَو دَ نبي ﷺ خوب ليدل وي نو دَ نبي ﷺ دا خوب ليدل وحي وي. وجه څۀ ده؟ نو ځكه چې نبي ﷺ غلط خوبونه نۀويني. مونږ داسې اودۀ كيږو چې زمونږ دماغ هم اودۀ وي او زمونږ زړۀ هم اودۀ وي، مونږ دَ ځان نه نۀ خبريږو. او پيغمبران هغوي به چې اودۀ كيدل نو دَ هغوي زړونه به ويخ وو. لكه حديث كښې راځي:

«إِنَّ العَيْنَ نَائِمَةٌ، وَالقَلْبَ يَقْظَانُ».[2]

"يقينًا ستركې ئې اودې دي او زړۀ ئې ويخ دے".

نو انبياء كرام عليهم السلام چې وو نو هغوي به ستركې پټې كړې وې خو زړونه به ئې ويخ وو. نو چې پۀ ويخه باندې يَو سړے يَو شے اوويني نو هغه به څنګه بيا دروغ شي؟ نو پۀ دې وجه دَ انبياء كرامو عليهم السلام خوب وحي وي.

دَ ابراهيم عليه السلام خوب ليدل

ابراهيم عليه السلام خوب ليدلے وو، خوب كښې ورته الله رب العزة وائي: "چې ځوي دې حلال

---

(1) أخرجه البخاري في بدء الوحي، كيف كان بدء الوحي إلى رسول الله ﷺ، برقم: (3).

(2) أخرجه البخاري في كتاب الاعتصام بالكتاب والسنة، باب الاقتداء بسنن رسول الله ﷺ، برقم: (7281).

کړه". چې سحر راپاڅيدو نو ځوی ته وائي:

﴿يَابُنَيَّ إِنِّي أَرَى فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ﴾.[1]

"بچيه! ما پۀ خوب کښې خپل ځان ليدلے وو چې تا حلالوم".

ما ته مې رب وئيلي دي: چې دا ځوي دې حلال کړه نو:

﴿فَانْظُرْ مَاذَا تَرَى﴾.[2]

"تۀ سوچ اوکړه! چې ستا څۀ رائې ده؟".

نو اوس دا دَ نبي خوب دے، دروغ خو کيدے نۀ شي؛ پۀ دې وجه پۀ ويښه باندې ئې پۀ بچي چاړۀ راخکله. نو دَ پيغمبر خوب ليدل دا دَ هغۀ وحي وي.

دغه شان بل مثال اوکوره!

دَ نبي ﷺ حالت اوګوره !

نبي ﷺ بيمار دے، يهودو ورباندې سحر او جادو کړے دے. نبي ﷺ ته پته نۀ وه چې دا څۀ چل شوے دے. معلومه شوه: چې انبياء کرام عليهم السلام عالم الغيب نۀ دي، عالم الغيب صرف يَو الله رب العزة دے. اوس خو داسې خلق پيدا شوي دي چې ستا دَ جادو نه هم خبر دي، وائي: تا باندې چا تور جادو کړے دے، او تا باندې چا فلانکے جادو کړے دے. هلکه! نبي ﷺ ته پته نۀ وه او تا ته پته اولګيده! نبي ﷺ ته پته نشته: يَو کار به ئې کړے وو خو ذهن کښې به ئې دا وو چې دا کار ما نۀ دے کړے او چې يَو کار به ئې نۀ وو کړے نو سوچ به ئې دا وو چې دا کار ما کړے دے، هر وخت به ئې بدن انختے وو، پريشانه پريشانه به وو، بيمار به وو. پته به ورته نۀ لګيده چې دا څۀ چل دے. خو کوم چې دعوت وو نو پۀ هغې کښې پرې اثر نۀ وو پريوتے؛ ځکه دَ هغې حفاظت خو الله رب العزة کولو.

نبي ﷺ اودۀ دے دې کښې دوه کسان راغلل، يَو ئې سر ته اودريدو او بل ئې خپو ته اودريدو (دا فرشتې وې او الله رب العزة راليږلې وې). دا يَوه دَ دې بلې نه تپوس کوي: چې دا سړے ولې

(1) [سورة الصافات: 102].

(2) [سورة الصافات: 102].

پروت دے؟ دا بله ورته وائي:

«مَطْبُوبٌ، يَعْنِي مَسْحُورًا». "چې دهٔ باندې جادو شوے دے".

بیا ترې دا یَوه تپوس کوي: چې دهٔ باندې چا جادو کړے دے؟ نو وائي: لبید بن اعصم. بیا ترې تپوس کوي: چې کوم ځائے کښې پروت دے؟ هغهٔ بله فرشته ورته وائي:

"فِي جُفِّ طَلْعَةِ ذَكَرٍ فِي مُشْطٍ وَمُشَاقَةٍ، تَحْتَ رَعُوفَةٍ[1] فِي بِئْرِ ذَرْوَانَ".[2]

"بِئْرِ ذروان کښې دا جادو پروت دے، دَ منکز (کمنز) پهٔ غابنونو کښې د نبي ﷺ ویښتهٔ دي، او دَ کجورو بورئ ئې هم ورسره ملګرې کړې ده چې دَ پلنې کټې نه لاندې ده".

اوس دا پهٔ وحي معلومه شوه، خوب کښې نبي ﷺ ته ملائک راغلل او خوب خو وحي ده. خبره مې هم دا راروانه کړې وه چې خوب دَ انبیاء کرامو علیهم السلام وحي وي.

نبي ﷺ چې صحابه کرام رضی الله عنهم اولیږل نو دَ هغې کوهي اوبهٔ داسې زیړې شوې وې لکه دَ نکریزو دا رنګ چې پکښې سرے میلاؤ کړي. دَ هغې هغه اوبهٔ داسې شوې وې لکه دَ مارانو سرونه، داسې ناکاره جادو ئې پهٔ نبي ﷺ باندې کړے وو. آخري سورتونه راغلل. دَ الله نبي ﷺ به هغه لوستل نو الله رب العزة دَ هغې اثر ختم کړو.

نو دا هم نبي ﷺ خوب لیدلے وو خو خوب دَ پیغمبرانو وحي وي نو دا وحي شوه.

خوب دَ نبوّت حصه

دَ دې وجې نه پهٔ حدیث کښې راځي: نبي ﷺ فرمائي:

«الرُّؤْيَا الحَسَنَةُ، مِنَ الرَّجُلِ الصَّالِحِ، جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ».[3]

"دَ نیک سړي ښائسته خوبونه لیدل دا دَ نبوّت شپږ څلویښتمه (٤٦) حصه ده".

---

(1) قال علامة ابن حجر رحمه الله: حَجَرٌ يُوضَعُ عَلَى رَأْسِ الْبِئْرِ لَا يُسْتَطَاعُ قَلْعُهُ يَقُومُ عَلَيْهِ الْمُسْتَقِي وَقَدْ يَكُونُ فِي أَسْفَلِ الْبِئْرِ قَالَ أَبُو عُبَيْدٍ هِيَ صَخْرَةٌ تُنْزَلُ فِي أَسْفَلِ الْبِئْرِ إِذَا حُفِرَتْ يَجْلِسُ عَلَيْهَا الَّذِي يُنَظِّفُ الْبِئْرَ. ["فتح الباري" لابن حجر العسقلاني: (234/10).

(2) أخرجه البخاري في كتاب الأدب، بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَىٰ وَيَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ﴾، برقم: (6063).

(3) أخرجه البخاري في كتاب التعبير، باب رؤيا الصالحين، برقم: (6983).

علماؤ ليکلي دي: چې ښېرې مياشتې به مسلسل نبي ﷺ ښائسته ښائسته خوبونه ليدل.

دَ علامه ابن قيم رحمه الله قول

علامه ابن قيم رحمه الله ليکلي دي: دَ نبوّت نه بعد زندګي دَ نبي ﷺ درويشت (۲۳) کاله ده او دَ نبوّت نه مخکښې زندګۍ ئې څلويښت کاله ده. نو دا ټوله درې شپيتۀ (۶۳) کاله زندګي شوه. خو چونکه دَ نبوّت زندګي درويشت کاله ده، څلويښت کاله زندګي خو دَ نبوّت نه مخکښې وه نو هغه ترې کټ کړه نو درويشت (۲۳) کاله نبي ﷺ ته الله رب العزة نبوّت ورکړے وو دنيا کښې ... ئې چلولو. پۀ دې درويشتو کالو کښې چې دَ دې سره نور درويشت ملګري کړې؛ ځکه ښېږ مياشتې دَ الله نبي ﷺ ښائسته ښائسته خوبونه ليدل، نو درويشتو سره چې درويشت ملګري کړې نو دَ دې نه ښېږ څلويښت (۴۶) جوړيږي. يعني کال کښې دولس (۱۲) مياشتې وي، دَ درويشتو (۲۳) کالو (ښېږ څلويښتمه (۴۶) حصه) ښېږ مياشتې جوړيږي؛ ځکه ښېږ مياشتې نبي ﷺ مسلسل ښائسته ښائسته خوبونه اوليدل.

نو ښېږ مياشتې به نبي ﷺ ښائسته ښائسته خوبونه ليدل، او حديث دَ "صحيح البخاري" کښې راځي:

«فكَانَ لاَ يَرَى رُؤْيَا إِلاَّ جَاءَتْ مِثْلَ فَلَقِ الصُّبْحِ».[1]

"دَ الله نبي ﷺ به خوب نۀ ليدو مګر هغه خوب او دَ هغې تعبير به داسې صفا راتلو لکه دَ صبا روښانه". لکه څنګه چې ورځ سحر کښې صفا سُتره وي، تيارۀ ختمه شي نو دغه شان به دَ نبي ﷺ خوبونه روښانه راختل.

نو دا خوب دَ نبي ﷺ (دَ نبوّت) ښېږ څلويښتمه (۴۶) حصه ده؛ ځکه خو دَ الله نبي ﷺ ښېږ مياشتې ښائسته ښائسته خوبونه ليدل.

يواځې والې نبي ﷺ ته محبوب وو

حديث مبارک کښې بيا راځي:

«ثُمَّ حُبِّبَ إِلَيْهِ الخَلاَءُ».[1]

(1) أخرجه البخاري في بدء الوحي، برقم: (3).

"بيا دَ الله پيغمبر ﷺ ته خلاء او ځان له والے محبوب شو".

دا خلاء او ځانله والے ولې نبي ﷺ ته محبوب شو؟ ولې به دَ الله نبي ﷺ ځان له ځائے کښې خوشحاله وو؟ دَ هغې وجه دا وه: چې ډير ناروا به کيدل، شرکياتو کښې خلق مبتلاء وو، نارواه او ظلمونو کښې مبتلاء وو، دَ الله نبي ﷺ ته څهٔ داسې طريقه معلومه نهٔ وه چې دَ دې خلقو دَ اصلاح څهٔ چل اوکړم؟

دَ الله رب العزة دَ نبي ﷺ باره کښې اعلان

﴿وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدَىٰ﴾.(2)

"موندلے وو تا لره الله رب العزة حيران او پريشان دَ قوم پهٔ اصلاح کښې نو الله درته چل اوښودلو".

دَ الله نبي ﷺ به هغه ناروا هم نهٔ شو کتلے او حيران وو: چې دَ دې خلقو اصلاح به څنګه کيږي!!! نو دَ دې وجې نه دَ الله نبي ﷺ ځانله والے اختيار کړو.

بيا عائشه ﷺ فرمائي: «وَكَانَ يَخْلُو بِغَارِ حِرَاءٍ».

دا روايت "صحيح البخاري" کښې شپږ کرته ذکر دے، "دَ الله نبي ﷺ به پهٔ غارِ حراء کښې ځانله ناست وو".

او غارِ حراء دا دَ مکې مکرّمې نه تقريبًا دَ دوؤ ميلو پهٔ اندازه باندې لرې دے. دا يو غار دے. او اکثر خلق چې لاړ شي نو هغې ته ورشي. او دا داسې غر دے چې سړے پکښې دَ ورځې يريږي. دَ الله نبي ﷺ به هلته تلو.

"فَيَتَحَنَّثُ فِيهِ". "نو دَ الله نبي ﷺ به پهٔ هغې کښې عبادت کولو".

اوس سؤال راځي: چې تحنُّث څهٔ ته وائي؟

نو امام بخاري رحمه الله معنىٰ کوي:

"وَهُوَ التَّعَبُّدُ اللَّيَالِيَ ذَوَاتِ العَدَدِ قَبْلَ أَنْ يَنْزِعَ إِلَى أَهْلِهِ وَيَتَزَوَّدُ لِذَلِكَ".

(1) أخرجه البخاري في بدء الوحي، برقم: (3).

(2) [سورة الضحى: 7].

"دا يَو خو دَ شمار شپو عبادت وو، چې کور ته به پـکښې نهٔ راتلو او پهٔ دغه شپو کښې به ئې دَ کور نه ځان سره توخه اُوړله".

نو سؤال دا راځي: چې نبي ﷺ څنګه عبادت کولو؟ الله رب العزة خو لا دَ عبادت طريقه راليږلې نهٔ وه؟ نو دَ نبي ﷺ دَ عبادت طريقه څهٔ وه؟

جواب دا دے (او دا ذهن کښې واچوئ؛ څکه خلق به دربانديِ اعتراض کوي نو چې بيا جواب درځي!): چې نبي ﷺ دَ ملتِ ابراهيمي پهٔ طريقه باندې عبادت کولو. او دَ ابراهيم عليه السلام دَ عبادت طريقه دا پهٔ قريشو کښې رائج وه لکه اوګوره! واقعه دَ زيد بن عَمرو بن نفيل رضي الله عنه:

واقعه دَ زيد بن عَمرو بن نفيل رضي الله عنه

دا دَ نبي ﷺ نه مخکښې يَو مؤحِّد تير شوے وو. زيد بن عمرو بن نفيل رضي الله عنه به وئيل: "ما له داسې يَو آسماني دين پکار دے چې زهٔ دَ هغې اتّباع اُوکړم". نو دے لاړو يهودو ته او يهودو ته وائي: "چې ما له دَ دين حقه نشان دهي اوکړئ چې زهٔ پهٔ هغې باندې عمل اوکړم؟". نو بعضې صحيح خلق هم وي، صحيح مشوره ورکړي. يهودو ورته اووئيل: "چې دا خو زمونږ دين دے او دَ آسمان نه نازل شوے دے، خو اوس هغه دين پاتې نهٔ دے، پهٔ يهودو خو دَ الله غضب دے، کهٔ دَ الله غضب ته ځان نيولے شې نو زمونږ دين قبول کړه، او کهٔ غضبِ الٰهي نه ځان بچ کولے شې نو دا بيا پريږده". دَ هغوي نه روان شو نو هغوي ته وائي: "چې ما ته داسې دين اوښايئ چې هغه به کوم دين وي چې زهٔ هغه اختيار کړم او دَ غضبِ الٰهي نه پرې بچ شم؟". نو هغوي ورته اووئيل: "کهٔ مونږ ئې منو او کهٔ نهٔ ئې منو خو ملّتِ ابراهيمي حق دين دے". دَ هغوي نه را روان شو. نصاراؤ ته راغے، نصاراؤ ته وائي: "چې ما ته يَو صحيح دين اوښايئ؛ چې زهٔ هغې پسې روان شم؟ او کهٔ ستاسو دا دين حق وي نو چې دا اومنم". نصاراؤ ورته اووئيل: چې زمونږ پهٔ دين کښې خو ضلالت دے، ګمراهي ده، کهٔ ګمراهي دې خوښه وي خو راځه، او کهٔ ګمراهي دې نهٔ وي خوښه نو زمونږ دين پريږده. دهٔ اووئيل: نا! زهٔ خو هدايت پسې ګرځم. هغوي ورته اووئيل: چې هدايت پسې ګرځې نو دينِ ابراهيمي پسې لاړ شه.

زيد بن عمرو بن نفيل هغه مکې ته راغے، او په مکه کښې ئې اعلان اوکړو: چې دَ نن نه بعد زۀ په ملَّتِ ابراهيمي باندې يم، نۀ زۀ په يهوديت باندې يم او نۀ زۀ په نصرانيت باندې يم، بلکه زۀ په ملَّتِ ابراهيمي باندې يم. او قريشو ته ئې اوويل: چې تاسو هم ملَّتِ ابراهيمي راتېنګ کړئ. او په هغوي به ئې رد کولو چې ملَّتِ ابراهيمي کښې خو شرک نۀ وو، او تاسو شرک کوئ. نو هغې زمانه کښې به زيد بن عمرو بن نفيل دَ شرک رد کولو چې نبي ﷺ ته نبوَّت هم لا نۀ وو ميلاؤ شوے. هغه به دَ غير الله دَ منختې نه ځان ساتلو، چې کوم شے به دَ لات، منات او عُزّیٰ په نوم حلال شوے وو هغه به ئې نۀ خوړلو. وئيل به ئې: چې دا شے ناروا دے. او دَ ابراهيم عليه السلام په طريقه به هغه عبادت کولو. دا يَو طريقه شوه.

او نبي ﷺ به هم عبادت په ملتِ ابراهيمي باندې کولو. دويم دا چې نبي ﷺ ته به وحي راتله، خوب به ئې ليدو. دَ پيغمبر ﷺ خوب ليدل دا يَو قسم دے دَ وحي نه، نو نبي ﷺ ته به دَ عبادت طريقه خوب کښې اوښودلے شوه. دا دوه شوې.

او دريم دا: چې نور عبادت نۀ وو، خو دغه وخت عبادت دَ نبي ﷺ هغه دَ الله په قدرتونو کښې سوچ او فکر وو او دَ دې نه دَ الله عظمت معلومول وو. او دا مسئله ده: علماؤ ليکلې ده، علامه ابن قيم رحمه الله ذکر کړې دي، دَ بعضې سلفو علماؤ نه نقل دي وائي:

"تَفَكُّرُ سَاعَةٍ خَيْرٌ مِنْ عِبَادَةِ سِتِّيْنَ سَنَةً".(1)

"يَو ساعت سوچ کول دَ الله په عظمت او دَ الله په لويئ کښې او دَ هغۀ په مخلوق کښې دا دَ شپيتو (٦٠) کالو دَ بے سوچه او بے فکره عبادت نه بهتر دي".

نو دا هم يَو قسم عبادت وو: چې دَ الله قدرتونه به ئې دَ دې اشياؤ نه معلومول، دا عبادت شو.

نو دَ الله نبي ﷺ به دغه غارِ حراء کښې عبادت کولو يا په ملتِ ابراهيمي باندې، يا به ورته خوب کښې اووئيلے شو، خوب به ئې اوليدو او يا دا چې سوچ او فکر به ئې دَ الله په قدرتونو کښې کولو.

(1) انظر: "مفتاح دار السعادة ومنشور ولاية العلم" لابن القيم: (180/1).

"قَبْلَ أَنْ يَنْزِعَ إِلَى أَهْلِهِ وَيَتَزَوَّدُ لِذَلِكَ...". "کور ته دَ راتلو نه مخکښې، هلته به وو او دَ الله نبي ﷺ به دَ ځان سره توخه اوړله".

او محدثین ذکر کوي: چې نبي ﷺ به ټول رمضان کښې په غارِ حراء کښې وو.

ځان سره به ئي دَ خوراک، څښکاک سامان اوړلو نو چې هغه به خلاص شو:

"ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى خَدِيجَةَ فَيَتَزَوَّدُ لِمِثْلِهَا".

"بیا به راکوز شو او دَ خدیجې ﷺ خوا ته به راغے نو بیا به ئي دَ ځان سره هغه شان توخه واغسته". چې څومره ورځې به حِصار وو نو دَ هغې خوراک، څښکاک به ئي دَ ځان سره واغستو.

"حَتَّى جَاءَهُ الحَقُّ وَهُوَ فِي غَارِ حِرَاءٍ".

"تر دې چې نبي ﷺ ته وحي راغله او نبي ﷺ په غارِ حراء کښې وو".

وحي شروع شوه، نو دَ وحي ابتداء څنګه وه؟

"فَجَاءَهُ المَلَكُ فَقَالَ: اقْرَأْ".(1)

نبي ﷺ فرمائي: "جبرئیل امین ﷺ راغے او ماته وائي: لوله". شابه وایه! نو ما ورته اووئیل: «مَا أَنَا بِقَارِئٍ».

"زهٔ قاري نهٔ یم"، زهٔ لوستونکے نهٔ یم، ما چرته سبق نهٔ دے وئیلے.

حدیث کښې راځي: نبي ﷺ فرمائي:

"فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الجَهْدَ".

"جبرئیل امین ﷺ زهٔ اونیولم او دَ ځان سره ئي جوښت کړم، ما ته ئي ډیر زور راکړو تردې پورې چې اورسیدو ما ته دَ دې نه ډیر تکلیف".

هغې وخت کښې خو دا پته نهٔ وه چې دا جبرئیل امین ﷺ دے، نو نبي ﷺ وائي: ما له ئي زور راکړو تردې پورې چې اورسیدو ما ته دَ هغې نه ډیر تکلیف. په دې معنٰی سره "الجهدُ" فاعل دَ "بلَغ" شو. معنٰی ډیر تکلیف سره مخامخ شوم. او دا یا مفعول د "بَلَغَ" دے او "جبرئیل"

---

(1) أخرجه البخاري في بدء الوحي، برقم: (3).

ورله فاعل دے، نو معنیٰ دا شوه: چې جبرئیل امین ﷺ زما نه ډیر تکلیف ته اورسیدو، معنیٰ ډیر تکلیف ئې ما له راکړو او ډیر زور ئې ما له راکړو، ښهٔ زور ئې ما له راکړو.

"ثُمَّ أَرْسَلَنِي، فَقَالَ: اقْرَأْ، قُلْتُ: مَا أَنَا بِقَارِئٍ".

"بیا ئې پریښودم، نو ما ته وائي: چې: اقْرَأْ، اوس وایه، ما ورته بیا هغه جواب ورکړو چې: مَا أَنَا بِقَارِئٍ، زهٔ خو لوستونکے نهٔ یم، ما څهٔ نهٔ دي وئیلي".

"فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّانِيَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الجَهْدَ ثُمَّ أَرْسَلَنِي، فَقَالَ: اقْرَأْ".

"نو بیا ئې اونیولم، بیا ئې ما له زور راکړو او ښهٔ زور ئې راکړو نو بیا ئې پریښودم نو بیا ما ته وائي: اقْرَأْ، ما ورته بیا اووئیل: چې مَا أَنَا بِقَارِئٍ. زهٔ قاري نهٔ یم، ما سبق نهٔ دے وئیلے نو څهٔ شے اووایم؟ (څکه ابتداء وه)".

"فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّالِثَةَ ثُمَّ أَرْسَلَنِي، فَقَالَ: ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ * خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ * اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ﴾ [العلق: 1-3]".[1]

وائي: "پهٔ دریم ځل ئې اونیولم، زور ئې راکړو او بیا ئې پهٔ دریم ځل هم پریښودلم او جبرئیل امین ﷺ زما نه مخکښې لکیا شو او ما ته وائي: ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ * خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ * اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ * الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ * عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ﴾[2]".

دا تلاوت شروع شو، څهٔ نا آشنا الفاظ وو! دَ سورة العلق دا ابتدائي آیتونه راغلل. محدثین وائي: دا دَ قرآن اولنئ وحي وه چې نبي ﷺ ته دَ جبرئیل امین ﷺ پهٔ واسطه شوې وه. خو اول وحي دا نهٔ ده؛ څکه اول وحي ښائسته ښائسته خوبونه لیدل وو، لکه څنګه چې درته ما مخکښې اووئیل: چې شپږ میاشتې به ئې ښائسته ښائسته خوبونه لیدل، هغه خو به جبرئیل امین ﷺ نهٔ راوړل. جبرئیل امین ﷺ چې کومه وحي راوړې ده نو هغې کښې اولنئ وحي دَ سورة العلق دا ابتدائي آیتونه دي.

الله رب العزة خپل پیغمبر ﷺ ته وائي: چې: ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ﴾.

(1) أخرجه البخاري في بدء الوحي، برقم: (3) وأيضًا برقم: (4953).

(2) [سورة العلق: 1-5].

"اولوله په امداد دَ نوم دَ ربّ ستا چې تمام مخلوق ئې پیدا کړے دے".

دَ سورة العلق دَ ابتدائي آيتونو مقصد

علماءِ تفسير ليکي: چې دَ دې آيتونو دَ سورة العلق څهٔ مقصد دے؟

نو ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ﴾ ئې اووئيل او "اِقْرَءْ بِاسْمِ اللهِ" ئې اونهٔ وئيلو، "اِقْرَأْ بِاسْمِ الرَّحْمٰنِ" ئې اونهٔ وئيلو؟ نو دې کښې اشاره ديته ده: چې ربّ څا ته وائي؟ ربّ تربيت کونکي ته وائي، پرورش کونکي ته وائي.

علماؤ ليکلي دي: چې تربيت څهٔ ته وائي؟ نو تربيت وائي:

"إِنْشَاءُ الشَّيْءِ حَالاً فَحَالاً إِلَى حَدِّ الْكَمَالِ".

"چې هغه دَ يَو څيز پرورش کوي په رو رو باندې تر دې چې هغه کمال ته ئې اورَسَوي".

نو دې ته تربيت وائي، چې څوک دا کارونه کوي هغه ربّ دے. نو معلومه شوه دا خبره: چې ربّ ستا پرورش اوکړو په وړوکوالي کښې په يَو نا آشنا طريقه، دَ ټولو خلقو نه په نا آشنا طريقه باندې وو، تهٔ په نا آشنا طريقه باندې پيدا شوې. تا له دَ پيو انتظام الله په نا آشنا طريقه اوکړو، تهٔ الله په نا آشنا طريقه باندې لوي کړې، کانړو په تا سلامونه اچول، وُنو په تا باندې سوري کول، وريځې په تا باندې سوري کيدلې، ستا په وجه به الله نورو خلقو له خير او برکت ورکولو، څنګه چې الله تعالى ستا جسماني تربيت کړے دے نو اوس هغه ذات ستا روحاني تربيت کول غواړي نو ځکه ئې دَ "ربّ" نوم راوړو.

﴿خَلَقَ﴾ "هغه ذات چې مخلوق ئې پيدا کړے دے".

دلته ئې "خَلَقَ" اووئيلو او دَ دې دپاره ئې مفعول ذکر نهٔ کړو؛ اشاره ده تعميم ته، يعنې چې څهٔ شے دے نو هغه الله پيدا کړے دے، لکه جواهر الله پيدا کوي، آسمانونه، زمکې، فرشتې، انسانان دا ټول مخلوق هغهٔ پيدا کړے دے. نو ځکه ئې "خَلَقَ" اووئيلو او مفعول ئې ظاهر نهٔ کړو، تعميم ته اشاره ده.

﴿خَلَقَ الۡاِنۡسَانَ مِنۡ عَلَقٍ﴾.[1]

"پیدا کړے دے الله رب العزة انسان دَ توتې دَ وینې نه".

نُطفې نه وینه جوړه شي، او دَ وینې نه بیا غوښه جوړه شي، او بیا دَ هغې نه هډوکے جوړ شي، او دَ هډوکي د پاسه بیا غوښه راشي. نو انسان ئې دَ یو توتې وینې نه پیدا کړے دے، اشاره دې ته ده: چې دا نطفه یا دا وینه څنګه چې هغې کښې عقل نۀ وو، پوهه نۀ وه، څۀ حرکت نۀ وو، هغې نه الله انسان پیدا کړو، انسان ئې جوړ کړو، او عقلمند ئې جوړ کړو. نو اے نبي ﷺ! څنګه چې ستا سینه کښې قرآن نشته، نو زۀ تا دَ قرآن قاري جوړول غواړم، او زۀ ستا پۀ سینه کښې قرآن دننه کول غواړم.

﴿اِقۡرَاۡ وَرَبُّكَ الۡاَكۡرَمُ﴾.[2] دوباره ئې دا اووئیل، نو دا دوباره تاکیدًا وائي. چې دا کوړے! هسې وړه خبره نۀ ده. "خامخه دا قرآن وایه".

یا علماء وائي: دَ اول نه مراد دا دے: چې اوس قرآن وایه، او دَ دویم نه مراد دا دے: چې سفر کښې هم قرآن وایه، او حضر کښې ئې هم وایه.

یا اول معنٰی دا ده: چې خارج الصلوٰة ئې وایه، او دَ دویم معنٰی دا ده: چې مانځۀ کښې هم قرآن وایه.

او یا تعمیم دَ اوقاتو ته اشاره ده، چې هر وخت قرآن وایه.

"اولوله قرآنِ عظیم ربّ ستا دے ډیر عزتمند"، هغه به تا لره عزت درکوي، هغه به تا لره لوئي مقام درکوي دَ دې قرآن دَ تعلیم پۀ وجه باندې؛ ځکه قرآن عزتمند دے. نو دَ دې سره تۀ خپل نسبت جوړ کړه الله به تا عزتمند کړي. او کۀ دَ دې سره دې نسبت کټ شو نو تۀ به ذلیله شې.

﴿الَّذِیۡ عَلَّمَ بِالۡقَلَمِ﴾.[3]

"هغه ذات چې ښودنه ئې کړې ده هر څیز ته پۀ قلم باندې".

علماء کرام ذکر کوي: چې دَ دې څۀ معنٰی ده؟ نو وائي: اشاره ده دې خبرې طرف ته: چې

(1) [سورة العلق: 2].

(2) [سورة العلق: 3].

(3) [سورة العلق: 4].

کوم الله رب العزة چې هغه پهٔ اوچ قلم کښې دا طاقت کیخودے دے چې هغه داسې تکي لیکي چې انسان بیا دَ هغې نه تعبیر کولے شي نو ستا پهٔ دماغو کښې به الله تعالیٰ دا قرآن کیښنَوي، تهٔ به ئې خلقو ته بیانولے شې. او ځنګه چې قلم دا يَو ذريعه دَ تعبیر ده او ذريعه دَ تعليم ده نو دغسې جبرئیل امین علیه السلام چې دے تا لره دا قرآن راوړي نو پهٔ دې ذريعه تا لره تعليم درکولے شي.

او يَو نکته علماؤ دا هم لیکلې ده: چې قلم باندې لیکل کیږي خو کاتب دَ دې قلم نه بهتر وي، قلم ذريعه ده دَ لیکلو لیکن دا کاتب (لیکونکے) ترې بهتر وي نو جبرئیل امین علیه السلام ذريعه دَ وحي دَ راوړو ده لیکن نبي ﷺ نه بهتر نهٔ دے. نبي ﷺ دَ جبرئیل امین علیه السلام نه بهتر وو. شاګرد دے خو دَ استاذ نه بهتر شو.

او یا اشاره ده دیته: چې کله يَو خبره دَ انسان نه هیریږي نو هغه ئې اولیکي نو بیا ترې نهٔ هیریږي نو اے نبي ﷺ! لکه ځنګه چې قلم باندې خبره پهٔ ریکارډ کښې راشي نو دغسې زهٔ به دا خبرې ستا پهٔ سینه کښې بندوم، او ستا نه به بیا نهٔ هیریږي. لکه الله تعالیٰ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

﴿سَنُقۡرِئُكَ فَلَا تَنسَىٰٓ﴾.(1)

"زر ده چې لوستل به اوکړو مونږ پهٔ تا باندې نو تهٔ به ئې نهٔ شې هیرولے".

دَ نبي ﷺ خوا ته دَ يَو کس راتلل

يَو سړے راغے، نبي ﷺ ته وائي: اے دَ الله نبي! زما نه دَ علم ډیرې خبرې هیریږي، څهٔ وظیفه راته راکړه. نبي ﷺ ورته وائي:

"اسۡتَعِنۡ بِيَمِينِكَ".(2)

"پهٔ ښي لاس باندې امداد حاصل کړه". لیکه بیا به درنه نهٔ هیریږي.

﴿عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ﴾.(3)

---

(1) [سورة الأعلى: 6].

(2) أخرجه الترمذي في أبواب العلم، باب ما جاء في الرخصة في كتابة العلم، برقم: (2666).

(3) [سورة العلق: 5].

"ښودنه ئې کړې انسان ته دَ هغه څۀ چې دے ورباندې نۀ پوهېدو".

اشاره ده دېته: چې څنګه انسان پیدا شو نو دَ څۀ نه خبر نۀ وو، خبرې ئې ورته اوښودلې، سوچ او فکر ئې ورله ورکړو نو دغسې دین به ورته هم الله تعالیٰ ښائي.

بهر حال دا وحي نبي ﷺ ته راغله.

دَ وحي نه بعد دَ نبي ﷺ کورته راتلل

دا آیتونه چې نبي ﷺ واورېدل نو:

"فَرَجَعَ بِهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْجُفُ فُؤَادُهُ".[1]

"دَ الله نبي ﷺ کور ته راغلے او دا زړۀ ئې داسې رېږځي".

او بعضې روایت کښې "تَرْجُفُ بَوَادِرُهُ".[2] ټکي راځي، "بَوَادِر" معنیٰ: دَ دواړو اوکو پۀ مابین کښې غوښه ئې رېږځېده. او "فُؤَاد" زړۀ ته وائي.

ما تاسو ته مخکښې وئیلي وو: چې دَ الله تعالیٰ پۀ هر کار کښې حکمت وي، الله رب العزة دَ نبي ﷺ پۀ نکاح کښې دا دَ څلوېښتو کالو زنانه ځکه راوسته؛ چې دَ دې ډېرې تجربې شوې وې ډېره دَ مضبوط زړۀ والا وه.

"فَدَخَلَ عَلَى خَدِيجَةَ بِنْتِ خُوَيْلِدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فَقَالَ: «زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي»".

"دَ الله نبي ﷺ دَ خدیجه بنت خویلد ﷺ (دَ خپلې بي بي) خوا ته لاړو، وائي: ما پۀ کمبل کښې را اُونغاړئ، ما پۀ کمبل کښې را اُونغاړئ (دَ الله پۀ نبي ﷺ باندې رُعب راغلے وو)".

"فَزَمَّلُوهُ حَتَّى ذَهَبَ عَنْهُ الرَّوْعُ. فَقَالَ لِخَدِيجَةَ وَأَخْبَرَهَا الخَبَرَ".[3]

"نو هغوي نبي ﷺ پۀ کمبل کښې رااُونغښتو تر دې پورې چې دَ الله نبي ﷺ نه رُعب لږ کم شو، یره ئې کمه شوه. خدیجې ﷺ ته وائي: اے خدیجې! دا پۀ ما څۀ چل شوے دے؟ هغه قصه ئې ورته ټوله بیان کړه".

---

(1) أخرجه البخاري في بدء الوحي، برقم: (3) وأيضًا برقم: (4953).

(2) أخرجه البخاري في بدء الوحي، برقم: (3).

(3) أخرجه البخاري في بدء الوحي، برقم: (3) وأيضًا برقم: (4953).

نبي ﷺ ورته وائي: «لَقَدْ خَشِيتُ عَلَى نَفْسِي». "خديجې! قسم په الله چې زۀ په خپل ځان باندې اوېريدم"، نور ما سره دَ ځان غم شو.

دا دَ الله نبي ﷺ دَ کومې خبرې نه يريدو چې وائي: «لَقَدْ خَشِيتُ عَلَى نَفْسِي»؟ نو په دې کښې علماؤ ډير توجيهات کړي دي، څۀ صحيح دي او څۀ پکښې ضعيف دي. څوک وائي: «لَقَدْ خَشِيتُ عَلَى نَفْسِي»، "زۀ په ځان اوېريدم چې چرته ليونے نۀ شم، کۀوَډ حالات وينم، کهانت راباندې رانۀ شي".

خو دا خبره بالکل ضعيفه ده؛ ځکه نبي ﷺ ته دَ مخکښې نه الله تعالیٰ دا معلومات ورکړي وو: چې تۀ به نبي جوړيږې. نو نبي نۀ ليونے کيږي.

يا «لَقَدْ خَشِيتُ عَلَى نَفْسِي» په دې کښې ښائسته توجيه دا ده: "چې خديجې! زۀ اوېريدم په خپل ځان باندې دَ مرګ نه. چې داسې نا آشنا حالات وينم چې مړ کيږم او کۀ ځنګه؟".

يا «لَقَدْ خَشِيتُ عَلَى نَفْسِي» "زۀ اوېريدم په خپل ځان دَ بيمارۍ نه". چې په ما به دَ دې نه بيماري راشي.

يا «لَقَدْ خَشِيتُ عَلَى نَفْسِي» شيخ رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله معنیٰ کوي: "زۀ په ځان باندې اوېريدم چې دا خو ما ته الله ډيره لويه ذمه واري حواله کوي، زۀ به دا اورسولے شم او کۀ نۀ؟ دا راسره غم دے.

نور توجيهات هم علماؤ نقل کړي دي. سيده خديجې رضي الله عنها ته خو مخکښې نه داسې معلوم شوي وو چې دۀ له به الله نبوّت ورکوي؛ ځکه نا آشنا نا آشنا قِصې ئې اوريدلې وې، نو سيده خديجه رضي الله عنها ورته وائي:

"كَلَّا وَاللهِ مَا يُخْزِيكَ اللهُ أَبَدًا، إِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ، وَتَحْمِلُ الكَلَّ، وَتَكْسِبُ المَعْدُومَ، وَتَقْرِي الضَّيْفَ، وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الحَقِّ".[1]

"چرې هم داسې نۀ شي کيدے، زما دې په الله قسم وي چې الله به تا چرې هم نۀ

(1) أخرجه البخاري في بدء الوحي، برقم: (3).

سپورَوي (نهٔ رسوا کوي، الله تعالی به ستا امداد نهٔ پرېږدي)...".

ولې؟؛ ځکه چې تا ته الله ډېر ښائسته عادتونه درکړي دي. دا مخکښې نه خديجه ﷺ ته معلومه وه چې چا کښې دا عادتونه وي نو هغه الله نهٔ ضائع کوي؛ دَ دې وجې نه پهٔ عربو کښې دَ اسلام نه مخکښې هم هغوي دا کارونه ښهٔ ګنړل.

"إِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ". "يقينًا تهٔ خپلوانو سره خپلوَلي پالې".

خپلوَلي پالل دا دَ انسان دَ هلاکت نه دَ بچ کيدو لويه ذريعه ده.

رزق کښې برکت

دَ الله نبي ﷺ فرمائي: "څوک چې دا خوښَوي چې ما له دې الله پهٔ رزق کښې برکت واچوي نو دا سره دې خپلوَلي او رشته داري نهٔ کټ کوي. او څوک چې دا خوښَوي چې ما له دې الله پهٔ عمر کښې برکت واچوي نو دا سره دې خپلوَلي او رشته داري نهٔ کټ کوي؛ ځکه دې سره رزق کښې او عُمر کښې الله برکت اچوي".

نو صله رحمي پالل به دې عمر کښې برکت اچوي او دَ هلاکت نه به دې بچ کوي. او دا چې کوم انسان ډېر بُغضي او حسدي وي نو دے دَ ډېر لږ عمر خاوند وي، ډوډئ به مخکښې وي او دے به وريسې وي، ټول عمر به دے خوار وي. بُغضي سره او حسدي سره دے به الله نهٔ ښهٔ کوي، دے به ټول عمر خوار او ذليل وي. مينه کوه، محبت کوه، خپلوَلي پاله، ښهٔ اخلاق پيدا کړه نو تا به الله چرته هم نهٔ خرابَوي. نو اے پيغمبره! تا به الله څهٔ نهٔ کوي؛ ځکه تهٔ خپلوَلي پالې.

"وَتَحْمِلُ الكَلَّ، وَتَكْسِبُ المَعْدُومَ، وَتَقْرِي الضَّيْفَ، وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الحَقِّ".(1)

"او تهٔ دَ خلقو بوجونه پهٔ غاړه باندې اوچتوې...".

بے وسه دے، کمزورے دے دَ هغه بوج تهٔ اوچتوې. غريب سره امداد کوه، کونډې سره، يتيم سره، داسې خلقو سره تعاون کوه. نن زمونږ پهٔ معاشره کښې داسې خلق روک دي، دَ مالداره سړي خدمت ته هر سړے ولاړ دے، او دَ غريب نه هر سړے سر ټګوي.

---

(1) أخرجه البخاري في بدء الوحي، برقم: (3).

"وَتَكْسِبُ المَعْدُومَ". "تهٔ کسب کوې معدوم لره". معنٰی دا ده: چې کوم سړے بے وسه دے، عاجز دے، فقیر دے، دَ هغهٔ سره تهٔ احسان کوې.

"وَتَقْرِي الضَّيْفَ". "تهٔ خو میلمنو له میلمستیا ورکوې".

"وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الحَقِّ".

"او تهٔ دَ حق پهٔ حوادثو کښې دَ خلقو سره امدادونه کوې".

دَ الله دَ طرف نه چې پهٔ خلقو باندې کوم آفت راشي نو څې او دَ هغهٔ تسلّي کوې، دَ هغهٔ سره تعاون کوې. نو پهٔ دې وجه به الله تا نهٔ خرابوي.

دَ نبي ﷺ ورقه بن نوفل ته بوتلل

خدیجه ﷺ ورته وائي: دا خبرې څهٔ نا آشنا دي، خو دَ یو اوښیار سړي نه به تپوس اوکړو.

"فَانْطَلَقَتْ بِهِ خَدِيجَةُ حَتَّى أَتَتْ بِهِ وَرَقَةَ بْنَ نَوْفَلِ بْنِ أَسَدِ بْنِ عَبْدِ العُزَّى ابْنَ عَمِّ خَدِيجَةَ وكَانَ امْرَأً تَنَصَّرَ فِي الجَاهِلِيَّةِ، وكَانَ يَكْتُبُ الكِتَابَ العِبْرَانِيَّ، فَيَكْتُبُ مِنَ الإِنْجِيلِ بِالعِبْرَانِيَّةِ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَكْتُبَ".

"خدیجې ﷺ نبي ﷺ دَ لاس نه اونیولو او څان سره ئې روان کړو تر دې چې نبي ﷺ ئې دَ ورقه بن نوفل خوا ته راوستو، چې دا دَ خدیجې ﷺ دَ ترهٔ څوي دے، وائي: زما دَ ترهٔ دا څوي ډیر ماهر دے، دے یو داسې سړے دے چې دَ جاهلیت پهٔ زمانه کښې دهٔ نصرانیت قبول کړے وو، او دهٔ دَ عبرانۍ لیکل هم یاد کړي وو، دهٔ به دَ انجیل نه پهٔ عبرانۍ کښې لیکل کول او دَ هغې ترجمه به ئې بیا پهٔ عربۍ کښې خلقو ته کوله".

"وكَانَ شَيْخًا كَبِيرًا قَدْ عَمِيَ".

"او دا ورقه بن نوفل ډیر اوښیار سړے وو، او ډیر بوډا وو، دَ سترګو نظر ئې ختم شوے وو".

"فَقَالَتْ لَهُ خَدِيجَةُ: يَا ابْنَ عَمِّ! اسْمَعْ مِنَ ابْنِ أَخِيكَ".

"نو خدیجې ﷺ ورته اووئیل: اے دَ ترهٔ څویه! دَ دې وزارهٔ خبرې دې لږې واوره".

"فَقَالَ لَهُ وَرَقَةُ: يَا ابْنَ أَخِي! مَاذَا تَرَى؟ فَأَخْبَرَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ خَبَرَ مَا رَأَى".

"نو ورقه نبي ﷺ ته اووئیل: اے وراره! څهٔ دې لیدلي دي؟ څهٔ چل شوے دے؟ نو دَ الله نبي ﷺ

ورته توله قصه اوکړه (چې داسې يَو کس راغے او زۀ ئې درې ځله راااونيوَلم، او ما له ئې زور راکړو او بيا ئې راته دا آيتونه اووئيل... هغه آيتونه ورته ياد وو)".

چې دې سړي دا خبرې واوريدې نو هغه چونکه ډير اوښيار سړے وو نو هغه ورته وائي:

"هَذَا النَّامُوسُ الَّذِي نَزَّلَ اللهُ عَلَى مُوسَى".(1)

"دا خو هغه ناموس دے، هغه صاحب السِّر دے، هغه دَ پټ راز والا ملګرے دے چې الله ئې پيغمبرانو ته رالیږي، دۀ موسٰی ﷺ ته بار بار وحي راليږله".

نو دا خو تا ته جبرئيل امين ﷺ راغلے دے. اوس دلته حديث کښې راغلل چې دے نصراني وو نو دے خو دَ عيسٰی ﷺ دَ مذهب والا شو، داسې نۀ وائي: چې دا جبرئيل امين ﷺ هغه فرشته ده: چې عيسٰی ﷺ ته به ئې وحي راوړه، بلکه دے دا وائي: چې دا هغه فرشته ده چې موسٰی ﷺ ته به ئې وحي راوړه. نو عيسٰی ﷺ ئې ولې ياد نۀ کړو؟

نو دَ دې څو وجوهات علماء کرام ذکر کوي:

(۱) يَو وجه: علماء کرام وائي: دَ موسٰی ﷺ نبوّت ډير مشهور وو پۀ نسبت دَ عيسٰی ﷺ باندې.

(۲) دويمه وجه: چې دغه ځائے کښې يهود ډير وو.

(۳) دريمه وجه: چې دَ موسٰی ﷺ او دَ نبي ﷺ شريعت پۀ ډيرو مسائلو کښې يَو شان وو، دَ عيسٰی ﷺ شريعت کښې ډير احکامات نۀ وو، دَ موسٰی ﷺ شريعت کښې احکامات ډير وو.

(٤) څلورمه وجه: چې دۀ سره به خلق دُشمني کوي او دے به پرې غالب کيږي لکه څنګه چې فرعون باندې موسٰی ﷺ غالب شوے وو.

نو دا مختلف تعبيرات علماء کوي؛ ځکه ئې موسٰی ﷺ ياد کړو.

دَ ورقه بن نوفل ارمان

نو يَو ارمان هغې سړي هغه وخت کښې اوکړو، وائي:

"يَا لَيْتَنِي فِيهَا جَذَعًا، لَيْتَنِي أَكُونُ حَيًّا إِذْ يُخْرِجُكَ قَوْمُكَ".(2)

---

(1) أخرجه البخاري في بدء الوحي، برقم: (3).

(2) أخرجه البخاري في بدء الوحي، برقم: (3).

"افسوس دے چې زۀ پۀ هغه وخت کښې ځوان وے، دَ سترګو نظر مې ختم نۀ وے، او بوډا نۀ وے، کاش! چې زۀ بیا ژوندے وے کله چې ستا دې قوم تۀ دَ ملک نه وېستلې! نو چې ما ستا امداد کړے وے (خو دا به داسې وخت وي چې زۀ به یا مړ یم او یا به زۀ کټ کښې پروت یم، بیا به زما وَس نۀ کیږي)".

دَ الله نبي ﷺ ورته وائي: «أَوَ مُخْرِجِيَّ هُمْ؟».

"ولې دا خلق به ما دَ ملک نه شړي".

نو هغه ورته وائي: "نَعَمْ، لَمْ يَأْتِ رَجُلٌ قَطُّ بِمِثْلِ مَا جِئْتَ بِهِ إِلاَّ عُودِيَ، وَإِنْ يُدْرِكْنِي يَوْمُكَ أَنْصُرْكَ نَصْرًا مُؤَزَّرًا. ثُمَّ لَمْ يَنْشَبْ وَرَقَةُ أَنْ تُوُفِّيَ، وَفَتَرَ الوَحْيُ".[1]

"کۀ هر څومره ښۀ سړے وي خو دا تا ته چې کوم قانون او کوم دین تا ته حواله کیږي، کوم نظام چې تا ته حواله کیږي نو دا مسئلې چې چا هم کړې دي نو هغۀ سره خلقو دُشمنَیانې کړي دي، هغۀ سره خلقو عداوتونه کړي دي، نو کاش چې تۀ دا مسئلې کوې او دا خلق ئې نۀ مني او تا سره جنګونه کوي او دَ ملک نه دې شړي چې ما خو دې امداد کړے وے! بیا به ستا دَ امداد هم څوک نۀ وي، ټول به درنه مخالف کیږي، (دَ الله پیغمبر ﷺ ډیر پریشانه وو) نو ورقه ورته وائي: دا مې درسره وعده ده کۀ داسې وخت راغے، تا دعوت شروع کړو او زۀ پۀ هغې وخت کښې ژوندے وے نو زۀ به ستا مضبوط امداد کوم (زۀ به ستا مَلاتړ شم). یَو څو ورځې بعد ورقه بن نوفل وفات شو او بیا یَو څو ورځې وحي بنده شوه".

نو بیا دوباره وحي شروع شوې ده. ان شاء الله دَ هغې تذکره به آئنده جُمعه کښې راشي.

وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

(1) أخرجه البخاري في بدء الوحي، برقم: (3).

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ (1) خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ (2) اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ (3) الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ (4) عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ

(سورة العلق: 1-5)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه اتمه

"دَ وحي بعضي لطائف "

بتاريخ: 2022-01-28

مقام: جلسئ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّآني حفظه الله

سيرة النبي ﷺ حصه اتمه

"دَ وحي بعضې لطائف"

اَلْحَمْدُ للهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلاَ مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلاَ هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لاَ شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لاَ أَوَّلَ لَهٗ وَلاَ آخِرَ لَهٗ لاَ ضِدَّ لَهٗ وَلاَ نِدَّ لَهٗ وَلاَ مُمِدَّ لَهٗ وَلاَ بَشِيْرَ لَهٗ وَلاَ نَذِيْرَ لَهٗ وَلاَ وَزِيْرَ لَهٗ وَلاَ مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلاَنَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ * خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ * اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ * الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ * عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ﴾.[1]

عزتمندو حاضرينو مسلمانانو رونړو! پۀ تيره جُمعه دَ رسول الله ﷺ دَ نبوّت او دَ اولنئ وحي ذکر شوے وو چې پۀ غارِ حراء کښې رسول الله ﷺ ته اولنئ وحي جبرئيل امين عليه السلام دَ سورة العلق راوړې وه. دَ هغې تفصيل او وضاحت هغه شوے وو.

لطائف دَ وحي

نن جُمعه کښې دَ هغې بعضې لطائف به ان شاء الله بيانَوو. رسول الله ﷺ ته چې پيغمبري ميلاويده نو دا کوم وخت وو؟ کوم کال وو؟ او دَ رسول الله ﷺ عمر څومره وو؟ نو پۀ دې باندې تمام محدّثين او مؤرّخين متفق وو چې رسول الله ﷺ ته پيغمبري چې ميلاويده، وحي راتله نو هغه دَ کل ورځ وه، دَ دو شنبې ورځ وه. بيا دا کومه مياشت وه نو پۀ دې کښې دَ علماؤ اختلاف دے:

دَ علامه ابن عبد البر رحمه الله قول

علامه ابن عبد البر رحمه الله ليکلي دي: "چې دَ ربيع الاول مياشت وه او دَ هغې اتم (٨) تاريخ وو".

(1) [سورة العلق: 1-5].

دا چې اوس کومه میاشت ده جمادي الثاني دَ دې نه مخکښې میاشت وه جمادي الاول، او دَ هغې نه مخکښې میاشت وه ربیع الثاني، دَ هغې نه مخکښې میاشت وه ربیع الاول نو وائي: دا اتم تاریخ دَ ربیع الاول وو. چې نبي ﷺ پهٔ دغې میاشت کښې پیدا هم وو نو پهٔ اتم تاریخ دَ ربیع الاول نبي ﷺ ته اول وحي شوې وه.[1]

نو دَ دغې قول مطابق دَ بعثت پهٔ وخت کښې دَ رسول الله ﷺ عمر مکمل څلویښت کاله وو، چې څلویښتو کالو ته رسول الله ﷺ اورسیدو نو اولنۍ وحي ورته راغله، او دا دَ ربیع الاول میاشت وه، اتم (٨) تاریخ او دَ ګل ورځ وه.

دَ محمد بن اسحاق رحمه الله قول

محمد بن اسحاق رحمه الله وائي: چې دا دَ رمضان المبارک میاشت وه، او پهٔ رمضان کښې اولَسم (١٧) تاریخ وو چې رسول الله ﷺ ته اولنۍ وحي راغلې وه. او بیا هغه شعر هم نقل کړے دے:

وَأَتَتْ عَلَيْهِ أَرْبَعُوْنَ فَأَشْرَقَتْ شَمْسُ النُّبُوَّةِ مِنْهُ فِيْ رَمَضَانِ

"دَ الله دَ پیغمبر ﷺ چې څلویښت کاله برابر شول نو دَ نبوّت هغه نمر دَ نبي ﷺ چمک اووهلو، او هغه روښانه شو".

نو دا دَ رمضان میاشت وه او اولَسم (١٧) تاریخ وو. نو بیا پهٔ دغې اعتبار دَ نبي ﷺ دَ بعثت او دَ نبي ﷺ دَ نبوّت میلاویدو والا وخت بیا داسې جوړیږي چې شپږ (٦) میاشتې او څلویښت (٤٠) کاله عمر ئې وو. څلویښت کاله او شپږ میاشت پرې دَ پاسه. ولې چې دَ ربیع الاول نه واخلې تر هغې رمضان پورې شپږ میاشتې جوړیږي.[2]

اوس پهٔ دې قول باندې اعتراض راځي: چې نبوّت خو پهٔ څلویښتم کال میلاویږي نو دا شپږ میاشتې څنګه روستو شوې؟ نو جواب دا دے: چې ما تاسو ته وئیلي وو: چې دا شپږ میاشتې رسول الله ﷺ ښائسته خوبونه لیدل، نو دَ انبیاؤ علیهم السلام خوب لیدل چې وي هغه وحي وي، نو پهٔ دغې بنیاد دَ نبي ﷺ دَ نبوّت ابتداء اصل کښې دَ خوبونو نه (پهٔ څلویښتم کال) شوې ده. او دغه

(1) انظر: "الاستیعاب": (15/1).

(2) انظر: "سیرة المصطفی": (142/1).

وجه ده؛ چې نبي ﷺ وائي: "صحيح خوب ليدل چې وي نو دا دَ نبوّت شپږ څلويښتمه برخه ده".

نو دا شپږ څلويښتمه برخه ورته پهٔ دغه بنياد باندې وائي: چې دَ نبي ﷺ عمر دَ نبوّت نه بعد درويشت (۲۳) کاله وو، نو درويشت له دو کښې ضرب ورکړې نو ۲۳×۲=٤٦ شپږ څلويښت شو، او پهٔ کال کښې دولس مياشتې وي نو دا کال چې پهٔ دو تقسيم شي نو شپږ مياشتې دا دَ کال نيمه شوه. نو خوب ليدل دَ نبوّت شپږ څلويښتمه برخه پهٔ دغې اعتبار ده: چې دَ نبوت نه دَ نبي ﷺ زندګي درويشت کاله وه، پهٔ دې درويشت کاله کښې شپږ مياشتې نبي ﷺ ښائسته خوبونه ليدل نو دا خوب ليدل دَ نبوّت دَ نبي ﷺ شپږ څلويښتمه (٤٦) برخه شوه.

نو دَ نبي ﷺ عمر شپږ مياشتې او څلويښت کاله وو چې کله ورته نبوّت ميلاؤ شو (يعني ابتداء وَ وحي جلي اوشوه). اولنئ وحي پهٔ غارِ حراء کښې پهٔ رمضان المبارک کښې شوې وه او دا قول اصحّ دے. علامه زرقاني ؒ، علامه ابن حجر "فتح الباري" کښې پهٔ کتاب التعبير کښې او كتاب التفسير کښې ليکلے دے، هلته کښې ئې تفصيل کړے دے. او شيخ الحديث مولانا محمد ادريس کاندهلوي ؒ پهٔ "سيرة مصطفٰى" کښې ليکي: "چې علامه ابن حجر ؒ دا قول صحيح ثابت کړے او صحيح ئې منلے دے: چې شپږ مياشتې او څلويښت کاله عمر ئې وو چې وحي ورته راتله؛ او دَ هغې وجه دا ده: چې رسول لله ﷺ به چې غارِ حراء ته تلو او اعتکاف چې به ئې کولو نو رمضان کښې به تلو، نو پهٔ رمضان کښې نبي ﷺ پهٔ اعتکاف کښې وو پهٔ غارِ حراء کښې چې هلته ئې دَ ربّ عبادت کولو".

نو زيات تر اصحّ قول دا دے: چې اولنئ وحي رمضان کښې راغلې ده؛ او رمضان کښې ځکه چې نبي ﷺ به ټول کال پهٔ غار حراء کښې نهٔ وو ناست، صرف پهٔ رمضان کښې به تلو. نو چې پهٔ رمضان کښې شي نو دا قول به اصحّ شي.[1]

فوائد او لطائف

اوس يَو څو خبرې دي:

(۱) يَو دا چې: دَ رسول الله ﷺ عمر څلويښتو کالو ته اورسيدو نو الله ورته نبوّت ورکړو،

(1) انظر: "فتح الباري" لابن حجر: (313/12).

انسان دَ بلوغ نه پس ډارک مکلّف شي، نو دا نبوّت ولې ډارک نۀ میلاویږي؟ چې څلویښت (۴۰) کاله بعد نبي ته نبوّت میلاویږي؟

اصل وجه دا ده: چې تر څلویښتو کالو پورې انسان دَ دۀ سوچ او فکر، دَ دۀ قوّت او طاقت او دارنګې دَ دۀ هغه بدن ترقّي کوي، دَ څلویښتو کالو نه پس هغه بیا نوره ترقّي نۀ کوي. الله هر نبي له نبوّت دَ څلویښتو کالو نه مخکښې نۀ ورکوي، څلویښتو کالو ته چې دَ انسان عمر اورسي، بدن کمال ته اورسي، نو اشاره ده دیته: چې دَ انسان قوّتِ روحاني او قوّتِ جسماني دواړه کمال ته اورسي نو هله هغۀ له الله رب العزة نبوّت او پیغمبري ورکړي.[1]

کله کله داسې وي چې یَو انسان ډیر قابل وي، علم به ئې ډیر وي، پوهه به ئې ډیره وي خو کشر وي نو تجربه ئې دومره نۀ وي نو هغه بیا هم نقصان شي. لوئي عالم به وي خو چې دَ عمر نه کشر وي، نوجوان وي نو بعضې وخت جذبه شي، بعضې وخت غصه شي، یَو خبره لږه پکار وي او دے ئې تیزه اوکړي، ولې چې دَ عقل او تجربې هم کمے وي. نو الله رب العزة چې نبي له کله مکمل استعداد ورکړي نو دَ هغې نه پس بیا ورله نبوت او پیغمبري ورکړي. تر څلویښتو کالو پورې دَ انسان بدن کښې قوّت او طاقت او دارنګې سوچ او فکر کښې ئې زیادت راځي، دَ څلویښتو کالو نه بعد بیا پۀ ځائے اودریږي او بیا کمې طرف ته راځي؛ نو ځکه الله رب العزة نبوّت پۀ څلویښتم کال ورکوي چې دا نبوّت یَو ډیر قیمتي څیز دے دا ضائع نۀ شي.

(۲) **دویم:** دا چې شیخ الحدیث مولانا ادریس کاندهلوي رحمه الله لیکلي دي: "دَ امام شعبي رحمه الله پۀ یَو مرسل روایت کښې دي چې هغه امام احمد بن حنبل رحمه الله پۀ خپل تاریخ کښې لیکلے دے: چې کله نبي ﷺ ته پیغمبري میلاؤ شوه نو دَ بعثت پۀ اول کښې حضرت اسرافیل ؑ مامور وو چې تۀ به دَ نبي ﷺ پۀ رفاقت او ملګرتیا کښې کرځي....".

اسرافیل ؑ دا هغه فرشته ده: چې دا الله رب العزة مقرر کړې پۀ دې ده چې کله قیامت قائمیږي نو تۀ به شپیلۍ اووهې، پۀ دې سره به قیامت قائم شي. دوه شپیلۍ به وهي، اولنۍ شپیلۍ

(1) انظر: "سیرة المصطفی": (142/1).

سره به قيامت قائم شي:

﴿وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَن شَاءَ اللَّهُ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَىٰ فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنظُرُونَ﴾.(1) "او پوک به اووهلے شي پۀ شپيلۍ کښې نو بے هوشه به شي هغه خوک چې پۀ آسمانونو او زمکه کښې دي مګر هغه چې دَ الله خوښه شي بيا به دوباره پۀ دې شپيلۍ کښې پوک اووهلے شي نو ناڅاپه دوي به ولاړ وي او کوري به".

نو دَ دۀ اولنۍ شپيلۍ سره به ټول مخلوق ختم شي، مړۀ به شي، بيا به څلويښت کاله پس دويمه شپيلۍ اووهي هغې سره بيا دوباره ټول مخلوق راژوندي شي.

نو اسرافيل عليه السلام به دَ نبي ﷺ سره ابتداءً پۀ رفاقت او ملګرتيا کښې کرځيدو.

وائي: "نبي ﷺ ته به اسرافيل عليه السلام وقتًا فوقتًا دَ محاسنو او دَ آدابو تعليم او تلقين ورکولو. نبي ﷺ باندې اسرافيل عليه السلام چرته وحي نۀ ده راوړې....".

يعني دَ قرآن آيتونه ټول جبرئيل امين عليه السلام راوړي دي. اسرافيل عليه السلام به دغه شان آداب ورته ښودل، ښائسته اخلاق به ئې ورته ښودل، دَ نقصاناتو نه به ئې بچ کولو، صرف دَ دې دپاره وو.

علماؤ ليکلي دي: چې اسرافيل عليه السلام به ولې دَ نبي ﷺ سره کرځيدو؟ ولې ئې دَ نبي ﷺ سره ملګرتيا کوله؟؛ نو پۀ هغې کښې وجه دا وه: اسرافيل عليه السلام هغه ملک دے چې دے پۀ دې انتظار باندې دے چې الله ورته حکم اوکړي چې شپيلۍ کښې پوکے اووهه چې قيامت قائم شي، اسرافيل عليه السلام چونکه دَ قيامت دَ قائميدو دپاره دے نو دَ نبي ﷺ نه پس بل نبي نشته دے؛ ځکه نبي ﷺ فرمائي:

«بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ».(2)

"زۀ او قيامت داسې راليږلے شوي يو لکه دا دوه ګوتې".

يعني زمانه روستو صرف قيامت دے بل نبي نشته دے. دَ دې وجې نه چې کوم خلق وائي: چې دَ دې نبي ﷺ نه روستو بل نبي شته دے نو دا سړے کافر دے؛ ځکه چې دَ نبي ﷺ او دَ قيامت

(1) [سورة الزمر: 68].

(2) أخرجه البخاري في كتاب الرقاق، باب قول النبي ﷺ: «بعثت أنا والساعة كهاتين»، برقم: (6504).

پهٔ مینځ کښې بل هیڅ شے نشته دے. دَ نبي ﷺ نه پس بیا قیامت دے، هغه کهٔ لږ وخت پس راځي او کهٔ ډیر وخت پس راځي، خو قیامت به راځي، بل نبي نهٔ شي راتلے.

"نو اسرافیل علیه السلام به ځکه دَ نبي ﷺ سره رِفاقت او ملګرتیا کښې ګرځیدو؛ چې دَ دې نه پس صرف دَ اسرافیل علیه السلام دَ شپیلۍ انتظار دے، دَ بل نبي دَ راتلو انتظار نشته، او دَ نورې وحي دَ راتلو انتظار هم نشته دے".[1]

(۳) دریم دا چې: دَ "صحیح البخاري" پهٔ حدیث کښې راځي:
«ثُمَّ حُبِّبَ إِلَيْهِ الخَلَاءُ».[2]
"بیا دَ الله نبي ﷺ ته ځانله والے محبوب شو".

"حُبِّبَ" دَ مجهول صیغه راوړي، دَ دې فاعل هغه محذوف وي دَ هغې پهٔ ځائے نائبِ فاعل راځي، نو "الخَلَاءُ" نائب فاعل دے نو معنٰی دا ده: "بیا محبوب کړے شو هغهٔ ته ځانله والے". نو چا ورته ځانله والے محبوب کړو؟ یَو ذات وو، چې هغهٔ ورله محبوب کړو، دلته ذکر نهٔ دے، نو دلته فاعل معلوم نهٔ دے یعني پهٔ خپله ورته نهٔ وو، محبوب کړے شوے وو ورته. مطلب دا دے: چې دَ هر انسان مزاج او فطرت دا وي چې دے دَ خلقو سره یَو ځائے اوسیږي، او نبي ﷺ کښې الله تعالٰی دا فطرت پیدا کړو چې دے به دَ خلقو نه ځانله وو. دا ولې؟ ځکه دَ خلقو نه ځانله والي کښې چې کوم سوچ او فکر کیږي نو هغه دَ خلقو سره پهٔ یَو ځائے والي کښې نهٔ کیږي. نو دَ دې وجې نه نبي ﷺ ته خلوت او ځانله والے محبوب شو.[3]

(٤) څلورم دا چې: اول ورته لا نبوّت نهٔ دے میلاؤ، نو ځانله خوشحاله دے، او چې کله نبوّت میلاؤ شو نو بیا دَ الله نبي ﷺ چرته ځانله شاړو کښې نهٔ دے پاتې شوے، نو پهٔ دې کښې څهٔ حکمت وو؟ یَو ابتدائي حالت وو او بل بیا انتهائي حالت وو (صوفیاء حضرات پهٔ دې

---

(1) انظر: "سیرة المصطفٰی": (143/1)، وفي طبع: مکتبة عمر فاروق: (124/1).
(2) أخرجه البخاري في بدء الوحي، برقم: (3).
(3) انظر: "سیرة المصطفٰی": (143/1)، وفي طبع: مکتبة عمر فاروق: (124/1).

پوهیږي)، ابتداء کښې چې یَو سړے نوے وي نو هغه له ځانله والے پکار وي، چې د دهٔ دا توجّه او دَ دهٔ دا سوچ او فکر دَ دې معاشرې نه راجمع شي او راغونډ شي، او پهٔ غفلت کښې واقع نهٔ شي. کهٔ یَو سړے ذکر کوي، فکر کوي نو دهٔ له خِلوت پکار وي او کله چې یَو سړے دَ الله پهٔ عبادت کښې کلک او مضبوط شي نو بیا کهٔ دے دَ خلقو سره یَوځائے والے کوي، جَلوت ته شي نو بیا پهٔ دهٔ باندې څهٔ اثر نهٔ پریوځي؛ ځکه الله رب العزة فرمائي:

﴿رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ﴾.[1]

"پهٔ دې بیت الله کښې داسې سړي دي چې نهٔ غافله کوي هغوي لره تجارت او نهٔ اغستل، خرخول دِ الله دَ ذکر نه او دَ پابندئ دَ مانځهٔ نه".

دومره دَ الله پهٔ دین کښې مستغرق (ډوب شوي) شوي دي، کهٔ تجارت کوي خو دَ الله دین ورته نهٔ پریږدي، بیا انسان عادت شي نو بیا ئې پهٔ دې تولو اشیاؤ باندې پروا نهٔ وي. ابتداء کښې سختي لره ډیره وي بیا سړے عادت شي، بیا سختي کمه شي. نو ځکه نبي ﷺ له اول کښې ځانله والے محبوب شو.[2]

(٥) **پنځم** دا چې: نبي ﷺ سره دَ دې نه چې لوئي متوکّل وو، دَ الله پهٔ ذات ئې ډیر اعتماد وو، دا ټول خلق دَ هغهٔ نه پهٔ توکُّل کښې روستو دي خو نبي ﷺ غارِ حراء لهِ ځي، دَ الله عبادت له ځي خو ځان سره خپله توخه اوړي، ځان سره خپل خوراک څښکاک اوړي. اشاره دیته ده: چې اعتماد دیته وائي: چې تهٔ به اسباب استعمال کړې او دَ اسبابو نه پس به دِ هغې نتیجه الله ته اوسپاري، د دې وجې نه چې کله ستا پهٔ دماغو کښې دا وي: چې یره! عبادت کوم خو چې خوراک به راله میلاؤ شي او کهٔ میلاؤ به نهٔ شي؟ کهٔ دا سوچونه کوې نو بیا هم تهٔ صحیح عبادت نهٔ شې کولے. ځان سره څهٔ خوراک او څښکاک یَوسه، چې الله خو به ما له رزق راکوي، خو کهٔ میلاؤ نهٔ شي نو دا خو راسره شته کنه، نو ستا به توجّه برابر وي، انسان کښې چې یَو مخلوق ته احتیاج وي نو دا ښهٔ شے نهٔ دے. نو اسباب استعمالَوه او احتیاج یَو الله ته ښکاره کوه نو دا جائز دي.

---

(1) [سورة النور: 37].

(2) انظر: "سيرة المصطفى": (143/1)، وفي طبع: مكتبة عمر فاروق: (124/1).

دَ دې وجې نه موسٰی ﷺ وائي:

﴿رَبِّ إِنِّي لِمَا أَنزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ﴾.[1]

زنانوُ له ئې کډې او بيزې اوبهٔ کړې بيا سورې ته واوړيدو او هلته کيښناستو او الله ته وائي: "اے زما ربه! ته چې ما له کوم خير نازِلَوې نو زهٔ ورته محتاج يم".

دَ الله رب العزة نه خير غوښتل دا دَ انسان دَ زهد او دَ تقوٰی نه خلاف نهٔ دي. دَ علامه ابن تيميه ؒ شعر دے، وائي:

وَالْفَقْرُ لِيْ وَصْفُ ذَاتٍ لَّازِمٌ أَبَدًا كَمَا الْغِنَى أَبَدًا وَّصْفٌ لَّهُ ذَاتِي

وائي: "يا الله! دا فقر او احتياج زما تا له دا زما ذات سره لازم صفت دے، او ترلے شوے دے، الله! لکه څنګه چې ستا غِنٰی او مالداري صفت دے او تا سره لازم او ترلے دے".

دَ دې شعر مطلب شيخ الحديث مولانا محمد ادريس کاندهلوي ؒ وائي:

تو غنی مطلق اے ذوالجلال! من فقیرم مطلقم بے قیل و قال

"يا الله! تهٔ مطلق غني ذات ئې، او يا الله! زهٔ مطلق فقير ذات يم، بنده يم او محتاج يم".

تو کریمی من گدائے مطلقم تو عزیز من ذلیل مطلقم

"الله! تهٔ کريم ئې، او الله! زهٔ ګدا يم، الله! تهٔ عزيز ئې او زهٔ ذليل يم".

ذات پاکت منبع جود و نوال ما ز سر تا پا شدہ نقش سوال[2]

"الله! ستا ذات پاک دے، هغه دَ سخا او دَ ورکولو يَو منبع دے، او زهٔ دَ سر نه تر خپو پورې دَ سؤال نه جوړ يم".

بهر حال نبي ﷺ دَ ځان سره خوراک څکاک اوړے دے، دا اسباب استعمالول جائز دي.

(٦) شپږم دا چې: نبي ﷺ به په غارِ حراء کښې وو، خو چې کله به خوراک خلاص شو نو کور ته به راغے، دومره خوراکونه ئې دَ ځان سره نهٔ دي اوړي چې دَ کور ضرورت به نهٔ راتلو. نو دا هم نښته

(1) [سورة القصص: 24].

(2) انظر: "سيرة المصطفٰی": (144/1)، وفي طبع: مكتبة عمر فاروق: (125/1).

چې يَو سرے پۀ غارونو کښې پروت دے، شاړو کښې پروت دے او دَ ښځې تپوس نۀ کوي، دَ بچو تپوس نۀ کوي، وائي: بس الله به ئې ساتي. نا! راځې به، دَ خپلې ښځې او دَ بچو تپوس به کوې، دَ هغې دَ خرچې او نفقې تپوس به کوې. نبي ﷺ به کور ته راغے دَ خديجې ﷺ دَ حال تپوس به ئې اوکړو.[1]

(۷) اووم دا خبره ترې معلومه شوه: چې نبي ﷺ به پۀ غارِ حراء کښې وو... يَو سرے به پۀ يَو ځائے کښې دَ ربّ عبادت کوي نو کور کښې دې اووائي: چې زۀ پۀ فلانکي ځائے کښې يم، کۀ څۀ ضرورت شي، دَ هغۀ خدمتِ شي او يا کور کښې ضرورت شي چې خلق ورپسې تلے شي. نو چې ځائے معلوم وي، داسې نه چې دَ مخلوق نه داسې ځان غيب کړه چې چا ته پته هم نۀ لګي، نبي ﷺ به کور وئيلي وو چې زۀ پۀ غارِ حراء کښې يم.[2]

(۸) اتم دا چې: جبرئيل ﷺ چې راغے او نبي ﷺ له ئې درې ځله زور ورکړے وو، پۀ دې درې ځله زور ورکولو کښې دې خبرې طرف ته اشاره وه چې دَ جبرئيل ﷺ پۀ سينه کښې کوم علوم دي چې پۀ آسانه هغه دَ نبي ﷺ سينې ته منتقل شي، دارنګې هغه برکات هم ور منتقل شي. او دا طريقه شته دے، نبي ﷺ هم داسې کړي دي: يَو ځل دَ الله نبي ﷺ سيدنا عبد الله بن عباس ﷺ (چې دا دَ نبي ﷺ دَ ترۀ ځوي وو) رااونيولو او دَ سينې سره ئې داسې راجوخت کړو، او دعاء ئې ورته اوکړه:

«اللَّهُمَّ عَلِّمْهُ الكِتَابَ».[3]

"اے الله! زما دَ ترۀ دې ځوي له دَ خپل کتاب علم ورکړې".

دغه راجوختول او دعاء دَ رسول الله ﷺ داسې الله قبوله کړه چې پۀ ټولو صحابه کرامو ﷺ کښې دَ عبد الله بن عباس ﷺ نه لوئي عالم نۀ وو.

دَ سيدنا ابوهريره ﷺ فرمان

ابو هريره ﷺ وائي: ما دَ الله نبي ﷺ ته اووئيل: چې دَ الله نبي! حديثونه يادوم او زما نه

---

[1] انظر: "سيرة المصطفى": (145/1)، وفي طبع: مكتبة عمر فاروق: (126/1).

[2] انظر: "سيرة المصطفى": (145/1)، وفي طبع: مكتبة عمر فاروق: (126/1).

[3] أخرجه البخاري في كتاب العلم، باب قول النبي ﷺ: «اللهم علمه الكتاب»، برقم: (75).

هېرېږي، داسې وظيفه راته اوښايه چې زۀ ئې اوکړم؛ چې ما ته يادېږي. وائي: نبي ﷺ راته اوفرمائيل: چې ابو هريره! څادر دې خور کړه، چې څادر مې خور کړو دَ الله نبي ﷺ داسې لپې راخلې، ما ته پته نۀ لګي چې څۀ شے راخلې، داسې لپه راخلې او څادر کښې ئې غورځوي. درې لپې دَ الله نبي ﷺ داسې راجمع کړې، او ماته وائي: چې شابه! دا څادر دَ سينې سره راجوخت کړه. سيدنا ابو هريره ﷺ وائي: ما څادر رابند کړو او دَ سينې سره مې جوخت کړو، دَ هغې نه بعد چرته زما نه دَ رسول الله ﷺ خبره نۀ ده هېره شوې. دماغ داسې کولاؤ شول، سينه داسې کولاؤ شوه چې بيا دَ رسول الله ﷺ يَو حديث زما نه نۀ دے هېر شوے.

دَ نبي ﷺ دَ علومو چې کومې خزانې وې دا هغه لپې وې، چې هغه صرف نبي ﷺ ليدلې او نورو صحابؤ ﷺ نۀ ليدلې. هغۀ ورله پۀ څادر کښې واچولې وائي: دا دَ سينې سره جوخت کړه. نو دا هم ثابت شو او جائز دي.

(۹) نهم دا چې: رسول الله ﷺ ته چې کله وحي راغله او کور ته راغے حضرت خديجة الکبرٰی ﷺ هغه ورته تسلّي ورکوي، ورته وائي: "إِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ، وَتَحْمِلُ الكَلَّ...". هغه اوږد حديث دے، دا ښۀ ښۀ صفتونه دَ نبي ﷺ خديجه ﷺ ئې ورته بيانَوي. نو دې کښې اشاره ده دې خبرې ته چې: چا کښې دا ښۀ ښۀ صفتونه وي هغه الله نۀ خرابوي. کافرانو هم دا خبره منله. چې څوک خپلوَلي پالي، رشته داري پالي، څوک دَ غريبانانو پۀ سر لاس ايږدي، دَ هغوي بوجونه اوچتوي، دَ هغوي سره احسانات کوي، ميلمه له ميلمستيا ورکوي، پۀ چا څۀ حادثه راشي دَ هغۀ سره مرسته او تعاوُن کوي، نو داسې خلق الله پۀ معاشره کښې چرته.هم نۀ ضائع کوي. ځکه ورته حضرت خديجة الکبرٰی ﷺ تسلّي ورکوي.

(۱۰) لسم دا چې: "رسول الله ﷺ کله لاړو او ورقه بن نوفل ته ئې قصه اوکړه. دَ دې نه دا خبره هم معلومه شوه: چې يَو سړے درنه پۀ علم کښې اوچت او بهتر نۀ دے خو عمر رسيده (مشر) دے نو دَ هغۀ نه مشوره اغستے شي. دلته اوګوره! نبي ﷺ دَ ورقه بن نوفل خوا ته لاړو او مشوره ترې اخلې، نو نبي ﷺ نه ورقه څۀ پۀ علم کښې اوچت خو نۀ وو او نۀ ترې بهتر وو.

(۱۱) **یوولسم** دا خبره ترې معلومه شوه: چې دَ مشرانو به قدر او عزت کوې اګر چې تهٔ لوئي سړے ئې، خو چې ستا نه مشر دے، دَ هغهٔ قدر او عزت به کوې. نبي ﷺ دَ ورقه بن نوفل سره ډیر پهٔ قدر او احترام باندې میلاؤ شو.

(۱۲) **دولسم**: چې کهٔ تهٔ ډیر لوئي سړے ئې خو کهٔ مشر تا ته دَ کشرانو الفاظ استعمال کړي نو دا خیر دے، استعمالولے ئې شي. لکه نبي ﷺ ته ورقه وائي: "يَا ابْنَ أَخِي! مَاذَا تَرَى؟". "اے وراره! تهٔ څهٔ وینې؟". نو دَ دې لفظ استعمال جائز دے؛ ځکه مشر دَ کشر دپاره دَ کشرانو الفاظ استعمالولے شي.

(۱۳) **دیارلسم** دا خبره ترې معلومه شوه: چې چا دَ حق خبره کړې وه هغه خلقو پهٔ آرام نهٔ دے پرېښودے؛ ځکه ورقه بن نوفل یَو ارمان اوکړو: چې کاش! چې زهٔ ژوندے وے کله چې دې قوم تهٔ ایستلې او ما ستا مضبوط امداد کړے وے!. نبي ﷺ وائي: دوي به ما اوباسي؟ وائي: آو!، چې دا مسئلې چا کړې دي نو هغه چا پهٔ آرام نهٔ دے پرېښودے.

پهٔ دې کښې هر داعي ته تسلّي ده: چې کله دَ قرآن او دَ سنت او دَ حق خبره کوې نو ضرور به بعضې خلق دَ دهٔ عداوت او دشمني کوي، نو دا څهٔ نوې او نا آشنا خبرې نهٔ دي، بلکه دا دَ پیغمبرانو دَ زمانې نه داسې راروانې دي.

الله رب العزة دې دَ صحیح عمل کولو توفیق رانصیب کړي (آمین!).

وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

بسم الله الرحمن الرحيم

يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ (1) قُمْ فَأَنْذِرْ (2) وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ

(سورة المدثر: 1-3)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه نهمه

"دَ وحي بنديدل او دوباره وحي شروع كيدل "

بتاريخ: 2022-02-10

مقام: جلسئ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّآني حفظه الله

سيرة النبي ﷺ حصه نهمه

"دَ وحي بنديدل او دوباره وحي شروع کيدل "

اَلْحَمْدُ لله نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِه وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْه وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِه وَأَصْحَابِه وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ * قُمْ فَأَنْذِرْ * وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ﴾.(1)

عزتمندو حاضرينو مسلمانانو رونړوا په تېرو جُمعو کښې دَ رسول الله ﷺ دَ وحي تذکره شوې وه چې رسول الله ﷺ ته اولنۍ وحي چې راغلې وه، دَ هغې کيفيت څۀ وو؟ او په کوم ځائے کښې راغلې وه؟ نو دَ هغې وضاحت شوې وو، کوم آيتونه راغلي وو؟ دَ سورة العلق ابتدائي آيتونه نازل شوي وو، او دَ هغې آيتونو مختصر وضاحت شوے وو.

دَ فترتِ وحي زمانه

نن جُمعه کښې به دَ فترتِ وحي دَ زمانې ذکر کوو، او وروستو بيا کومه وحي راغلې وه؟ نو دَ هغې وضاحت به کوو. "صحيح البخاري" کښې امام بخاري نقل کړي دي: چې رسول الله ﷺ ته دا اولنۍ وحي راغله نو دَ دې نه بعد بيا وحي بنده شوه، او دغې زمانې ته زمانه دَ فترت وائي، دَ وحي دَ بنديدو زمانه، انقطاع دَ وحي راغله.

دَ جابر بن عبد الله الأنصاري ﷺ روايت

دَ جابر بن عبد الله ﷺ نه روايت دے او دے دَ نبي ﷺ نه نقل کوي: چې رسول الله ﷺ

(1) [سورة المدثر: 1-3].

فرمائي (دَ الله نبي ﷺ پهٔ خپله دَ وحي دَ بنديدو هغه حال بيانوي): وحي بنده شوې وه او زهٔ يَو ځل روان اُوم، ناڅاپه ما يَو آواز واوريدو دَ آسمان دَ طرف نه، نو چې ما داسې بره اوکتل نو ناڅاپه هغه فرشته راغلې وه چې کومه ما له پهٔ غارِ حراء کښې راغلې وه، او اولنۍ وحي ئې راوړې وه، دا فرشته دَ دې زمکې او دَ آسمان پهٔ دې مابين کښې پهٔ دې فضاء کښې پهٔ يَو کرسۍ باندې ناسته وه. چې دَ الله نبي ﷺ اوليده، يَو لوئې شخصيت وو، نو دَ الله نبي ﷺ فرمائي: زهٔ دَ هغې نه مرعوب شوم، او اوېَريدم، چې دا څهٔ دي؟ نو واپس راغلم او بيا نبي ﷺ باندې سارهٔ راغے، او تبه پرې راغله او سيده خديجې رضي الله عنها ته وائي:

«زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي».[1]

"ما پهٔ کمبل کښې راأونغاړئ، کمبل راباندې واچوئ".

دَ وحي راتلل

چې نبي ﷺ کمبل واغوسته، دَ وحي بنديدو نه بعد بيا وحي راغله: ﴿يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ * قُمْ فَأَنْذِرْ * وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ * وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ * وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ﴾.[2] نو دا دَ انقطاع دَ وحي نه بعد اولنۍ وحي وه.

دَ رسول الله ﷺ دا وحي بنديدل چې وو نو دا څومره وخت وحي بنده وه؟ نو فترت پهٔ احاديثو کښې دوه (۲) قسمه راځي:

(۱) يَو فترت دے: ﴿عَلَى فَتْرَةٍ مِنَ الرُّسُلِ﴾.[3] پيغمبران بند شوي، او نور پيغمبران نهٔ راتلل، ډير وخت مينځ کښې تير شوے وو، دَ هغې نه بعد الله پيغمبر ﷺ رااوليږلو. نو هغې ته هم زمانه دَ فترت وائي. او ذا زمانه دَ فترت دَ "صحيح البخاري" دَ جلد اول پهٔ آخر کښې راځي.

دَ نبي ﷺ او دَ عيسى عليه السلام پهٔ مينځ کښې فاصله

دَ نبي اکرم ﷺ او دَ عيسٰى عليه السلام پهٔ مينځ کښې شپږ سوه کاله تير شوي وو چې الله پکښې بل

---

(1) أخرجه البخاري في كتاب بدء الخلق، باب إذا قال أحدكم: آمين والملائكة في السماء، آمين فوافقت إحداهما الأخرى، غفر له ما تقدم من ذنبه، برقم: (3238).

(2) [سورة المدثر: 1-5].

(3) [سورة المائدة: 19].

ځوک پیغمبر نهٔ وو رالیږلے. شپږ سوه (۶۰۰) کاله بعد رسول الله ﷺ الله پیغمبر رااولیږلو. شپږ پیړئ ډیر شے دي، دومره فاصله چرته دَ نورو پیغمبرانو پهٔ مابین کښې نهٔ وه راغلې. دا دومره فاصله صرف دَ عیسٰی ﷺ او دَ نبي ﷺ پهٔ مینځ کښې وه. نو دې زمانې ته هم زمانه دَ فترت وائي. ځوک پنځهٔ سوه اویا (۵۷۰) یادَوي، ځوک پنځهٔ سوه شپیتهٔ (۵۶۰) یادَوي او ځوک شپږ سوه یادَوي.

دا هغه زمانه دَ فترت وه، دَ وحي دَ بندیدو زمانه.

(۲) دویم فترت: هغه انقطاع دَ وحي ته وائي چې وحي دَ پیغمبر ﷺ کښې تاخیر راغلے وو تر څهٔ زمانې پورې. نو دا فترت او دا انقطاع وحي څومره زمانه وه؟ نو پهٔ دې کښې دَ علماؤ ډیر اقوال دي:

(۱) یَو قول: امام ابن الحجر رحمه الله پهٔ "فتح الباري" کښې نقل کړے دے: چې دا زمانه دَ فترت چې وه نو دا درې (۳) کاله وه، اول وحي راغله بیا درې کاله نوره وحي نهٔ وه راغلې.

(۲) دویم قول دا دے: چې دا زمانه دَ فترت دوه نیم کاله وه.

(۳) بعضې علماؤ وائي: چې درې ورځې وې، درې ورځې وحي بنده وه.

(٤) صاحب دَ "الرحیق المختوم" دې له ترجیح ورکوي: چې زمانه دَ فترت دومره اوږده نهٔ وه، بس یَو څو ورځې وحي بنده شوې وه.

او زمونږ استاذ محترم شیخ الحدیث مولانا یار بادشاه رحمه الله دَ هغوي دَ "صحیح البخاري" چې کوم تقریر دے "الکوثر الجاري"، هغوي پهٔ درس کښې هم مونږ ته وئیل او پهٔ تقریر کښې ئې هم لیکلي دي: چې اصحّ قول دا دے: چې ذا درې کاله انقطاع وه، یعني وحي درې (۳) کاله بنده شوې وه، او دا ځوک چې وائي: یَو څو ورځې وحي بنده وه نو دا صحیح قول نهٔ دے؛ ځکه داسې وحي څو ډیرو وختونو کښې بنده شوې وه، هغې ته خو چا فترت نهٔ دے وئیلے.

دَ رسول الله ﷺ نه تپوسونه شوي وو...

مثال پهٔ طور دَ رسول الله ﷺ نه تپوسونه شوي وو، مشهوره واقعه ده: یهودو تپوس اوکړو: چې تهٔ نبي ئې نو مونږ ته دَ اصحابِ کهف واقعه بیان کړه؟ چې دا ځوک وو؟ او دَ دوي واقعه څنګه وه؟ دَ ذوالقرنین واقعه راته بیان کړه؟ او دَ روح حقیقت راته بیان کړه؟ نبي ﷺ ورته اووئیل: چې

صبا راشئ او صبا به درته زۀ جواب درکوم. ان شاء الله ئې اونۀ وئيله نو صبا وحي رانغله، بل صبا هم وحي رانغله، بله ورځ هم رانغله تردې چې پنځلس ورځې وحي بنده وه، او بيا پنځلس (۱۵) ورځې بعد جواب راغے. نو کۀ مطلق فترت او بنديدل پۀ دې باندې دَ فترت اطلاق کيږي نو بيا خو دغه هم فطرت شو، حالانکه ديته څوک هم دَ فترتِ زمانه نۀ وائي. پنځلس (۱۵) ورځې بعد جواب راغے او نبي ﷺ له قانون راغے چې:

﴿وَلَا تَقُولَنَّ لِشَيْءٍ إِنِّي فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا * إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ﴾.(1)

"دَ يَو کار پۀ باره کښې به دا نۀ وائې چې دا کار به زۀ صبا خامخه کوم مګر مخکښې دَ هغې نه ان شاء الله وايه".

دَ ان شاء الله معنٰی دا ده: چې کۀ چرته دَ الله خوښه شي نو زۀ به ئې اوکړم، او کۀ خوښه ئې نۀ شي نو زۀ ئې کولے نۀ شم. نو اے پيغمبره! تا ان شاء الله نۀ وو وئيلے نو ځکه وحي بنده شوه. خلقو اعتراضونه کول چې نبي ﷺ خوا ته جبرئيل ﷺ نۀ راځي نو الله دَ تسلّئ دپاره سورت راليږي چې:

﴿وَالضُّحَىٰ * وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَىٰ * مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ﴾.(2)

بعضې رواياتو کښې راځي: دَ الله نبي ﷺ ناجوړه شو، بيمار شو، يَو څو ورځې رااوچت نۀ شو، راپا نۀ سيدو نو خلقو اعتراضونه شروع کړل نو الله تسلّي راليږي:

﴿وَالضُّحَىٰ * وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَىٰ * مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ﴾.(3)

"شاهد دے ساخت، او شاهد ده شپه کله چې تيارۀ کړي، (څۀ خبره باندې شاهد دي؟) ﴿مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ﴾ اے نبي ﷺ! نۀ تۀ ستا ربّ پرېخودے ئې او نۀ ئې تا سره عداوت او دشمني کړې ده".

نو شهادت الله قائم کړو چې وخت دَ ساخت او شپه ګواه ده چې ما تۀ پرېخودے نۀ ئې، صحيح ده چې کله به وحي راځي او کله به نۀ راځي.

او پۀ دې کښې دَ الله ډېر حکمتونه وي چې کله الله وحي راليږي او کله نۀ، لکه: دنيا کښې

(1) [سورة الكهف: 23-24].

(2) [سورة الضحى: 1-3].

(3) [سورة الضحى: 1-3].

کله ورځ وي نو کله شپه وي نو دَ ورځې خپلې فائدې دي او دَ شپې خپلې فائدې دي. دغه شان نبي ﷺ ته کله وحي راځي نو دَ هغې خپلې فائدې دي او کله نهٔ راځي نو دَ هغې خپلې فائدې دي؛ ځکه چې الله وحي نهٔ وي رالیږلي نو دنیا ته به پته اولګي: چې الله وحي نهٔ ده رالیږلې، جواب ئې نهٔ دے رالیږلے نو دا پیغمبر خو دَ خپل خواهش نه خبرې نهٔ کوي، او دَ ځان نه جواب نهٔ شي ورکولے. نو دا وحي نهٔ راتلل هم ستا دَ صداقت دلیل دے. نو اوګوره! دا وحي یَو څو ورځې بنده وه خو دیته څوک فترت نهٔ وائي.

پهٔ عائشه صدیقه رضي الله عنها باندې الزام

پهٔ سیده عائشته رضي الله عنها باندې الزام لګیدلے وو، مشهوره واقعه ده، "صحیح البخاري" کښې تفصیلي روایت دے، نبي ﷺ ته پته نهٔ وه چې حقیقت څهٔ شے دے؟ نو یَو میاشت مکمل وحي بنده وه، یَو میاشت مکمل وحي نهٔ راتله. نبي ﷺ پریشانه دے، کله دَ یَو چا نه مشوره اخلي او کله دَ بل چا نه مشوره اخلي، یَو میاشت بعد وحي راغله:

﴿إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنكُمْ لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَّكُم بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ﴾.[1]

"یقینًا هغه خلق چې پهٔ دروغه ئې راتلل کړي دي دا یَو ډله ده ستاسو نه...".

دَ سیدة عائشه رضي الله عنها صفائي الله دَ آسمان نه راوالیږله، یَو میاشت پورې وحي بنده وه، نبي ﷺ دَ صحابه کرامو رضي الله عنهم نه مشورې اخلي، صحابه کرام رضي الله عنهم څوک ورته وائي: مهٔ ئې طلاقوه، او څوک ورته وائي: چې طلاقه ئې کړه، تا له نورې ښځې ډیرې دي، خو دَ الله نبي ﷺ فیصله نهٔ شي کولے.

نو میاشت وحي بنده ده او زمانه دَ فترت ورته څوک نهٔ وائي. داسې خو پهٔ میاشتو میاشتو وحي بنده شوې ده او دَ الله نبي ﷺ ته بیا وحي شروع شوې ده. دا خو مینځ مینځ کښې هم داسې شوې دي. نو دا وحي ډیره بنده وه ځکه ورته زمانه دَ فترتِ وحي وائي. نو دا اصح قول دے: چې درې (۳) کاله وحي بنده وه. رسول الله ﷺ ډیر پریشانه وو، چې ولې وحي نهٔ راځي!!!

الله رب العزة دې مونږ پهٔ دین مئین کړي، کله چې سړے دَ دین خوَند واخلي او بیا نهٔ وي نو

---

(1) [سورة النور: 11].

بیا سړے پریشانه کیږي، او کله چې سړے دَ بے دینئ خوند واخلي او هغه نهٔ وي نو بیا هغه هم ډیره پریشانه کیږي. دَ دین داسې یَو نشه ده، او یَو خوَند دے لکه څنګه چې دا خلق پهٔ نشه باندې عادت شي، دَ نشې والا سړي له دې هیڅ نهٔ وي خو چې نشه ئې برابر وي نو دے ښهٔ پهٔ سُر وي، او چې نشه پرې بنده کړې نو بیا دے یَو کار هم نهٔ شي کولے، پریشانه وي. دغسې دَ دین هم یَو نشه ده، انسان عادت شي چې دَ دین خدمت نهٔ وي نو بیا انسان پریشانه کوي، خفه وي.

نبي ﷺ ته دَ دین لذّت او خوند

یَو خوَند او لذَت د الله نبي ﷺ ته میلاؤ شوے وو، نو بیا جبرئیل امین ﷺ نهٔ راتلو، نو پهٔ حدیث کښې دا راځي: "رسول الله ﷺ ډیر پریشانه وو، کله کله به دَ الله نبي ﷺ دَ غر سر ته اوختو او زړهٔ کښې به ئې دا فیصله اوکړه چې دَ دې غر نه ځان راواغورځوم!؛ دَ ډیر خفګان او دَ ډیرې پریشانئ نه. نو چې کله به چې دَ الله نبي ﷺ اراده اوکړه چې ځان راغورځوم پهٔ دې کښې به جبرئیل امین ﷺ راغے او هغهٔ به آواز ورکړو: چې "یَا مُحَمَّدُ! إِنَّكَ رَسُوْلُ اللهِ حَقًّا" (اے محمد تهٔ څهٔ یَو عام سړے خو نهٔ ئې چې تهٔ به ځان راواغورځوې او خبره به ختمه شي، تهٔ کهٔ ځان غورځوې نو ټول مخلوق محرومه پاتې کیږي، تهٔ خو الله دَ دې خلقو دپاره یَو رسول مقرر کړے ئې، تهٔ الله دې له نهٔ ئې رالیږلے چې تهٔ به ځان هلاک کړې او ځان به اوغورځوې، تهٔ خو الله دَ دې خلقو دپاره یَو خیر او دَ هدایت پیغمبر رالیږلے ئې). نو چې نبي ﷺ به دَ جبرئیل امین ﷺ دا آواز واوریدو نو بیا به ئې زړهٔ ته سکون او آرام راغے، بیا به ئې زړهٔ ته خوشحالي راغله چې یره! آواز راځي او سړے نهٔ ښکاري".[1]

علماؤ لیکلي دي: وحي جلي بنده وه، خو مکمل جبرئیل امین ﷺ منع نهٔ وو، راتلو به او نبي ﷺ له به ئې تسلي ورکوله، راتلو به او نبي ﷺ له به ئې غیبي آواز ورکولو، لکه پهٔ دې حدیث کښې راغلل چې: "یَا مُحَمَّدُ! إِنَّكَ رَسُوْلُ اللهِ حَقًّا". وحي جلي بنده وه لیکن وحي خفي بنده نهٔ وه. درې (۳) کاله بعد بیا وحي شروع شوه.

---

(1). أخرجه البخاري في كتاب التعبير، باب أول ما بدئ به رسول الله ﷺ من الوحي الرؤيا الصالحة، برقم: (6982).

دَوحي دَبنديدو حكمتونه

اوس په دې كښې دَ الله رب العزة څۀ رازونه وو؟ دَ الله تعالی هر كار دَ حكمت وي. چې وحي شروع شوه نو مسلسل ولې وحي نۀ راليږي؟ چې نبي ﷺ دومره پريشانه دے چې دَ غر نه ځان غورځوي، ځان وژلو له تيار دے، دۀ باندې به څومره خفګانونه تير شوي وي، څومره پريشانۍ به پرې تيرې شوې وي نو دارک ولې وحي نۀ شروع کيږي؟ دا بنديږي مينځ كښې ولې؟

(۱) اول حكمت دَ وحي دَ بنديدو: "چې پۀ دې پنځو آيتونو كښې لږ سوچ اوكړي "

نو اصل وجه دا ده: چې اول الله رب العزة دا اولني آيتونه رااوليږل بيا الله تعالی وحي بنده كړه، چې اے نبي ﷺ! نوره وحي به راليږم خو تۀ اول پۀ دې آيتونو كښې سوچ او فكر اوكړه، چې دَ دې نه تۀ پوره سبق او عبرت ياد كړې؛ ځكه پۀ دې كښې دَ الله رب العزة دَ خالقيت بيان دے: ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ﴾.[1] پۀ دې كښې دَ الله رب العزة دَ خالقيت بيان دے، او دَ الله رب العزة دَ قدرت بيان دے پكښې چې هر څۀ له الله رب العزة دَ قلم پۀ ذريعه باندې تعليم وركړے دے. پۀ دې كښې دَ الله دَ علم بيان دے: ﴿عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ﴾.[2] "الله هر څۀ انسان ته ښودلي دي"، دا پۀ انسان كښې خپل څۀ كمال نۀ وو. دارنګې پۀ دې كښې دَ انسان دَ عجز بيان دے: كۀ دې انسان له الله رب العزة تعليم نۀ وے وركړے نو انسان به پۀ هيڅ يَو څيز باندې نۀ وو پوهه شوے. نو دَ دې وجې نه پۀ دې كښې دَ ټول قرآن مضمون پروت دے، دَ الله رب العزة صفتونه ترې معلوميږي، دَ الله وحدانيت ترې معلوميږي، دَ انسان عجز او كمزوري ترې معلوميږي نو ځكه ئې وحي بنده كړه؛ چې اے نبي ﷺ! في الحال پۀ دې كښې سوچ او فكر كوه.

(۲) دويم حكمت دَ وحي دَبنديدو: "چې دَ نبي ﷺ زړۀ مطمئن شي "

وحي بنديدو كښې دَ الله رب العزة دويم حكمت دا وو: چې علماء كرام وائي: دا وحي ئې ځكه بنده كړه؛ چې رسول الله ﷺ پۀ غارِ حراء كښې پۀ اول ځل وحي باندې ډير زيات مرعوب شوے وو،

---

(1) [سورة العلق: 1].

(2) [سورة العلق: 5].

ډېر يريدلے وو، او ما تاسو ته وئيلي وو: چې حديث کښې راغلي وو: چې سيده خديجه رضي الله عنها ته نبي ﷺ راغے او ورته وائي: چې «لَقَدْ خَشِيْتُ عَلَى نَفْسِيْ»، خديجې! زۀ پۀ خپل ځان باندې اوېريدم، نور جوړ زۀ مړ کيږم، او دَ دنيا نه ځم. دَ الله دَ نبي ﷺ بالکل دَ ځان نه طمع قطع شوه، دَ الله نبي ﷺ ډېر مرعوب وُو؛ نو دَ دې دپاره الله رب العزة پۀ وحي کښې انقطاع راوسته چې دَ نبي ﷺ زړۀ بيا مطمئن شي او بيا کلک شي، چې دا رعب او يره عې دَ زړۀ نه ختمه شي. دا هم يَو حکمت وو.

(۳) دريم حکمت دَ وحي دَ بنديدو: "چې دَ وحي يَو ثقل وو، برداشت ئې ګران وو"

يا دا وجه ده: چې دا وحي داسې آسان شے هم نۀ دے، دا يَو ډېر وزني کلام (قرآن) دے... دَ دې پته ما او تا تہ نۀ لګي؛ ځکه چې مونږ خو صرف اورو کنه، چې تۀ يَو سړي ته وائې: چې دا کار داسې اوکړه او هغه کار هم ګران وي نو هغه به ورته سوچونه کوي، چې دا به زۀ څنګه کوم؟ او کۀ دا ورته اووائې: چې کۀ تۀ دا کار کوې او کۀ نۀ ئې کوې خو صرف واوره نو بيا خو اوريدل آسان دي. مونږ ته خو ځکه تکليف نشته دے چې مونږ ئې صرف اوريدو والا يُو، عمل والا خو نۀ يُو، يعني اکثر خلق صرف اوريدل کوي او عمل نۀ کوي هغوي مراد دي. او دا خو دَ نبي ﷺ ذمه واري وه چې دا به وائي، او دا به کوي او دا به نۀ کوي، نو قرآن کښې يَو ډېر ثقل دے، ډېر وزني دے، قرآنِ کريم کښې الله رب العزة دَ دې هغه ثقل ذکر کوي نو فرمائي:

﴿إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا﴾.[1]

"يقينًا اے نبي! مونږ خامخا راليږو پۀ تا باندې يَو وينا ډيره وزني او ډيره درنه".

دا ډيره درنه وينا ده، ډيره دَ وزن والا خبره ده، برداشت ئې ګران وو. دَ الله نبي ﷺ به پۀ اوښه باندې سور وو چې وحي به راغله نو اوښه چې هغه څومره مضبوط بارونه او بوجونه اوړي، هغه به پۀ لاره کړه وړه روانه وه، تا به وئيل: چې خپې ئې ماتې نۀ شي دَ ډېر ثقل دَ وجې نه. صحابي وائي: يَو ځل دَ الله نبي ﷺ زما پۀ پتون باندې سر مبارک کيخودے دے او وحي شروع شوه، وائي: ما وئيل کني چې زما دا پتون چوري چوري شو، مات شو، دومره يَو وزن پۀ دې باندې راغے.

(1) [سورة المزمل: 5].

په ژمي کښې په نبي ﷺ باندې خولې راتلل

"صحيح البخاري" کښې راځي: په يخ ژمي کښې دَ الله په نبي ﷺ وحي چې به راتله نو دَ الله دَ نبي ﷺ دا تندے چې وو، دَ هغې نه به دا خولې ښکته رابهيدلې. نو په يخه ژمئ کښې به دَ الله دَ نبي ﷺ نه خولې رواني وې. قرآن ډير ثقيل کتاب دے.

نو الله به وحي مسلسل ځکه نۀ راليږله؛ چې عادت شي، او دَ نبي ﷺ طبيعت ورسره غادت شي، بوج نۀ شي، مثال ئې داسې وي: لکه چې نوے ماشوم راشي نو استاذ ورته وائي: دا يَو ټکے نن ياد کړه، او هغه ماشوم ورته وائي: ما ته دا ټول مخ اووايه، هغۀ ورته وائي: نا! دا يَو ټکے درته ډير دے، او بيا ورته وائي: ځه! ستا چهټي شوه، کۀ هغه ورانے هم اوکړي نو استاذ ورته څۀ نۀ وائي، وائي: دا نوے دے، چې عادت شي. او چې کله دَ مخکښې نه راځي او تکړه وي او سبقونه ئې وئيلي وي نو هغه سره بيا سختي کوي.

نو دغسې چونکه دَ نبي ﷺ هم ابتدائي دور وو، اولنئ وحي وه نو الله لږه وحي رااوليږله او بيا ئې پکښې انقطاع راوسته، چې نبي ﷺ دَ دې وحي سره عادت شي، بيا ورباندې ثقل او بوج نۀ جوړيږي. دا پکښې يَو هم حکمت وو.

(٤) څلورم حکمت دَ وحي دَ بنديدو: "چې دَ نبي ﷺ مينه ورسره پيدا شي، او بوج پرې نۀ شي"

بل دا دے: چې دَ نبي ﷺ شوق پيدا شي، مينه ئې پيدا شي دَ وحي سره. نو څنګه شوق پيدا شي؟؛ نو هغه داسې چې کله چې يَو شے هميشه وي نو دَ هغې نه دَ انسان زړۀ مور شي، او چې کله وي او کله نۀ وي نو بيا ئې شوق ډير وي.

عبد الله بن مسعود رضي الله عنه به روزانه تقرير نۀ کولو. صحابؤ رضي الله عنهم ورته اووئيل: "کچرته تۀ مونږ له روزانه بيان کوې نو دا به ډيره ښۀ وي". هغه ورته وائي: "نا! زۀ درته کله کله وعظ ځکه کوم؛ چې دَ الله نبي ﷺ به مونږ له هم داسې کله کله بيان کولو". وائي: "دَ دې وجې نه چې مونږ ستړې نۀ شو، بوج راباندې نۀ شي".

نو نبي ﷺ ته الله رب العزة وحي شروع کړه او بيا ئې بنده کړه؛ دَ دې دپاره چې دَ نبي ﷺ په

طبیعت باندې بوج نهٔ شي، او دَ دې دپاره ئې بنده کړه چې شوق ئې پیدا شي. نو چې شوق ئې بنهٔ پیدا شو، دومره شوق ئې پیدا شو چې ځان ئې دَ هغې دپاره وژلو نو بیا الله وحي شروع کړه.

(۵) پنځم حکمت دَ وحي دَ بندیدو: "استعداد دَ پیغمبر ﷺ ئې معلومولو "

علماء وائي: چې دَ نبي ﷺ هغه استعداد پهٔ دې معلوم شي: چې دهٔ ته وحي رالیږم نو دے دَ دې برداشت کولے شي او کهٔ نهٔ شي کولے؟ څکه دَ صوفیاؤ دا طریقه ده: چې کله مرید له ذکر او اذکار ورکړي نو بیا ورته وائي: څهٔ ورځې عبادت اوکړه بیا راشه، بیا به اجازت درکوم. نو چې هغه پهٔ صحیح طریقه باندې عبادت کړے وي نو بیا ورته اجازت ورکړي: چې اوس تا له زما اجازت دے. او چې نهٔ ئې وي کړے نو وائي: لړ نور هم حِصار شه.

نو دا ټول حکمتونه دي دَ فترت (بندیدو) دَ وحي.

بهر حال وحي بنده وه، چې کله وحي شروع شوه، دَ الله نبي ﷺ وائي: ما یَو غیبانه آواز واوریدو، نو آسمان طرف ته مې اوکتل نو جبرئیل امین علیه السلام مې اولیدو نو زهٔ پوهه شوم چې دا هم هغه فرشته ده چې کومه ما له پهٔ غار حراء کښې راغلې وه.

اشکال

دلته یَو اشکال دے، هغه اشکال دا دے: چې غارِ حراء کښې چې نبي ﷺ ته فرشته راغلې وه نو دا خو دَ انسان پهٔ شکل کښې راغلې وه او چې کله پهٔ فضاء کښې نبي ﷺ دا جبرئیل امین علیه السلام لیدلے وو نو هغه ئې پهٔ خپل شکل کښې لیدلے وو نو دَ الله نبي ﷺ څنګه اوپیژندلو چې دا هغه فرشته ده چې کومه پهٔ غارِ حراء کښې راغلې وه؟

جواب کښې مختلف اقوال دي:

(۱) یَو قول دا دے: چې اول نبي ﷺ ته دا فرشته انساني شکل کښې ښکاره شوه نو هغهٔ اوپیژنده، نو بیا پهٔ مَلَکي شکل کښې شوه نو څکه نبي ﷺ اووئیل: چې دا هغه فرشته ده، خو شکل ئې بدل وو.

(۲) دویم قول: چې دا دَ اول نه پهٔ مَلَکي شکل کښې راغلې وه نو بیا ئې ورته شکل بدل کړو نو انساني شکل شو. نو بیا ئې اوپیژندلو.

(۳) دریم قول: علماء وائي: دَ خبرو نه ئې اوپیژندو؛ ځکه کله کله دَ خبرو نه هم سړے پیژندلے شي، تا سره دَ یو سړي خبرې شوي وي، ټیلیفون درته اوکړي وائي: اودې پیژندم؟ نو کله کله خو دماغ کار نهٔ کوي وائي: یره! ذهن کښې مې نهٔ راځې، او کله ډارک وائي: وائي: آو! ما دَ خبرو نه اوپیژندې. نو دَ خبرو نه ئې اوپیژني، ولې چې ډا خبرې واوري وائي: دا خو دَ فلاني خبرې دي، نو دهٔ خو لا لیدلے نهٔ دے خو خبرې ئې ورله واوریدې نو وائي: پوهه شوم.

نو صحیح ده چې جبرئیل امین ﷺ پهٔ غارِ حراء کښې پهٔ انساني شکل کښې راغلے وو او بیا پهٔ دې فضاء کښې پهٔ مَلَکي شکل کښې راغلے وو خو هلته چې دَ الله نبي ﷺ سره پهٔ کوم آواز خبرې کړې وې نو پهٔ هغه آواز ئې هم خبرې اوکړې نو دَ الله نبي ﷺ پوهه شو چې دا هغه مَلک دے چې کوم ما له غارِ حراء کښې راغلے وو، دَ هغې آواز نه ئې اوپیژندو. چې کله ئې اوپیژندو نبي ﷺ بیا مرعوب شو؛ ځکه دا هیئت دَ الله نبي ﷺ چرته نهٔ وو لیدلے. نو نبي ﷺ کور ته لاړو، او کمبل ئې واغوستو نو دَ سورة المدّثر ابتدائي آیتونه راغلل. سیده خدیجه ﷺ ته وائي:

«زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي».[1]

"ما پهٔ کمبل کښې را اونغاړئ، ما پهٔ کمبل کښې را اونغاړئ". کمبل را باندې واچوئ.

چې ځان ئې پټ کړو نو جبرئیل امین ﷺ راغے او وحي ئې راوړه. وحي کومه وه؟ نو دا دویم نمبر وحي ده:

﴿يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ * قُمْ فَأَنذِرْ * وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ * وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ * وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ * وَلَا تَمْنُن تَسْتَكْثِرُ * وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ *﴾.[2]

دا آیتونه راغلل: ﴿الْمُدَّثِّرُ﴾ "دثر" دَ "دثار" نه ماخوذ دے، دَ یو څیز ثقل او وزن ته وائي، نو معنٰی ئې دا ده: ﴿يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ﴾ "اے دَ دعوت بوج اوچتونکیه! ما تا له پیغمبري درکړې چې تهٔ څادر واغونده او اودهٔ شه".

﴿قُمْ فَأَنذِرْ *﴾.

---

(1) أخرجه البخاري في بدء الوحي، برقم: (3).

(2) [سورة المدثر: 1-7].

"پاسیره نو خلق اویَروه"، ستا پهٔ سر غټه ذمه واري ده، ستا پهٔ سر باندې ډیر لوئي بوج دے، تهٔ ما دنیا ته آرام له نهٔ ئې رالیږلے، تهٔ ما دَ دین دَ بیان دپاره رالیږلے ئې. نو دا یَو معنٰی ده.

دَ ﴿يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ﴾ دویمه معنی

﴿يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ﴾ "دَثار" اصل کښې هغې جامې ته وئیلے کیږي چې سرے ئې دَ جامې دپاسه واغوندي، لاندې بَنین دے. دپاسه قمیص دے، لاندې قمیص دے، دپاسه واسکټ دے یا بل شے دے دې ته "دَثار" وئیلے کیږي. نو معنٰی دا ده: ﴿يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ﴾ "اے دَ نبوّت جامه اغوستونکیه! تا له ما پیغمبري درکړې ده، تهٔ ما نبي جوړ کړے ئې، تهٔ ما دَ دې دپاره نهٔ ئې جوړ کړے چې تهٔ آرام اوکړې". ﴿قُمْ فَأَنْذِرْ﴾. "پاسه خلق اویَروه"، خلقو له دعوت شروع کړه.

یا (۳) دریمه معنٰی: ﴿يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ﴾.

"دثار" وئیلے کیږي: خیرِ کثیر ته نو معنٰی: "اے دَ ډیر خیر خاونده! چې تا له الله ډیر لوئي خیر درکړے دے، تا له الله پیغمبري درکړې ده، او چا له چې الله پیغمبري ورکړي نو دهٔ له الله لوئي خیر ورکړي، تا له الله علم دَ قرآن درکړے دے او چا له چې الله علم دَ قرآن ورکړي نو دهٔ له الله لوئي خیر ورکړي".

لوئي خیر قرآن دې

قرآنِ عظیم کښې الله رب العزة فرمائي:

﴿وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا﴾.[1] "چا له چې پهٔ دین کښې پوهه ورکړے شوه نو پهٔ تحقیق سره هغهٔ ته لوئي خیر ورکړے شو".

نبي ﷺ تا له الله ډیر لوئي خیر درکړے دے:

﴿إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ﴾.[2]

"یقینًا درکړے دے مونږ تا له لوئي خیر".

(1) [سورة البقرة: 269].

(2) [سورة الكوثر: 1].

نو اے نبي (ﷺ)! دَ دې خیر شکریه دا ده: چې دا خلقو ته اورسَوه، او دا خلقو ته بیان کړه.

الله نبي ﷺ له دَ نبي ﷺ هغه صفتونه مخې له کوي، دا ورته نهٔ وائي: چې یا محمد!، دا ورته نهٔ وائي: چې "یا أیُّها الرسول!"، دا ورته نهٔ وائي: "یا أیُّها النبيُّ"، اولنے خطاب چې کوي نو ﴿يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ﴾ سره کوي، کله وائي: ﴿يَاأَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ﴾ دا ولې؟ دا دَ کمالِ محبت دلیل دے، دا دَ نرمۍ هغه نمونه ده. دَ عربو عادت دا وو: چې کوم سړي کښې به کوم صفت وو نو پهٔ هغې صفت باندې به ئې هغه یادولو، لکه نبي ﷺ کمبل اچولې ده، نو الله ورته وائي: ﴿يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ﴾ نبي ﷺ دَ نبوّت ذمّه واري اغستې ده نو الله ورته وائي: ﴿يَاأَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ﴾ نرمي غوندې ورسره کوي، چې دے مضبوط شي، تکړه شي.

مثال

مثال ئې دا دے: نبي ﷺ دَ سیدنا علي رضی الله عنه کور ته راغے، سیده فاطمه رضی الله عنها ته وائي: چې علي څهٔ شو؟ فاطمه رضی الله عنها ورته وائي: چې یا رسول الله! ما سره ئې لږ پهٔ څهٔ تکرار راغے، نو غصه شو او دَ کور نه اووتو، ما ته پته نشته چې چرته لاړو؟ نبي ﷺ وړیسې کرځیدو، چا ورته اووئیل: چې یا رسول الله ﷺ! سیدنا علي رضی الله عنه جوماټ ته تلے دے، جوماټ کښې دے، چې راغې جوماټ کښې نور څوک نشته. سیدنا علي رضی الله عنه یواځې جوماټ کښې دے او پهٔ خاورو کښې پروت دے، او بدن باندې ئې خاورې انختې وې، اودهٔ شوے دے. دَ نبي ﷺ دَ ترهٔ ځوې هم وو، او زوم ئې هم وو، ډیر پرې مئین وو، نبي ﷺ راغے او ورسره خوا کښې کیښناستو، ورته وائي:

«اجْلِسْ يَا أَبَا تُرَابٍ مَرَّتَيْنِ».[1]

او بعضې روایتونو کښې راځي:

«قُمْ يَا أَبَا تُرَابٍ».[2]

نو دا خو دَ هغهٔ لقب نهٔ وو، خو خاورې پرې پرتې وې.

---

(1) أخرجه البخاري في كتاب أصحاب النبي ﷺ، بَابُ مَنَاقِبِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ القُرَشِيِّ الهَاشِمِيِّ أَبِي الحَسَنِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، برقم: (3703).

(2) أخرجه أبو بكر محمد بن هارون الروياني في "مسند الروياني"، برقم: (1021).

«قُمْ يَا أَبَا تُرَابٍ». "اے دَ خاورو پلاره! پاسیږه".

هغهٔ چې سترګې را واړولې نو رسول الله ﷺ وو، رانیغ شو، او کیښناستو نو نبي ﷺ هغهٔ له ابو تراب وئیلو. نو بیا به خلقو سیدنا علي ﷺ ته دَ سپکوالي او تحقیر دپاره ابو تراب وئیلو، وائي: علي ﷺ خو ابو تراب دے، دَ خاورو پلار دے. نو سیدنا علي ﷺ ورته وائي: تاسو ما ته ابو تراب وایئ، قسم پهٔ الله دے! پهٔ دې زهٔ ډیر زیات خوشحالیږم؛ ځکه دا هغه تکے دے چې دا ما ته رسول الله ﷺ پهٔ خپل زبان مبارک باندې وئیلے دے، دا خو ما له خوند را کوي، چې څوک ما ته ابو تراب وائي، نو دا دَ ملاطفت دَ وجې نه داسې وو. او یا علماءِ کرام وائي: پهٔ دې لفظ ئې ورسره خطاب دَ دې دپاره کولو چې رسول الله ﷺ ډېره لکولې وه او پروت وو، سړے چې ستړے شي نو ډېره اولګوي، نو الله وائي:

﴿يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ﴾.

"اے څادر اغوستونکیه! اے کمبل کښې ځان پټونکیه!"، اشاره ده دې خبرې طرف ته چې نبي ﷺ ما تا له ډیر لوئې پیغام درکړے دے، ډیر لوئې مقام مې درکړے دے، لویه ذمه واري مې درکړې ده، دَ دې علاج دا نهٔ دے چې تهٔ آرام اوکړې، بلکه دَ دې علاج دا دے: چې تهٔ پاسه! دا بوج دَ سر نه لرې کړه، خلقو له دَ الله دین بیان کړه. نو ځکه ئې پهٔ دې القابو نبي ﷺ مخاطب کړو.

اشکال

﴿قُمْ فَأَنْذِرْ﴾.(1)

"پاسه! خلق اویَروه".

دلته اشکال دے: چې خلق اویَروه نو نبي ﷺ خو صرف یرول نهٔ کول، دَ نبي ﷺ صفت خو ﴿بَشِيرًا وَنَذِيرًا﴾(2) دے. زیرے ورکونکے او یره ورکونکے، نو دلته ځنګه وائي: چې ﴿قُمْ فَأَنْذِرْ﴾؟

یَو جواب دا دے: چې دا اولنے بیان دے، دَ زیري خلق پکښې څوک نهٔ وو، ټول کافران

---

(1) [سورة المدثر: 1-7].

(2) [سورة البقرة: 119، سورة سبا: 28].

دي؛ نو ځکه الله خپل نبي ﷺ ته وائي: چې ﴿قُمۡ فَأَنذِرۡ﴾.

یا وجه دا ده: چې انذار دَ نقصان نه ځان بچ کول دي، او بشارت خو دَ فائدې دَ شي زیرے ورکول دي، او قاعده ده: چې "دَ ضرر نه یَو سړے بچ کول دا ډیر اهم دي پهٔ نسبت دَ فائدې رسولو"، مثال پهٔ طور یَو سړے دَ دې چت نه را اوغورځیږي دا هم اهمه خبره ده، خو هغهٔ پهٔ نمر دے هغه سوري ته کول دا هم اهمه خبره ده. خو کهٔ یَو سړے دَ چت نه راغورځیږي اول هغه دَ دې غورځیدو نه بچ کول غواړي روستو ئې بیا سوري ته کښینوه. فائده روستو رسوه خو دَ نقصان نه ئې محکښې بچ کوه. یَو سړے دے هغهٔ باندې دا چت راپریوځي دا اوس هغهٔ له ضرر دے، خوراک څښکاک هغهٔ له فائده ده، خو تهٔ اول داسې اوکړه چې دَ دې ځائے نه ئې لرې کړه، چې دا چت پرې را اونهٔ غورځیږي، خوراک څښکاک ورله روستو راوړه، دا پروا نهٔ کوي، ضرر نه بچ کول دا محکښې دي پهٔ نسبت سره نفعې رسولو ته، نو انذار محکښې دے، دَ جهنم نه ځان بچ کړه، خلق اویَروه، نو روستو ورته بیا دَ جنتونو او بشارتونو خبرې کوه.

او یا بله وجه علماء دا وائي: ﴿قُمۡ فَأَنذِرۡ﴾، کامل انذار دا دے: چې هغې کښې بشارت هم وي، نو بشارت (زیرے) پکښې داخل دے.

﴿وَرَبَّكَ فَكَبِّرۡ﴾.[1]

پهٔ دې کښې طریقه دَ دعوت ذکر شوې ده: چې نبي! اوله شروع دَ الله دَ توحید نه اوکړه، "دَ ربّ لوئي خلقو له بیان کړه"، دَ ربّ شان بیان کړه؛ چې خلق دَ شرک نه بچ شي. او بیا وریسې وائي:

﴿وَثِيَابَكَ فَطَهِّرۡ﴾.[2]

"خپله جامه پاکه کړه".

دَ دې دوه معانې دي: یا خو ظاهري جامه مراد ده؛ ځکه چې مونځ کوې نو جامه پاکول فرض دي، چې جامه دې گنده وي نو مونځ نهٔ کیږي. دَ مونځ دپاره پاکې جامې اچول فرض دي،

(1) [سورة المدثر: 3].

(2) [سورة المدثر: 4].

خارج دَ مانځهٔ نه پاکې جامې اچول ثواب دے، فضیلت دے، ښهٔ خبره ده چې ستا جامې دې مونځ نه بهر هم پاکې وې. نو دا یَو معنٰی ده.

(۲) دویمه معنٰی: ﴿وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ﴾.[1]

یا دَ دې نه مراد باطني عمل ده. او دا واورئ! علماؤ لیکلي دي: چې ظاهري صفائي سبب دے دَ باطني صفائي، یَو سړے پهٔ جنابت کښې نهٔ دے، یَو سړے پهٔ اودس کښې ګرځي نو دَ دهٔ باطن به هم الله صفاء کړي. او چې کوم سړے اودس نهٔ کوي، هر وخت ګنده ګرځي نو دَ دهٔ باطن به دَ دې نه سېوا ګنده وي. دَ کوم سړي جامې چې صفا وي نو دَ دهٔ باطن به هم الله دَ ګناهونو نه صفا کړي، جامې ئې ګنده دي نو پوهه شه! چې دے به دننه هم داسې وي، ظاهري صفائي دا دَ باطني صفايئ یَو علامه ده.

(۳) دریمه معنٰی: ﴿وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ﴾.[2]

دَ دې نه مراد باطني طهارت دے، یعني خپل عمل پاک کړه، خپل زړهٔ پاک کړه، ولې؟؛ کهٔ یَو سړے دے او دَ هغهٔ پهٔ خیټه کښې حرام پراتهٔ دي، جامه ئې دَ حرامو ده، ظاهري جامه دې ښهٔ وینځلې ده، خو حرامه جوړه ده نو مونځ پکښې نهٔ کیږي، اګر چې تا ښهٔ صفا وینځلي دي او بیا دې خوړلي دي او حرام دي نو ستا دعاء ګانې قبلیږي؟ ستا عبادت قبلیږي؟ دَ الله نبي ﷺ وائي: یَو سړے به تلے وي، دَ لرې نه به ئې مزل کړے وي، هلته به الله ته ژاړي وائي به چې:

«يَا رَبِّ، يَا رَبِّ، وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ، وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ، وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ، وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ، فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ؟».[3]

"اے زما ربّه! اے زما ربّه!... (دَ دهٔ دعاء به څنګه الله قبوله کړي) خوراک ئې دَ حرامو، څښکاک ئې دَ حرامو، جامه ئې دَ حرامو، او دے لوئي شوے پهٔ حرامو وي نو دَ دهٔ دعاء به څنګه قبوله شي؟". نو خپل خوراک پاک کړه.

---

(1) [سورة المدثر: 4].

(2) [سورة المدثر: 4].

(3) أخرجه مسلم في كتاب الزكاة، بَابُ قَبُولِ الصَّدَقَةِ مِنَ الْكَسْبِ الطَّيِّبِ وَتَرْبِيَتِهَا، برقم: (1015).

(٤) **خلورمه معنٰی** دا ده: عمل سم کړه، دَ شرکیاتو او بدعاتو نه ځان اوساته!.

(٥) **پنځمه معنٰی**: اخلاق خائسته کړه. دَ داعي دپاره زبردست شے هغه اخلاق دي، نبي ﷺ سره چې به یَو سړے میلاؤ شو دَ هغهٔ دَ اخلاقو نه به متاثّره شو.

﴿وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ﴾.[1]

"او دَ ګندګئ نه ځان اوساته!".

"رِجْز" هر ګند، هره ګناه. او مفعول ئې مقدَّم کړو دپاره دَ حصر، دَ دې مطلب دا دے چې: دَ هرې ګناه نه به ځان ساتې!، داعي دپاره دا ضروري دي.

﴿وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ﴾.[2]

"پهٔ چا احسان مهٔ کوه چې هغه بیا ډیر ګنړې، یا دَ هغې نه ډیر ترې غواړې"، او طمع ترې کوې چې ما ورته اوړي وو نو.ما له به هم راوړي. نبي ﷺ دا شے نهٔ کولو؛ ځکه نبي ﷺ چې به چا سره څهٔ احسان کولو نو دَ الله رب العزة دَ رضاء دپاره به ئې کولو.

﴿وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ﴾.[3]

کله چې دعوت ورکوې نو ضرور به درته تکلیفونه رسي، مصیبتونه به درته رسي، نو کهٔ تهٔ دا سوچونه کوې نو بیا درنه کار پاتې کیږي، "دَ الله دِ رضاء دپاره به صبر هم کوې".

دا آیتونه راغلل او حدیث کښې راځي: دَ دې نه بعد بیا وحي ګرمه شوه، بیا وحي مسلسل شروع شوه. آئنده جُمعه کښې به ان شاء الله بیا وضاحت کوؤ چې دَ نبي ﷺ دَ دعوت طریقه کار څنګه وو؟

وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ لله رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

---

(1) [سورة المدثر: 5].

(2) [سورة المدثر: 6].

(3) [سورة المدثر: 7].

بسم الله الرحمن الرحيم

يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ (1) قُمْ فَأَنْذِرْ (2) وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ (٣) وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ

(سورة المدثر: 1-4)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه لسمه

"دَ دعوت اوله مرحله او اول ايمان چا راوړي وو؟ "

بتاريخ: 2022-02-18

مقام: جلسئ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

سيرة النبي ﷺ حصه لسمه

"دَ دعوت اوله مرحله او اول ايمان چا راوړې وو؟"

اَلْحَمْدُ لله نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنُؤْمِنُ بِه وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ وَحْدَهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهُ وَلَا آخِرَ لَهُ لَا ضِدَّ لَهُ وَلَا نِدَّ لَهُ وَلَا مُمِدَّ لَهُ وَلَا بَشِيْرَ لَهُ وَلَا نَذِيْرَ لَهُ وَلَا وَزِيْرَ لَهُ وَلَا مُشِيْرَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ وَسَلَّمَ عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿يَآأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ * قُمْ فَأَنْذِرْ * وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ * وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ﴾.(1)

عزتمندو حاضرينو مسلمانانو رونړو! دَ رسول الله ﷺ سيرتِ مباركه دَ هغې څهٔ حصه مونږه بيان کړې وه. دا وئيلے شوي وو: چې رسول الله ﷺ ته اولنۍ وحي چې راغله نو دَ هغې نه بعد پهٔ وحي کښې انقطاع او بندش راغے، څوک دوه نيم کاله او څوک درې کاله وقفه يادَوي او څوک کمه يادَوي، اختلاف دَ اقوالو شته، وحي بنده وه او دويمه وحي چې بيا راتله نو دَ سورة المدثر ابتدائي آيتونه نازل شول، دَ هغې تفصيل او وضاحت مخکښې شوے وو.

دَ دعوت ابتداء او اولنې ايمان

نن جُمعه کښې دا ذکر کوو: چې دَ رسول الله ﷺ دعوت دَ کوم ځائے نه شروع شو او اول پهٔ نبي ﷺ باندې ايمان چا راوړے وو؟ دا مسئله دَ محدثينو پهٔ مابين کښې اختلافي ده: څوک وائي: اول ايمان سيده خديجې ﷺ راوړے دے، څوک وائي: اول ايمان سيدنا علي ﷺ راوړے وو، څوک وائي: اول ايمان زيد بن حارثه ﷺ راوړے وو، او څوک وائي: چې اول ايمان ابو بکر صديق ﷺ

(1) [سورة المدثر: 1-4].

راوړے وو. دَ هر يَو خپل وجوهات او دلائل هم دي، خو جګړو ته ضرورت نشته دے.

دَامام ابو حنيفه رحمه الله تطبيق

تطبيق به داسې شي: امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائي (او نورو محدثينو او علماؤ هم دا ليکلي دي):
"چې په زنانؤ کښې اول ايمان خديجة الکبرٰی رضي الله عنها راوړے وو، او په مشرانو سړو کښې اول ايمان ابو بکر صديق رضي الله عنه راوړے وو، په غلامانو کښې اول ايمان زيد بن حارثه رضي الله عنه راوړے وو، او په ماشومانو کښې اول ايمان علي رضي الله عنه راوړے وو". نو دا بيا بيله بيله طبقه شوه.

دَ شيخ الحديث مولانا محمد ادريس کاندهلوي رحمه الله قول

شيخ الحديث مولانا محمد ادريس کاندهلوي رحمه الله په "سيرة المصطفٰی" کښې داسې وائي: چې اول ايمان دَ ټولو نه مخکښې خديجة الکبرٰی رضي الله عنها قبول کړے وو، او اول مونځ هم دَ نبي ﷺ سره خديجة الکبرٰی رضي الله عنها کړے وو، چې دا دَ اسلام يَوه نخښه وه. بيا ورقه بن نوفل دَ دهٔ باره کښې هم اختلاف شته: څوک وائي: چې دے مسلمان شوے وو، تصديق ئې دَ نبي ﷺ کړے وو. مخکښې ما دَ دهٔ تفصيل کړے وو، چې ورقه بن نوفل دَ خديجې رضي الله عنها دَ ترهٔ ځوي کيدو، او دے نصرانيت ته اوړيدلے وو، نصرانيت ئې قبول کړے وو، انجيل به ئې لوستلو او دَ دې معنٰی به ئې بيا خلقو ته په عربۍ ژبه کښې کوله، ډير اوښيار وو، مشر سړے وو، نبي ﷺ چې خديجې رضي الله عنها دَ ورقه بن نوفل خوا ته بوتلو، خبرې اترې اوشوې نو ورقه ورته وائي: دا هغه ناموس دے، دا هغه صاحب السِّر دے، هغه پټ راز والا سړے دے چې کوم به موسٰی عليه السلام ته وحي راوړه، او تهٔ به پيغمبر ئې او خلقو ته به بيان کوې. او يَو ارمان ئې هم کړے وو: چې کاش! زهٔ پهٔ هغه وخت کښې تکړه وے او قابل وے، مضبوط وے، يا ژوندے وے چې ما ستا مضبوط امداد کړے وے. نو بعضې علماء دا وائي: چې دَ دې خبرو نه ئې دا معلوميږي چې دهٔ پهٔ نبي ﷺ باندې ايمان راوړے وو.

بعضې وائي: چې نبي ﷺ خو لا دعوت نهٔ وو شروع کړے نو دهٔ پهٔ نبي ﷺ باندې څنګه ايمان راوړے وو؟ نو دا يَو قسم تصديق غوندې شو. څوک وائي: دَ دهٔ ايمان لکه دَ بحيرا راهب پشان وو، مخکښې دَ هغهٔ واقعه تيره شوې وه. څوک وائي: چې منلے ئې وو خو دے بيا وفات شوے

وو. وریسې بیا علي ﷺ ایمان راوړے وو. او بیا وریسې ابو بکر صدیق ﷺ ایمان راوړے وو.

صاحب دَ "الرحیق المختوم" هم پهٔ دې طریقه نقل کړي دي؛ وجه دا وه: چې دا اولنۍ خبرې چې نبي ﷺ اول دَ خپلې کورنۍ نه شروع اوکړه، نو دَ ټولو نه اول نبي ﷺ خدیجې ﷺ ته دَ خپل ځان حال بیان کړو، او هغې پرې ایمان راوړو. او دا ما مخکښې وئیلي وو: چې خدیجې ﷺ دا نخښې دَ مخکښې نه معلومې کړې وې، هغې ته میسره وئیلي وو. میسره چې دَ هغې غُلام وو، دَ الله دَ نبي ﷺ سره تجارت ته تلے وو، نو هغهٔ ورته دَ سفر قصې کړې وې: چې وریځ به دَ دهٔ دپاسه روانه وه، دارنګې وُنو به دهٔ ته سوري کول، خلقو دَ هغهٔ دَ نبوّت شهادتونه ورکول، دَ هغې نه دَ خدیجې ﷺ پهٔ زړهٔ کښې دا خبره وه: چې دهٔ له به الله پیغمبري ورکوي.

بل دا چې خاوند له ښځهٔ ښهٔ معلومه وي او ښځې له خاوند ښهٔ معلوم وي. نو دَ نبي ﷺ هغه خویونه او عادتونه دَ خدیجې ﷺ خو ورسره شریک ژوند وو، هغې له نبي ﷺ معلوم وو، چې داسې اخلاقو والا پهٔ عامو خلقو کښې څوک نهٔ وو، لکه څنګه اخلاق چې پهٔ نبي ﷺ کښې وو؛ ځکه خو ورله خدیجې ﷺ ډېر صفتونه کول، چې: "كَلَّا وَاللهِ مَا يُخْزِيكَ اللهُ أَبَدًا، إِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ، وَتَحْمِلُ الكَلَّ، وَتَكْسِبُ المَعْدُومَ، وَتَقْرِي الضَّيْفَ، وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الحَقِّ".[1] نو دا ټول صفتونه چې به هغې کتل نو څهٔ نا آشنا وو، غارِ حراء له به چې دَ الله نبي ﷺ دَ عبادت دپاره ختلو او راکوزیدو به نو دا حالات خو دَ هغې مخې ته وو.

دَ خدیجة الکبری ﷺ نبي ﷺ له تسلي

چې څنګه خدیجې ﷺ دا واوریدل چې نبي ﷺ اوفرمائیل: ما ته څوک راغلل، او اوئې وئیل: «لَقَدْ خَشِيتُ عَلَى نَفْسِي». "چې زهٔ خو پهٔ خپل ځان اویریدم".

نو ډارک ورته خدیجة الکبرٰی ﷺ وائي: "كَلَّا وَاللهِ مَا يُخْزِيكَ اللهُ أَبَدًا، إِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ، وَتَحْمِلُ الكَلَّ، وَتَكْسِبُ المَعْدُومَ، وَتَقْرِي الضَّيْفَ، وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الحَقِّ".[2]

(1) أخرجه البخاري في بدء الوحي، برقم: (3).

(2) أخرجه البخاري في بدء الوحي، برقم: (3).

"هیڅرې داسې نهٔ ده، تا به الله څرته هم نهٔ سپوروي، تا به الله څرته هم نهٔ خرابوي؛ ځکه تهٔ دَ ډېرو ښو عادتونو او ښو اخلاقو والا شخصیت ئې...".

نو پوهه شوه چې دا جبرئیل امین عليه السلام دے، او دَ الله نبي ﷺ ته ئې وحي راوړې ده، نو اول ایمان پرې هغې راوړو.

او علماؤ لیکلي دي: چې اول مونځ هم دَ نبي ﷺ سره خدیجة الکبرٰی رضي الله عنها کړے وو. دا خو صحیح ده: چې مونځ دَ معراج پهٔ شپه باندې فرض شوے وو. مفسرین او محدثین ذکر کوي: چې دویمه وحي نبي ﷺ ته دَ ماښځهٔ باره کښې وه، خو وحي جلي نهٔ وه بلکه وحي خفي وه، جبرئیل امین عليه السلام راغلے وو، او نبي ﷺ ته ئې اول دَ اودس طریقه اوښودله: خپه ئې زمکې ته راخلاصه کړه او زمکې نه اوبهٔ راروانې شوې، اول پرې هغهٔ اودس اوکړو، بیا ئې نبي ﷺ ته اوفرمائیل: چې تهٔ هم پهٔ دې اوبو باندې اودس اوکړه، او ماته ګوره، پهٔ دې طریقه باندې کوه. او کله چې نبي ﷺ اودس اوکړو او جبرئیل امین عليه السلام خو مخکښې اودس کړے وو، جبرئیل امین اودریدو او نبي ﷺ ته وائي: چې ما پسې اودریږه، داسې به بیا مونځ کوې. نو دوه رکعته مونځ نبي ﷺ او جبرئیل عليه السلام اوکړو. دا ابتدائي مونځ دوه رکعته وو. او حدیث کښې هم راځي: چې اول کښې مونځ دوه رکعته وو، نو دَ سفر هغه پهٔ خپل حال پاتې شو او دَ حضر هغې کښې بعضې څلور شول. خو دا هغه اولنے دور دے چې څوک ځُلهٔ هم نهٔ شي کولاؤولے، کیر چاپیره کفّار دي.

نبي ﷺ به پهٔ کور کښې دننه مونځ کولو، نو خدیجه رضي الله عنها به ورسره هم اودریده، نبي ﷺ او خدیجې رضي الله عنها به دواړو شریک مونځ اوکړو. ابتدائي دور وو.

پهٔ ابتداء کښې مونځ څو تائمه وو؟

خو دا خبره یاد اوساتئ! چې دا مونځ فرض وو او کهٔ دا واجب وو او کهٔ نفل یا سنت وو؟ پهٔ دې کښې دَ علماء کرامو اختلاف شته. او دا څو تائمه مونځ وو؟ نو پهٔ دې کښې هم دَ علماؤ ډېر اقوال دي، خو علماء وائي: اصحّ دا ده: چې دوه تائمه مونځ وو، دَ قرآن دَ آیتونو نه هم داسې معلومیږي: (۱) دَ سحرمونځ وو، (۲) دَ نمر پریوتو نه پس (دَ ماښام) مونځ وو، او یا دَ مازیګرې

مونځ وو. یعني دَ ورځې په اول کښې او دَ ورځې په آخر کښې، نور مونځونه نهٔ وو. او مونځونه به هم دوه دوه رکعته وو. او دلیل ئې دا دے: چې الله رب العزة فرمائي:

﴿وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ﴾.(1)

"تسبیح وایه په صفتونو دَ ربّ ستا باندې یعني سره دَ صفتونو دَ ربّ ستا (وائي: دَ دې نه مراد مونځ شو) صبا او بیګا (دَ دې نه مراد دوه وخته مونځ شو)".

دارنګې بل ځائے کښې الله رب العزة فرمائي:

﴿وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا﴾.(2)

"اے نبي ﷺ! دَ خپل ربّ صفتونه کوه، دَ خپل ربّ تسبیحات وایه یعني سره دَ صفتونو دَ ربّ ستا (یعني تسبیح هم وایه او مدح او صفت هم کوه) مخکښې دَ راختلو دَ نمر نه او مخکښې دَ ډوبیدلو دَ نمر نه (دوه ټائمه سحر او مازیګر)".

نو دا دوه ټائمه ابتداءً وو.

دَ معراج په شپه دَ مونځونو فرض کیدل

بیا دَ معراج په شپه باندې پنځوس (۵۰) مونځونه فرض شوي دي، لیکن نور بیا دَ نبي ﷺ په بار بار واپس کیدو باندې چې موسٰی علیه السلام به ورته وئیل: چې لا رشه دا ډیر دي، چې کم شي، او دَ نبي ﷺ په بار بار منت کولو باندې پنځهٔ مونځونه پاتې شوي دي. ګني ابتداءً کښې دَ معراج په شپه دا پنځوس (۵۰) فرض شوي وو. خو الله ډیر مهربانه ذات دے دَ دې پنځو ثواب ئې دَ پنځوسو (۵۰) برابر کړو.

دَ یو نیکۍ بدله په لس

الله رب العزة فرمائي:

﴿مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا﴾.(1)

(1) [سورة المؤمن: 55].

(2) [سورة طه: 130].

الله فرمائي: "چا چې يَو نيکي اوکړه دَ دهٔ دپاره به دَ هغې پشان لس (۱۰) بدلې وي...".
نو يَو مونځ دے او پهٔ لس (۱۰) باندې حسابيږي، نو چې پنځهٔ وخته مونځ وې او هغې له پهٔ لسو کښې ضرب ورکړې نو پنځوس شول. بيا روستو پنځهٔ شوي دي، ابتداء کښې صرف دَ سحر او دَ مازيګر مونځ وو. نو دا مونځ چې به نبي ﷺ کولو نو خديجې ﷺ به ورسره هم کولو.

دَ نبي ﷺ سيدنا علي ﷺ ته دعوت ورکول

دَ دې نه بعد نبي ﷺ سيدنا علي ﷺ ته دعوت ورکړو، او دَ علي ﷺ عمر پهٔ دغه وخت کښې لس (۱۰) کاله وو. دَ لسو کالو ماشوم دے خو اوښيار دے. زمونږ ماشومان چې دَ لسو کالو شي نو پهٔ خپل ځان باندې هم نهٔ پوهيږي، چې زهٔ څهٔ کوم او څهٔ نهٔ کوم؟ نو علي ﷺ دَ لسو کالو ماشوم وو خو ډير قابل او ډير اوښيار وو. او عجيبه دا ده: "سيرة ابن هشام" ليکلي دي: "چې دا علي ﷺ دَ نبي ﷺ پهٔ پرورش کښې وو"؛ ځکه دَ نبي ﷺ دَ ترهٔ ځوي وو کنه. دَ الله عجيبه غونډې نظام دے: چې نبي ﷺ وړوکے وو، نو نيکهٔ ساتلو، بيا ترهٔ سره وو، او کله چې دَ الله نبي ﷺ پهٔ خپلو خپو اودريدو نو بيا نبي ﷺ اووئيل: زما دې ترهٔ ته ګرانه ده؛ بچي ئې ګنړ دي او غريبي او قحط دے نو دا يَو ځوي به دَ دهٔ زما سره وي. نو دَ هغهٔ هغه ځوي ئې دَ ځان سره راوستو.
علماؤ ليکلي دي: "مکه باندې يَو ځل قحط سالي راغله، هيڅ شے به نهٔ ميلاويدو، کارونه نهٔ وو"؛ چې غريبي شي نو صرف دا نهٔ وي چې خوراک نهٔ ميلاويږي بلکه بيا کار هم نهٔ ميلاويږي. نو سيدنا عباس ﷺ چې دا دَ نبي ﷺ ترهٔ دے، او دا دَ نبي ﷺ کشر ترهٔ وو، کشر ترهٔ دَ سړي سره داسې همزولے غونډې لګي، نو نبي ﷺ عباس ﷺ ته وائي: چې کاکاجي! قحط سالي ده، او زمونږ دا ترهٔ (ابو طالب) اوس کمزورے دے، نو داسې کوو چې ورسره ورځو او دهٔ ته منت کوو: چې دا بچي مونږ له راکړي، مونږ به ئې ساتو، روزانه هلته څهٔ شے اوړل او راوړل ګران وي، نو دلته به ورله مونږ پرورش کوو. نو نبي ﷺ او عباس ﷺ دواړه لاړل، ابو طالب ته وائي: چې تا مونږ له ډير

(1) [سورة الأنعام: 160].

خدمتونه کړي دي نو اوس مونږ له هم موقع راکړه، تا له به ګرانه وي او دا بچي مونږ ته حواله کړه.

دَ ابو طالب درې (۳) ځامن وو: (۱) يَو: سيدنا علي ﷺ (۲) دويم: سيدنا جعفر ﷺ او (۳) دريم: عقيل وو. ابو طالب ورته وائي: دا يَو عقيل ماته پريږدوئ چې زما خدمت کوي او دا نور کۀ تاسو بوځئ نو بوځئ ئې. نو دوي تقسيم اوکړو: سيدنا جعفر ﷺ دا عباس ﷺ دَ ځان سره بوتلو، وائي: دے به زۀ ساتم. علي ﷺ وړوکے ماشوم وو، نبي ﷺ اووئيل: چې دے به زۀ دَ ځان سره بوځم. نو علي ﷺ نبي ﷺ راوستو نو دَ نبي ﷺ سره به کور کنبې اوسيدو، خرچ او خوراک وغيره به پرې دَ الله نبي ﷺ کولو.

دَ علي ﷺ اسلام قبلول

نو نبي ﷺ چې کله رو رو دعوت دَ اسلام شروع کړو، کور والا ئې مسلمانه شوه، ښځې او خاوند دواړو به مونځ کولو، نو علي ﷺ چې دا منظر کتلو: چې دا دوي څۀ کوي؟ کله اودريږي او کله کښيني، حيران دے، نو نبي ﷺ علي ﷺ ته هم دَ اسلام دعوت ورکړو: چې اے علي! اسلام راوړه، دا اووايه او دَ دې ګواهي ورکړه چې "أَشْهَدُ أَن لَّا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ". حضرت علي ﷺ ورته وائي: چې دا خو ما چرته نۀ دي اوريدلي، دا خو څۀ نا آشنا کلمه ده، دا خو څۀ نا آشنا خبره ده، نو ورته وائي: ستا دا خبره خو ډيره خوږه ده، خو داسې ئې زۀ نۀ شم منلے، زۀ به اول لاړم شم او دَ خپل پلار سره به صلاح (مشوره) اوکړم (ابو طالب ورته يادَوي)، هغۀ ته به اووايم چې هغه راته څۀ وائي. ځکه دا خو ډيره غټه خبره ده چې دَ پلار نيکۀ نظريه پريږدې او نوے دين شروع کوې. نو وائي: داسې ئې نۀ شم قبلولے، زۀ به دَ خپل پلار نه تپوس اوکړم او چې پلار راته اووئيل: نو زۀ به ئې اومنم. نبي ﷺ سوچ اوکړو چې دا خو لا ابتداء ده، زۀ چاته غږ نۀ کوم، او کۀ دۀ پلار خبر کړو نو ټوله دنيا به رانه خبر شي، پۀ ځائے دَ فائدې به نقصان اوشي. نو نبي ﷺ ورته وائي: علي! خوښه ستا ده کۀ مني اومنه او کۀ نۀ مني نو مۀ منه خو چې خبره دې چا ته دَ خُلې نه رااونۀ ځي، چا ته به وائې نۀ. علي ﷺ پوهه شو: چې دا خو دَ راز خبره وه. علي ﷺ لا مسلمان شوے نۀ دے، او وړوکے ماشوم دے نو ورته وائي: چې چا ته غږ نۀ

کوم خو سوچ پرې کوم. چې سوچ ئې اوکړو او سحر راغے نو نبي ﷺ ته وائي: ماته کلمه وايه. نو علي رضي الله عنه سحر ايمان راوړو، نۀ ئې دَ پلار نه تپوس اوکړو او نۀ ئې دَ بل چا نه تپوس اوکړو، دَ پلار نه پټ به ئې مونځ کولو، دَ نبي ﷺ سره ئې مونځ شروع کړو، يَو ورځ پۀ مانځۀ ولاړ دے او پلار ئې (ابوطالب) راغے، چې اوئې کتل نو وائي: دا علي څۀ کوي؟ کله کيښني او کله پاسي. نبي ﷺ ته ئې اووئيل: چې نن خو مې علي پۀ يَو نا آشنا کار اوليدو، دا خو چرته دۀ نۀ وو کړے. نبي ﷺ او علي رضي الله عنه ورته وائي: دا مونږ اسلام قبول کړے دے.

ابو طالب ته دعوت ورکول

ابو طالب ته وائي: تۀ هم اِسلام راوړه، ابو طالب ته ئې دعوت ورکړو، چونکه دَ ابو طالب خو تول عمر پۀ جهالت کښې تير شوے وو، نو هغۀ اووئيل: نا! ستاسو دا خبرې ډيرې حق دي، او ډيرې صحيح دي خو ما نه دَ پلار، نيکۀ دين پاتې کيږي، دَ مشرانو طريقې رانه پاتې کيږي.... دَ مشرانو دا طريقې خلقو ته دَ الله دَ طريقو نه هم بعضې وخت خوږې وي، دَ الله دَ دين نه او دَ نبي ﷺ نه هم خوږې وي، اوس هم بعضې خلق چې تۀ به ورته قرآن وائې، تۀ به ورته حديث وائې او دے به وائي: مونږ له زړې خبرې ښې دي. ابو طالب اووئيل: چې زۀ دا نۀ شم کولے. ابو طالب انکار اوکړو، او علي رضي الله عنه ته وائي: چې بچيه! ښۀ کار دې کړے دے، چې دَ دې خپل دَ ترۀ ځوي سره ولاړ ئې، صحيح کار دې کړے دے.

دا پښتو وه (غيرت وو): وائي: زۀ خو شرميږم؛ ځکه دا خلق به وائي: چې پۀ سپينه ږيره ئې دَ پلار نيکۀ دين پريخودو، خو تا ښۀ کار کړے دے.

دَ جعفر بن ابي طالب رضي الله عنه ايمان راوړل

جعفر رضي الله عنه چې هغه هم دَ ابو طالب ځوي وو، خو هغه دَ عباس رضي الله عنه سره وو، هغۀ او ابو طالب يَو ځل پۀ لار باندې روان دي، حضرت علي رضي الله عنه پۀ مانځۀ ولاړ دے، نبي ﷺ دے او علي رضي الله عنه دے، او دَ نبي ﷺ کور والا دي، نو ابوطالب جعفر ته وائي: ورشه بچيه! تۀ هم دَ دوي سره اودريږه؛ ځکه دا دې دَ ترۀ ځوي دے يواځې به ئې نۀ پريږدې، دَ دۀ سره ملګري شئ. داسې غيرتي وو، نو جعفر رضي الله عنه

هم مسلمان شو. رو رو مسئله سیوا کیده.

زید بن حارثه ﷺ ته دعوت

زید بن حارثه چې دا دَ نبي ﷺ غلام وو، دهٔ ته چې نبي ﷺ دعوت ورکړو نو هغه اووئیل: چې ما ته هم کلمه اووایه. دَ کور خلق الله مسلمانان کړل.

دَ نبي ﷺ دَ دعوت طریقه

دَ نبي ﷺ دَ دعوت طریقه درې (۳) قسمه وه، دَ مکې درې (۳) قسمه دور وو:

(۱) یَو دور هغه وو: چې دا اولني درې (۳) کاله دا خُفْیَةً دعوت وو، پټ دعوت وو، تا سره میلاؤ شوے دعوت درکړے، دهٔ سره میلاؤ شوے دعوت ورکړے، بل سره میلاؤ شوے دعوت ورکړے.

(۲) دویم دور: هغه ښکاره دعوت وو، یَو ځائے کښې اعلان کوه، بل ځائے کښې اعلان کوه، جنګ، جګړې، شور، شغرَبْ پکښې جوړ شو، ښکاره دعوت شروع شو.

(۳) دریم دور: آخري دور دَ نبي ﷺ دا وو، دورِ ثالث چې ورته وائي، پهٔ هغې کښې بیا دَ مکې نه بهر دعوت شروع شو. نو اول پهٔ مکه کښې پټ دعوت بیا ښکاره دعوت او بیا بهر ښکاره دعوت شروع شو، بادشاهانو ته به ئې خطونه لیږل، نورو قبائلو ته به نبي ﷺ دعوت له تلو، دا بیا دریمه مرحله ده.

دَ هر څیز خپله طریقه کاروي

دَ هر څیز خپله طریقه ده، دَ الله نبي ﷺ پهٔ اوله ورځ باندې ټولې مسئلې هم نهٔ دي کړې، پهٔ اول ورځ باندې جومات کښې منبر ته هم نهٔ دے ختلے، پهٔ اوله ورځ ئې دارک بیان هم نهٔ دے شروع کړے؛ ځکه چې یَو سړے دَ سَره تا پیژني نهٔ، ستا دعوت نهٔ پیژني نو ځان پرې وژني. نو پهٔ دې وجه دعوت حکمت غواړي، طریقه غواړي. نو نبي ﷺ رو رو دعوت شروع کړو، خو پهٔ پټه باندې.

سیدنا ابو بکر صدیق ﷺ له دعوت ورکول

دَ ټولو نه سیوا دَ نبي ﷺ دوست چې وو هغه ابو بکر صدیق ﷺ وو، نبي ﷺ راغے او ابو بکرَ صدیق ﷺ ته وائي: یا ابا بکر! ما ته الله دا وحي رالیږلې ده، او زهٔ الله پیغمبر مقرر کړے یم،

نو دا کلمه وئیل غواړي، دا دین منل غواړي، ته ما سره دَ دې منلو ته تیار ئې او که نهٔ ئې تیار؟ ابو بکر صدیق ﷺ ورته وائي: دَ الله نبي! ما ته کلمه وایه، زما بے شکه یقین دے چې ته نبي ئې او تا چرته دروغ نهٔ دي وئیلي. ابو بکر صدیق ﷺ پهٔ احرارو کښې پهٔ مشرانو کښې چې پهٔ نبي ﷺ باندې ئې اول ایمان راوړے دے هغه ابو بکر صدیق ﷺ دے.

فضیلت دَ ابوبکر ﷺ پهٔ علي ﷺ باندې

شیخ الحدیث مولانا محمد ادریس کاندهلوي رحمه الله لیکلي دي... بعضې خلق وائي: دَ علي ﷺ مرتبه ځکه اوچته ده؛ چې هغه اول مسلمان شوے دے. مونږ صحابوٴ ﷺ کښې تفرقه نهٔ کوو، صحابه کرام ﷺ ټول زمونږ دپاره دَ آسمان ستوري دي، صحابه کرام ﷺ ټول دَ هدایت ستوري دي، صحابه کرامو ﷺ پسې خبرې کول دَ ایمان نقصان دے، صحابوٴ ﷺ سره مینه دَ ایمان کمال دے. نو مونږ دَ صحابوٴ ﷺ مابین کښې تفرقه او فرقونه نهٔ کوو، خو چونکه چې شیعه فرقونه کوي نو مونږ هغوي ته وایُو: چې مبالغې ډیرې مهٔ کوئ، علي ﷺ صحیح ده چې ایمان ئې راوړے وو، خو وائي: زهٔ به دَ پلار نه تپوس اوکړم، بیا ئې اووئیل: چې زهٔ به سوچ اوکړم او بیا روستو مسلمان شو، او ابو بکر صدیق ﷺ هغه سړے وو چې دَ الله دَ نبي ﷺ دَ خُلې نه خبره وتل او دَ هغهٔ ډارک ایمان راوړل.

"صحیح البخاري" کښې حدیث راځي: ابو بکر صدیق ﷺ سره یَو ځل عمر فاروق ﷺ څهٔ خبرې واړولې، نو عمر ﷺ راغے او نبي ﷺ ته وائي: یا رسول الله! دا ابوبکر زما نه خفه شوے دے، خبرې راسره نهٔ کوي، کهٔ ما له دې ورسره روغه اوکړه. وائي: ولې؟ وائي: داسې څهٔ خبره راغله. دَ الله نبي ﷺ غصه شو او اوئې وئیل: "خبردار! چې چا ابو بکر خفه کړو زهٔ ئې خفه کړم؛ ابو بکر هغه سړے دے چې کله ما دعوت شروع کړو نو تاسو ټولو زما تکذیب کړے وو، او روستو مو را باندې ایمان راوړے دے او ابو بکر هغه سړے وو چې اول هغهٔ زما دَ خبرې تصدیق کړے وو. نو ابو بکر به تاسو څنګه خفه کوئ!!".

نو دا ابو بکر هغه سړے وو چې اول تصدیق دَ نبي ﷺ ئې کړے وو.

او بل دا چې ماشوم خو دَ مشر تابع وي، او علي ﷺ خو دَ نبي ﷺ پهٔ کور کښې پاتې شوے وو، چې مشر څهٔ کوي نو ماشوم هم هغه کوي. او کهٔ خدیجې ﷺ اول ایمان راوړے دے نو هغه خو دَ نبي ﷺ بي بي وه، ښځهٔ دَ خاوند نه بله نهٔ شي کولے. او کشر دَ مشر نه بله نهٔ شي کولے. زید بن حارثه ﷺ غلام دے، هغه دَ خپل مالک نه بله نهٔ شي کولے. ابو بکر ﷺ خو يَو آزاد سړے وو، دَ چا پرې څهٔ احسان نهٔ وو، دَ چا پرې څهٔ قرض نهٔ وو، دَ چا پهٔ غلامئ کښې نهٔ وو او چا مجبوره کړے هم نهٔ وو، او هغه ایمان راوړي. نو واقعي چې دا دَ کمال خبره ده چې سیدنا ابو بکر صدیق ﷺ دارک ایمان راوړو.

او بل دا کهٔ حضرت علي ﷺ ایمان راوړے دے، حضرت زید ﷺ او خدیجې ﷺ هم ایمان راوړے وو، نو دوي ایمان راوړے وو خو صرف خپله مسلمانان شوي وو، خدیجه ﷺ خو کور کښې ناسته وه، بهر خو نشوه وتلے، علي ﷺ ماشوم وو، بل چا ته ئې دعوت نهٔ شو ورکولے، او زید ﷺ خو خپله غلام وو، هغهٔ به څنګه دعوت ورکړے وے. او سیدنا ابو بکر صدیق ﷺ خپله یواځې مؤمن شوے نهٔ دے بلکه دَ خپل ایمان سره ئې نورو خلقو له هم دعوت ورکړے دے، هغوي ئې راوستې دي او هغوي ئې مسلمانان کړي دي، ولې چې هغه خو به ګرځیدو، خلقو سره به ئې ملاقاتونه کول.

نو علي، زید بن حارثه، خدیجة الکبرٰی او ابو بکر صدیق دا دَ اولنئ ورځو مسلمانان وو، او دغه وخت دا يَو څو ملګري وو. بیا رو رو پټ دعوت شروع شو.[1]

دَ شیخ الحدیث مولانا محمد ادریس کاندهلوي ﷺ قول

شیخ الحدیث مولانا محمد ادریس کاندهلوي ﷺ لیکلي دي: چې حضرت عثمان بن عفان، حضرت زبیر بن عوام، عبد الرحمٰن بن عوف، طلحه بن عبید الله، سعد بن ابي وقاص ﷺ دا لوئي لوئي خلق دَ حضرت ابو بکر صدیق ﷺ پهٔ لاس مسلمانان شوي دي. ابو بکر صدیق ﷺ به دوي له دعوتونه ورکول، او دَ الله دَ نبي ﷺ ملاقات ته به ئې راوستل، او دوي به مسلمانان کیدل. بیا دَ هغې نه پس دا صحابه کرام ﷺ مسلمانان شول: ابو عبیده، عامر بن الجراح، ارقم بن ابي الارقم، مظعون

(1) انظر: "سیرة المصطفٰی": (1/152-153).

بن حبيب، عثمان بن مظعون، قدامه بن مظعون، عبد الله بن مظعون (دا دَ مظعون بن حبيب درې (۳) ځامن وو)، عبيده بن الحارث، سعيد بن زيد بن عَمرو بن نفيل، دَ هغه كور والا فاطمه بنت خطاب (دا دَ عمر بن الخطاب رضي الله عنه خور وه)، اسماء بنت ابي بكر، خباب بن ارت، عمير بن ابي وقاص، او دَ هغهٔ رور عبد الله بن مسعود، او مسعود بن القاري، سليط بن عمرو، عياش بن ابي ربيعه او دَ هغهٔ كور والا اسماء بنت سلامه، خنيس بن حذافه، عامر بن ربيعه، عبد الله بن حجش او دَ هغهٔ رور احمد بن جحش، جعفر بن ابي طالب او دَ هغهٔ كور والا اسماء بنت عُميس، حاطب بن الحارث او دَ هغهٔ كور والا فاطمه بنت محلل، او دَ هغهٔ رور خطاب بن الحارث او دَ هغهٔ كور والا فكيهه بنت يسار، معمر بن الحارث، سائب بن عثمان بن مظعون، مطلب بن ازهر او دَ هغهٔ كور والا رمله بنت ابي عوف، نعيم بن عبد الله النحام، عامر بن فهيره (دا دَ ابو بكر صديق رضي الله عنه آزاد شوے غلام وو)، خالد بن سعيد بن العاص او دَ هغهٔ كور والا اميه بنت خلف، حاطب بن عمرو، ابو حذيفه بن عتبه، واقد بن عبد الله، بكير بن عبد ياليل، خالد، عامر، عاقل او اياس، عمار بن ياسر، صهيب بن سنان او عبد الله بن جدعان.

دا ټول خلق پهٔ اوائلو دَ اسلام كښې دي، دا دَ هغې اول دور مسلمانان وو، څهٔ دپاسه سل(۱۰۰) كسان الله تعالىٰ پهٔ اولني دور كښې مسلمانان كړي وو.

او رو رو بيا جهرًا دعوت شروع كيدو، نو نبي ﷺ بيا جهرًا دعوت (ښكاره دعوت) شروع كړے دے. خو كهٔ مونږ دَ يو يو دَ اسلام دعوت بيانَوُو نو بيا به سيرت ډير اوږد شي؛ لهٰذا اختصار به كوو. بله جُمعه كښې به دَ نبي ﷺ دَ جهرًا دعوت ذكر راځي ان شاء الله.

وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

بسم الله الرحمن الرحيم

وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ

(سورة الشعراء: 214)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه يوولسمه

"بيان دَ جهري دعوت دَ نبي عليه السلام "

بتاريخ: 2022-02-25

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّآني حفظه الله

سيرة النبي ﷺ حصه يوولسمه

"بيان دَ ښکاره تبليغ دَ نبي عليه السلام"

اَلْحَمْدُ لله نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِه وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلاَ مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلاَ هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ﴾.(1)

حاضرينو عزتمندو مسلمانانو رونړوا دَ رسول الله ﷺ دَ سيرت څۀ حصه مخکښې بيان شوې وه. چې وحې ورته مِلاؤ شوه، دَ دعوت پۀ کار مامور شو نو دَ نبي ﷺ دَ دعوت طريقه کار څۀ وو؟ نو ابتداءًا اولنې درې (۳) کاله سرًّا (پۀ پټه) دعوت چلولو، يَو ملګري ته پټه خبره کړې، بل ملګري ته پټه خبره کړې، خلقو له ئې دعوت پۀ دغه طريقه ورکولو، چا به مسئله منله او چا به انکار کولو. پۀ دې کښې درې (۳) کاله اولګيدل.

دَ نبي ﷺ ښکاره دعوت چلول

درې (۳) کاله بعد بيا نبي ﷺ ښکاره دعوت شروع کړو. محدثين وائي: چې کله دا آيت راغلے: ﴿وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ﴾.(2)

الله خپل نبي ﷺ ته وائي: "چې اے زما نبي! اويَرَوه هغه قبيله او ټبر ستا چې کوم تا ته ډير

(1) [سورة الشعراء: 214].

(2) [سورة الشعراء: 214].

نزدې دي"، او ستا ډېر خپل دي.

دا آيتونه چې راغلل نو نبي ﷺ په خپلو پسې يو يو پسې ګرځېدلے دے، او دَ الله دَ دين دعوت ئې ورکړے دے. څو دومره وه چې مخکښې سرًّا (پټ) دعوت وو، بيا دَ الله نبي ﷺ ښکاره دعوت شروع کړو. نبي ﷺ دَ صفا غونډئ ته اوختو، او دَ صفا په غونډئ کښې چې هغه اوچت ځائے دے په هغې باندې اودرېدو او يو چغه ئې اووهله:

«يَا صَبَاحَاهْ».[1]

دا خطرناکه چغه ده، عرب دا هغې وخت کښې استعمالَوي چې کله يو دشمن راځي او په يو قوم حمله کوي، او يا يو لوئې مضيبت په دې قوم باندې راځي. نو دَ دې چغې مطلب دا وي: چې زر رااورسئ!، يو ډېره ضروري خبره ده. نو چې څوک چرته وي نو هر څه په ډاګه پرېږدي او هغې آواز کونځې پسې ځان رسوي، منډې وهي، چې خطرناک آواز دے، ځان رسوئ. او دا آواز به هغوي هسې نهٔ کولو چې تر څو پورې به ضروري خبره نهٔ وه.

کله خلق يو دَ غير ضروري څيز دپاره اعلان کوي، وائي: ايماندارو! يو ضروري اعلان واورئ!..... او خبره به ضروري نهٔ وي. او کله اهمه خبره وي... نو دے وائي: پرېږده مړه! هر وخت دا آوازونه کېږي نو هغه قيمتي خبره ترې فوت شي.

دَ نبي ﷺ يو يو قبيلې ته آواز کول

نبي ﷺ يو يو قبيلې ته آواز کولو، قريشو ته او بيا په قريشو کښې جدا جدا خاندانونو او قبيلو ته: «يَا بَنِي فِهْرٍ، يَا بَنِي عَدِيٍّ...» دا آوازونه ئې کول. څو چې چا هم آواز اورېدو نو په منډه صفا غونډئ ته را روان وو، او چې کوم سړے به په خپله باندې نهٔ شو راتلے، بيمار به وو يا به سخت مصروفه وو نو هغهٔ به داسې يو کس اولېږلو چې هغه به دَ دهٔ دَ طرف نه يو نمائنده وو، پلار به ئې اولېږلو، رور به ئې اولېږلو: چې شابه! ځان اورَسوه. په ډېر لږ وخت کښې قريش راغونډ

(1) أخرجه البخاري في كتاب تفسير القرآن، بَابُ قَوْلِهِ: ﴿إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ﴾ [سبأ: 46]، برقم: (4801).

شول، ابو لهب پـکښې هم راغـې، دَ الله نبي ﷺ ته وائي: چې شابه! مونږ ته وايه چې څۀ خبره ده؟ نبي ﷺ ورته يَو نا آشنا خبره کوي، وائي:

«أَرَأَيْتَكُمْ لَوْ أَخْبَرْتُكُمْ أَنَّ خَيْلاً بِالوَادِي تُرِيدُ أَنْ تُغِيرَ عَلَيْكُمْ أَكُنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ؟».(1)

"اے قريشو! يَو تپوس درنه کوم! دَ يَوې خبرې جواب ما له راکړئ! دَ يَوې خبرې خبر راکړئ! کۀ چرته زۀ تاسو ته دا اووايم: چې دَ دې صفا ډيرئ نه اخوا دَ کافرانو او دَ دشمنانو يَوه ډله ده هغه پۀ تاسو باندې حمله کول غواړي، شايئ! دَ حملې نه مخکښې مخکښې ځان تيار کړئ، نو تاسو به زما دا خبره منئ او کۀ نۀ منئ؟". حالانکه هغه غر داسې دے چې پۀ هغې غر باندې اودريږې او اخوا يَو مرغئ ناسته وي نو هغه به هم تا له ښکاري؛ ځکه ډير اوچت نۀ دے. نو هغوي ورته څۀ وائي؟

"قَالُوا: نَعَمْ". "هغوي ورته اووئيل: آوا مونږه ستا دا خبره بالکل منو".

ولې ئې منو؟؛ ځکه چې:

"مَا جَرَّبْنَا عَلَيْكَ كَذِبًا".(2)

"مونږه ستا نه چرته دَ دروغ خبره اوريدلي نۀ ده کله چې مونږه پۀ تاسو باندې تجربه کړې ده".

"مَا جَرَّبْنَا عَلَيْكَ إِلاَّ صِدْقًا".

"مونږه پۀ تا باندې دَ ريشتيا نه علاوه دَ بل څۀ تجربه نۀ ده کړې". نو هر وخت تا ريشتيا وئيلي دي. چې تۀ وائې: چې دَ دې ډيرئ نه اخوا، دَ دې غر نه اخوا دشمن پۀ تاسو حمله کوي نو مونږه به دا اووايُو: کيدے شي چې وي، خو مونږ ته به نۀ ښکاري او دې نبي ﷺ ته ښکاري؛ ځکه زمونږه سترګې دروغژني کيدے شي، خو ستا خبره دروغژنه کيدے نۀ شي. ځکه چې هغوي نبي ﷺ مخکښې نه پۀ صادق او امين باندې پيژندلے وو. دَ الله نبي ﷺ ورته وائي: چې تاسو دا منئ: چې ما چرته پۀ ژوند کښې، پۀ زندګئ کښې دروغ نۀ دي وئيلي، نو يَو خبره درته کوم: څنګه چې زما نورې خبرې منئ

(1) أخرجه البخاري في كتاب تفسير القرآن، بَابُ {وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الأَقْرَبِينَ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ} [الشعراء: 215] أَلِنْ جَانِبَكَ، برقم: (4770).

(2) أخرجه البخاري في كتاب تفسير القرآن، بَابُ قَوْلِهِ: {فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا} [النصر: 3]، برقم: (4971).

نو دا خبره هم زما اومنئ، تاسو ته پته نشته، تاسو ته نهٔ ښکاري، ما ته ښکاري، ما ته الله وحي کړې ده، ما له الله دَ هغې علم را کړے دے، هغه خبره دا ده، چې:

«فَإِنِّي نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ».(1)

"یقینًا زهٔ ستاسو دپاره يرونکے يم، تاسو يروم مخکښې دَ هغې عذاب سخت نه".

يَو لوئي عذاب را روان دے، هلته بيا پهٔ مال باندې نهٔ خلاصيږئ، پهٔ دولت نهٔ خلاصيږئ، پهٔ قوم نهٔ خلاصيږئ، پهٔ قوت او طاقت باندې نهٔ شئ بچ کيدے. کهٔ هلته کښې بيا خلاصے مومئ نو پهٔ ايمان او پهٔ عقيده دَ توحيد به ئې مومئ، پهٔ صحيح عقيدې به بچ کيږئ. نو ايمان راوړئ! چې دَ هغې عذاب نه بچ شئ.

دَ ايمان دعوت ئې ورته ورکړو، او ورته وائي:

«إِنَّمَا مَثَلِي وَمَثَلُكُمْ كَمَثَلِ رَجُلٍ رَأَى الْعَدُوَّ، فَانْطَلَقَ يَرْبَأُ أَهْلَهُ، فَخَشِيَ أَنْ يَسْبِقُوهُ، فَجَعَلَ يَهْتِفُ، يَا صَبَاحَاهُ».(2)

"زما او ستاسو مثال داسې دے لکه چې يَو سړے دے او هغه پهٔ خپلو سترګو دشمن اووينې چې دَ هغهٔ قوم ته پټ ناست دے، خو هغوي ته پته نشته او دهٔ ته پته ده نو دے لاړ شي او هغې خپل قوم ته ځان ښکاره کوي او هغوي ته دا آواز کوي: چې ځان ډډې ته کړئ! دشمن درباندې حمله کوي خو دا سړے وائي: کهٔ زهٔ ځم نو دا دشمن زما نه مخکښې راځي، نو دے پهٔ ډيرئ اودريږي او خلقو ته وائي: "يَا صَبَاحَاهُ". خلق زر زر راشي چې څهٔ خبره ده؟ او دے ورته دا دَ يرې خبر ډير زر واوروي، چې ځان سمبال کړئ". نو نبي ﷺ فرمائي: تاسو ته پته نشته دے چې مرګ را روان دے، او څوک چې بے ايمانه لاړو نو هغهٔ هميشه جهنمي دے، هغه تباه دے. نو زهٔ تاسو يروم چې مرګ را روان دے، مخکښې نه کلمه اووايئ او ايمان راوړئ.

---

(1) أخرجه البخاري في كتاب تفسير القرآن، بَابٌ {وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الأَقْرَبِينَ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ} [الشعراء: 215] أَلِنْ جَانِبَكَ، برقم: (4770).

(2) أخرجه مسلم في كتاب الإيمان، بَابٌ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: {وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الأَقْرَبِينَ} [الشعراء: 214]، برقم: (207).

دَ الله دَ نبي ﷺ دعوت

دَ الله نبي ﷺ دعوت شروع کړو او يَو يَو قوم ته وائي:

«يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ، اشْتَرُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ اللهِ، أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ، لاَ أُغْنِي عَنْكُمْ مِنَ اللهِ شَيْئًا».(1)

"اے دَ قريشو ډلې! خپل ځانونه په پيسو واخلئ دَ الله نه، ايمان راوړئ! ځانونه دَ الله دَ عذاب نه خلاص کړئ، زۀ ګورے ستاسو دپاره مالک نۀ يم دَ الله دَ عذاب نه دَ هيڅ شي". او زۀ ستاسو نه عذاب لرې کولے نۀ شم. دا مۀ وايئ چې دا زمونږه دَ نسب پيغمبر دے، زمونږ دَ خاندان پيغمبر دے او دے به مونږه ټول ځان سره جنت ته بوځي. چې خپل ايمان درکښې نۀ وي نو زۀ مو خلاصولے نۀ شم.

يَو يَو خاندان له دَ نبي ﷺ دعوت ورکول

بيا په قريشو کښې يَو يَو خاندان مخاطب کوي، فرمائي:

«يَا مَعْشَرَ بَنِي عَبْدِ مَنَافٍ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ فَإِنِّي لاَ أَمْلِكُ لَكُمْ مِنَ اللهِ ضَرًّا وَلاَ نَفْعًا».

"اے دَ عبد مناف دَ اولاد ډلې! خپل ځانونه دَ جهنم دَ اُور نه خلاص کړئ، زۀ ګورے! مالک نۀ يم ستاسو دپاره نۀ دَ ضرر لرې کولو او نۀ دَ فائدې رسولو".

«يَا مَعْشَرَ بَنِي قُصَيٍّ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ فَإِنِّي لاَ أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلاَ نَفْعًا».

"اے دَ قُصئ دَ خاندان ډلې! خپل ځانونه دَ جهنم دَ اُور نه خلاص کړئ، زۀ ګورے! مالک نۀ يم ستاسو دپاره نۀ دَ ضرر لرې کولو او نۀ دَ فائدې رسولو".

«يَا مَعْشَرَ بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ فَإِنِّي لاَ أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلاَ نَفْعًا».(2) "اے دَ عبد المطّلب دَ اولاد ډلې! خپل ځانونه دَ جهنم دَ اُور نه خلاص کړئ، زۀ ګورے! مالک نۀ يم ستاسو دپاره نۀ دَ ضرر لرې کولو او نۀ دَ فائدې رسولو".

دَ "سنن نسائي" په روايت کښې داسې راغلي دي:

«يَا بَنِي كَعْبِ بْنِ لُؤَيٍّ، يَا بَنِي مُرَّةَ بْنِ كَعْبٍ، يَا بَنِي عَبْدِ شَمْسٍ، وَيَا بَنِي عَبْدِ مَنَافٍ، وَيَا بَنِي

---

(1) أخرجه مسلم في كتاب الإيمان، بَابٌ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: {وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ} [الشعراء: 214]، برقم: (206).

(2) أخرجه الترمذي في أبواب تفسير القرآن، باب ومن سورة الشعراء، برقم: (3185).

هَاشِمٍ، وَيَا بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ». (1)

"اے دَ کعب بن لؤي اولاده! اے دَ مرة بن كعب اولاده! اے دَ عبد شمس اولاده! اے دَ عبد مناف اولاده! اے دَ هاشم اولاده! اے دَ عبد المطلب اولاده! ځانونه بچ کړئ دَ أُور دَ جهنم نه".

نو نبي ﷺ يَو يَو خاندان يادَوي: چې ځان بچ کړئ، ځان بچ کړئ. پۀ څۀ باندې؟ پۀ عقيده دَ توحيد باندې، پۀ ايمان باندې.

«سَلُونِي مِنْ مَالِي مَا شِئْتُمْ».

"زما مال چې زما نه څومره غواړئ نو أُوغواړئ".

دې کښې اشاره ده ديته: چې دنيا کښې به زۀ ستاسو امداد اوکړم، کمزوري يئ نو تعاون به درسره اوکړم، غريبانان يئ امداد به درسره اوکړم، يَو کار ګران دے منډه به درسره اووهم، خو قيامت کښې بيا هيڅ څوک دَ هيڅ چا امداد نۀ شي کولے؛ ځکه درته دلته وايم: چې ځان دَ أُور نه خلاص کړئ.

«يَا عَبَّاسُ بْنَ عَبْدِ المُطَّلِبِ لاَ أُغْنِي عَنْكَ مِنَ اللهِ شَيْئًا».

"اے عباس بن عبد المطلب! زۀ ګورے! تا دَ الله دَ عذاب نه نۀ شم خلاصولے".

بيا وريسې وائي:

«وَيَا صَفِيَّةُ عَمَّةَ رَسُولِ اللهِ لاَ أُغْنِي عَنْكِ مِنَ اللهِ شَيْئًا». "اے صفيه ترور (پپو) دَ رسول الله! ځان دَ أُور نه بچ کړه، تا ګورے زۀ بيا هلته دَ عذاب نه بچ کولے نۀ شم".

«وَيَا فَاطِمَةُ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَلِينِي مَا شِئْتِ مِنْ مَالِي لاَ أُغْنِي عَنْكِ مِنَ اللهِ شَيْئًا». (2)

خپلې لور فاطمې رضي الله عنها ته وائي: "اے فاطمې! چې تۀ دَ محمد رسول الله لور ئې، اوس چې څومره مال غواړې، څۀ شے غواړې زۀ درله دلته درکولے شم، هلته دې بيا سمے خپل دے، زۀ تا دَ الله دَ عذاب نه نۀ شم بچ کولے".

(1) أخرجه النسائي في كتاب الوصايا، بَابُ: إِذَا أَوْصَى لِعَشِيرَتِهِ الأَقْرَبِينَ، برقم: (3644).

(2) أخرجه البخاري في كتاب الوصايا، بَابٌ: هَلْ يَدْخُلُ النِّسَاءُ وَالوَلَدُ فِي الأَقَارِبِ؟، برقم: (2753).

بل روايت کښې داسې دي:

«يَا فَاطِمَةُ بِنْتَ مُحَمَّدٍ أَنْقِذِي نَفْسَكِ مِنَ النَّارِ فَإِنِّي لاَ أَمْلِكُ لَكِ ضَرًّا وَلاَ نَفْعًا».

"بچې! خپل ځان په خپله باندې دَ اُور نه بچ کړه؛ ځکه زۀ ستا دپاره نۀ دَ ضرر لرې کولو اختيار لرم او نۀ دَ نفعې دَ رسولو اختيار لرم".

لور ته وائي: تا له زۀ مالک نۀ يم، نۀ دَ ضرر لرې کولو او نۀ دَ فائدې رسولو!!!، هان! يَو کار به اوکړم، دنيا کښې چونکه زما خپلوَلي ده، زما رشته داري ده، څوک مې ترونه دي، څوک مې پيوکانې دي، څوک ماماګان دي، او څوک تروريانې دي، څوک دَ يَو طرف نه خپل، څوک دَ بل طرف نه خپل، زما ستاسو سره رشته ده، رشته به درسره پالم، خو دَ عذاب نه بچ کول دا بيا پۀ رشتو نۀ کيږي، پۀ تعلقاتو نۀ کيږي، خپل ايمان پکار دے. نو فاطمې ته هم وائي:

«إِنَّ لَكِ رَحِمًا سَأَبُلُّهَا بِبَلاَلِهَا».(1)

"يقينًا ستا زما سره خپلوَلي ده نو زۀ به دا پالم".

دَ الله نبي ﷺ چې دومره دې يَو يَو قوم ته دعوت اوچلولو، تول حق حيران دي.

دَ ابولهب کار

علماؤ ليکلي دي: کله چې رسول الله ﷺ خلقو له دعوت ورکولو، يَو يَو قبيلې له ئې دعوت ورکولو نو دا ابو لهب بد بخته به ورپسې ګرځيدو پۀ ميلو کښې او پۀ کاڼرو به ئې ويشتو او خلقو ته به ئې اوئيل: چې دے بے دينه شوے دے، دَ دۀ خبره مۀ منئ. خپل ترۀ ئې خلاف وو، او مشر هم وو، خلقو به ئې خبره هم منله.

علماء وائي: دا آيت چې راغے: ﴿فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ﴾.(2)

"صفا بيان کوه دَ هغې چې تا ته ئې حکم شوے دے او مخ واړوه دَ مشرکانو نه".

"صدْع" ديته وائي: چې سرے شيشې له کاڼړے زا خلاص کړي او شيشه توټې توټې شي. نو

(1) أخرجه الترمذي في أبواب تفسير القرآن، باب ومن سورة الشعراء، برقم: (3185).

(2) [سورة الحجر: 94].

داسې بیان اوکړه چې دا باطل توتې توتې شي، صفا خبره اوکړه، دَ چا پروا مهٔ لره. نو دا آیت چې راغې نو بیا رسول الله ﷺ نور هم جهري دعوت شروع کړو، نو رسول الله ﷺ به بیا منډیانو ته تلو، کنړو ته به تلو، هر ځائے کښې به ئې دَ الله دَ دین دعوت ورکولو. او ښکاره ئې بیا مونځونه هم شروع کړل. تر دغه وخته پورې به نبي ﷺ مونځ پهٔ کور کښې پهٔ پټه کولو. او چې کله دا آیت راغې نو بیا به نبي ﷺ راغې او بیت الله ته به مخامخ اودریدو او مونځ به ئې کولو. دې کافرو به ورته کتل. دا ابتدائي دوررونه دي، دې وخت کښې ورته دوي څهٔ نهٔ وائي، وهل ټکول دا خبرې روستو دي.

پهٔ اول دورِ دَ جهري دعوت کښې دَ نبي ﷺ باره کښې دَ مشرکینِ مکه بد نامې لګول

دَ نبي ﷺ دا دعوتونه چې کله عام شو نو ټول کلے او ټول عرب خبر شو. چې دے خو یَو ته هم وائي، او بل ته هم وائي. دوي سره دا غم شو چې مونږ خو ترې ځان ساتو کنه؛ ځکه زمونږ خو کلي وال دے، مونږه ئې پیژنو خو دا میلمانهٔ حج له راځي، عُمرې له راځي نو دوي را ته خرابوي نو مشوره ئې اوکړه: چې دے بد ناموؤ، خو څنګه به ئې بد نام کړو؟ څهٔ اووایُو؟ پهٔ دې کښې ولید بن مغیره ډیر اوښیار وو، پهٔ بے دینئ کښې اوښیار وو، پهٔ دین کښې دَ ټکي پهٔ شک نهٔ وو، کني ایمان به ئې راوړے وو. دے پکښې ډیر اوښیار وو. نو دهٔ اووئیل: ګوره! ځان مهٔ شرمَوئ، یَو خبره کوئ نو خلق به ئې مني، چې تهٔ یَو څهٔ وائي او بل بل څهٔ وائي نو خلق به وائي: مړه! دا هسې لګیا دي. راغوندِ شول او مشوره ئې کوله چې اوس به خلق حج له راځي، نو مونږه به ورته څهٔ وایُو: چې دَ دې پیغمبر خبره ولې مهٔ منئ. واورئ! یَو پیره ئې مشوره دا راغله: چې ولید بن مغیره ته وائي: تهٔ مشر ئې، تهٔ را ته یَو خبره اوکړه چې هغه اوکړو؟ ولید بن مغیره ورته وائي: نا! نا!، تاسو به وایئ: دوي اووئیل... تهٔ به وائي: هغوي ورته اووئیل، تهٔ به وائي.... نو دوي پرې اصرار اوکړو ورته وائي: خامخه تهٔ مونږه داسې یَو خبره اوښایه. نو خلقو اووئیل: مونږه به دے پهٔ دې مشهور کړو چې دا سړے کاهن دے. کاهن دیته وائي: چې پهٔ هغه دَ دې ستورو نه اثر معلومَوي، او خلقو ته وائي: چې صبا به دا کار کیږي. نو دوي پهٔ کاهن باندې مشهورَوؤ نو ولید بن مغیره ورته وائي: یره! دا خبره صحیح نهٔ ده؛ ولې؟؛ مونږه کاهنان ډیر لیدلي دي. دا دے چې کوم الفاظ وائي داسې الفاظ کاهنان

کله وئيلے شي؟ نو کۀ مونږه ډير وايُو چې دے کاهن دے نو خلق به وائي: چې دوي پۀ سترګو رانده دي، دوي دۀ ته کاهن وائي!. کاهن داسې وي؟ نو خلق به مو ملامته کوي. نو بيا ئې اووئيل: نور څۀ اوکړو؟ نو خلقو اووئيل: داسې به اوکړو: چې دے به پۀ دې باندې بد نام کړو: چې دَ دۀ دماغ خراب شوي دي، ليونے دے، مجنون دے، نو ټول عرب به دا خبره يادَوي چې بس مجنون دے، فلانے ډير ښۀ سړے وو، صادق وو، امين وو، ډير ښۀ وو خو څۀ چل اوشو دماغ ئې خراب شول، پۀ ګډو وَډو سر شو. پۀ دې به ئې بد نام کړو نو چې خلق ئې ګوري نو خلق به ترې نفرت کوي. وائي: به مړه! ليونے پکښې چا راوستے دے. نو وليد بن مغيره ورته وائي:

"مَا هُوَ بِمَجْنُونٍ". "دا ليونے نۀ دے"؛ ځکه: "وَلَقَدْ رَأَيْنَا الْجُنُوْنَ وَعَرَّفْنَهٗ".

"مونږه ليونتوب ليدلے دے، مونږه ليونتوب پيژنو". ولې خبرې به ئې څوک اوري نۀ؟ نو بيا به خلق وائي: چې دا خلق څۀ وائي او دا دے چې څۀ وائي دا خو حق دے، او دا خلق ئې هسې بد نامَوي. نو دوي اووئيل: داسې به اوکړو: چې مونږه به وايُو: چې دے شاعر دے، نو ټول به دا يوه خبره کوو: چې دے شاعر دے.

هره زمانه کښې داسې يَو لفظ دَ حق پرستو دَ کمزوري کولو دپاره استعمالَوي. يَو جومات کښې يَو ملکرے امام وو، مقتديان ورپسې راغلل وائي: مولانا صاحب! خفه کيږه مۀ، تۀ تلے شې، مونږه تا ته رخصت درکوؤ، وائي: ولې؟ وائي: دا ټول خلق وائي چې دے پنج پيرے دے. هغۀ ورته اووئيل: نو وجه څۀ ده، زۀ پنج پيرے يا شاه منصورے يا هر څۀ يم خو ما ته وجه اوښايئ؟ وائي: قسم دے کۀ مونږه پۀ وجه پوهيږو خو خلق وائي: چې دا پنج پيرے دے، او پنج پيريان ښۀ خلق نۀ وي، مونږه دا اوريدلي دي. وائي: ما ورته اووئيل: کۀ زما درس غلط وي، زما الفاظ غلط وي، زما دَ مونځ طريقه غلطه وي، ما ته خو وجه اوښايئ کنه؟ وائي: چې اُستاذ جي! مونځ هم ښۀ صحيح درځي، تلاوت هم ستا صحيح دے، ترجمه هم تۀ صحيح کوې، خو بس صرف دغه ده چې خلق وائي: ستاسو اُستاذ پنج پيرے دے نو خفه کيږه مۀ، خلق وائي: چې پنج پيرے وي نو ښۀ سړے نۀ وي نو لهٰذا تۀ زمونږ نه ځه. نو بعضې سړے داسې وي چې هغه صرف غوږونه لري خو سترګې نۀ لري.

نو دوي اووئيل: چې مونږه به دا وايُو: چې دے شاعر دے. نو بيا ورته دا وليد وائي: چې تاسو وايئ چې دے شاعر دے نو مونږه خو شاعران پيژنو او مونږه دَ شاعرانو کلامونه هم اوريدلي دي او مونږه دَ شاعرانو هغه شعرونه هم اوريدلي دي، داسې کلام واللهِ کۀ شاعرُ وئيلے شي. بيا به دا خلق وائي: چې دا عرب ليوني دي، روغ سړي ته شاعر وائي. وائي: يره! اوس څۀ اوکړو؟ آخر څۀ خو به وايُو، مشوره ښکه اوکړو؟ آخر دے به ښکه بد ناموؤ؟ نو دوي اووئيل: چې مونږه به خلقو کښې دا مشهوره کړو: چې دے ساحر دے. دۀ څۀ کلمې يادې کړي دي خو چې يَو سړے ئې يَو ځل واوري نو هغه ځان سره ملګرے کړي او کور کښې ورله جنګ جوړ شي، دشمني جوړه شي، پلار ئې خلاف شي، رور ئې خلاف شي او دۀ دا ټول کلے پۀ جنګ کښې اخته کړے دے. ساحر دے. نو وليد ورته وائي: قسم پۀ خدائے دے کۀ دے ساحر وي، ساحر هم نۀ دے، ما دَ ساحرانو سحرونه اوريدلي دي، ما دَ هغوي هغه تارونه چې غوټه کوي هغه مې هم ليدلي دي، دے خو دَ هغې نۀ منع کوي. دے ساحر نۀ دے، خو څۀ خو به وايُو کنه! نو بس پۀ دې ئې مشهور کړئ چې دے ساحر دے. او خلقو ته به وايئ: چې ساحر ځکه دے چې تۀ ئې بيان واوره نو تۀ به دَ دۀ ملګرے شې او خلق به ستا خلاف شي، نو پۀ کور کښې به دې جنګ پيدا شي. ټول عرب يَو خلق وو، ورشه اوس هم پکښې ډلې ډلې دي، يَو دَ دۀ ملګرے دے او بل دَ دۀ خلاف دے، يَو دۀ ته کافر وائي او دے هغۀ ته کافر وائي، هغۀ دۀ ته بے دينه وائي او دے هغۀ ته بے دينه وائي، لکه اوس هم بعضې خلق وائي: يره جي! دې خلقو زمونږه کلي کښې شر پيدا کړے دے، فساد ئې پيدا کړے دے. نو وائي: پۀ دې به ئې بد نام کړو چې دے کاهن دے، ټول خلق ئې اوجنګول، پلار او ځوي ئې دَ يَو بل خلاف کړل. نو پۀ دې باندې متّفق شو چې دے ساحر دے.

دَ وليد بن مغيره مشوره

پۀ بعضې رواياتو کښې راځي: وليد ورته اووئيل: چې تاسو ټولو خو خپلې خپلې رائې کانې پيش کړې خو زما پرې زړۀ اوبۀ نۀ ښکي.... دا دروغ به هم داسې وائي کنه چې بل سړے ئې خو اومني کنه!، بعضې سړے داسې دروغ وائي چې هغه پۀ هغه ټائم معلوميږي چې دے دروغ وائي، نو

هغه بیا څوک نهٔ مني. وائي: دروغ به وايو، خو لږ پهٔ چل به ئې وايو، وائي: ما له لږ مهلت راکړئ چې زهٔ پهٔ دې کښې فکر اوکړم چې دے پهٔ کوم لفظ بد نام کړو. نو هغوي ورته اووئیل: چې مونږه تا له تائم درکړو. نو ولید لاړو او توله شپه ئې خوب اونهٔ کړو، ښهٔ سوچونه ئې اوکړل، آخر ئې پهٔ دې باندې فیصله اوکړه چې دا پیغمبر پهٔ دې بدناموِل غواړي چې دے ساحر دے. دے جادوګر دے، او دَ دهٔ خبره چې څوک واوري نو پهٔ هغهٔ اثر اوشي، او دَ هغهٔ نه تول قوم بیا خلاف شي.

علماء وائي: دَ ولید پهٔ باره کښې چې کوم آیتونه راغلي دي نو هغه دا دي: قرآن وائي:

﴿إِنَّهُ فَكَّرَ وَقَدَّرَ * فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ * ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ * ثُمَّ نَظَرَ * ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ * ثُمَّ أَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ * فَقَالَ إِنْ هَذَا إِلَّا سِحْرٌ يُؤْثَرُ * إِنْ هَذَا إِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ *﴾.(1)

"یقینًا دې کافر سوچ اوکړو، فکر ئې اوکړو، او دَ هغې نه پس ئې اندازه اولګوله، دے دې هلاک شي، څنګه ناکاره اندازه ئې اولګوله، بیا دې دے هلاک شي څنګه اندازه ئې اولګوله، بیا ئې اوکتل بد، بیا ئې تندے تریو کړو، او نور ئې هم تندے را تریو کړو، نو بیا ئې شاه کړه دَ الله نبي ﷺ طرف ته، او تکبر او غرور ئې شروع کړو نو دَ ډیر سوچ او فکر نه پس ئې اووئیل: نهٔ دے دا مکر جادو دے چې اثر پکښې اچولے شوے دے، یا دَ بل نه رانقل کړے شوے دے، نهٔ دے دا مکر وینا ده دَ یو بنده"، دا دَ دې یو بنده وینا ده، او دا دَ دهٔ دَ سحر او جادو کلمات دي، دا دَ الله کلام نهٔ دے.

دَ نبي ﷺ خلاف ئې دا پروپیګنډې جوړې کړې. نبي ﷺ به ګرځېدو او خلقو ته به ئې دعوت ورکولو، او دوي به خلقو ته وئیل: چې ګورئ! دَ دهٔ خبره مهٔ منئ. را روانه جُمعه کښې به دا ذکر کړم چې کوم سړے به راتلو باقاعده لارې ئې تقسیم کړې وې او هغهٔ ته به ئې وئیل: چې رورہ! عُمرې له راغلے ئې، حج له راغلے ئې؟ هغهٔ به وئیل: آو. دوي به ورته اووئیل: چې حج دې الله قبول کړه، عبادت دې الله قبول کړه خو دلته یو سړے دے، دَ پلار نیکهٔ دین ئې پرېښودے دے، ګډې وډې وائي، چرته دَ هغهٔ خبرې واونهٔ رې، زمونږ خو کلي وال دے، مونږ خو ئې پېژنو او تهٔ ئې نهٔ پېژنې هسې نه چې دهوکه دې کړي.

(1) [سورة المدثر: 18-25].

خو دوي بيا هم پۀ دې مشوره متفق شوي نۀ دي، چا به ورته كذّاب وئيلو، چا به ورته ساحر وئيلو، چا به ورته مجنون وئيلو.... او ما درته اووئيل: چې بيا خو نبي ﷺ دعوت عام كولو، كرځيدو به پۀ عكاظ ميله كښې، پۀ نورو ميلو كښې دا غټې غټې منډياني وې، خلق به پكښې تجارت له تلل، هغې وخت كښې دَ دين دومره قدر چرته وو چې ټول خلق پۀ يَو ځائے كښې راغونډ شي، او مسئله واوري. چې چا به دَ الله پيغمبر كوم ځائے كښې ليدو نو دَ هغه ځائے نه به خلق تلل. نو نبي ﷺ به پۀ منډيانو كښې كرځيدو او چغه به ئې وهله:

«يَا أَيُّهَا النَّاسُ قُولُوا: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، تُفْلِحُوا».[1]

"اے خلقو! تاسو دا كلمه اووايئ: "لا اله الا الله" نو تاسو به كامياب شئ".

دا به ئې وئيل او روستو به وريسې خپل ترۀ روان وو او دَ كاڼرو نه به ئې جولۍ ډكه كړې وه او دَ الله نبي ﷺ به ئې پۀ كاڼرو باندې ويشتو، او خلقو ته به ئې وئيل: چې اے خلقو! إِنَّهُ صَابِئٌ، كَاذِبٌ، دے بے دينه شوے دے، او دا ډير غټ دروغژن دے، دَ دۀ مۀ منئ، دۀ دَ پلار نيكۀ دين پريخودلے دے، زما ورارۀ دے ما ته ئې پته ده. نو چې نا آشنا سړے وو نو هغۀ به وئيل: چې دا خپل ترۀ وريسې دے دومره ردې، بدې ورته وائي، نو دا به ريشتيا وي، كۀ دَ دۀ دا خبره صحيح وه نو اول به ئې خپل ترۀ منلې وه.

دا تكاليف او دا مشكلات دَ الله پۀ نبي ﷺ راغلي دي او هغۀ دا برداشت كړي دي. نور سيرت به ان شاء الله وريسې راځي.

وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

(1) أخرجه أحمد في "مسنده"، مسند المكيين، حديث ربيعة بن عباد الديلي، برقم: (160220).

بسم الله الرحمن الرحيم

يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ

(سورة المائدة: 67)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه دولسمه

"په نبي ﷺ دَ مشركينو اعتراضونه كول"

بتاريخ: 2022-03-04

مقام: جلسئ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربآني حفظه الله

سيرة النبي ﷺ حصه دولسمه

"په نبي ﷺ دَ مشركانو اعتراضونه كول "

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿يَآأَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ﴾.[1]

حاضرينو عزتمندو مسلمانانو رونړوا په تيره جُمعه کښې دَ رسول الله ﷺ دَ دعوت بيان شروع وو او دويمه مرحله دَ دعوت وه.

اول خپلوان راغونډول

اول ئې خپل خپلوان او ټول قريش راغونډ کړل، دَ قريشو يَو يَو خاندان او هغوي ته ئې بيان اوکړو، هغوي اونهٔ منلو، تر دې پورې چې دَ نبي ، خپل ترهٔ دَ نبي ﷺ سخت خلاف شو.

دَ رسول الله ﷺ دَ مخالفينو کردار

نن بيان کښې به دا وايُو: چې رسول الله ﷺ دَ دعوت کار شروع کړو، نو دَ هغهٔ مخالفينو او دشمنانو دَ نبي ﷺ نه خلق منع کول او اړول ئې شروع کړل. په نبي ﷺ ئې قسم ما قسم بدنامې لګول شروع کړل. هغه نبي ﷺ چې دوي به ورته امين وئيلو کله ئې چې دَ دين بيان شروع کړو، دَ

(1) [سورة المائدة: 67].

حق بیان ئې شروع کړو نو بیا به ئې ور پورې ټوقې او مسخرې کولې او قسم ما قسم نومونه به ئې دَ الله نبي ﷺ ته وئیل.

اولنئ طریقه

اولنئ طریقه ئې دا وه: چې دَ الله نبي ﷺ دَ خلقو سترګو کښې سپک ښکاره کړي. نو کله یَو قسم اعتراض او کله بل قسم اعتراض؛ دَ دې دپاره چې ناپوهه خلق پۀ دې دهوکه شي. قرآن دَ هغوي هغه اعتراضونه ذکر کوي. دوي به کله پۀ رسول الله ﷺ اعتراضونه کول او کله به ئې پرې الزامونه لګول، نبي ﷺ ته به ئې مجنون وئیلو، وئیل به ئې وائي: تۀ لیونے ئې، دا تۀ چې کومې خبرې کوې نو دا هیڅ چا نۀ دي کړي او صرف تۀ ئې کوې. قرآنِ کریم کښې الله رب العزة فرمائي:

﴿وَقَالُوا يَا أَيُّهَا الَّذِي نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ إِنَّكَ لَمَجْنُونٌ﴾.[1]

"وئیلي وو دې کافرانو: اے هغه سړیه چې تۀ وائي: چې ما باندې ذکر او وحي راغلې ده! تا باندې وحي نۀ ده راغلې، یقینًا تۀ خامخه لیونے ئې"، دا ستا دماغ خراب شوي دي، ګډې وډې دې شروع کړي دي، دا ستا یَو شک دے، یَو وهم دے، سوچ اوکړې نو بیا وائې: چې دا ما ته الله وحي کړې ده.

دَ ټولو نه زیات صادق او امین باره کښې دَ مشرکینو اعتراضات

هغه نبي ﷺ چې دَ ټولو نه زیات پۀ صادق او امین باندې مشهور وو، چې کله ئې بیان شروع کړو نو وائي: تۀ لیونے ئې، کله به ئې ورته ساحر وئیلو:

﴿وَعَجِبُوا أَنْ جَاءَهُمْ مُنْذِرٌ مِنْهُمْ وَقَالَ الْكَافِرُونَ هَذَا سَاحِرٌ كَذَّابٌ﴾.[2] "تعجب کولو دې کافرانو دَ دې خبرې نه چې راغلے وو دوي ته یَو یرَونکے دَ دوي دَ جنس نه (دَ دوي پۀ قوم کښې، دَ دوي پۀ کشرانو کښې الله یَو تن له پیغمبري ورکړه، نو دوي به وئیل: چې دا څنګه چل دے!، چې انسان دې مونږ له پیغمبر راځي، دا خبرې خو دۀ مخکښې چرته نۀ وې کړې او اوس پکښې الله دومره اثر واچولو!!)، وئیل به کافرانو: دا ساحر او دروغژن دے".

---

(1) [سورة الحجر: 6].

(2) [سورة صٓ: 4].

نو کله به ئې ورته مجنون وئیلو، کله به ئې دَ الله پهٔ نبي ﷺ باندې نور اعتراضونه کول، وئیل به ئې: دا نبي ﷺ چې کومې خبرې کوي نو دا ورته الله نهٔ دي رالیږلي بلکه دا ﴿أَضْغَاثُ أَحْلَامٍ﴾.(1) "ګډوَډ خوبونه دي"، دے چې دَ شپې اودهٔ شي نو خوب اووینې، خوب کښې چې څهٔ اووینې هغه بیا سحر کښې خلقو ته وائي، چې بیګا ما ته دا وحي راغلې ده.

دَ پیغمبر پاک ﷺ هغه بیان ته به ئې ګډوَډ خوبونه وئیل. کله به دې کافرانو وئیل:

﴿بَلِ افْتَرَاهُ﴾.(2)

"بلکه دې نبي (ﷺ) دا خبرې دَ ځان نه جوړې کړي دي"، جبرئیل ؑ نهٔ دے راغلے، الله نهٔ دي رالیږلے، دا دې نبي (ﷺ) دَ ځان نه جوړې کړي دي.

کله به ئې پرې اعتراض کولو:

﴿إِنَّمَا يُعَلِّمُهُ بَشَرٌ﴾.(3)

"یقینًا ښودنه کوي دهٔ ته یَو بنده"، دا یَو کس دے چې دے نبي ﷺ ته ئې پټ پټ بیانوي، او دے ئې سحر خلقو ته وائي. یَو بنده دے هغه دَ دهٔ استاذ دے، دے دَ هغهٔ نه دا زده کوي او بیا ئې خلقو ته وائي او بیا وائي: چې ما له وحي راغلې وه، او ما ته جبرئیل ؑ داسې وئیلي وو.

کله به ئې وئیل:

﴿أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ اكْتَتَبَهَا فَهِيَ تُمْلَىٰ عَلَيْهِ بُكْرَةً وَأَصِيلًا﴾.(4)

دا نبي ﷺ چې څهٔ وائي نو دا دَ الله خبرې نهٔ دي، "دا دَ پخوانو خلقو قصې دي چې دَ بل چا نه ئې دَ هغې دَ لیکلو طلب کړے دے (پهٔ بل چا ئې لیکلي دي)، پس هغه لوستلے شي پهٔ دهٔ باندې صبا او بیګا".

---

(1) [سورة الأنبياء: 5].

(2) [سورة الأنبياء: 5].

(3) [سورة النحل: 103].

(4) [سورة الفرقان: 5].

دا قصې دي دَ فرعونيانو، دَ يهوديانو او دَ نصاراؤ، دے مونږ ته پۀ قصو باندې لګيا دے. قسم ما قسم اعتراضونه به ئې کول.

دَ الله دَ طرف نه تسلّي

دَ الله دَ نبي ﷺ به زړۀ تنګ شو، چې دا هغه سړے وو چې پرونه پورې ئې پۀ دې خُلۀ زما صفت کولو او نن ما پسې لګيا دے او بد وائي. نو خامخه دَ سړي زړۀ تنګ شي . الله رب العزة به تسلي رااوليږله: چې اے زما نبي! مۀ خفه کيږه:

﴿وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُولُونَ﴾.(1)

"اے نبي! مونږ ته پته ده چې ستا سينه تنګيږي پۀ هغې ردو، بدو او پۀ هغې بدنامو چې دا کافران ئې تا پسې وائي".

نو اے نبي! دَ دې علاج دا نۀ دے چې تۀ دعوت پريږده، تۀ بيان پريږده، دَ دې خفګان او دَ دې غم لرې کولو دپاره دَ الله سره تعلق جوړ کړه:

﴿فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُنْ مِنَ السَّاجِدِينَ﴾.(2)

"تۀ دَ ربّ تسبيحات وايه، سره دَ صفتونو دَ ربّ ستا...". دَ ربّ تسبيح وايه، کوم شے چې دَ ربّ شان سره مناسب نۀ دے نو دَ هغې نه ربّ پاک ګڼړه!، او کوم شے چې دَ ربّ شان سره مناسب دے نو هغه ربّ له ثابتوه. "او شه دَ سجدې کونکو نه الله رب العزة ته". الله ته سجده اولګوه نو الله به تا دَ دې خلقو نه خلاص کړي، ستا دا دشمنان به الله ذليل کړي، دوي به الله تباه کړي او تا ته دوي هيڅ نقصان نۀ شي رسولے.

او کله به الله رب العزة داسې تسلي ورکوله: چې اے نبي! تۀ خپل کار کوه:

﴿إِنَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِينَ * الَّذِينَ يَجْعَلُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ﴾.(3)

---

(1) [سورة الحجر: 97].

(2) [سورة الحجر: 98].

(3) [سورة الفتح: 29].

"نبي مونږه پوره يُو ستا دپاره دَ ټوقو کوونکو نه (مونږه به ستا جواب کوو، مونږه به ستا دفاع کوؤ، نبي! دا تا پورې چې استهزاء کوي نو مونږه به دوي ذليله او رسوا کړو)، دا تاپورې چې ټوقې کوي دا به هغه څوک وي چې هغه دَ الله سره بل څوک شريک ګرځوي (شرک به ئې کړے وي)، دَ دوي په انجام، دَ دوي په سزا به زر دے چې دوي پوهه شي".

داسې تسلي به الله رب العزة خپل نبي ﷺ ته ورکوله.

ګوره ! پخوانو انبياء کرامو ﷺ پورې ټوقې کړې شوې وې ! ! !

کله به ئې په دې طريقه تسلي ورکوله: ﴿وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِنْ قَبْلِكَ﴾.[1]

نبي! دا څۀ نا آشنا خبرې نۀ دي، کله هم چې الله والا راغلي دي او خلقو له ئې دَ الله پيغام رسولے دے، دَ الله دين ئې رسولے دے، دې خلقو معاف کړي نۀ دي، دې خلقو هغۀ پسې هم خبرې کړي دي، دوي هغه بدنام کړي دي، دوي هغه سپک کړي دي؛ "مخکښنو پيغمبرانو پورې هم داسې ټوقې او مسخرې شوې وې". نو اے نبي! تا پورې به هم دا خلق ټوقې او مسخرې کوي، خو واوره! ستا مرتبه کمولے نۀ شي، دوي به دَ الله تعالىٰ دَ قهر او غضب سره مخامخ شي:

﴿فَحَاقَ بِالَّذِينَ سَخِرُوا مِنْهُمْ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ﴾.[2]

"پس نازل شوے وو په هغه کسانو باندې چې هغوي ټوقې کړې وې دَ دوي نه سزا دَ هغې چې وو دوي دَ هغې پورې چې ټوقې او مسخرې ئې کولې".

الله رب العزة وائي: هغوي له مې سزا ورکړې وه نو دوي له به هم سزا ورکوم. نو قسم ما قسم شبهې او اعتراضات به ئې په نبي ﷺ باندې کول.

په خوراک او څښکاک کولو باندې اعتراض

کله به دوي دا اعتراض کولو چې:

﴿وَقَالُوا مَالِ هَذَا الرَّسُولِ يَأْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِي فِي الْأَسْوَاقِ﴾.[1]

---

(1) [سورة الأنعام: 10].

(2) [سورة الأنعام: 10].

"وئیل به دوي: دا څنګه پیغمبر دے، دے خو ډوډۍ خوري او ډوډۍ چې خوري نو هغه پیغمبر نه وي، او دا څنګه پیغمبر دے چې دے بازار کښې ګرځي".

دا هم لا خبره وه! خو ګوره! دوي به پرې خپل زړۀ خوشحالولو. وائي: دا پیغمبر نۀ دے، دے خو خوراک کوي، دا پیغمبر نۀ دے، دے بازار ته ځي، دے دې چرته جومات کښې کښيني.

بل اعتراض: دا خو بشر دې

کله به ئې دا اعتراض کولو: چې دا خو بشر دے او الله رب العزة انسانانو ته وحي نۀ رالیږي:

﴿مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ بَشَرٍ مِّن شَيْءٍ﴾.(2)

"نۀ دے رالیږلے الله پۀ هیڅ یَو بنده باندې هیڅ یَو څیز لره". یعني الله یَو تن له هم وحي نۀ ده کړې، خومره پیغمبران چې تیر شوي دي نو بشر نۀ وو نو دا څکه پیغمبر نۀ دے چې دا بشر دے. الله رب العزة پرې ردّ کوي، فرمائي:

﴿قُلْ مَنْ أَنزَلَ ٱلْكِتَٰبَ ٱلَّذِي جَآءَ بِهِۦ مُوسَىٰ نُورًا وَهُدًى لِّلنَّاسِ﴾.(3)

"ورته اووایه زما نبي! چې چا نازل کړے دے کتاب هغه چې کوم کتاب موسٰی علیه السلام خپل قوم ته راوړے دے؟ چې هغه رڼړا وه او هغه هدایت وو دپاره دَ خلقو".

او دوي دا منله چې موسٰی علیه السلام بشر دے، دَ الله بنده دے. نو چې دا منئ چې بشر دے نو تاسو چې وایئ: چې الله پۀ یَو بشر هم وحي نۀ رالیږي نو ولې تاسو موسٰی علیه السلام ته هم بشر وایئ او هم ورته پیغمبر وایئ؟ تورات تړوله وحي نۀ ده؟ خو چونکه چې سړي کښې ضد راځي بیا دَ حقې خبرې نه هم انکار کوي. مخکښني پیغمبران ټول بشر وو، نو چې هغه منئ نو دے ولې نۀ منئ؟

بل اعتراض دَ مشرکانو پۀ نبي ﷺ باندې

- کله به ئې دا اعتراض پۀ نبي ﷺ باندې کولو:

---

(1) [سورة الفرقان: 7].

(2) [سورة الأنعام: 91].

(3) [سورة الأنعام: 91].

﴿وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ هَذَا الْقُرْآنُ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ﴾.[1]

"دوي به وئيل: چې ولې نۀ شو نازلولے دا قرآنِ عظيم (چې پۀ دې يتيم باندې نازليدو چې نۀ ئې مور شته او نۀ ئې پلار شته، پۀ دې غريب او فقير باندې نازليدو نو ولې نۀ شو نازلولے دا قرآن)، پۀ يَو لوئي سړي باندې دَ دې دوؤ کلو نه".

مکه کښې لوئي لوئي سرداران شته، طائف کښې لوئي لوئي سرداران شته، چې دا قرآن پۀ دې نبي (ﷺ) باندې راتلو نو پۀ هغوي باندې ولې نۀ راتلو؟ لکه دا پيغمبري چې دوي دَ مالدارو خلقو جاګير ګڼړلے ووا. پۀ دې نبي باندې وحي راځي نو پۀ فلانکي صاحب باندې ولې نۀ راځي. دا اعتراض وو؟

دَ دوي دَ دې اعتراض جواب

الله تعالیٰ دَ دې اعتراض جواب پۀ خپله باندې کوي:

﴿أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ﴾.[2]

الله وائي: اے خلقوا دا پيغمبري چې ده نو دا خو زما يَو رحمت دے چې زۀ ئې چا لره ورکول اوغواړم نو هغۀ له به ئې ورکوم، نو "آيا دا خلق تقسيموي رحمت دَ ربّ ستا". دا به الله دَ دوي پۀ خوښه ورکوي او کۀ پۀ خپله خوښه به ئې ورکوي؟، دا الله پۀ خپله خوښه ورکوي. او دا نبي ﷺ دَ الله خوښ وو نو ځکه الله پيغمبر راوليږلو.

نو دا دَ دوي اعتراض وو: چې دے ولې الله پيغمبر اوګرځولو.

کله الله تعالیٰ داسې جواب ورکوي:

﴿اللَّهُ أَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهُ﴾.[3]

"الله تعالیٰ ښۀ پوهيږي کوم ځائے کښې چې الله ګرځوي خپله پيغمبري".

نو دا خو دَ الله خوښه ده چې کوم ځائے کښې الله څوک پيغمبر جوړوي. نو ديکښې دَ چا

(1) [سورة الزخرف: 31].

(2) [سورة الزخرف: 32].

(3) [سورة الأنعام: 124].

څۀ کار دے؟ دا پۀ عقل باندې نۀ ده. دا دَ الله پۀ خوښه باندې ده.

نو دا دَ دوي اعتراض وو.

دَ فرشتو راتلل

کله به دوي دا اعتراض کولو:

﴿لَوْلَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مَلَكٌ فَيَكُونَ مَعَهُ نَذِيرًا﴾.[1]

"ولې دَ دې نبي سره فرشته نۀ راځي چې دَ دې نبي سره یرونکې شي".

چې دا پیغمبر وو نو دۀ لره یَو فرشته هم پکار وه چې هغې ورسره هم دا بیان کولو، تصدیق ئې ورله هم کولو.

﴿أَوْ يُلْقَىٰ إِلَيْهِ كَنْزٌ﴾.[2]

"یا ولې نۀ شي را غورځولے دې نبي (ﷺ) ته خزانه".

چې دا نبي دے نو دۀ سره مال ولې نشته دے، دۀ سره دولت ولې نشته دے.

﴿أَوْ تَكُونُ لَهُ جَنَّةٌ يَأْكُلُ مِنْهَا﴾.[3]

"یا ولې نشته دَ دې نبي (ﷺ) دپاره باغ چې خوراک کوي دَ هغې نه".

چې دا پیغمبر دے نو دَ کجورو باغ ئې ولې نشته دے.

﴿وَقَالَ الظَّالِمُونَ إِنْ تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَسْحُورًا﴾.[4]

"وئيلي وو ظالمانو: تاسو تابعداري نۀ کوئ مګر دَ یَو سړي چې هغۀ باندې جادو کړے شوے دے".

وائي: دَ دۀ دماغ چا پۀ جادو باندې خراب کړي دي، او تاسو هغۀ پسې روان يئ. نو کوره! یَو خبره ئې نۀ وه، کله یَو اعتراض او کله بل او کله بل... کله به ئې وئيل: چې دا نبي چې کومې خبرې کوي نو دا زمونږه عقل نۀ مني نو څنګه ئې مونږه اومنو؟ وئيل به ئې: چې دے وائي: چې کله

---

(1) [سورة الفرقان: 7].

(2) [سورة الفرقان: 8].

(3) [سورة الفرقان: 8].

(4) [سورة الفرقان: 8].

انسانان مړهٔ شي او هډوکي شي او خاورې شي نو دا به الله بیا دوباره را ژوندي کوي، وائي: دا مو پکښې نوې خبره واوریده!!!.

یَو سړي چرته ډیره زمانه دَ سحر آذان نهٔ وو اوریدلے نو یَو ورځ چرته سحر وختي پاسیدلے وو نو آذان کښې ئې "الصلاة خیر من النوم" اوریدلي دي نو سحر بل ته وائي: اے هلکه! دا څنګه چل دے ما خو نن دَ سحر بانګ کښې نوې تپه واوریده، وائي: "الصلاة خیر من النوم" ئې پکښې وئیلو. څکه هغهٔ خو نهٔ وو اوریدلے نو دوي هم وئیل: چې دا مو پکښې نوې تپه واوریده: چې دا مړي به بیا الله ژوندي کوي، دا به بیا الله دَ قبرونو نه راوباسي، دا دے لا څهٔ وائي!!!.

﴿أَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ * أَوَآبَاؤُنَا الْأَوَّلُونَ﴾.(1)

"آیا کله چې مونږ مړهٔ شو او خاورې او هډوکي شو نو آیا بیا به کني مونږ راپورته کولے شو او آیا زمونږ رومبني پخواني پلاران او زمونږ نیکونه چې پخوا مړهٔ دي هغه به هم بیا دوباره راپورته کولے شي"، نو دا خو دَ نهٔ منلو خبره ده.

کله به دوي وئیل:

﴿ذَٰلِكَ رَجْعٌ بَعِيدٌ﴾.(2)

"دا واپس کیدل چې دي دا لرې دي دَ عقل نه"، زمونږه دماغ دا خبره نهٔ اخلي، زمونږه پهٔ سوچ کښې دا خبره نهٔ راځي.

او کله به ئې وئیل:

﴿هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ يُنَبِّئُكُمْ إِذَا مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ إِنَّكُمْ لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ﴾.(3)

"آیا مونږه خبر درکړو تاسو ته پهٔ داسې یَو سړي چې خبر درکوي تاسو ته پهٔ دې چې کله تاسو ذرّه ذرّه، ټکړې ټکړې شئ پهٔ مکمل ټکړې ټکړې کیدو سره نو یقیناً تاسو به بیا پهٔ پیدائش نوي کښې پیدا کیږئ".

---

(1) [سورة الصافات: 16 - 17].

(2) [سورة ق: 3].

(3) [سورة سبأ: 7].

حجره کښې به کېښناستل، مجلس کښې به کېښناستل، وئيل به ئې: مړه! نوي نوي خلق راغلي دي، نوې نوې مسئلې ئې شروع کړي دي. وائي: داسې سړے به تاسو چرته نۀ وي ليدلې؟ زۀ تاسو ته داسې سړے ښايم!، بل به اووئيل: چې دا دے به لا څۀ کړوړې وائي، وائي: ګوره! دماغ ئې داسې ګډوډ شوي دي، هغه وائي: چې کله دا انسانان ذرّه ذرّه شي، پۀ پوره پوره ذرّه ذرّه کيدو باندې نو وائي: بيا به الله دوي پۀ نوي پيدائش باندې موجود کړي، او بيا به ئې ژوندي کړي. نو بل به وئيل: يا الله! زما دې توبه وي! نوې نوې فتنې راوتي دي، دا دے پکښې لا څۀ وائي!. بل به وئيل: چې دا خبرې خو نۀ زمونږه پلارانو کړي وې او نۀ زمونږه نيکونو کړې وې، دا پکښې دَ کوم ځائے نه راغلي دي. وائي: يره! خو بس نوې نوې خبرې به اورې نو!.

﴿أَفْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَم بِهِ جِنَّةٌ﴾.(1)

دے پکښې وائي: چې ما ته وحي شوې ده، وائي: "آيا دۀ پۀ الله باندې دروغ جوړ کړي دي؟ بلکه پۀ دۀ باندې ليونتوب راغلے دے".

نو تۀ اووايه: چې تۀ ټولې دنيا له دعوت ورکوے، او خلق درته داسې وائي نو دا به داعي له خومره زور ورکوي. دا خو الله رب العزة دَ نبي ﷺ زړۀ لکه دَ اوسپنې کلک کړے وو، دَ دې ټولو اعتراضونو پرواه به ئې نۀ لرله او خپل بيان به ئې کولو اګر چې الله به جوابونه کول.

بل اعتراض: پۀ قرآن اوريدو با ندې

چې نور وس به ئې اونۀ شو نو خلقو ته به ئې وئيل:

﴿لَا تَسْمَعُوا لِهَٰذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ﴾.(2)

"دا نبي ﷺ چې کوم قرآن بيانَوي نو دا مۀ اورئ (دَ دۀ خبرې مۀ اورئ، دَ دۀ بيان مۀ اورئ، ولې؟؛ کۀ دا قرآن اورئَ نو پۀ تاسو به هم اثر اوشي، تاسو به هم ليوني شئ)، شور کوئ تاسو دَ دې نبي دَ بيان پۀ وخت کښې؛ دَ دې دپاره چې تاسو زورَور شئ". نو دليل کښې خو زورَور کيدے نۀ شئ خو

(1) [سورة الفتح: 29].

(2) [سورة فصلت: 26].

شور کنبې ځان زورور کړئ. شور جوړ کړئ غوبل جوړ کړئ، خلق به وائي: شر جوړیږي، فساد جوړیږي نو مشران به راپاسي او دې نبي ته به وائي: چې نورې به دا خبرې نۀ کوې، نور به دا بیانونه نۀ کوې، نورې به دا مسئلې نۀ کوې. پۀ دې طریقه به ترې دا خلق منع کړو.

کله به ئې دَ الله دَ نبي ﷺ خلاف جلسه جوړه کړه، پروګرام به ئې جوړ کړو.

دَ نضر بن حارث کار

نضر بن حارث لوئې کافر وو او دۀ وئیل: چې زۀ به دَ دې نبي ﷺ خلاف کوم، زۀ به دَ دۀ مقابله کوم. نو دے چرته پخوا تلے وو، دَ فارس دَ بادشاهانو او دَ رستم خان او اسفندیار خان (دا دَ هغې علاقې دا بادشاهان وو. هغوي ډیر پهلوانان وو) دَ هغوي قیصې ورته یادې وې، چې فلاني خان داسې کړي وو، فلانئ پهلوان داسې کړي وو، خلقو ته به ئې وئیل: راځئ! ما سره کینئ، نو داسې کار دے چې تاسو ته به پته اولګي چې زما دا مجلس به بهتر وي او کۀ دَ محمد ﷺ دا مجلس به بهتر وي. دلته ښۀ مزیدار پۀ صوفو کښې ولې نۀ کښینئ چې هلته پۀ خاورو کینئ، او زۀ درته وایم: چې ګپ شپ به هم لګوؤ او دَ رستم او دَ اسفندیار خان قیصې به هم درته کوم او دَ شرابو ګلاسونه به ډک وي، شراب به ورسره هم څښکو، سندرې به هم پکښې وایُو. او هغه خو به درته وائي: چې شراب به نۀ څښکئ، سندرې به نۀ غږوئ، او دَ موسٰی علیه السلام او دَ فرعون او دَ قارون او دَ بل دا زړې قیصې به درته کوي. دا خو مونږه ټول عمر اوریدلي دي، راځئ! چې نا آشنا نا آشنا قیصې درته اوکړم.

خلقو ته به ئې وئیل: چې زما مجلس ښۀ دے، پۀ پیسو به ئې ځان له سندر غاړې وینزې اغستې، او خلقو ته به ئې وئیل: راځئ! مجلس دے. نو روره! دا خلق خو پۀ ډنګ جیران دي، دوي له خو تۀ قرآن بیانَوه نو دا پرې بوج وي، خو کۀ دغه ځائے کښې یَو ډنګ ورکړو نو بیا دا ټول منډې وهي، بیا ورته نۀ ټینګیږي. وائي: دیته به دَ چا پلار ټینګ شي، هغه شیطاني شے دے خلقو له خوند ورکوي. نو دۀ به خلقو ته دا وئیل: دے خو دَ شرابو نه منع کوي او زۀ به دربانده شراب څښکم، دے دَ سندرو نه منع کوي او زۀ به سندر غاړې جینکئ راولم، او ګډوم به ئې، او ښې سندرې به

پرې وايم، نو کوم مجلس ښۀ دے؟ نو چې څوک پۀ دنيا مئين وو نو هغه به دَ دۀ مجلس ته راتلل. او څوک چې پۀ دين مئين وو نو هغه به دَ رسول الله ﷺ مجلس ته تلل. الله رب العزة فرمائي:

﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ﴾(1)

"بعضې دَ خلقو نه هغه دي چې هغه ځان له پۀ پيسو اغستي دي هغه څيزونه چې هغه دَ دين نه خلق غافله کوي؛ دَ دې دپاره چې خطاء شي دَ لارې دَ الله نه". يا دَ دې معنٰی متعدّي اوکړه: "دَ دې دپاره چې نور خطاء کړي دَ الله دَ لارې نه".

دَ بل دَ کمراه کولو دپاره ئې نوې نوې طريقې رائج کړي دي. نو يَو طريقه دَ کافر دا وه: چې رسول الله ﷺ بد نام کړي، مجنون به ئې ورته وئيلو، ساحر به ئې ورته وئيلو، بے وقوفه به ئې ورته وئيلو، پۀ قرآن باندې اعتراضونه، پۀ صحابه کرامو ﷺ باندې اعتراضونه، وائي: کۀ دا دين صحيح وے نو دا به دې غريبانانو قبلولو؟ دۀ سره چرته ما ته اوښيار سړے اوښايئ؟ ټول ورسره دا کمزوري خلق دي، چرته غلامان، چرته وينزې راغلي دي هغه ورسره ملګري شوي دي او پۀ عربو کښې خانداني خلق يَو هم دَ دۀ ملګرے نۀ دے، دا دے هسې لګيا دے. او نبي ﷺ ته به ئې وئيل: چې مونږ به درسره راتلو خو دا غريبانان دې خپل مجلس نه لرې کړه. پۀ دې طريقه به ئې خلق دَ نبي ﷺ نه متنفّره کول.

نو دا يَو طريقه وه دَ هغوي دَ نبي ﷺ نه دَ اړولو. چې پۀ دې باندې کار اونۀ شو او پۀ دې اعتراضونو ئې خلق وانۀ ړول، پۀ دې باندې ئې خلق دهوکه نۀ کړل نو بيا به ئې نورې طريقې اختيارولې.... خو بيا هم خلق منع کيدل نۀ؛ ځکه خلقو به چې دَ نبي ﷺ بيان واوريدو نو هغوي به ئې ملګري شول.

دَ طفيل بن عمرو الدوسي ﷺ ايمان راوړل

طفيل بن عمرو الدوسي ﷺ ته دَ مکې کافر ولاړ وو، چې سردار حج له راروان دے، دا پيغمبر ئې چرته دهوکه نۀ کړي، هغۀ ته وائي: چې ملګريه! تۀ خو راغلے ئې ميلمه ئې، او مونږ

(1) [سورة لقمان: 6].

ستا ملاقات ته راغلي يُو، خبره دا ده: چې زمونږه کلي کښې يَو کس پيدا شوے دے، "محمد" ئې نوم دے، دَ پلار نوم ئې "عبد الله" دے، او هغې محمد ګډې وډې خبرې شروع کړي دي، ډير اوښيار وو، ډير تکړه وو، ډير ښۀ سړے وو، خو اوس پرې څۀ چل شوے دے، دماغ ئې خراب شوي دي، سړے جادوګر دے، چې خلق ئې ځنګه خبرې واوري نو داسې جادو دے ورسره چې صبا دَ هغۀ ملګرے شي، نو مهرباني اوکړه! دَ دې سړي نه به ډير ځان ساتې.

نو طفيل هغه وخت لا کافر دے، هغه وائي: زۀ ئې سخت اويرولم، زۀ دَ هيڅ څيز نه دومره نۀ يم يريدلے لکه څومره چې دَ دې سړي نه اويريدم. وائي: ما زړۀ کښې وئيل: چې چرته دا سړے مخې له رانۀ شي، خراب مې نۀ کړي، دهوکه مې نۀ کړي، وائي: دَ ډير احتياط دَ وجې نه وائي: ما وئيل: چې زۀ خو به ورته نۀ ګورم خو کۀ غوږونو ته مې آواز راشي نو بيا به راته نقصان مِلاؤ شي. دوي زما په زړۀ کښې دومره نفرت اچولے، وائي: ما وئيل: چې راشه! دا غوږونه هم بند کړه. وائي: مالوچ مې رااوړل او په دې غوږونو کښې مې وردننه کړل، دواړه غوږونه مې بند کړل، څپلې خبرې مې اوريدې او دَ بل خبرې به مې نۀ اوريدلې او په دې دوران کښې بيت الله کښې طوافونه کوم او کرځمه. زړۀ کښې هسې يَو سوچ راغے چې تۀ څۀ ماشوم خو نۀ ئې، وروکے خو نۀ ئې، تا دَ کاهنانو خبرې هم اوريدلي دي، تا دَ ساحرانو خبرې هم اوريدلي دي، تا دَ شاعرانو خبرې هم اوريدلي دي. داسې کار دے چې تۀ دَ دۀ خبرې هم واوره کۀ غلطې وې نو مۀ ئې منه کنه. بس چې دومره يَو سړي سوچ اوکړو نو بيا کار کيږي، وائي: غوږونه مې کولاؤ کړل، او نبي ﷺ چې کله عبادت خلاص کړو، کور ته روان شو، زۀ وريسې هم روان شوم. وائي: ما ورته اووئيل: چې ما خو غوږونه ډير کلک بند کړي وو ستا دَ آواز دَ وجې نه چې وائي نۀ ورم، خو ما سوچ اوکړو: چې دا تۀ څۀ وائې، دا خلق ولې ستا نه دومره سخت متنفِّره دي؟ طفيل وائي: ما ورته اووئيل: چې ما ته صرف ستا هغه پيغام واوروه چې دا ځنګه خبرې دي؟ وائي: "دَ الله نبي ﷺ ما له دَ اسلام دعوت راکړو، او ما ته ئې دَ قرآن تلاوت اوکړو". نور ئې را ته څۀ نۀ دي وئيلي، وائي: صرف قرآن ته غوږ کيښوده، زۀ درته تلاوت کوم (الله اکبرا). چې دَ رسول الله ﷺ خُلۀ وه او دَ هغۀ ژبه وه او قرآن خو

نازل هم دَ هغوي پهٔ لغت باندې وو، او دَ الله نبي ﷺ فصاحت او بلاغت هم ډېر عجيبه وو، او چې بيا دَ سرې زړهٔ هم صفا شي چې واوره، دے څهٔ وائي؟ وائي: کله چې رسول الله ﷺ دَ قرآن تلاوت شروع کړو نو ما چې واوريدو نو ما داسې کلام چرته نهٔ وو اوريدلے، دَ الله نبي ﷺ چې څنګه تلاوت بس کړو نو طفيل ورته وائي: "ما دَ کاهنانو کلامونه اوريدلي دي، دا کلام دَ مخلوق نهٔ دے، لاس را اوږد کړه چې زهٔ درباندې اول ايمان راوړم". پهٔ نبي ﷺ باندې ئې ايمان راوړو.

نو هغوي به خلق دَ نبي ﷺ نه منع کول خو چې کله به هغوي دَ نبي ﷺ خبره واوريده نو هغوي به ورسره ملګري شول. پهٔ دې تحريک کښې هم کامياب نهٔ شو.

دَ ضمّاد ايمان راوړل

ضماد دا صحابي دے خو اول مسلمان نهٔ وو، مکې ته راغلے وو، چا ورته اووئيل: چې دلته کښې يَو کس دے او ليونے شوے دے، ګډې وډې وائي، هغهٔ وائي: زما زړهٔ کښې ترس راغے چې يره! دم به پرې واچوم کهٔ الله ئې جوړ کړي. کافرو به الله منلو. وائي: ما ورته اووئيل: چې دَ عربو هغه ليونے چرته دے چې خلق ورته ليونے وائي؟ وائي: چا را ته اووئيل: چې فلاني ځائے کښې دے، وائي: زهٔ لاړم او نبي ﷺ ته اودريدم چې زهٔ خبر شوے يم چې ستا دماغ مخکښې سم وو خو اوس خراب شوي دي، ګډې وډې وائې، نو زهٔ به دې دم کړم او ما سره دَ ليونو ډيرې ښې اجازې دي، الله به دې روغ کړي. وائي: دَ الله نبي ﷺ ما ته وائي: چې خير دے، تهٔ به مې دم کړې خو اول زما نه واوره! چې دا کومې خبرې دي چې خلق ما ته ليونے وائي؟ وائي: ما ورته اووئيل: چې تهٔ اووايه!، وائي: دَ الله نبي ﷺ پهٔ خپل انداز باندې خطبه شروع کړه:

«إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، أَمَّا بَعْدُ». [1]

کله چې ضماد ؓ دَ نبي ﷺ دا خطبه واوريده نو هغهٔ نبي ﷺ ته اووئيل:

"أَعِدْ عَلَيَّ كَلِمَاتِكَ هَؤُلَاءِ". [2] "ما ته دې دا کلمات بيا اووايه".

---

(1) أخرجه مسلم في كتاب الجمعة، باب تخفيف الصلاة والخطبة، برقم: (868).

(2) أخرجه مسلم في كتاب الجمعة، باب تخفيف الصلاة والخطبة، برقم: (868).

نبي ﷺ ورته خطبه بیا دَ سره کړه. او چې بیا ئې ختموله نو دے نبي ﷺ ته وائي: ما دَ کاهنانو او ساحرانو او دَ لیونو دَ ټولو خبرې اوریدلي دي، داسې کلام لیوني نهٔ شي پیش کولے، تهٔ لیونے نهٔ ئې، تهٔ بالکل پیغمبر ئې، او لاس را اوږد کړه چې زهٔ دربانديې ایمان راوړم. نو دَ الله نبي ﷺ پسې به چې دوي څومره خبرې کولې نو دومره به الله دَ خلقو پهٔ زړهٔ کښې دَ نبي ﷺ مینه پیدا کوله، دومره به الله تعالٰی محبت پیدا کولو. ان شاء الله بله جُمعه کښې به راشي چې بیا دوي طریقه کار بدل کړو. وائي: اوس پهٔ دې کار نهٔ کیږي، وائي: اوس به دَ وهلو ټکولو نه کار اغستل غواړي. نو بیا دَ تکلیفونو لړئ شروع کیږي، ان شاء الله راتلونکي جُمعه کښې به دَ هغې وضاحت کوؤ.

وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

بسم الله الرحمن الرحيم

يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ

(سورة المائدة: 67)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه ديارلسمه

"دَ نبي ﷺ ملګرو له دَ مشركينو تكليفونه وركول "

بتاريخ: 2022-03-11

مقام: جلسۍ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

سيرة النبي ﷺ حصه ديارلسمه

"دَ نبي ﷺ ملګرو له دَ مشرکينو تکليفونه ورکول"

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿يَاأَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ﴾.(1)

حاضرينو عزتمندو مسلمانانو رونړو! پۀ تيرو جُمعو کښې مونږه دَ رسول الله ﷺ سيرت بيان کړے وو، چې رسول الله ﷺ کله دَ الله دَ دين دعوت شروع کړو، نو هغه نبي چې خلقو به ورته صادق او امين وئيلو، او خلقو ورسره ډير مينه او محبت کولو، بيا يک دم خلق بدل شول بيا ئې قسم ما قسم اعتراضونه پۀ رسول الله ﷺ باندې کول. چا به ورته ساحر وئيلو، چا به ورته مجنون وئيلو، چا به ورته شرې وئيلو، او چا به ورته بے وقوفه وئيلو، پۀ نبي ﷺ مختلف اعتراضونه کيدل حتّٰی چې مخکښې جُمعه کښې مونږه وضاحت کړے وو چې باقاعده ذوي به کرځيدل او خلقو له به ئې وئيل: چې دے ليونے دے او دے ساحر دے.

دَ نن بيان موضوع

چې پۀ دغې کار اونۀ شو نو نن جُمعه کښې به دا وايُو: چې ذوي پوهه شول چې مونږه څومره

(1) [سورة المائدة: 67].

خلقو ته وايي چې دے خو ساحر دے نو چې خلق ئې خبرې واوري نو هغه ئې هم ملګري شي.

دَ نبي ﷺ ملګرو له تکليفونه ورکول

زمونږه دې پروپيګنډو هيڅ فائده اونهٔ کړه، نو دويمه طريقه ئې دا اختيار کړه چې: نبي ﷺ او دَ هغهٔ ملګرو ته به تکليفونه ورکوو، سزا ګانې به ورکوؤ. پهٔ دې طريقه باندې به خلق دَ دين نه واوړي او خلق به دَ دين نه روستو شي او خلق به دَ دهٔ ملګري نهٔ شي. پهٔ هغې کښې هغوي دا مشوره اوکړه: چې کوم سړے دَ چا پهٔ اختيار کښې دے او دَ چا رشته دار دے نو هر رشته دار هغې خپل رشته له پهٔ خپل لاس تکليف ورکړئ، چې تاسو له دشمني او فساد هم نهٔ جوړيږي او دې نبي له به رکاوټونه هم سهوا شي. نو هر يَو سړي به خپل غلام، خپل رشته دار له تکليف او مصيبت رسولو او خپل کوشش به ئې کولو چې دے واړوي.

پهٔ زړهٔ کښې دَ ايمان حقانيت

خو قانون دا دے: چې کله دَ يَو سړي پهٔ زړهٔ کښې دَ ايمان حقّانيت ورننه شي هغه ته دَ تولو نه ګران شے بيا دَ ايمان پريخودل دي. هغهٔ له بيا بدن قربانول ګران نهٔ دي، مال قربانول ورته ګران نهٔ دي، تکليف برداشت کول ورته ګران نهٔ دي. بلکه دا ورته خوند او مزه ورکوي. نو دويمه طريقه دَ کفارو هغه مسلمانانو له تکليفونه رسول وو. هز يَو خپل وَس کړے دے.

دَ ابو جهل لعين کار

ابو جهل لعين به چې کله واوريدل چې يَو سړے مسلمان شوے دے او اسلام ئې راوړو نو هغهٔ به هغې سړي ته اوکتل، چې دا څنګه دے؟ چې کله به هغه سړے عزتمند وو، طاقتور به وو، دَ دهٔ به پرې وس نهٔ کيدو نو هغهٔ پسې به ئې ردې بدې جوړې کړې، خلقو کښې به ئې شرمولو، خبرې به ئې وريسې کولې، چې فلانکے داسې دے، خلق به ئې دَ هغهٔ نه متنفّره کول. او ورته به ئې وئيل: چې ګوره! تا خو ايمان راوړے دے، تا ته خو پته نشته، زما خو خپل دے، ما ته ئې پته ده، فلانے راغلے وو، مسلمان شو نو دَ ښځې نه خلاص شو، ښځه ئې مړه شوه، بچي ئې مړهٔ شول، دَ فلانکي ښاروي مړهٔ شول، دا ډير سپيرهٔ دين دے، چې څوک راغلي دي، دَ دې اولياؤ آزار وهلي دي

نو هغهٔ بیا بناده ورځ نهٔ ده موندلې. نو هغه به ئې پهٔ دې طریقه باندې یرولو. او کله به ئې ورته وئیل: چې ګوره! یواځې به پاتې شې، دا عزت به دې ختم شي، دا مشرت به دې ختم شي او دا ټول خلق یو څهٔ کوي، او تهٔ بل څهٔ کوې. هغې سړي به وئیل: یره! دے خو ښهٔ وائي؛ ځکه غټ خلق خو دَ خلقو ډیر خیال ساتي، وائي: صبا به ووټ راکوي. بل کار به کوي. او چې کله به ئې یو سړے کمزورے اولیدو، کمزورے به وو، عاجز به وو او بے وسه به وو نو دې ابو جهل ظالم به پهٔ خپله هم وهل، ټکول کول او بے عزته کولو به ئې، وائي: دا درته چا وئیلي دي: چې تهٔ دا خپل دین پریږدَوه او دَ دهٔ خبرې منه؟ او نورو ته به ئې هم وئیل: چې دے درنه سر اوچت نهٔ کړي. دَ ابو جهل خپله دا کار وو او نور چې څوک چا ته نزدې وو نو هغهٔ به خپل مسلمان رشته دار پهٔ آرام نهٔ پریخودو.

دَ سیدنا عثمان بن عفّان ﷺ تکالیف

عثمان بن عفّان ﷺ جلیل القدر صحابي دے، خو ابتداء کښې هر یو تکلیف تیر کړے دے، سیدنا عثمان ﷺ دَ دهٔ ترهٔ دَ دهٔ سخت دشمن شو، وائي: زما ورارهٔ دے او زهٔ به دَ دهٔ اصلاح کوم، هغه ته وائي: تا اسلام ولې راوړے دے؟ وائي: دَ اسلام نه واپس شه، سیدنا عثمان ﷺ چې نهٔ واپس کیدو نو هغه ترهٔ ئې دَ کجورو دَ پتو نه یو پوزکے جوړ کړے وو، دا سیدنا عثمان ﷺ به ئې دَ لاسونو نه اوتړلو او هغې کښې به ئې رابند کړو، لکه څنګه چې سړے پوړ راغونډوي، پهٔ دې پوزي کښې به ئې سیدنا عثمان ﷺ رااونغښتو او بیا به ئې دَ دې لاندې طرف نه ورته لوګے راوړو، هغه به ئې ورته کیخودو او هغه ټول لوړے به پهٔ هغهٔ ورتلو، دَ سیدنا عثمان ﷺ دَ پوزې نه به اوبهٔ رارواني وې، دَ سترګو نه به ئې اوښکې رارواني وې. ډیر سخت مشکلاتو کښې به وو. وائي: دا لوګے به درته کوم چې ترڅو پورې تا پهٔ الله او پهٔ محمد رسول الله کفر نهٔ وي کړے. هغې خلقو دَ اسلام دپاره تکلیفونه برداشت کړي وو، هغې خلقو قربانۍ ورکړې وې، نن څهٔ دي.

دَ مصعب بن عمیر ﷺ تکالیف

مصعب بن عمیر ﷺ جلیل القدر صحابي دے، پهٔ صحابوٴ ﷺ کښې ډیر لوئې مقام لري. خو چې مسلمان نهٔ وو نو یو حیثیت ئې وو او چې کله مسلمان شو نو یَک دم ئې حیثیت بدل شو.

علماؤ ليکلي دي: چې سيدنا مصعب بن عمير ﷺ ډير نيازبين وو، او دَ خاندان نه مالداره هم وو، دَ دهٔ به سحر يَو جوړه وه نو ماښام به ئې بله جوړه وه، خائسته لباس، خائسته خوراک، خائسته ګرځيدل، دَ دهٔ سره دَ هر څهٔ سهولتونه ډير وو. کله چې سيدنا مصعب ﷺ ايمان راوړو نو دَ دهٔ مور وه، ډيره غټه ظالمه وه، هغې له څهٔ پته وه چې دا حق دين دے، هغې خو وئيل: زما ځوي بے دينه شو. لکه اوس هم دا خبره ده، خلق وائي: دا خراب شو. نو دَ دهٔ خپله مور خلاف شوه، او سيدنا مصعب ﷺ ته وائي: چې زما ځوي وې خو اوس زما ځوي نهٔ ئې، او تا باندې خو ما ډيره مينه کوله خو نن نه بعد به دا شے نهٔ وي، ډوډئ به ئې نهٔ ورکوله. وائي: څه! چې پهٔ چا دې ايمان راوړے دے، هغه دې درله ډوډئ درکړي، اوبهٔ به ئې ورله نهٔ ورکولې. او ورته ئې وئيل: چې کور ته به نهٔ راځې، دا زما کور دے.

دَ کور نه ئې سيدنا مصعب ﷺ اوشړلو. مصعب ﷺ به نهر نهور ګرځيدو، دَ کور نه بهر به ئې شپې کولې. پهٔ ټولو خلقو کښې يَو خائسته هلک وو؛ ځکه چې هر څهٔ ډير وو، مالداره وو، مالداره خلق خائسته وي؛ ځکه هغوي له سهولتونه ډير وي. سيدنا مصعب ﷺ پهٔ يَو څو ورځو کښې دَ هغهٔ بدن داسې پرچونه اوغورځول. دومره سختئ او دومره تکليف سيدنا مصعب بن عمير ﷺ برداشت کړے وو. پهٔ يَو موقع باندې نبي ﷺ اوليدو چې يَو څادر دے ورباندې او پهٔ هغې کښې ګنړ پيوندونه لګيدلي وو، داسې څادر چرته هغهٔ پهٔ سر کړے نهٔ وو، خو دَ دين دَ قربانئ دپاره هغه بيا غريب وو، کمزورے وو، هغې کښې پيوندونه لګيدلي وو، دَ رسول الله ﷺ دَ سترګو نه اوښکې رواني شوې چې دَ مصعب ﷺ دا حالت ئې اوليدو. او چې وفات شو نو دا حالت وو: چې دومره څهٔ شے نهٔ وو چې هغهٔ له ئې پرې کفن برابر کړے وے، کهٔ سر به ئې ورته پټولو نو خپې به ئې ښکاره کيدې او کهٔ خپې به ئې پټولې نو سر به ئې ښکاره کيدو. دا تکليفونه هغوي برداشت کړي وو.

دَ صهيب بن سنان الرومي ﷺ تکاليف

صهيب بن سنان الرومي ﷺ دَ رسول الله ﷺ صحابي وو، دے کافرو نيولے وو، او تکليفونه

ئې ورکول، دومره وهل، دومره ټکول، دومره لوږې او تندې ئې پرې تېرې کړې وې چې سیدنا صهیب بن سنان الرومي ﷺ هغهٔ ته چې کومې خبرې یادې وې هغه ترې هم هېرې شوې وې. دَ ډېرو تکلیفونو دَ وجې نه کله کله دَ سرې دماغ کار پرېږدي. ډېرې داسې خبرې وې چې ورته یادې وې خو کله چې دَ هغوي دَ تکلیفونو نه آزادیدو او خلاصیدو نو هغهٔ اووئیل: چې ما نه اوس هغه خبرې هېرې دي، ما ته پته نشته دے.... پهٔ دې باندې هم نهٔ پوهیدو چې دا زهٔ څهٔ وایم. دومره وهل او ټکول او دومره بے عزتي دَ صهیب بن سنان الرومي ﷺ شوې وه.

دَ سیدنا بلال ﷺ حالت

سیدنا بلال حبشي ﷺ دا دَ اُمیه بن خلف غلام وو، امیه بن خلف دا دَ رسول الله ﷺ سخت دشمن وو، دے سیدنا بلال ﷺ ته وائي: تهٔ تلې نو زما پهٔ دشمن دې ایمان راوړو؟ چې زهٔ ستا مالک یم نو زهٔ ئې نهٔ منم او تهٔ وائې: دا پیغمبر دے، او الله رالیږلے دے او تهٔ پرې ایمان راوړې؟ نو بلال ﷺ خو غلام وو، دَ غلام به دَ مالک نه څوک تپوس کوي؟ نو بلال ﷺ ته ئې سخت تکلیفونه رسول. دَ دې وجې نه صاحب دَ "الرحیق المختوم" لیکلي دي:

"فَكَانَ أُمَيَّةُ يَضَعُ فِيْ عُنُقِهِ حَبْلًا، ثُمَّ يُسْلِمُهُ إِلَى الصِّبْيَانِ، يَطُوْفُوْنَ بِهِ فِيْ جِبَالِ مَكَّةَ، حَتَّى يَظْهَرَ أَثَرُ الْحَبْلِ فِيْ عُنُقِهِ".[1]

"امیه بن خلف ظالم هغهٔ به دَ سیدنا بلال ﷺ پهٔ څټ کښې رسۍ واچوله او بیا به ئې سیدنا بلال ﷺ ماشومانو له پهٔ لاس کښې ورکړو، ماشومانو به لکه دَ څاروي نیولے وو او دَ مکې پهٔ غرونو او کوڅو کښې به ئې ګرځولو، تر دې پورې چې دَ رسۍ هغه اثر به ئې پهٔ څټ کښې ښکاره شو".

او امیه به وئیل: اوګورئ! دَ دهٔ نه عبرت واخلئ! څوک چې پهٔ محمد باندې ایمان راوړي نو دا به ئې حال وي.

او کله به چې بلال ﷺ نهٔ تلو نو "يَجُرُّوْنَهُ". "دوي به لکه دَ څاروو پهٔ شان راښکلو" تر دې

(1) انظر: "الرحيق المختوم": (78/1)، وأيضا: "المنهج الحركي للسيرة النبوية": (58/1).

پورې چې دَ بلال ﷺ پهٔ دې خټ کښې به هغې رسئ او پرې تخښې جوړې کړې وې. هغه وخت کښې به څهٔ پرې وو؟ یا به ئې دَ ښاروؤ دَ ویښتو نه جوړول، او یا به ئې دَ کجورو دَ پتو نه جوړول، چې هغه ټول زیګ زیګ وي. دَ سیدنا بلال ﷺ پهٔ خټ کښې با قاعده دَ هغې هغه تخښې جوړې شوې وې، دَ خټ نه ئې پرچونه (پټونه) لرې شوي وو.

باوجود دَ دې دومره سختو بلال ﷺ دَ دین نه واپس شوے نهٔ دے، بلکه دَ دې سختو باوجود به بلال ﷺ ته دومره خوند ورکولو چې دوي به چغې وهلې او دَ هغهٔ بے عزتي به ئې کوله او بلال ﷺ به پهٔ هغې حالت کښې چغې وهلې، چې: "أَحَدٌ، أحدٌ". اے خلقوا الله یک یَو دے، الله یک یَو دے. هغهٔ له به پهٔ دې "أحد، أحد" کښې یَو لذت او یَو خوند مِلاویدو. کله چې دَ یَو سړي دَ چا سره مینه وي او هغهٔ پهٔ هغې تکلیف باندې دهٔ ته راحت او سکون مِلاویږي. او دا لا څهٔ کوې، امیه ظالم چې به راغے سیدنا بلال ﷺ ته به ئې لاس تړلي وو او امسا به ئې ورته اونیوله او پهٔ هغې باندې به ئې وهلو، کله به ئې داسې اوکړل چې (کوره! کله چې اوړے وي او سخته ګرمي وي نو سړي ته پته لګي او دَ عربو زمکې کاڼجنې زمکې دي، دا دَ نرو نرو کاڼرو دي، هغه کاڼري هم تور وي چې هغه ډیر سخت ګرمیږي) سیدنا بلال ﷺ به ئې پهٔ هغې سور نمر کښې پهٔ هغې ګرمو کاڼرو باندې کیښنولو، ډوډۍ به ئې نهٔ ورکوله، اوبهٔ به ئې نهٔ ورکولې..... دا آسان کار نهٔ وو، چې یَو ئې واڼي او بل ئې اوري، دا چې پهٔ چا باندې تیریږي نو دا پته هغهٔ ته لګي!، چې دا خلق واقعي پهٔ دین باندې څومره مئین وو.

کله کله به ئې داسې اوکړل چې سیدنا بلال ﷺ نه به ئې قمیص لرې کړو، دَ پاسه څادر به ئې ترې لرې کړو او بو به ئې تلو پهٔ هغې کاڼجنو کاڼرو دَ پاسه به ئې څملولو، چې پهٔ هغې سرے دَ پاسه دَ خپې تلي هم نهٔ شي کیخودلے دَ هغې هغه حرارت او ګرمائش دومره وي نو!!!. سیدنا بلال ﷺ به ئې دَ هغې د پاسه څملولو بیا به ئې غټه ګټه راوړه او دَ بلال پهٔ سینه به ئې کیخوده او بلال ﷺ ته به ئې اووئیل: چې خوزې به نهٔ، دغسې به پروت ئې. او وئیل: به ئې چې اے بلاله!

"لَا وَاللهِ! لَا تَزَالُ هَكَذَا حَتَّى تَمُوتَ، أَوْ تَكْفُرَ بِمُحَمَّدٍ، وَتَعْبُدَ اللَّاتَ وَالْعُزَّى".

"زما دې په الله قسم وي! چې اے بلاله! دَ دې سزا نه نهٔ شې خلاصيدے، هله به خلاصيږې چې يا مړ شې او يا په نبي ﷺ باندې ڪفر اوکړې، او دَ لات، او دَ عزّىٰ عبادت شروع کړې".

نو بلال ﷺ ته به ئې وئيل: دَ خلاصيدو دې دوه لارې دي، چې مړ شې نو مونږه به دې اوغورځوؤ او مونږه به درنه خلاص شو او کهٔ ژوندے ئې نو هله به دې پريږدو چې محمد باندې ڪفر اوکړې، دے چې څهٔ وائي نو دا به نهٔ منې، او چې دَ لات، منات او عزّىٰ عبادت شروع کړې.

سيدنا بلال ﷺ به وئيل: چې مړ شوم خو شهيد به مړ يم خو چې تر څو پورې ژوندے يم نو ڪفر به اونهٔ کړم. بلال ﷺ به ډير ستړے شو، ډير به تنګ شو نو چې نور آواز ئې نهٔ ختلو نو صرف دا يَو آواز به ئې کولو:

"أَحَدٌ أَحَدٌ".[1]

"الله يک يَو دے، الله يک يَو دے".

نورې خبرې به ئې پريخودې، څکه کهٔ وئيل ئې چې اوبهٔ راوړئ خو چا نهٔ راوړې، کهٔ وئيل: چې ډوډئ راوړئ نو چا نهٔ راوړه، کهٔ وئيل ئې چې: ګرمي ډيره ده نو چا ئې نهٔ منل، پهٔ دې حالت کښې هم بلال ﷺ دَ الله نوم يادَوي. "أَحَدٌ أَحَدٌ" او دې کافرو ته ئې اوکتل وائي: بے وسه يم، ستاسو پهٔ لاسونو کښې يم، زهٔ څهٔ کولے نهٔ شم خو صرف تاسو سوزوم. تاسو ما پهٔ دې سوزَوئ چې ما پهٔ کانړو واچوئ، زما دَ سينې د پاسه درنې درنې ګټې کيږدئ، ما پهٔ دې سوزَوئ چې ما باندې ډوډئ بندَوئ او ما له وهل او تکول راکوئ او زهٔ به تاسو پهٔ دې باندې سوزوم چې "أَحَدٌ أَحَدٌ"، الله يک يَو دے، الله يک يَو دے.

سيدنا بلال ﷺ به هغوي له پهٔ دې خبره زور ورکولو او ورته به ئې وئيل:

«لَوْ أَعْلَمُ كَلِمَةً هِيَ أَغْيَظُ لَكُمْ مِنْهَا لَقُلْتُهَا».[2]

"اے کافرو! کهٔ ما ته بله يَوه داسې کلمه معلومه وه چې پهٔ هغې تاسو دَ دې نه ډير زيات

(1) انظر: "سيرة ابن هشام": (318/1).

(2) انظر: "السيرة النبوية على ضوء القرآن والسنة" لمحمد بن محمد بن سويلم أبي شُهبة: (343/1).

غصه کیږئ نو ما به هغه وئیلې وه"، خو ما ته پته ده چې تاسو ډېر سوَزئ نو پهٔ دې کلمه سوَزئ نو دا ځکه بار بار وایم.

داسې تکلیفونه ئې برداشت کړي دي، نو ولې به دَ بلال ﷺ دَ خپو کشار رسول الله ﷺ پهٔ جنت کښې نهٔ اوریدو!.

دَ ابوبکر ﷺ صدیق دَ بلال ﷺ آزادول

سیدنا ابو بکر صدیق ﷺ صحابه کرامو ﷺ کښې ډېر جلیل القدر صحابي دے. پهٔ لار باندې روان وو، چې اوئې کتل سیدنا بلال ﷺ دې خپل مالک امیه بن خلف را حصار کړے دے او سزاګانې ورکوي، ابو بکر ﷺ چې اوکتل، برداشت ئې اونهٔ کړے شو، ابو بکر ﷺ اووئیل: کهٔ هر څهٔ دي خو دا بلال ﷺ به دَ دې غلامئ نه آزادوم. ابو بکر صدیق ﷺ پهٔ اووهٔ (۷) یا پنځهٔ (۵) اَوقیو (اَوقِیه: دا دَ سپینو زرو یو وزن دے) باندې ئې هغه واغستو.

ابو بکر ﷺ امیه ته وائي: تهٔ پهٔ دهٔ باندې څهٔ کوې، کار نهٔ کوي، کسب نهٔ کوي، نور دې هم دَ دهٔ دَ وجې دَ کار نه ایستلي دي، چې دهٔ له وهل او تکول ورکوې؟ بس پریږدَوه، خرڅ ئې کړه. امیه لالچي وو، وائي: پیسې راکړه او بوځه ئې. ابو بکر ﷺ ترې واغستو او بیا ئې دَ غلامئ نه آزاد کړو، وائي: ځه! دَ الله دَ رضاء دپاره آزاد ئې، او دَ خپل ربّ عبادت کوه. سیدنا بلال ﷺ دَ تکلیفونو نه هله آزاد شوے دے چې ابو بکر ﷺ پهٔ پیسو واغستو او آزاد ئې کړو.

دَ عمار بن یاسر ﷺ تکالیف

عمار بن یاسر ﷺ دا دَ رسول الله ﷺ صحابي دے. دا غلام وو دَ بنو مخزوم قبیلې، او نا آشنا دا وهٔ: چې دا درې کسان پهٔ یو وخت کښې مسلمانان شول: (۱) دَ دهٔ پلار، (۲) دے پهٔ خپله باندې او (۳) دَ دهٔ مور. مشرکانو به دوي ته ډېر تکلیفونه رسول. هغه وخت کښې دَ دوي مشر ابو جهل لعین وو. سیدنا عمار، سیدنا یاسر او مور ئې دې درېوَ وارو له به ئې تکلیفونه رسول. دَ مکې هغې کاڼرجنې زمکې ته به ئې اوباسل، دَ مکې هغه تور کاڼري چې به ښهٔ کرم شول، او هغه

کارجنه زمکه به بنهٔ ګرمه شوه نو پهٔ هغې به ئې څملول او سزاګانې به ئې ورکولې، دَ الله نبي ﷺ يَو ځل پهٔ لاره تيريدو او دا درې واړه (پلار، ځوي او مور) دَ کافرانو پهٔ لاس کښې دي او ډير سخت پهٔ تکليف کښې دي، دَ الله دَ نبي ﷺ وس نهٔ کيدو چې دَ دې کافرانو نه ئې خلاص کړے وے. دَ الله نبي ﷺ ورله تسلي ورکوي او ورته وائي:

"صَبْرًا آلَ يَاسِرٍ! فَإِنَّ مَوْعِدَكُمُ الْجَنَّةُ".[1]

"اے دَ ياسر خاندانه! تکليف برداشت کوئ، صبر کوئ او کله چې تاسو صبر اوکړئ نو ستاسو دَ وعدې ځائے جنت دے"، الله رب العزة به تاسو له جنت درکوي.

تکليف ئې برداشت کړو، ياسر ﷺ کمزورے وو، ضعيف وو، پهٔ وهلو ټکولو هغه وفات شو. دَ کافرو پهٔ لاس کښې شهيد شو.

دَ سميه ﷺ تکاليف

سيده سميه ﷺ چې دَ ياسر ﷺ بي بي وه. ابو جهل لعين نيزه را واغسته او سميه ﷺ ئې پهٔ شرمګاه کښې پهٔ نيزه باندې اووهله، وائي: تا ځکه ايمان راوړے دے چې نبي سره دې چرته خائسته خلق ليدلي دي. نعوذ بالله! هغه دَ هغې نه شهيده شوه او لاړه. پهٔ زنانؤ کښې دَ ټولو نه رومبنئ شهيده سميه ﷺ وه. پلار شهيد شو، مور شهيده شوه، يَو سيدنا عمّار ﷺ پاتې شو.

دَ سيدنا عمّار ﷺ تکاليف

يَو ځل ورته کافرانو ډير سخت تکليفونه اورسول، ډير زيات ئې تنګ کړو او ورته ئې اووئيل: چرته دې پريږدو، پريږدو دې نشته دے، لکه څنګه مو چې درله پلار مړ کړو، لکه څنګه چې مو درله مور مړه کړه نو ستا هم دغه شان حشر دے. هله به دې پريږدو چې تهٔ دَ الله پيغمبر (ﷺ) ته کنځلې اوکړې او زمونږه دَ خدايانو دَ لات او منات لړ صفت اوکړې. سيدنا عمّار ﷺ سوچ اوکړو: چې څهٔ اوکړم؟... خو بعضې خبرې دَ مجبورئ نه اوشي. سيدنا عمّار ﷺ دَ الله پيغمبر ﷺ پسې کنځلې اوکړې او دَ هغوي دَ خدايانو ئې مدحه او صفتونه اوکړل. هغوي پريښودو چې څهٔ! اوس به

1) انظر: "سيرة ابن هشام": (279/1).

مونږه خلقو ته وایُو: چې څنګه؟ پیغمبر له مو پرې درله کنځلې اوکړې او کهٔ نه! او دَ خپلو خدایانو صفتونه مو پرې اوکړل.

عمّار ﷺ راغے، دَ الله پیغمبر ﷺ ته پهٔ ژړا شو ورته وائي: یا رسول الله! ما تاسو پسې کنځل کړي دي، او ما دَ دې مشرکانو دَ خدایانو صفتونه کړي دي خو زما دَ زړهٔ نه یَو الله خبر وو، ما صرف پهٔ خُلهٔ باندې وئیلي دي او زړهٔ زما مطمئن وو پهٔ ایمان باندې. نبي ﷺ ورته اووئیل: زړهٔ دې مطمئِن وو؟ وائي: آو!، وائي: پروا به نهٔ کوې کهٔ بیا درته هم وائي او وهي او تکوي دې او وژني دې نو دَ مرګ نه دَ ځان خلاصولو دپاره داسې وئیلے شې. الله رب العزة دَ قرآن آیت رالیږي:

﴿مَنْ كَفَرَ بِاللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ اِيْمَانِهٖۤ اِلَّا مَنْ اُكْرِهَ وَقَلْبُهٗ مُطْمَئِنٌّۢ بِالْاِيْمَانِ﴾.(1)

"چا چې کفر اوکړو پس دَ ایمان نه (نو دا جهنمي دے، دهٔ له به الله سزا ورکوي)، هاں! یَو سړے مؤمن دے، هغهٔ باندې چا زور اوکړو (چې مړ کوم دې تهٔ به دَ کفر کلمه وائې، نو کهٔ دے نهٔ وائي نو وژني ئې نو کهٔ دے دَ خپل ځان دَ حفاظت دپاره صرف پهٔ خُلهٔ باندې دَ کفر کلمه اووائي) او زړهٔ ئې مطمئن دے پهٔ ایمان باندې نو دَ دهٔ دپاره دا دَ کفر کلمه وئیل جائز دي".

نو پهٔ دې واقعه کښې الله دا آیت راولیږلو.

دَ ابو فکیهه ﷺ تکالیف

ابو فُکیهه دَ دهٔ نوم دے، دے غلام وو دَ عبد الدار قبیلې. دے چې کله مسلمان شو نو دے به خپلو مالکانو را اوباسلو، سخته ګرمي به وه، او دهٔ له به ئې پهٔ خپو کښې زنځیرونه اچولي وو، او جامې به ئې ترې لرې کړې او پهٔ سرو غرمو کښې به ئې هغه سوړ نمر ته کیښنولو او بیا به ئې ورله پهٔ شاه باندې کټه هم کیخوده چې خوځې به نهٔ. هغه غریب به دومره پریشانه شو چې آخر کښې به ئې دماغو کار پریخودو بیا به نهٔ پوهیدو چې دا دوي ما ته څهٔ وائي او زهٔ څهٔ کوم؟ دې ټولو ته داسې سزاګانې مِلاؤ شوې وې. دا صحابي بیا لاړو او حبشې ته ئې هجرت اوکړو. یَو ځل ورته دوي پهٔ خپه کښې رسۍ اچولې وه، څنګه چې سړے یَو شے راکاږي داسې ئې پهٔ زمکه باندې

(1) [سورة النحل: 106].

راخکلو. دا خو دَ انسان نازکه څرمن ده، هغه په کانړو کښې راکاږه نو ته انداز اولګوه چې دَ هغهٔ دَ بدن نه به څومره پوستکې لرې شوي وي!، څومره درد به هغهٔ ته رسیدلے وي. په سختو ګرمو شګو کښې به ئې اوغورځولو او پړے به ئې راوړو او مرئ ته به ئې ورله واچولو او پانسي به ئې کړو. دَ دوي به خپله دا خیال وو: چې دے مړ شو، ختم شو، دَ هغهٔ دَ بدن نه ساه اووته. چې دوي پریخودو او دوي تړې را روان شول نو دے رو رو الله پاک ښهٔ کولو، بیا را پاسیدو او را روان شو.

نو دوي پهٔ خپل ذهن کښې هغه وژلے وو، ابو بکر ﷺ پهٔ لاره باندې تیریدو نو دَ هغهٔ زړهٔ پرې درد اوکړو نو هغهٔ دے هم پهٔ پیسو باندې واغستو او آزاد ئې کړو.

دَ سیدنا خباب بن ارت ﷺ حالت

سیدنا خباب بن ارت ﷺ دا هم دَ نبي ﷺ صحابي وو. دا خباب ﷺ چې وو نو دے لوهار وو. پیسې به ئې ګټلې، او مالکې (یعني دَ یوې زنانه غلام وو) له به ئې ورکولې. سیدنا خباب چې کله مسلمان شو نو دې خپلې مالکې به دهٔ له سزاګانې ورکولې، او مالکه ئې دومره ظالمه ښځه وه چې (دے خو چونکه لوهار وو) اوسپنه به ئې ورله پهٔ اُور کښې ګرمه کړه او هغهٔ له به ئې پهٔ سر او پهٔ مَلا باندې داغونه ورکول، وائې: تهٔ کافر کیږې او کهٔ نهٔ؟ تا درد نهٔ دے لیدلے. دا درد هم ډیر وو، خو بل طرف له دَ ایمان مزه دومره ډیره وه چې دا دردونه ئې برداشت کول خو کفر ئې نهٔ قبلولو. او کله به ئې داسې اوکړل چې خباب ﷺ به ئې څملولو او پهٔ زمکه به ئې سکروټې خوَرې کړې وې او دَ دهٔ نه به ئې قمیص ایستلے وو او دَ هغې د پاسه به ئې خباب ﷺ واچولو. هغه سکروټې دَ خباب ﷺ دَ بدن نه به چې کومې اوبهٔ روانې شوې، هغه وینې زوې روانې شوې نو پهٔ هغې باندې به مړې شوې. خو با وجود دَ دې خباب ﷺ دَ دین نه روستو شوے نهٔ وو. مَلا دَ خباب ﷺ ټوله چاپونه چاپونه وه، ټوله تکه توره وه دَ ډیرو سوزیدو دَ وجې نه خو سیدنا خباب بن ارت ﷺ هغه روستو شوے دَ دین نه نهٔ دے.

دَ زنیره ﷺ تکالیف

زنیره ﷺ دا هم یو زنانه وه، او دا وینزه وه، دې اسلام قبول کړے وو، دې له به ئې تکلیفونه ورکول. دَ الله امتحان دے، کله کله دَ خپل طرف پهٔ بنده باندې امتحانات راولي. زنیره ﷺ چې

مسلمانه شوه نو دَ دې دواړه سترګې ړندې شوې، دَ سترګو نظر ئې ختم شو. نو کافرانو اووئيل: اوس پرې لات او منات اولګيدل، زمونږه خدايانو ورته څنګه نظر ختم کړو؟ زنيره رضي الله عنها دا دومره دَ مضبوطې عقيدې والا وه، هغې اووئيل: زما سترګې لات، منات نهٔ دي ړندې کړي، زما نظر زما نه زما الله اغستے دے، او دا دَ الله دَ طرف نه پهٔ ما باندې امتحان دے، دا تکليف ذے او کهٔ الله اوغواړي نو الله به بيا زما دا سترګې روغې کړي. دَ الله رب العزة نه ئې دُعاء غوښته چې سحر پاسيده نو بيا ئې الله سترګې روغې کړې وې. دې کافرانو چې نور برداشت اونهٔ کړے شو وائي: دا محمد ساحر دے، هغهٔ پرې ورله څهٔ جادو اچولے دے، سترګې ئې بيا روغې شوې، کني زمونږه خدايانو خو ورله سترګې ړندې کړې وې.

دَام عُميس رضي الله عنها تکاليف

ام عُميس رضي الله عنها دا هم وينزه وه دَ بني زهره قبيلې، مشرکانو به دې له تکليفونه ورکول، خاص کر دَ دې هغه مالک اسود بن ابي يغوث هغهٔ به سزاګانې ورکولې او دا دَ رسول الله ﷺ سخت دشمن وو. ذا وينزه ئې پهٔ تکليف کړې وه.

دَ يوې بلې وينزې تکاليف

دارنګې يَو وينزه وه دَ عمرو بن مؤمّل دَ بني عدي قبيلې، سيدنا عمر رضي الله عنه لا پهٔ هغه وخت کښې مسلمان شوے نهٔ وو، عمر رضي الله عنه به دې ته تکليف رسولو، وهله به ئې، تکوله به ئې. چې کله به عمر رضي الله عنه ستړے شو، دا به ئې زړهٔ کښې نهٔ راتلل چې دا به خوږيږي، نور به عمر پهٔ وهلو ستړے شو نو لا به ړلو، کښېښناستو. دې به آواز ورکړو: وهه!، څنګه چې تهٔ نن ما وهې او تهٔ ستړے شې او زما نه واپس شې دغسې به زما دَ ربّ فرشتې تر څو پورې ستړې شوې نهٔ دي ستا نه به نهٔ واپس کيږي، فرشتې به تا له سزا درکوي.

دَ ابوبکر صديق رضي الله عنه دَ دې خلقو اغستل او آزادول

داسې ډير خلق وو، دا ټول غلامان او وينزې وې، غريبانان خلق وو، ابو بکر صديق رضي الله عنه به لاړو او دا به ئې پهٔ پيسو باندې واغستل بيا به ئې آزاد کړل. نو دَ ابو بکر رضي الله عنه پلار ابو قحافه، دے

هغې وخت کښې مسلمان نهٔ وو، او نهٔ پهٔ دې خبرو پوهېدو، ابو بکر ﷺ ته وائي: ابو بکره! هسې دې پیسې خرابې کړې، چرته غریبانان خلق کوړنې، وینزې کوړې، غلامان کوړې، چرته تکړه خلق به دې آزاد کړي وو نو څوک چې دَ چا سره احسان اوکړي نو هغه نهٔ هېرَوي. نو کهٔ صبا دربانديې چرته څهٔ مشکل راتلے نو دا ټول به تا سره ولاړ وے، دشمن له به درسره یَو وے، ځان له به دې متې مضبوطې کړې وې. نو تا هغه خلق پهٔ پیسو بانديې واغستل چې هغه ټول کمزوري دي، دا دې څهٔ چل اوکړو؟

ابو بکر ﷺ ورته وائي: پلاره! دا ما دَ متو دَ مضبوطیدو دپاره نهٔ دي اغستي، چې دا به کښې زما سره دَ دشمن مقابلې ته اودریږي، بلکه "إنِّي إنَّمَا أُرِيدُ مَا أُرِيدُ، لِلّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ".[1] "یقینًا زهٔ اراده لرمه هغه چې زهٔ ئې اراده کوم نو خاص دَ الله تعالٰی دَ رضاء دپاره زهٔ دا کار کوم".

نو ابو بکر ﷺ پلار ته وائي: زهٔ دَ الله خوشحالول غواړم، دَ الله رضاء دا زما دپاره هر څهٔ دي. علماء کرامو لیکلي دي: الله رب العزة آیت راولیږلو، هغه کافران چې هغوي به سزا ورکوله نو دَ هغوي پهٔ باره کښې الله سزا رااولیږله. او دَ ابو بکر ﷺ باره کښې وائي:

﴿وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى * الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّى * وَمَا لِأَحَدٍ عِنْدَهُ مِنْ نِعْمَةٍ تُجْزَى * إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْأَعْلَى * وَلَسَوْفَ يَرْضَى *﴾.[2]

"زر دے چې بچ به شي دَ دې اُور نه هغه سړے چې هغه ډېر زیات پرهیزګاره دے، هغه سړے چې خپل مال دَ دې دپاره لګوي چې ځان پاک کړي، نشته دے دَ یَو تن پهٔ دهٔ باندې څهٔ احسان چې دَ هغې بدله ورکولے شي (دَ چا پرې څهٔ احسان هم نشته دے)، مګر دَ دې دپاره خرچ کوي چې خپل ربّ رضاء کړي چې اوچت ذات دے هغهٔ، او زر دے چې دے به خوشحاله کړے شي (مطلب: دهٔ له به الله دَ دې عمل بدلې او فائدې ورکړې)".

نو دا دویمه طریقه وه دَ کافرانو (خو ما اختصار سره ذکر کړه) چې خلق دَ دین نه وارَوي، او

(1) انظر: "اللؤلو المكنون في سيرة النبي المأمون" لموسى بن راشد العازمي: (275/1).

(2) [سورة الليل: 17-21].

منکر ئې کړي. يره! څنګه مسلمان شم، دے مې وهي، دے مې تکوي، دے مې بے عزتي کوي، دے مې دَ کلي نه اوباسي، دوي را باندې هر څهٔ بندَوي. نو وائي: کهٔ پهٔ دې طريقه باندې دا خلق واپس شول نو ډيره به ښهٔ وي. خو پهٔ دې طريقې باندې هم کامياب نهٔ شول. چې څومره به دوي خلقو له تڪليفونه ورکول دومره به خلق ډلې ډلې راتلل او پهٔ دين کښې به داخليدل. دَ دينِ اسلام خپله يَو، مزه ده، پهٔ دې کښې واللهِ چې تڪليف به تا له دَ سهولت او دَ راحت او دَ مزو نه ډير زيات خوند درکوي. ان شاء الله وريسې به نور سيرت راځي.

وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا

(سورة الأحزاب: 21)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه څوارلسمه

"دَ صحابه كرامو رضي الله عنهم حبشې ته هجرت"

بتاريخ: 20-05-2022

مقام: جلسې

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

سيرة النبي ﷺ حصه څوارلسمه

"دَ صحابه کرامو ﷺ حبشې ته هجرت "

اَلْحَمْدُ للهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا﴾.(1)

حاضرینو عزتمندو مسلمانانو رونړو! په تیرو جُمعو کښې دَ رسول الله ﷺ دَ سیرت څهٔ حصه ستاسو مخکښې بیان شوې وه. دَ رسول الله ﷺ دَ بعثت زندګۍ دَ هغې بیان شروع وو. دَ رسول الله ﷺ دَ دعوت طریقه مونږه بیان کړې وه، چې اولني درې (۳) کاله دَ الله نبي ﷺ پټ دعوت چلولو، فردًا فردًا او ځان له ځان له یو یو کس له به ئې بیان کولو، بیا رو رو نبي ﷺ جهرًا او ښکاره دعوت شروع کړو. بل خوا کافرانو او مشرکینو به هم نبي ﷺ او دَ هغهٔ صحابؤ ﷺ ته قسم ما قسم تکلیفونه رسول، دَ هغې تکلیفونو څهٔ لړې لړې نقشې مونږ بیان کړې وې.

دَ نبي ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته دَ هجرت مشوره ورکول

چې کله کافرانو مسلمانانو له ضررونه رسول سېوا کړل، مسلمانان دَ هغوي نه پریشانه او تنګ راغلل نو رسول الله ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته دَ هجرت کولو مشوره ورکړه چې اوس کلے پریږدئ، وطن پریږدئ، او دَ دې مکې نه مهاجر شئ.

(1) [سورة الأحزاب: 21].

عبد الرزّاق دَ مَعْمَر نه او هغه دَ امام زهري رحمه الله نه نقل کوي: چې رسول الله ﷺ اوفرمائيل:
«تَفَرَّقُوْا فِي الْأَرْضِ، فَإِنَّ اللهَ تَعَالَى سَيَجْمَعُكُمْ».

صحابه کرامو! دا وخت سخت دے، دا ملک پريږدئ، "او دَ الله په دې زمکه کښې خوارهٔ شئ (او دَ ربّ عبادت کوئ) ان شاء الله الله رب العزة به يَو ځل تاسو ټول را غونډ کړي"، آخر کښې به تاسو له الله نمبر درکړي، فتح به درکړي.

"قَالُوا: فَأَيْنَ نَذْهَبُ يَا رَسُولَ اللهِ؟".

"صحابه کرامو رضي الله عنهم اوفرمائيل: اے دَ الله نبي! کوم طرف ته به ځو؟"، کوم طرف ته تلل به مناسب وي؟؛ ځکه ټوله دنيا کښې کافر وو.

قَالَ: «هَاهُنَا» وَأَشَارَ بِيَدِهِ إِلَى أَرْضِ الْحَبَشَةِ".(1)

"نبي ﷺ اوفرمائيل: دېخوا ځئ، او اشاره ئې په لاس باندې اوکړه دَ حبشې زمکې طرف ته"، چې حبشې ته هجرت اوکړئ او هلته کښې ورشئ.

دَ حبشې بادشاه نرم دِله سړے وو، او ښهٔ سړي باندې مشهور وو نو نبي ﷺ ځکه اشاره اوکړه چې حبشې ته ځئ.

صحابه کرام رضي الله عنهم مهاجرين شول. او حبشې طرف ته ئې هجرت شروع کړو پنځم کال وو دَ نبوّت دَ نبي ﷺ.

حبشې ته صحابه کرام رضي الله عنهم دوه (۲) ځله مهاجر شوي دي:

(۱) پهٔ اول ځل باندې تقريبًا يوؤلس (۱۱) صحابه رضي الله عنهم او دَ هغوي سره پنځهٔ (۵) زنانه وې، چې ټول شپاړلس (۱٦) کسان جوړيدل، دا مهاجر شول او دا اولني مهاجرين وو چې دَ الله تعالیٰ دَ رضاء دپاره ئې خپل کلے او وطن پريخودے وو.

مهاجرين سړي

(۱) پهٔ سړو کښې يَو عثمان بن عفان رضي الله عنه وو، (۲) دويم: عبد الرحمٰن بن عوف رضي الله عنه وو، (۳)

---

(1) انظر: "عيون الأثر": (115/1).

دريم: زبير بن العوام رضي الله عنه وو، (٤) څلورم: ابو جذيفه بن عتبه رضي الله عنه وو، (٥) پنځم: مصعب بن عمير رضي الله عنه وو، (٦) ابو سلمه بن عبد الاسد رضي الله عنه وو، (٧) اووم: عثمان بن مظعون رضي الله عنه وو، (٨) اتم: عامر بن ربيعه رضي الله عنه وو، (٩) نهم: سهيل بن بيضا رضي الله عنه وو، (١٠) ابو سبره بن ابي رُهم عامري رضي الله عنه وو، (١١) يَوولسم: حاطب بن عَمرو رضي الله عنه وو.[1]

مهاجريني زنانه

(١) يَو پۀ زنانو کښې دَ رسول الله ﷺ لور "سيده رقيه رضي الله عنها" وه، چې دا دَ عثمان بن عفان رضي الله عنه بي بي وه، (٢) دويمه: سهله بنتِ سهيل رضي الله عنها، دا دَ ابو حذيفه رضي الله عنه بي بي وه، (٣) دريمه: ام سلمه بنت ابي اميه رضي الله عنها، چې دا دَ ابو سلمه رضي الله عنه بي بي وه، او چې ابو سلمه رضي الله عنه وفات شو نو دَ هغۀ نه بعد دا بيا دَ نبي ﷺ پۀ نڪاح کښې راغلې وه، (٤) څلورمه: ليلٰى بنتِ ابي حثمه رضي الله عنها، دا دَ عامر بن ربيعه رضي الله عنه بي بي وه، (٥) کلثوم بنتِ سهيل بن عمرو رضي الله عنها، دا دَ ابو سبره رضي الله عنه بي بي وه.[2]

او دا اولني مهاجرين وو، چا پڪښې نومونه بدل هم ليکلي دي، خو اصحّ قول پڪښې دا دے. دا يَوولس (١١) سړي او پنځۀ (٥) زنانه وې. دوي پټ روان شول او دَ الله دَ رضاء دپاره تلل، مهاجر شول.

دَ کافرانو صحابوﷺ پسې روانيدل

دَ الله ربُ العزة احسان وو، دوي چې روان شول نو کافرانو ته پته اولګيده، چې دوي اوځي او تختي. کافران دَ دوي دَ نيولو پسې روان شول. الله رب العزة دا احسان اوکړو چې کله دوي دَ سمندر غاړې ته اورسيدل نو دوه کشتۍ تيارې ولاړې وې، څۀ سورلۍ پڪښې ناستې هم وې. چې دوي اورسيدل نو وائي: چرته ځئ؟ وائي: مونږه حبشې ته ځو، کشتو والا اووئيل: کار اوشو، دوي ئې سوارۀ کړل او کشتۍ روانې شوې. کافران چې اورسيدل نو نورې کشتۍ بيا نۀ وې نو هغوي اووئيل: اوس سمندر دے او مونږ پۀ څۀ پورې کيدے نۀ شو او کشتۍ تلې دي. نو هغوي دَ

(1) انظر: "سيرة المصطفٰى": (226-227).

(2) انظر: "سيرة المصطفٰى": (226-227).

هغه ځائے نه را واپس شول. صحابه کرام ﷺ الله رب العزة دَ کافرانو دَ تکلیفونو نه خلاص کړل او حبشې ته لاړل.[1]

حبشه کښې دَ وخت دَ تیریدو موده

کله چې دوي حبشې ته لاړل، دوي تقریبًا دَ رجب نه تر شوّال پورې دا درې (۳) میاشتې یا درې نیمې میاشتې دوي په حبشه کښې مسافرې اوکړه، هلته کښې اوسیدل. چونکه هغه زمانه کښې نهٔ ټیلیفون وو، نهٔ داسې نورې طریقې وې، او چونکه دَ دوي کار هم دَ تکلیف وو چې په پټه باندې اوسیدل، نو دې کښې چا هسې یَو خبره اوکړه چې مکه فتح شوې ده او دَ مکې خلق مسلمانان شوي دي، او اوس مسلمانانو ته څهٔ تکلیف نشته دے. دوي ته پته نهٔ وه، دوي وئیل: چې مکه کښې امن راغلے دے، نو مونږ خو دَ دې نه تختیدلي وو چې کافرانو را ته تکلیف رسولو. نو دوي خپله کښې مشوره اوکړه: چې راځئ! چې واپس خپل کلي ته لاړ شو او اوس څوک چا ته څهٔ وائي نهٔ او ټول خلق مسلمانان شوي دي.

چې واپس راغلل، دا خبره چا دروغ خوره کړې وه، او حقیقت داسې نهٔ وو، بیا هغه زوړ کار وو، تکلیف او مشکلات وو، څهٔ هلته کښې پټ شول، چا سره ئې پناه واغسته او څهٔ یَو خوا بل خوا لاړل. خو امن لا په مکه کښې نهٔ وو.[2]

دا اولنې مهاجر وو، یَوولس صحابه کرام ﷺ او پنځهٔ صحابیاتې چې دوي تلې وو او په حبشه کښې دَ رجب نه تر شوال پورې پاتې وو.

دَ مشرکانو تکلیفونه سیوا کول

بیا دَ هغې نه مشرکانو سېوا تکلیفونه شروع کړل، وهل ټکول وو، دَ کورونو نه اوباسل وو، بے عزتیانې وې، صحابه کرامو ﷺ بیا نبي ﷺ ته اوفرمائیل: چې ژوند گران دے، څنګه چل اوکړو؟ نبي ﷺ مشوره ورکړه: چې ځئ! هجرت اوکړئ. په دویم ځل باندې بیا صحابه کرام ﷺ مهاجر شو. تقریبًا څهٔ دوه اتیا (۸۲) سړي او څوارلس (۱٤) زنانه وې. هغوي بیا حبشې ته لاړل.

(1) انظر: "عیون الأثر": (116/1).

(2) انظر: "سیرة المصطفی": (227/1).

شيخ الحديث مولانا ادريس کاندهلوي رحمه الله هغۀ دَ دې ټولو نومونه مختصرًا ليکلي دي، "سيرتِ ابن هشام" هم ليکلي دي، او دَ دوي هغه تفصيل ئې هم کړے دے، خو کۀ هغه بيانوؤ نو وخت به ډير لګي. دا دومره صحابه کرام ﷺ دوي پۀ دوباره باندې مهاجر شول، او حبشې ته بيا لاړل.

دَ کافرانو دَ صحابه کرامو ﷺ پسې حبشې ته تلل

چې دوي لاړل نو کافرانو سوچ اوکړو: چې يره! پۀ دوي باندې مونږه زور راولو نو دوي پټ شي نو دوي به پۀ حبشه کښې ځان مضبوط کړي او بيا بۀ راځي او مونږ سره به جنګيږي او مونږه باندې به حملې کوي، راځئ! چې لاړ شو او دَ آرام دا زندګي ورله بے آرامه کړو. دَ حبشې بادشاه ته به درخواست ورکړو، دوي به ترې راولو او دلته به ئې بيا خپل غلامان کړو او وهو او ټکوؤ به ئې، دَ دين نه به ئې پۀ زوره باندې اړوؤ. پۀ دوي کښې دوه کسان ډير مشهور وو پۀ چالاکۍ او خبرو کښې: (۱) يَو: عَمرو بن العاص او (۲) دويم عبد الله بن ابي ربيعه. دوي دواړو ته ئې اووئيل: چې تاسو دواړه زمونږه نمائنده ګان شئ، نور کسان ورسره هم وو، خو مشران ئې دوي وو. او لاړ شئ دَ حبشې بادشاه ته اووايئ چې دا کسان زمونږ نه راتختيدلي دي، او دا بے دينه خلق دے، او ستا پۀ ملک کښې ئې پناه اغستې ده. دوي پسې مونږه راغلي يُو، او دوي مونږ له واپس راکړئ. ځان سره ئې ډيرې تحفې اغستې دي چې بادشاه له به دا ورکړو، نو بادشاه به زمونږه خبره ډيره ښۀ اومني. دَ بادشاه سره بعضې خواص خلق چې وو هغه ئې هم دَ ځان سره ملګري کړل، هغوي له ئې هم تحفې يَوړې، هغوي ورته اووئيل: چې بے غمه شئ، بادشاه ته به مونږه اووايُو، او دا ټول به تاسو ته حواله کوي.

بادشاه سره ملاقات

دوي لاړل او بادشاه ته وائي: چې زمونږ دَ مکې څۀ کم عقل خلق دي، هغوي څۀ نوے دين اختيار کړے دے، دَ پلار نيکۀ طريقې ئې پريښودې دي، مونږه تا له دَ دې دپاره راغلي يُو، چې مونږه ئې پيژنو، زمونږ دَ کلي خلق دے، زمونږه دَ وطن خلق دے مونږه ته معلوم دي، او تاسو ئې نۀ پيژنئ، دوي به ستاسو پۀ دې ملک کښې لوئي شر او فساد پيدا کړي او ستاسو دا خلق به بے دينه کړي؛ لِهٰذا دوي مونږ ته حواله کړئ نو مونږ به ئې دَ ځان سره واپس بوځو. هغه بادشاه ته هغې

درباریانو اووئیل: یره جي! دا خبره صحیح ده، ذَ بل ځائے نه راغلي خلق دے، دَ دوي څۀ پته لګي، مونږه ئې دومره نۀ پیژنو لکه دا دَ مکّې خلق ئې چې څنګه پیژني، دا ورته ټول واپس کړه.[1]

دَ نجاشي بادشاه تحقیق کول

نجاشي ډیر اوښیار بادشاه وو. دَ حبشې هر بادشاه چې وو، هغۀ له به ئې "نجّاشي" وئیلو. هغۀ ورته اووئیل: داسې کله کیدے شي، زۀ کله هم بے تحقیقه فیصله نۀ شم کولے، چې زما پۀ وطن کښې چا پناه غوښتې وي څنګه ئې زۀ بے تحقیقه تاسو ته حواله کړم، او تاسو سره ئې واپس اولیږم؟ داسې زۀ لیږلو ته تیار نۀ یم. دوي زۀ را غواړم. او دوي دا زور لګوي چې را اوئې نۀ غواړي نو ښۀ به وي. ولې؟؛ دوي ته پته وه چې کله مونږه او هغوي مخامخ شو نو دې مسلمانانو ته الله داسې یَو حکمت او داسې یَو کمال ورکړے دے چې کله دوي هم خبره کوي او مونږه هم خبره کوؤ نو زمونږه خبره بیا څوک دَ سره څۀ نۀ کنړي او دَ دوي خبره دَ خلقو پۀ زړونو کښې لارې کوي، نو کۀ بادشاه ئې حاضر کړي نو دا ټول بادشاه او دا قوم به دَ هغوي ملګري کیږي. دوي ورته وائي: بادشاه! حاضرولو ته ئې ضرورت نشته او را ئې وله او مونږ له ئې راکړه او چپ پۀ چپه به ئې مونږه بوځو. بادشاه ورته اووئیل: داسې کله هم نۀ شي کیدے چې زۀ دوي تاسو سره داسې اولیږم، او دوي تاسو سره لاړ شي، بلکه زۀ به تحقیق کوم.[2]

دَ بادشاه صحابه کرام ﷺ راغوښتل

بهر حال چې دوي پوهه شول چې بادشاه دوي مونږ سره دغه شان نۀ پریږدي، وائي: څه! را اوئې غواړه. بادشاه وریسې قاصد اولیږلو چې ورشه او دوي راوله. نجاشي بادشاه پۀ خپله عیسائي وو. وائي: دوي راوله چې دوي نه معلومات اوکړو.

دوي چې کله راغلل، بادشاه ځان سره خپل پادریان هم کیښنولي دي، دَ عیسایانو چې کوم مُلیان دي، اوښیاران خلق ئې هم کیښنولي دي، او دوي نه تپوسونه کوي. دوي چې کله دَ بادشاه

---

(1) انظر: "سیرة المصطفی": (233/1).

(2) انظر: "سیرة المصطفی": (233/1).

خواته راغلل، نو بادشاه ته ئې سجده اونهٔ کړه. او هغې زمانه کښې چې به څوک دَ بادشاه خواته راتلل نو بادشاه ته به ئې سجده لګوله. او دوي سجده اونهٔ کړه نو دا کافر ورته وائي: اوګوره! دا دومره بے ادبه دي چې تهٔ څومره لويه هستي ئې، او تا ته ئې سجده اونهٔ کړه. بادشاه ترې تپوس اوکړو، ورته وائي: سجده مو ولې اونهٔ کړه؟ ټول خلق راځي سجده کوي او تاسو سجده نهٔ کوئ؟ نو دوي ورته اووئيل: چې بادشاه! څنګه چې دا خلق تا ته سجده کوي نو يَو وخت داسې وو چې مونږه به هم انسانانو ته سجدې کولې، ګټو ته به مو سجدې کولې، قبرونو ته به مو سجدې کولې، وُنو ته به مو سجدې کولې، هر شي ته به مونږه سجدې کولې، الله رب العزة احسان اوکړو، الله مونږه ته يَو نبي راوليږلو، پيغمبر ئې راوليږلو او هغهٔ مونږ ته اووئيل: چې دا سجده دَ الله پاک حق دے، دَ الله نه ما سوا دا سجده دَ هيڅ چا دپاره جائز نهٔ ده؛ نو لِهٰذا مونږه تا ته سجده څکه نهٔ شو کولے چې دا دَ الله حق دے.(1)

دَ سيدنا جعفر ﷺ تقرير

بادشاه ورته غوږ کيخودو او جعفر ﷺ ورته وائي: چې:

"أَيُّهَا الْمَلِكُ! كُنَّا قَوْمًا أَهْلَ جَاهِلِيَّةٍ نَعْبُدُ الْأَصْنَامَ، وَنَأْكُلُ الْمَيْتَةَ وَنَأْتِي الْفَوَاحِشَ، وَنَقْطَعُ الْأَرْحَامَ، وَنُسِيءُ الْجِوَارَ، يَأْكُلُ الْقَوِيُّ مِنَّا الضَّعِيفَ، فَكُنَّا عَلَى ذَلِكَ حَتَّى بَعَثَ اللهُ إِلَيْنَا رَسُولاً مِنَّا نَعْرِفُ نَسَبَهُ، وَصِدْقَهُ، وَأَمَانَتَهُ، وَعَفَافَهُ، "فَدَعَانَا إِلَى اللهِ لِنُوَحِّدَهُ، وَنَعْبُدَهُ، وَنَخْلَعَ مَا كُنَّا نَعْبُدُ نَحْنُ وَآبَاؤُنَا مِنْ دُونِهِ مِنَ الْحِجَارَةِ وَالْأَوْثَانِ، وَأَمَرَنَا بِصِدْقِ الْحَدِيثِ، وَأَدَاءِ الْأَمَانَةِ، وَصِلَةِ الرَّحِمِ، وَحُسْنِ الْجِوَارِ، وَالْكَفِّ عَنِ الْمَحَارِمِ، وَالدِّمَاءِ، وَنَهَانَا عَنِ الْفَوَاحِشِ، وَقَوْلِ الزُّورِ، وَأَكْلِ مَالَ الْيَتِيمِ، وَقَذْفِ الْمُحْصَنَةِ، وَأَمَرَنَا أَنْ نَعْبُدَ اللهَ وَحْدَهُ لَا نُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَأَمَرَنَا بِالصَّلَاةِ، وَالزَّكَاةِ، وَالصِّيَامِ".....(2)

"اے بادشاه! مونږه داسې خلق وو چې انتهائي پهٔ جهالت کښې پراتهٔ وو، ناپوهه خلق وو، مونږه به دَ بُتانو عبادت کولو، مونږه به مردارې خوړلې، مونږه پهٔ قسم ما قسم بے حياګانو کښې

(1) انظر: "سيرة المصطفى": (233/1).

(2) أخرجه أحمد في مسند أهل البيت ﷺ، حديث جعفر ابن أبي طالب ﷺ، حديث الهجرة، برقم: (1740)، (266/3).

مبتلا وو، مونږه به خپلوَلي کټ کوله، مونږه به خپلوانو سره بد سلوکي کوله، مونږه به دَ کمزوري سره ظلم او زياتے کولو، مونږه په داسې حالت کښې لا پراته وو چې مونږه باندې الله احسان اوکړو او الله مونږ ته يَو نبي او پيغمبر راوليږلو، چې دَ نسب په اعتبار هغهٔ په ټولو کښې اعلٰی، دَ قوم په اعتبار په ټولو کښې اعلٰی، دَ صداقت په اعتبار په ټولو کښې ريشتونے انسان وو، دَ امانتدارئ په اعتبار دَ ټولې دنيا نه انتهائي لوئي امين دے، دَ پاکدامنئ او عفّت په اعتبار انتهاء ته رسيدلے دے.
هغه نبي ﷺ مونږ له دَ الله دَ دين دعوت راکړو، هغه نبي ﷺ مونږ ته اووئيل: چې سجده دَ الله حق دے، بُت ته به سجده نهٔ کوئ، انسان ته به سجده نهٔ کوئ، وُنې ته به سجده نهٔ کوئ، بس دَ الله نه سېوا نور هيڅ چا ته به سجده نهٔ کوئ، هغه نبي ﷺ مونږ ته اووئيل: خپلوَلي به پالئ، هغه نبي ﷺ مونږ ته اووئيل: چې دَ خپلوانو سره به ښهٔ احسانات کوئ، هغه نبي ﷺ مونږ ته اووئيل: چې دَ يَو بل وينې به نهٔ تويَوئ، هغه نبي ﷺ مونږ ته اووئيل: چې دَ بے حيائ او دَ ناروا نه به ځان ساتئ، هغه نبي ﷺ مونږه ته اووئيل: چې دَ يتيم مال نه به ځان ساتئ، هغه نبي ﷺ مونږ ته اووئيل: چې پاکدامن باندې به تهمت او الزام نهٔ لګوئ، هغه نبي ﷺ مونږ ته اووئيل: چې مونځ به کوئ، زکٰوة به ورکوئ، روژې به نيسئ....".

داسې شروع وو تقرير ئې کولو، دا تقرير چې کله جعفر ؓ کوي نو هغه بادشاه ورته حيران دے. چې کله دا کافران پوهه شول چې يره جي! اوس خو په بادشاه باندې يَو اثر کيږي، هسې نه چې بادشاه دَ دوي ملګرے شي.

دَ بادشاه ژړل

تر دې پورې علماؤ ليکلي دي: چې جعفر ؓ کله دا خبرې کولې نو دَ هغې بادشاه دَ سترګو نه اوښکې روانې وې، تردې پورې چې دَ هغهٔ ګيره په اوښکو لمده شوه او هغه کوم ئې چې راغوښتي وو نو هغوي هم ژړل. او دا کافران وائي: چې دَ دوي په زړونو دومره اثر اوشو دوي ئې هم ملګري کيږي.
جعفر ؓ ورته دَ قرآن تلاوت هم اوکړو، وائې: په هغه نبي ﷺ چې کومه وحي راځي هغه دا ده:
﴿كهيعص * ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهُ زَكَرِيَّا * إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُ نِدَاءً خَفِيًّا * قَالَ رَبِّ إِنِّي وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّي وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ

شَيْبًا وَلَمْ أَكُن بِدُعَائِكَ رَبِّ شَقِيًّا * وَإِنِّي خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِن وَرَائِي وَكَانَتِ امْرَأَتِي عَاقِرًا فَهَبْ لِي مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا * ﴾.(1)

قرآن کښې خو ځان له يَو اثر وو، کافرانو اووئيل: کار خراب شو.

بادشاه اووئيل: دوي زۀ تاسو له کله هم نۀ واپس کوم، ځئ! چې چرته اوسيږئ نو هلته اوسيږئ. دوي چې را ديخوا شول نو دا يَو دې نورو ته وائي: عجيبه کار اوشو زمونږه هغه تحفو او تحائفو هډو کار اونۀ کړو!. دا عَمرو بن العاص يا عبد الله بن ابي ربيعه دې نورو ته وائي: چې صبا به داسې کار کوم چې دا ټول به درله يا پۀ دې بادشاه باندې وژنم او يا به ئې دَ دې کلي نه پرې اوباسم. دوي ورته اووئيل: خير دے زمونږ قوم دے، دومره سختي ورسره پکار نۀ ده چې مرۀ ئې نۀ کړي، نور خير دے کۀ څۀ طريقه کولے شې.(2)

بادشاه ته دَ کافرو بل رپورټ

چې صبا شو نو عَمرو بن العاص راغے او بادشاه ته وائي: اے بادشاه! زمونږ نه يَو خبره هيره شوې وه، دا خلق چې دي نو دوي صرف دَ نوي دين تابع شوي نۀ دي بلکه دوي ستاسو دې پيغمبر چې تاسو ورته الٰه وايئ، دَ عيسٰى ؑ باره کښې ډير بد وائي، هغۀ ته ډير سپک کوري (نعوذ بِالله!). بادشاه اووئيل: دا معلومات به هم اوکړو، دوي به را اوغواړو. او رعيت خو پيسې اغستې وي نو هغوي هم بادشاه ته وائي: دا اوکوره! جي! دا خو زمونږ بے عزتي ده. بادشاه اووئيل: را اوبه ئې غواړو. بيا ئې وريسې سوال جواب اوليږلو. صحابه کرامو ﷺ مشوره اوکړه چې کۀ بادشاه زمونږ نه دَ عيسٰى ؑ باره کښې تپوس اوکړي نو مونږ به څۀ وايُو؟ کۀ مونږه وايُو: چې دے الله نۀ دے نو دوي خو ورته الٰه وائي، نو دوي را سره خلاف کوي، اختلاف جوړوي؟ او کۀ مونږه وايُو: چې الله دے نو خبره غلطه ده. مشوره ئې اوکړه: چې مخکښې روستو خبرې مۀ کوئ، څۀ چې دَ الله پيغمبر ﷺ وئيلي دي هغه ورته وايئ، دَ الله پۀ پيغمبر ﷺ چې کومه وحي راغلې ده، بس دا کافي ده.

نو دوي چې دوباره راغلل نو جعفر ؓ بيا متکلم دے دَ مسلمانانو دَ طرف نه. بادشاه ورته

---

(1) [سورة مريم: 1-5].

(2) انظر: "سيرة المصطفى": (235/1).

وائي: تاسو دَ عيسیٰ ﷺ پهٔ باره کښې څهٔ وايئ؟ دَ هغهٔ باره کښې ستاسو څهٔ نظريه ده؟ جعفر ﷺ ورته وائي: چې بادشاه! کهٔ ستا خوښه وي نو چې زهٔ راتلم نوے نوے يَو سورت راغلے وو، پهٔ هغې کښې دَ عيسیٰ ﷺ او دَ هغهٔ دَ مور ذکر دے، نو کهٔ ستاسو خوښه وي نو زهٔ به هغه ستاسو مخکښې اووايم؟ بادشاه ورته اووئيل: چې شابه! شروع شه. جعفر ﷺ سورة مريم شروع کړو:

﴿ كهيعص * ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهُ زَكَرِيَّا * إِذْ نَادَى رَبَّهُ نِدَاءً خَفِيًّا * قَالَ رَبِّ إِنِّي وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّي وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا وَلَمْ أَكُنْ بِدُعَائِكَ رَبِّ شَقِيًّا * وَإِنِّي خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِنْ وَرَائِي وَكَانَتِ امْرَأَتِي عَاقِرًا فَهَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ وَلِيًّا ﴾.(1)

اول ئې دَ زکريا ﷺ عجز بيان کړو، دې پسې دويمه رکوع کښې راځي:

﴿ وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مَرْيَمَ إِذِ انْتَبَذَتْ مِنْ أَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّا * فَاتَّخَذَتْ مِنْ دُونِهِمْ حِجَابًا فَأَرْسَلْنَا إِلَيْهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا * قَالَتْ إِنِّي أَعُوذُ بِالرَّحْمَنِ مِنْكَ إِنْ كُنْتَ تَقِيًّا * قَالَ إِنَّمَا أَنَا رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلَامًا زَكِيًّا * ﴾.(2)

دا واقعه ئې شروع کړه، تر آخره ئې دا واقعه تلاوت کړه. بادشاه خو پوهيدو، کله چې دے دَ قرآن تلاوت کوي نو دَ هغهٔ دَ سترګو نه اوښکې بهيږي. او ښکته شو او يَو تيلے ئې را واغستو او هغه کافرو ته وائي:

چې اے کافرو! قسم پهٔ الله! دا قرآن چې څهٔ وائي او انجيل چې څهٔ وئيلي دي، پهٔ دې دواړو کښې دَ دې تيلي برابر فرق نشته دے، دا بالکل حق او سچ خبره ده. او ورته وائي: دوي زهٔ کله هم تاسو ته حواله کولے نهٔ شم، دوي زما پهٔ ملک کښې آزاد دي، او چرته چې دوي زما پهٔ ملک کښې اوسيږي نو هلته دې اوسيږي، دوي ته به هيڅ مشکل نهٔ وي..هغه کافران نا مُراده شول.(3)

دَ جعفر ﷺ بادشاه ته متوجّه کيدل او دَ کافرو نه تپوس کول

بعضې رواياتو کښې راځي: جعفر ﷺ دې نجّاشي ته متوجّه شو، او مخاطب شو ورته، او خبره ئې ورته شروع کړه: چې بادشاه! زهٔ ستا مخکښې دَ دې کافر نه، دَ دې عَمرو بن العاص نه يا دَ عبد الله بن

(1) [سورة مريم: 1-5].

(2) [سورة مريم: 16-19].

(3) انظر: "مجمع الزوائد": (27/6).

ابي ربيعه نه څو تپوسونه کوم، دے دې ما له ستا مخکښې جواب راکړي. وائي: څۀ تپوسونه ترې کوې؟

(۱) **اول تپوس:** دے ورته وائي: زۀ يَو تپوس دا کوم: چې مونږ دا کوم مهاجر راغلي يُو آيا پۀ دې کښې کوم يَو کس دَ چا غلام شته دے؟ چې مونږ دَ هغۀ غلامان يُو او راتختيدلے وي دَ خپل مولٰی نه، نو کۀ مونږه غلامان يُو نو واقعې چې تاسو له پکار دي چې مونږه بوځۍ او خپلو مالکانو ته مو حواله کړئ نو مونږه اصيل يُو او کۀ مونږه غلامان يُو؟ نو عَمرو بن العاص ورته وائي:

"بَلْ أَحْرَارٌ كِرَامٌ".[1]

"بلکه تاسو ټول آزاد يئ او عزتمند خلق يئ". نو چې مونږه غلامان نۀ يُو نو ستاسو زمونږ سره څۀ کار دے؟

(۲) **دويم تپوس:** بادشاه! مونږه چې دې ملک ته راغلي يُو، حبشې ته راغلي يُو، دَ مکې نه راغلي يُو، دوي نه تپوس اوکړه چې مونږه خو پۀ مکه کښې دَ چا وينه بے ګناه نۀ ده توې کړې چې نن پۀ مونږه باندې دَ هغۀ بدل پاتې دے او تاسو مونږه بوځۍ او هغوي ته مو حواله کوئ؟ کۀ دَ چا وينه مو توي کړي وي چې لاړ شو او هغوي ته اووايُو: چې راشئ! چې څۀ را سره کوئ هغه را سره اوکړئ!. نو بادشاه عمرو بن العاص ته وائي:

"هَلْ أَهْرَقُوا دَمًا بِغَيْرِ حَقِّهِ؟ فَقَالَ: وَلَا قَطْرَةً وَاحِدَةً مِنْ دَمٍ".

"اے کافرو! آيا دې مسلمانانو دَ چا وينه پۀ نا جائزه طريقې توي کړې ده؟ نو عمرو بن العاص ورته وائي: چې بادشاه! وينه تويول خو لويه خبره ده چې يَو څاڅکے هم دوي دَ چا دَ وينې توي کړے نۀ دے"، دا داسې پاک خلق دي.

(۳) **دريم تپوس:** جعفر ﷺ بادشاه ته وائي: زۀ ستا نه دا تپوس کوم چې دوي نه تپوس اوکړه چې مونږ دَ خپل ملک نه راوتي يُو، ښځې او بچي مو پريخودلي دي، کلي او وطن مو پريخودلے دے نو دَ چا مال خو به مو راتختولے نۀ وي؟ کۀ دَ چا نه مو څۀ شے راتختولے وي نو هغه دې را ته اووائي؟ نو بادشاه ورته وائي: اے کافرو! اووايئ دې مسلمانانو دَ چا نه څۀ شے راوړے دے؟ دَ چا حق پرې

(1) انظر: "دلائل النبوة" لأبي نعيم الأصبهاني، برقم: (193).

شته؟، كۀ دَ چا پرې څۀ حق وي نو هغه به زۀ اداء كړم. نو عمرو بن العاص ورته وائي:

"وَلَا قِيرَاطٌ".(1)

"بادشاه! يو قيراط چې دے، يعني يَو پيسه چې ده هغه هم دوي دَ چا نۀ ده ضائع كړې".

نو جعفر ﷺ ورته وائي: نو بيا ستاسو پۀ مونږه باندې څۀ حق دے چې تاسو مونږه نيسئ، او مونږه واپس بوځئ؟ او مونږ له تكليفونه او سزاګانې راكوئ؟ مونږه پريږدئ چې مونږه دَ خپل ربّ عبادت اوكړو.

جعفر ﷺ ورته وائي:

"أَمَّا الَّذِي كُنَّا عَلَيْهِ فَدِينُ الشَّيْطَانِ وَأَمْرُ الشَّيْطَانِ".

"اے بادشاه! مونږه چې دَ دې نه مخكښې پۀ كوم دين باندې وو نو هغه دَ شيطان دين وو، او هغه دَ شيطان لاره وه، او دَ هغۀ حكم وو".

"نَكْفُرُ بِاللهِ وَنَعْبُدُ الْحِجَارَةَ".

مونږه دومره ناپوهه وو، الله چې مونږه ئې پيدا كړي يُو، مونږه ئې دَ نيشت نه موجود كړي يُو، مونږه له خوراک او څښكاک راكوي، زمونږه ټول انتظام هغه كوي، نو "هغه الله باندې به مونږه كفر كولو او مونږه به دَ كټو عبادت كولو". نو هغه دَ شيطان دين مونږه پريښودو.

"وَأَمَّا الَّذِي نَحْنُ عَلَيْهِ فَدِينُ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ نُخْبِرُكَ أَنَّ اللهَ بَعَثَ إِلَيْنَا رَسُولاً كَمَا بُعِثَ إِلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا".

"دا اوس چې مونږه پۀ كوم دين باندې يُو نو دا دَ الله تعالىٰ هغه دين دے چې هغه ډير عزتمند او اوچت ذات دے، اے بادشاه! مونږه تا له خبر دركوؤ چې هغه الله مونږه ته پيغمبر راليږلے دے، لكه څنګه ئې چې مخكښنو امتونو ته پيغمبران راليږلي وو".

"فَأَتَانَا بِالصِّدْقِ وَالْبِرِّ وَنَهَانَا عَنْ عِبَادَةِ الْأَوْثَانِ فَصَدَّقْنَاهُ وَآمَنَّا بِهِ وَاتَّبَعْنَاهُ".

"هغۀ مونږ ته ريښتيا خبرې راوړې دي، او مونږ ته حكم كوي چې دَ خلقو سره احسانات كوئ، او هغه پيغمبر مونږه دَ بُتانو دَ عبادت نه منع كړي يُو نو مونږه دَ هغه پيغمبر تصديق كړے،

(1) انظر: "دلائل النبوة" لأبي نعيم الأصبهاني، برقم: (193).

پهٔ هغهٔ مو ايمان راوړے او دَ هغهٔ تابعداري مو کړې ده".

نو اے بادشاه! چې کله مونږه شرک کولو نو دې خلقو زمونږ سره مينه کوله، محبت ئې کولو، چې نور ناروا مو کول نو دې ټولو مونږ سره مينه کوله خو:

"فَلَمَّا فَعَلْنَا ذَلِكَ عَادَانَا قَوْمُنَا وَأَرَادُوا قَتْلَ النَّبِيِّ الصَّادِقِ، وَرَدَّنَا فِي عِبَادَةِ الْأَوْثَانِ".

"کله چې مونږ دا کار اوکړو (چې دَ يَو الله عبادت مو شروع کړو او دَ شرک نه مو توبه اوويستله) نو زمونږ قوم زمونږه سره دشمني شروع کړه، او هغوي زمونږه دَ هغه نبي ﷺ دَ قتل اراده اوکړه چې هغه رېشتنے نبي دے، او دوي اراده اوکړه چې مونږه واپس کړي دَ بُتانو عبادت ته".

"فَفَرَرْنَا إِلَيْكَ بِدِينِنَا وَدِمَائِنَا، وَلَوْ أَقَرَّنَا قَوْمُنَا لَاسْتَقْرَرْنَا، فَذَلِكَ خَبَرُنَا".(1)

"نو اے بادشاه! مونږه ستا ملک ته راغلي يُو نو (مزدورئ له نهٔ يُو راغلي، مونږه ستا دې ملک ته دِ پناه دپاره راغلي يُو)، دَ خپل دين دَ حفاظت دپاره راغلي يُو (دا کافران مو دې دين ته نهٔ پرېږدي)، دَ خپلې وينې دَ حفاظت دپاره راغلي يُو (چې دوي زمونږه وينې تويول غواړي). نو اے بادشاه! کهٔ چرته دا قوم مونږه پرېږدي نو مونږه به دلته هم پهٔ آرام زندګي تېره کړو. دا زمونږه خبر وو".

دَ صحابه کرامو ﷺ واپس راتلل

بادشاه چې کله دا خبرې واورېدې نو بادشاه ورته اووئيل: چې کله هم زهٔ تاسو دوي ته نهٔ واپس کوم، تاسو دلته کښېنئ اوسېږئ. بيا نبي ﷺ هم مدينې منوّرې ته لاړو، هجرت ئې اوکړو او کله چې دا صحابه کرام ﷺ واپس تلل نو خيبر فتح شوے وو، جعفر ﷺ ته پته اولګېده، نور صحابه ﷺ هم وو، هغوي ته پته اولګېده چې خيبر فتح شو مدينه منوره کښې، نو دوي دَ حبشې نه واپس شول او مدينې ته لاړل. نبي ﷺ دَ جعفر ﷺ سره غاړه مِلاؤ کړه او نبي ﷺ ورته اوفرمائيل: چې ما ته پته نشته دے چې نن زهٔ پهٔ غزوه خيبر باندې ډېر خوشحاله يم او کهٔ دَ جعفر ﷺ پهٔ واپس راتلو باندې ډېر خوشحاله يم، چې زما صحابه هغوي زما خوا ته را اورسيدل، او روغ رمټ راغلل. نبي ﷺ دَ دې مهاجرو پهٔ راتلو باندې ډېر زيات خوشحاله وو. نبي ﷺ ورسره کېښناستو او ورته وائې: ما ته واقعه

(1) انظر: "دلائل النبوة" لأبي نعيم الأصبهاني، برقم: (193).

بیان کرئ. تول تفصیل ئې ورته اوکړو.

دَ نجاشي بادشاه نبي ﷺ ته سلام او په هغهٔ باندې ایمان راوړل

آخر کښې ورته وائي: اے دَ الله رسوله! نجاشي بادشاه مونږ سره ډیر احسانات اوکړل، مونږ سره ئې ډیرې ښیګړې کړي دي. اے دَ الله نبي! مونږه چې کله را ژوانیدو نو نجاشي بادشاه مونږ ته اوونیل: چې زما سلام خپل پیغمبر ته وایئ، او هغهٔ ته اووایئ: چې دے پهٔ تا ایمان لري، او ورته اووایئ: چې هغهٔ وئیل: "أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ". زهٔ لرې یم، زهٔ حبشه کښې یم، خو زهٔ ستا یَو امتي یم، ما هم پهٔ تا باندې ایمان راوړے دے. او جعفر ﷺ ته وائي: کهٔ چرته دا حکومت او بادشاهي نهٔ وے، دا را نه نهٔ تلے نو زهٔ به تاسو سره تلے وے او زهٔ به خادم دَ رسول الله ﷺ جوړ شوے وے (چې صرف دَ هغهٔ هغه خبرې ئې واوریدې او قرآن ئې واوریدو پهٔ هغهٔ دومره اثر اوشو). خو یَو خبره به اوکړئ چې کله تاسو دَ خپل پیغمبر ﷺ خوا ته لاړ شئ نو زما سلام ورته وایئ، او ورته اووایئ: چې زما دپاره دعاء هم اوکړي. او یَو قاصد ئې ورسره کړو چې دوي ته پهٔ لاړ کښې څوک تکلیف اونهٔ رسوي. هغه قاصد دَ حبشې ورسره تلے وو.

دَ نبي ﷺ نجاشي بادشاه ته دعاء کول

نبي ﷺ اووئیل: هاں! ایمان ئې راوړو او دَ دعاء درخواست ئې کړے وو!. نبي ﷺ اوفرمائیل: ورشئ! ما له اوبهٔ راوړئ، نبي ﷺ پاسیدو او اودس ئې اوکړو، او بیا ئې لاسونه اوچت کړل او دعاء ئې اوکړه:

"اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلنَّجَاشِيِّ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلنَّجَاشِيِّ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلنَّجَاشِيِّ".[1]

"یا الله! نجاشي بادشاه ته بخښنه اوکړه، یا الله! نجاشي بادشاه ته بخښنه اوکړه، یا الله! نجاشي بادشاه ته بخښنه اوکړه".

دهٔ پهٔ نبي ﷺ باندې غائبانه ایمان راوړے وو، او حدیث کښې راځي: چې کله دا بادشاه وفات شو نو دا پهٔ حبشه کښې یَو مسلمان بادشاه وو او تول قوم ئې کافر وو.

(1) أخرجه الهیثمي في "مجمع الزوائد ومنبع الفوائد": (30/6)، برقم: (9846).

په نجاشي باندې غائبانه جنازه کول

نبي ﷺ له خبر راغلے چې دَ حبشې بادشاه وفات شوے دے نو نبي ﷺ صحابه کرام ﷺ راغونډ کړل او نجاشي بادشاه له ئې غائبانه جنازه اوکړه. بعضې خلق دَ دې نه استدلال کوي چې نبي ﷺ دَ دهٔ غائبانه جنازه کړې ده نو هر ځائے کښې چې څوک مړ شي او تهٔ هلته کښې نهٔ شې رسيدے نو غائبانه جنازه ئې کولے شې. خو دا استدلال غلط دے.

دَ احنافو مذهب

زمونږه دَ احنافو مذهب دا دے: چې مړے دې مخې ته نهٔ وي نو غائبانه جنازه نهٔ کيږي. هاں! بے شکه نبي ﷺ دَ نجاشي جنازه غائبانه کړې وه، دَ هغې استدلال نه يَو څو جوابات:

(۱) يَو قول خو دا دے: چې الله دَ دې نجاشي بادشاه کټ دَ نبي ﷺ مخې ته حاضر کړے وو معجزَةً، دا معجزه وه دَ رسول الله ﷺ چې هغه کټ الله حاضر کړو. نو داسې معجزه دَ بل چا دپاره کيدے شي؟

(۲) دويم جواب: هغه پناه وو، او هغه غرونه، هغه دشتې، هر څهٔ الله لرې کړي وو دَ الله نبي ﷺ ته ښکاره کيدو. نو دا هم معجزه شوه دَ نبي ﷺ.

(۳) دريم جواب: دا خصوصيت دَ نجاشي بادشاه وو. نو چې دا دَ هغهٔ خصوصيت شو نو هغهٔ پورې خاص شو، دَ هغهٔ نه بعد دَ نبي ﷺ صحابه ﷺ په ډيرو ځايونو کښې شهيدان شوي دي، نبي ﷺ ته خبر راغلے دے، نو نبي ﷺ ورله دعاء ګانې غوښتې دي خو نبي ﷺ ورله غائبانه جنازه نهٔ ده کړې. نو کهٔ دا معمول وے نو نبي ﷺ به دَ نورو خلقو هم غائبانه جنازه کړے وے، نو چې دَ بل چا ئې نهٔ ده کړې صرف دَ دې يَو کس ئې کړې ده نو دا خصوصيت شو دَ نجاشي بادشاه.

نو دا دَ صحابؤ ﷺ هغه دويم هجرت وو حبشې ته، تر دې ځائے پورې واقعه بيان شوه. ان شاء الله باقي تفصيل به وروستو کوؤ.

وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ يَرْجُو اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللّٰهَ كَثِيْرًا

(سورة الأحزاب: 21)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه پنځلسمه

"دَ سيد نا حمزه رضي الله عنه اودَ سيد نا عمر رضي الله عنه اسلام راوړل "

بتاريخ: 2022-05-27

مقام: جلسئ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّآني حفظه الله

سيرة النبي ﷺ حصه پنځلسمه

"دَ سيدنا حمزه ﷺ او دَ سيدنا عمر ﷺ فاروق ايمان راوړل"

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا﴾.(1)

حاضرينو عزتمندو مسلمانانو رونړوا دَ رسول الله ﷺ سيرتِ طيبه مبارکه هغه شروع وو، او تر دې پورې خبره را رسيدلې وه چې رسول الله ﷺ او صحابه کرامو ﷺ ته قسم ما قسم تکاليف په دينِ اسلام کښې مِلاؤ شوي وو، او ډيرې سختې ورته رسيدلې وې، تر دې چې صحابه کرام ﷺ په هجرت کولو باندې مجبوره شول خو يَو خوا چې به څوک مسلمان کيدو هغهٔ ته به ډير سخت تکاليف هم رسيدل، خو بل طرف ته دَ اسلام حقّانيت چې دَ يَو انسان زړهٔ کښې به دننه شو نو هغهٔ بيا دَ تکاليفو دَ وجې نه دَ اسلام نه روستو شوے هم نهٔ دے. نوي نوي خلق به راتلل او مسلمانان کيدل به، پهٔ ابتداء کښې ملګري کم وو، او کافر ډير وو، ملګري کمزوري وو، بے وسه وو او دَ کافرو زور وو.

پهٔ دارِارقم کښې دَ نبي ﷺ او دَ صحابه کرامو ﷺ را جمع کيدل

رسول الله ﷺ پهٔ جومات کښې خپل ملګري جمع کولے نهٔ شول، داسې بل ميدان کښې به

(1) [سورة الأحزاب: 21].

ئې راجمع کولے نۀ شو، چې کافر ورته نقصان اونۀ رسوي نو دارِ ارقم، دَ ارقم ﷺ کور وو، پۀ هغې کښې به نبي ﷺ سره يَو څو ملګري وو صحابه کرام ﷺ، هغه به ئې راغونډول او پۀ پټه به ئې هغوي له دعوت دَ اسلام ورکولو. دا ارقم ﷺ چې دے نو دے دَ سابقينِ اولينو نه دے، اول اول مسلمانانو کښې دے هم دے. علماؤ ليکلي دي: دے اووم نمبر مسلمان دے يا اتم او يا نهم يا لسم (۱۰) نمبر دے. دې پورې اقوال دَ دۀ باره کښې شته دے. چې دے هغې خلقو کښې دے چې دَ دغه تعداد پۀ وخت کښې مسلمان شوے دے. دَ دۀ کور چې وو دا دَ صفا غُنډئ سره نزدې وو، نبي ﷺ به خپل ملګري صحابه کرام ﷺ هلته کښې راغونډول او هلته کښې به پټ ناست وو، او هغوي ته به ئې دَ دينِ اسلام احکامات بيانول.

سيدنا عمر ﷺ چې مسلمانيدو نو دَ ارقم ﷺ پۀ کور کښې مسلمان شوے وو.

دَ حافظ عراقي رحمه الله قول

حافظ عراقي رحمه الله ليکلي دي، او هغۀ دا سيرت دَ نبي ﷺ پۀ اشعارو کښې را جمع کړے دے، نو هغه ديته اشاره کوي او هغه ليکي:

واتَّخَذَ النبيُّ دارَ الأرْقَمِ   لِلصَّحْبِ مُسْتَخْفِيْنَ عنْ قَوْمِهِمِ

"نبي ﷺ دَ ارقم ﷺ کور مرکز مقرر کړے وو دَ خپلو ملګرو صحابه کرامو ﷺ دپاره (چې دلته به راجمع کيږو او دلته به دَ يَو بل سره مِلاويږو)، دَ قوم نه به پټ راغونډيدل".

چا ته ئې دا نۀ شو وئيلے چې پۀ دې کور کښې صَحابه کرام ﷺ راجمع دي، پټ به هغې کښې راجمع شول او دَ دينِ اسلام پۀ اِحکامو به ئې عمل کولو، او چې دَ مونځ وخت به راغلے جمع به چا کولے نۀ شوه، نو حافظ عراقي رحمه الله وائي:

وَقِيْلَ: كَانُوْا يَخْرُجُوْنَ تَتْرَى   إِلَى الشِّعَابِ لِلصَّلَاةِ سِرًّا[1]

"وئيلے شوي دي: چې دوي دَ مانځۀ دپاره به دوي پۀ پټه باندې داسې جُدا جُدا وتل"، داسې شاړو ته به لاړل او هلته کښې به ئې پټ پټ مونځونه کول.

(1) انظر: "ألفية السيرة النبوية" للحافظ العراقي: (49).

و رو رو نوي نوي خلق راغلل او هغوي مسلمانيدل.

د سیدنا حمزه رضي الله عنه اسلام راوړل

الله رب العزة سيدنا حمزه رضي الله عنه مسلمان كړو، بيا سيدنا عمر رضي الله عنه اسلام قبول كړو. الله رب العزة مسلمانانو ته نور هم تقويت وركړو. علماء كرامو ليكلي دي: چې حمزه رضي الله عنه دَ غيرت دَ وجې نه مسلمان شو. حمزه رضي الله عنه دا يَو نوجوان وو، او دے دَ ښكار ډير شوقي وو، ښكارونه به ئې كول. او دا حمزه رضي الله عنه دَ نبي ﷺ ترۀ دے، اول وخت كښې مؤمن نۀ وو.

يَوه ورځ ابو جهل لعين رسول الله ﷺ ته ډيرې بدې ردې اووئيلې، خو رسول الله ﷺ خو دَ اخلاقو يَو نمونه وه، نبي ﷺ څۀ اونۀ وئيل خو ابو جهل ښۀ خپل زړۀ يخ كړو. دا منظر چې سړے ويني او سړے وائي: چې دغه ځائے كښې زۀ وے نو ما به څۀ كړے وے، ځنكه دَ سړي زړۀ كښې يَو جوش راځي، خو دَ الله نبي ﷺ به دَ دينَ دپاره هر څۀ قربانول. دې ابو جهل لعين دَ الله نبي ﷺ ته بدې ردې پۀ دې مرداره خُلۀ ډيرې اووئيلې او ډيرې كنځلې ئې اوكړې، ليكن دَ الله نبي ﷺ دَ يَوې خبرې جواب هم ورنۀ كړو. او بعضې علماؤ ليكلي دي: چې پۀ نبي ﷺ باندې ئې ګُزارونه هم اوكړل، دَ الله دَ نبي ﷺ بدن مبارك ئې زخمي كړو، خو هغۀ غږ نۀ كولو، وائي: كۀ څۀ وايم نو خلق به وائي: چې دَ مشر سړه انختے دے. پۀ دې كښې دَ عبد الله بن جدعان يَوه وينزه وه، هغې دَ خپل كور نه كتل، دَ ابو جهل لعين دا كنځل ئې اوريدلې او دَ رسول الله ﷺ حال ئې هم ليدو. نو سيدنا حمزه رضي الله عنه دَ ښكار نه واپس را روان وو، او دغه دَ عبد الله بن جدعان وينزه ورته وائي: اے ابو عماره! تۀ وختي نۀ وې كنه، كاش چې تۀ موجود وې كوم وخت ابو جهل ستا دې روارۀ ته كنځلې كولې! چې لږه دفاع خو دې ورته كړے وے؟ سيدنا حمزه رضي الله عنه ورته وائي: خا! زما روارۀ ته ئې كنځلې كولې؟ وائي: آو، ډيرې نا روا كنځلې ئې ورته كولې. سيدنا حمزه رضي الله عنه ورته اووئيل: زۀ به ئې اوس خوښ شم.

ګوره! مسلمان نۀ دے كافر دے، روان شو، دَ حمزه رضي الله عنه طريقه به دا وه: چې دے به كله هم دَ ښكار نه راغے نو اول به مسجد حرام ته لا ړو، مسجدِ حرام كښې به ئې حاضري اوكړه، عبادت به

ئې اوکړو، دَ ملتِ ابراهیمي پهٔ طریقې به ئې عبادت کولو، نو چې عبادت به ئې اوکړو بیا به کور ته راغے. نبي ﷺ خو لا هغوي نهٔ منلو، ایمان ئې پرې نهٔ وو راوړے نو دے چې مسجد حرام ته لاړو، چې اوئې کتل نو ابو جهل لعین پهٔ مسجد حرام کښې دے، نو دَ دهٔ پرې نظر اولګیدو نو غصه خو وو، نیغ ابو جهل پښې لاړے او دَ خپلې لیندې هغه اُلته طرف باندې ئې ورله سر اووهلو، وینې ئې پرې را ماتې کړې او خومره کنځلې چې ورته یادې وې نو پهٔ بیت الله کښې ئې ابو جهل ته اوکړې، ښهٔ زړهٔ ئې سپک کړو. ابو جهل سره قریش ناست وو، نو قریشو اراده اوکړه چې پهٔ حمزه باندې حمله اوکړي، کهٔ دَ هغهٔ قوم دَ هغهٔ سره اودریدو خو بل طرف ته دَ حمزه ﷺ قوم بنو هاشم دَ دهٔ سره را وچتیدو. ابو جهل ډیر اوښیار وو، چې اوس خو دَ دوؤ قبیلو جنګ کیږي، او پهٔ دې کښې به دَ نبي (ﷺ) سره ډیر کسان ملګري شي نو ابو جهل زر خلقو ته وائي: چې خبردار! غږ به نهٔ کوئ، اول ما دَ دهٔ ورارهٔ ته ډیرې کنځلې کړې دي، ما ئې ډیره بے عزتي کړې ده نو پریږدئ چې دے څهٔ وائي نو خیر دے او دې وائي، دهٔ سره زهٔ جنګ نهٔ کوم، دا خو زمونږ سرے دے او زما او دَ دهٔ یَو نظریه ده، دهٔ سره مونږه جنګ نهٔ کوؤ. خبره ئې بل خوا تاؤ کړه او دهٔ پرې خپل زړهٔ یخ کړو.

خلقو ورته اوونیل: اے حمزه! ولې تهٔ هم صابي شوے ئې؟ هغې وخت کښې چې به یَو سړے مؤمن شو نو هغهٔ ته به خلقو صابي وئیلو. دَ صابي معنٰی دا ده: بے دینه. وائي: تهٔ هم بے دینه شوے ئې؟ هغوي خو خپل دین ته حق وئیلو. نو حمزه ﷺ ورته وائي: صابي نهٔ یم، بس زهٔ هم دَ نن نه مسلمان شوم. نهٔ دعوت وو، نهٔ خبره وه، بس غیرت کښې راغے وائي: چې تاسو زما ورارهٔ ته بدې ردې وایئ، زهٔ هم دَ نن نه مسلمان شوم. هغې وخت کښې ئې چغه کړه وائي: زهٔ مسلمان یم. سیدنا حمزه ﷺ دغه خبره اوکړه خو چې کور ته راغے زړهٔ کښې سوچ کولو... شیطان خو ډیر ظالم دے، دے سړي ته قسم ما قسم وسوسې اچوي، حمزه ﷺ ته شیطان قسم ما قسم وسوسې شروع کړې: چې اے حمزه! ګوره! دَ پلار نیکهٔ دین پریږدې، خپل قوم او رشته دار پریږدې او دَ دې محمد (ﷺ) خبره منې؟ صحیح ده ورارهٔ دې دے، پهٔ سر دې ورله غیرت اوکړو دَ دهٔ څهٔ له منې؟ خپل کار کوه. حمزه ﷺ پهٔ دې سوچونو کښې پروت دے چې اوس څهٔ اوکړم: واپس دَ خپل پلار نیکهٔ دین قبول

کړم او کهٔ دَ دې محمد دين قبول کړم؟ پهٔ تردُّد او اشتباه کښې وو.

دَ سيدنا حمزه ﷺ دَ الله نه دعا غوښتل

"مستدرک" دَ امام حاکم ليکلي دي، دارنګې "سيرة المصطفٰی" کښې مولانا محمد ادريس کاندهلوي رحمه الله ليکلي دي: سيدنا حمزه ﷺ چې وو، نو هغهٔ دَ الله نه دعاء اوغوښته:

"اَللّٰهُمَّ إِنْ كَانَ رُشْدًا فَاجْعَلْ تَصْدِيْقَهُ فِيْ قَلْبِيْ وَإِلاَّ فَاجْعَلْ لِيْ مِمَّا وَقَعْتُ فِيْهِ مَخْرَجًا".(1)

الله! زهٔ خو نهٔ پوهيږم، الله تهٔ ښهٔ پوهيږې، "يا الله! کهٔ دا دين دَ محمد رسول الله ﷺ حق وي نو دَ دې تصديق زما پهٔ زړهٔ کښې پيدا کړه، زما زړهٔ پهٔ دې مطمئن کړه او مضبوط ئې کړه او يا الله! کهٔ چرته دا غوره نهٔ وي نو دَ دې نه دَ وتلو دپاره ما له يَو لاره پيدا کړه".

دَ سيدنا حمزه ﷺ ټوله شپه خوب نهٔ کول

او يَو روايت کښې راځي: چې ټوله شپه سيدنا حمزه ﷺ خوب اونهٔ کړو، ولې؟ پريشانه دے، چې دَ پلار نيکهٔ دا دين قبول کړم او کهٔ دَ محمد ﷺ دين قبول کړم. کله داسې يَو مسئله سړي ته پيښه شي نو سړے سوچونو کښې شي نو خوب ترې پاتې شي. ټوله شپه حمزه ﷺ پهٔ پريشانئ کښې دے، يَو سيکنډ له ئې هم سترګه پټه نهٔ کړه. چې سحر شو نو بيت الله شريف ته راغے او هلته ئې دَ الله نه دعاء اوغوښته، چې: يا الله! کهٔ چرته دا دين غوره وي نو زما زړهٔ کښې دا مضبوط کړه، او ما پرې مطمئن کړه، او کهٔ نهٔ وي نو ما دَ دې نه بل خوا واړوه. کله چې ئې دا دعاء اوکړه نو الله رب العزة دَ حمزه ﷺ زړهٔ پهٔ دين باندې مطمئن کړو، او دعاء ئې قبوله شوه، زړهٔ کښې ئې دَ دينِ اسلام حقّانيت راغے. دَ هغې نه پس را روان شو او دَ رسول الله ﷺ خوا ته راغے، او چې راغے نو نبي ﷺ ته وائي:

"أَشْهَدُ أَنَّكَ لَصَادِقٌ شَهَادَةَ الْمُصَدِّقِ وَالْمَعَارِفِ".(2)

"اے دَ الله نبي! زهٔ شهادت کوم چې تهٔ ريشتينے پيغمبر ئې، داسې شهادت کوم چې زهٔ ستا

(1) انظر: "المستدرك على الصحيحين" للحاكم، برقم: (4878).

(2) انظر: "المستدرك على الصحيحين" للحاكم، برقم: (4878)، "روض الأنف": (186/1).

تصديق كوم او تا پيژنم"، تۀ ما ته دَ پخوا نه معلوم وې، چې تۀ صادق او امين وې.

او بيا رسول الله ﷺ ته فرمائي: چې اے ورارۀ! دا ستا دين چې دے اوسه پورې زما تردُّد او شک وو او اوس زۀ علیٰ الاعلان چغه وهم چې زۀ ستا پۀ دين او ستا پۀ طريقه باندې يم. او وائي: زما دې دَ الله پۀ ذات قسم وي چې كۀ دا ټوله دنيا ما له څوک راكوي او پۀ دې دنيا كښې چې څۀ دي هغه را ته مِلاويږي پۀ دې چې زۀ ستا دين پريږدم نو قسم پۀ خدائے! كۀ دا ټول خيزونه زۀ ستا دَ دين پۀ مقابله كښې واخلم، دين پريږدو ته تيار نۀ يم، دومره مې زړۀ ستا پۀ دين باندې كلک شو. سيدنا حمزه ﷺ هغه وخت كښې دا اشعار وئيلي وو:

دَ حمزه ﷺ اشعار

حَمِدْتُ اللهَ حِيْنَ هَدَى فُؤَادِيْ إِلَى الْإِسْلَامِ وَالدِّيْنِ الْحَنِيْفِ

"زۀ دَ الله رب العزة صفتونه او حمدونه وايم كوم وخت نه ئې چې ما ته هدايت او ښودنه كړې دَ دينِ اسلام، او دَ دينِ ابراهيمي چې صحيح دين دے او دَ غلطو نه پاک دے".

لَدِيْنٌ جَاءَ مِن رَّبٍّ عَزِيْزٍ خَبِيْرٍ بِالْعِبَادِ بِهِمْ لَطِيْفِ

"هغه دين چې دَ هغه ربّ دَ طرف نه دے چې زورَور او خبردار ذات دے پۀ بندګانو باندې او ربّ پۀ هغوي ډير مهربانه دے".

إِذَا تُلِيَتْ رَسَائِلُهُ عَلَيْنَا تَحَدَّرَ دَمْعُ ذِي اللُّبِّ الْحَصِيْفِ

"كله چې دَ هغوي رسالې پۀ مونږه باندې لوستلے كيږي نو بهيږي دَ هغې دَ وجې نه اوښكې دَ عقلمند انسان چې كامل عقل والا وي".

رَسَائِلُ جَاءَ أَحْمَدُ مِنْ هُدَاهَا بِآيَاتٍ مُّبَيِّنَاتِ الْحُرُوْفِ

"داسې رسالې او داسې خطونه دَ ربّ دَ طرف نه راغلي دي چې احمد ﷺ (دا دَ نبي ﷺ نوم دے) راوړي دي، او دَ هدايت رسالې دي، او دې كښې داسې آيتونه دي چې دَ هغې هر يَو حرف واضح واضح دے".

وَأَحْمَدُ مُصْطَفَى فِيْنَا مُطَاعُ فَلَا تَغْشُوْهُ بِالْقَوْلِ الْعَنِيْفِ

"احمد ﷺ چې غوره کړے شوے دے، په مونږ کښې دَ هغهٔ خبره منلے شوې ده نو دَ هغهٔ خبره مهٔ پټوئ په ناجائزه خبرو باندې".

فَلَا وَاللهِ نُسْلِمُهُ لِقَوْمٍ وَلَمَّا نَقْضِيْ فِيْهِمْ بِالسُّيُوْفِ

"زما دې دَ الله په ذات باندې قسم وي چې کله هم مونږ دا نبي ﷺ يَواځې کافرو ته نهٔ پرېږدو نو لا تر هغې به مونږه په هغې کښې په تورو فيصله نهٔ وي کړې".

معنٰی: په تورو مو چې وژلي نهٔ وي نو دا پيغمبر ورته داسې نهٔ حواله کوؤ. نو دَ نبي ﷺ ترهٔ سيدنا حمزه رضی الله عنه سره مسلمانانو ته لږ غوندې تقويت مِلاؤ شو. دے ډير بهادر انسان وو چا هم دَ دهٔ مقابله نهٔ شوه کولے.

دَ سيدنا عمر فاروق رضی الله عنه ايمان راوړل

اصح قول دا دے: چې دَ دې نه درې (۳) ورځې بعد عمر رضی الله عنه الله مسلمان کړو. دَ سيدنا عمر فاروق رضی الله عنه دَ اسلام راوړو په سبب کښې مختلف اقوال شته:

يَو قول خو دا دے: چې سيدنا عمر فاروق رضی الله عنه دپاره خصوصي دعاء رسول الله ﷺ کړې وه، او الله رب العزة دَ رسول الله ﷺ دا دعاء دَ هغهٔ په باره کښې قبوله کړه.

دَ ابو جهل لعين اعلان

ابو جهل لعين اعلان اوکړو: چې چا رسول الله ﷺ قتل کړو نو سل اوښان به زهٔ هغهٔ له په انعام کښې ورکوم.

دا دومره بد بخته وو، خلاف وو دَ رسول الله ﷺ. سيدنا عمر رضی الله عنه خو چونکه زړَور ډير وو نو هغهٔ اووئيل: چې دا انعام به زهٔ گټم، دا پيغمبر به وژنم او دا اوښان به اخلم. وائي: ما وئيل: چې هسې نهٔ چې صبا ابو جهل اووائي: چې ما خو نهٔ دي وئيلي، وائي: کور ته وريسې راغلم او ما ورته اووئيل: زهٔ خبر شوے يم چې تا يَو اعلان کړے دے: چې دا پيغمبر چا اووژلو نو زهٔ بل سل (۱۰۰) اوښان په انعام کښې ورکوم، تا داسې وئيلي دي؟ ريشتيا وائې؟ او وائي: دا مې هم ورته اووئيل: چې

بیا دې ته تیار ئې؟ ابو جهل اووئیل: بالکل تیار یم، ما وئیلي دي: چې چا دا نبي قتل او مړ کړو نو سل اوښان به انعام کښې ورکوم.

دَ سیدنا عمر ﷺ دَ نبي ﷺ قتل پسې روانیدل

سیدنا عمر ﷺ وائي: زۀ را روان شوم دَ رسول الله ﷺ قتل پسې او چې کله دَ رسول الله ﷺ قتل پسې را اووتم نو په لاره کښې مې کتل چې څۀ کسان دي او هغوي یَو سخے رانیولے دے او دَ خپلو خدایانو په نوم ئې ذبح کوي، زۀ را نزدې شوم نو هلته نه ما یَو آواز واوریدو، صحرا ده، شاړه ده، آواز اوشو:

"یَا آلَ ذَرِیْحِ أَمْرٌ نَجِیْحٌ رَجُلٌ یَصِیْحُ بِلِسَانٍ فَصِیْحِ".

نو دا چغې مې واوریدې او ما داسې کنړل لکه چې زۀ ئې مخاطب کړے یم او دا خبره کوي: "اے دَ ذریح والؤ! (امام بخاري چې کله دا روایت نقل کوي نو هغۀ وائي: "یَا جَلِیْحُ": اے جلیحه! معنٰی: اے سړیه!) یَو کار دے چې ډیر کامیاب کار دے (چې څوک هغه اومني نو هغه انسان کامیاب وي، نو هغه کار څۀ دے؟) وائي: یَو سړے دے: چې هغۀ خلقو ته چغې وهي، دعوت ورکوي خلقو له او داسې سړے دے چې په فصیحه او واضحه ژبه باندې دعوت ورکوي...".

خبره څۀ ده؟ څۀ ته دعوت ورکوي؟ نو وائي:

"یَدْعُوْ إِلَی شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلاَّ الله وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ الله".[1]

دې طرف ته دعوت ورکوي: چې خلقو ته وائي: "دَ دې ګواهي اوکړئ چې دَ الله نه ما سِوا بل إِلٰه نشته مګر یَو الله دے، او یقینًا محمد ﷺ دَ الله پیغمبر دے".

سیدنا عمر ﷺ فرمائي: چې کله ما دا آواز واوریدو نو ما اووئیل: چې دا ما ته څوک چغې وهي، دَ هغې نه روستو زما دَ زړۀ لړ لړ دَ اسلام او دَ نبي ﷺ سره محبت پیدا شو. دا یَو باعث وو دَ عمر ﷺ دَ اسلام راوړلو.

دَ امام احمد ﷺ قول

دویم قول امام احمد ﷺ نقل کړے دے: سیدنا عمر ﷺ فرمائي: چې زۀ راغلم نو دَ الله نبي ﷺ

(1) انظر: "الخصائص الکبرٰی" للسیوطي، برقم: (221/1).

زما نه مخکښې راغلے وو او بیت الله کښې ولاړ وو، دَ قرآن تلاوت ئې کولو، وائي: زما په دې زړهٔ کښې دا خبره راغله چې یره! دا نبي ﷺ چې څهٔ وائي دے به کاهن وي، او کله به مې زړهٔ کښې راغلل چې دے به شاعر وي، نو دَ الله نبي ﷺ دا آیتونه وائي:

﴿إِنَّهُۥ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ * وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ قَلِيلًا مَّا تُؤْمِنُونَ﴾.[1]

"یقینًا دا دَ یَو نبي عزتمند وینا ده، او دا دَ یَو شاعر وینا نهٔ ده...".

دَ قرآن هغه آیتونه داسې دي، وائي: ما اووئیل: چې واه! زما په زړهٔ کښې چې کوم شک وو دَ هغې جواب خو اوشو. بیا زما په زړهٔ کښې راغلل چې دا به کاهن وي، ترویتي به وي، نو پیغمبر ﷺ وړیسې داړک اووئیل:

﴿وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ﴾. "دا دَ یَو کاهن وینا هم نهٔ ده".

نو وائي: "فَوَقَعَ الْإِسْلَامُ فِي قَلْبِي كُلَّ مَوْقِعٍ".[2]

"نو اسلام زما په زړهٔ کښې هر یَو رګ او هر یَو کُټ ته ننوتلو". چې دا خو عجیبه دین دے: چې زما زړهٔ کښې کوم شک راځي نو دَ هغې جواب راځي!. دَ هغې نه هم په ما لږ لږ اثر اوشو.

بل دا چې کله عمر بن الخطاب ﷺ چې دا اولنے آواز واوریدو چې: "يَا آلَ ذَرِيحٍ أَمْرٌ نَجِيحٌ رَجُلٌ يَصِيحُ بِلِسَانٍ فَصِيحٍ يَدْعُو إِلَى شَهَادَةِ أَن لَّا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ". خو ما بیا هم دا خپله اراده پرېښې نهٔ خوده، او زړهٔ کښې مې یَو شک پیدا شو، خو ما وئیل: چې سل (۱۰۰) اوښان ډیر شے دي، دا کټل غواړي. دَ نبي ﷺ قتل پسې روان شوم، لاره کښې یَو سړے عمر ﷺ ته مخې له ورغلے، چې دَ هغهٔ نوم "نعیم بن عبد الله النحام" دے، عمر ﷺ ته وائي: اے عمر! چرته روان ئې؟ دَ غرمې وخت دے، چرته ځې؟ عمر ﷺ ترې خبره پټه نهٔ کړه، وائي: زهٔ دَ دې محمد قتل پسې روان یم، دے وژنم. څکه دهٔ خو وئیل چې زهٔ بهادر یم، زما مقابله څوک کولے شي؟ ښکاره به ئې وئیل چې زهٔ به دے وژنم، هغه ورته وائي: چې تهٔ به دے څنګه مړ کړې، دَ هغهٔ قبیله ده بنو هاشم، او

---

(1) [سورة الحاقة: 40-41].

(2) أخرجه أحمد في "مسنده"، مسند الخلفاء الراشدين، مسند عمر بن الخطاب ﷺ، برقم: (107).

بنو زهره، دَ هغوي نه به بيا څنګه خلاصيږې؟ سيدنا عمر ﷺ ورته وائي: دَ دې خبرو خبرو نه معلوميږي چې تهٔ ئې هم ملګرے شوے ئې؟ نو دَ هغهٔ سره پهٔ جنګ شو. هغه ورته وائي: ما پرېږدَوه، ورشه ستا خور او ستا اوخي پرې هم ايمان راوړے دے!. دَ خور ئې فاطمه نوم وو، هغوي مسلمانان شوي دي، سعيد بن زيد ﷺ دا ئې اوخے وو، هغهٔ پرې ايمان راوړے دے!.

سيدنا عمر ﷺ چې دا واوريدل نو غصه ئې نوره هم ښهوا شوه، وائي: چې زهٔ هغه وژنم او دا را ته پهٔ کور کښې دَ هغهٔ ملګري پيدا شوي دي!. دَ هغهٔ نه را واپس شو او وائي: چې اول دوي پسې ورشم.

دَ سيدنا عمر ﷺ دَ خپلې خور کورته تلل

دروازه ئې بند ده، او سيدنا خباب ﷺ دوي کره راغلے وو، دَ پردې احکامات پهٔ هغې وخت کښې نهٔ وو، دې ښځې او خاوند ته ئې قرآن ښودو، تلاوت دَ قرآن ئې ورته کولو، او دوي ترې قرآن زده کوي، او پهٔ دې کښې عمر ﷺ دَ بهر نه راغے، بهر چې اودريدو نو کور نه دَ سبق آواز راځي، زرهٔ کښې يقين راغے چې خبره خو صحيح ده، دوي خو سبق وائي، چې دروازه ئې اوټکوله، آواز ئې اوکړو چې عمر يم!، نو سيدنا خباب ﷺ پوهه شو چې دا خو کافر دے او اوس به مونږ وهي، نو هغه خو ميلمه وو، نو کوټه کښې يَو ګُټ کښې غلے شو، او دَ دهٔ اوخے (سيدنا سعيد بن زيد ﷺ) راغے او هغهٔ دهٔ ته دروازه کولاؤ کړه. نو دهٔ ورته اووئيل: چې دا تاسو څهٔ وئيل؟ دا تاسو کوم دين شروع کړے دے؟ شور جوړ شو، هغه ئې اونيولو او جنګ جوړ شو، خور ئې راغله او دا خپل خاوند ئې ترې خلاصولو... نو دهٔ ته خو وئيلے شوي وو چې ستا خور او اوخے دواړه مسلمانان شوي دي، هغوې ته هم غصه وو، دې خور ئې خاوند نهٔ پرېښودو، او عمر پهٔ خپله خور ئې ګُزار اوکړو نو مخ ئې ورته دومره پهٔ تيزئ سره اووهلو چې وينې ترې رواني شوې. وينې ترې بهيږي او هغه وينې صفا کوي، خو هغه هم غصه شوه، وائي: چې تهٔ مونږه پهٔ خپل کور کښې وهي نو څه! چې تهٔ څهٔ کوې نو هغه اوکړه مونږه مسلمانان شوي يُو؟ چا ترې خلاص کړي نهٔ دي، عمر ﷺ چې پهٔ وهلو ښهٔ ستړے شو نو خپله ئې وهل بس کړل او چې وهل ئې بس کړل، زرهٔ

کښېښې ستومانه شو چې يره! ګوره! مَا دَ دوي نه هډو معلومات اونۀ کړل چې دا کوم دين دے؟ پۀ دې کښېښې کومه خبره ده؟ او ډارک مې وهلو باندې شروع اوکړه، لږ معلومات خو اوکړه چې دا څۀ دي؟ ورته وائي: چې هغه پاڼړه ما ته راوړئ وختي چې تاسو لوستله! چې دا ئې اووئيل نو لږه طمع پيدا شوه چې اوس به کار سم شي، نو خور ورته وائي: چې روره! هغه تا له څکه راوړے نۀ شو چې:

"إِنَّكَ رِجْسٌ وَلَا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ، قُمْ فَاغْتَسِلْ أَوْ تَوَضَّأْ".(1)

"تۀ خو پليت ئې، او الله وائي: دې ته به لاس نۀ اوړي مګر پاک خلق به ورته لاس ور اوړي، نو ورشه غسل اوکړه، يا اودس اوکړه بيا واخله!".

عمر ﷺ اووئيل: هان!.... دوه قسمه روايات دي: يَو (۱) دا دے: چې اودس ئې اوکړو او بل (۲) روايت دا دے: چې غسل ئې اوکړو، ځان ئې صفا کړو او راغے وائي: ما له هغه کاغذ راوړئ!، عمر ﷺ ته ليکل لوستل ورتلل، او چې شروع ئې اوکړه نو سورة طٰهٰ وه:

﴿طه * مَا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لِتَشْقَى * إِلَّا تَذْكِرَةً لِمَنْ يَخْشَى * تَنْزِيلًا مِمَّنْ خَلَقَ الْأَرْضَ وَالسَّمَاوَاتِ الْعُلَى...﴾.(2)

ديارلس (۱۳) آيتونه دَ سورة طٰهٰ ئې اولوستل، دې ځائے پورې چې را اورسيدو:

﴿إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي﴾.(3)

"زۀ الله يم، بل اِلٰه نشته دے مګر زۀ يم، يواځې زما عبادت کوه او مونځ پۀ پابندئ باندې کوه؛ دپاره دَ يادولو زما".

سيدنا عمر ﷺ چې دا اوکتل نو بے اختياره ئې پۀ دې خُلۀ باندې يَو آواز را اوچت کړو چې:

"مَا أَحسَنَ هٰذا وأكرَمَه!!!".

پۀ دې کښېښې خو يَو نا آشنا مزه ده؛ يَو نا آشنا خوند دے پکښې، "دا دومره خائسته کلام دے!"، دا خو ما چرته پۀ زندګئ کښې نۀ وو اوريدلے. دننه نه خباب ﷺ پوهه شو چې دَ عمر ﷺ

(1) أخرجه الحاكم في "المستدرك على الصحيحين"، معرفة الصحابة، فاطمة بنت خطاب، برقم: (6897)، والبيهقي في "سنن الكبرى"، برقم: (413).

(2) [سورة طه: 1-4].

(3) [سورة طه: 14].

پهٔ زړهٔ کښې لا ره اوشوه، رامېده ئې کړه او ورته وائي:
"أَبْشِرْ يَا عُمَرُ!".
"عمره! زيرے واخله!".
وائي: دَ څهٔ شي زيرے؟ وائي: دَ الله نبي ﷺ ستا دپاره دَ الله نه دعاء غوښتې وه: «اللهُمَّ أَيِّدْ الْإِسْلَامَ بِأَبِي الْحَكَمِ بْنِ هِشَامٍ أَوْ بِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ».(1)
يا الله! مسلمانان ډير كمزوري دي، او دا دوه كسان لړ زوزور دي چې يَو ابو جهل دے، او بل عمر بن الخطاب دے، الله! پهٔ دې دوؤ کښې چې کوم يَو تا ته محبوب وي نو الله! هغهٔ ته اسلام نصيب كړه، چې اسلام مضبوط شي. وائي: زما پهٔ خيال دَ رسول الله ﷺ دعاء الله ستا باره کښې قبوله کړه، تهٔ دَ الله ډير خوښ وې، نوره هم دَ عمر ﷺ پهٔ زړهٔ کښې لا ر اوشوه.
دوه قسمه روايات راځي: يَو دَ امام احمد ؒ او امام ترمذي ؒ روايت دے: رسول الله ﷺ داسې دعاء کړې ده: چې يا الله پهٔ ابو جهل او عمر بن الخطاب کښې چې کوم يَو تا ته ډير محبوب وي نو الله! هغهٔ ته ايمان نصيب كړه.
دَ نبي ﷺ دعاء خاص دَ عمر ﷺ دپاره
او بل روايت کښې راځي: " اللَّهُمَّ أَيِّدِ الإِسْلَامَ بِعُمَرَ بنِ الخطابِ خاصَّةً".(2)
"يا الله! تهٔ اسلام پهٔ عمر بن الخطاب باندې مضبوط كړه. خاص كر دَ هغهٔ دپاره ئې ځان له دعاء اوكړه".
دې دواړو روايتونو کښې محدِّثين تطبيق داسې كوي: چې اول کښې دَ الله نبي ﷺ دَ دواړو نومونه ياد كړل، بيا دَ وحي پهٔ ذريعه دَ الله نبي ﷺ ته اووئيلے شو: چې ابو جهل به دَ دنيا نه كافر ځي، دهٔ ته به ايمان نهٔ نصيب كيږي. نو چې نبي ﷺ ته اووئيلے شو چې ابو جهل ته ايمان نهٔ نصيب كيږي نو دَ عمر بن الخطاب ﷺ دپاره ئې خاص دعاء اوكړه.

(1) انظر: "الروض الأنف" لأبي القاسم عبد الرحمن بن عبد الله بن أحمد السهيلي: (165/3).
(2) انظر: "سيرة المصطفى": (240/1)، وفي طبع: مكتبة عمر فاروق مخرجا: (209/1-212).

دَ عمر بن الخطاب ﷺ دَ نبي ﷺ خوا ته راتلل

عمر ﷺ اوفرمائيل: چې شابېء! ما دَ نبي ﷺ خوا ته بوځئ. ما تاسو ته وئيلي وو: چې دا هغه وخت وو چې ابتداء وه، نبي ﷺ او صحابه ﷺ به پټ ناست وو، چا ته ځائے معلوم نهٔ وو. سيدنا خباب ﷺ ورته وائي: زهٔ به دې بوځم ما ته ځائے معلوم دے. دَ ارقم ﷺ پهٔ كور كښې نبي ﷺ او صحابه ﷺ ناست دي.بېء دې كښې عمر بن الخطاب ﷺ ئې را روان كړو. چا نبي ﷺ ته اووئيل: چې عمر را روان دے. كله چې را اورسيدو، دروازه ئې اوټكوله، چا ته دننه پته نشته چې دے پهٔ كومه اراده راغلے دے، دهٔ خو دَ الله نبي ﷺ پسې توره كرځوله. نو پهٔ دې دوران كښې دَ صحابؤ ﷺ سره فكر شو چې خدايه! ټول كمزوري خلق يُو، بے وسه يُو، كهٔ توره ورسره وي او مونږ دلته اووهي. چا اووئيل: دروازه ورته كهولاؤو او چا اووئيل: چې نا! دروازه ورته نهٔ كهولاؤو، پهٔ دې كښې سيدنا حمزه ﷺ دَ دهٔ نه درې (۳) ورځې مخكښې مسلمان شوے وو، خو حمزه ﷺ هم يَو ډير بهادر انسان وو، ورته وائي: دروازه ورته كهولاؤ كړئ، كهٔ عمر دَ خير پهٔ اراده راغلے وي، دَ ايمان پهٔ اراده راغلے وي نو الله به ورله خير ورکړي، او كهٔ عمر پهٔ غلطه اراده راغلے وي نو دروازه ورته كهولاؤ كړئ عمر زما نه واپس نهٔ شي تلے. چې نبي ﷺ ته پته اولګيده چې عمر راغلے دے نو اوئې فرمائيل: چې دروازه ورته كهولاؤ كړئ. چې څنګه ئې ورته دروازه كهولاؤ كړه نو دے را روان دے دَ نبي ﷺ خوا ته را اورسيدو. حديث كښې راځي: سيدنا عمر ﷺ وائي: نبي ﷺ زما دا جامې داسې راخكلې ځان پله او زما دپاره ئې دعاء اوكړه: چې "اللّٰهُمَّ اهْدِهٗ". الله! تهٔ دهٔ ته هدايت اوكړه. او يَو بل روايت كښې راځي، وائي: نبي ﷺ دا دعاء اوكړه:

"اَللّٰهُمَّ هٰذَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، اَللّٰهُمَّ أَعِزَّ الدِّيْنَ بِعُمَرَ".

"الله! دا عمر بن الخطاب راغلے دے (چې واپس كافر اونهٔ وځي)، الله تهٔ دين له پهٔ دهٔ باندې عزت ورکړې"، او دهٔ ته اسلام نصيب كړه.

دا دَ نبي ﷺ دعاء وه، دَ دې پهٔ قبليدو كښې څهٔ شک نهٔ ووا، عمر بن الخطاب ﷺ ورته

اوخندل او وائي: يا رسول الله! زۀ دَ ايمان پۀ اراده راغلے يم، دَ دې دپاره راغلے يم چې زۀ مسلمان شم. او نبي ﷺ ته مخامخ كيښناستو ورته وائي:

"أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلا اللهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ اللهِ". "زۀ شهادت كوم چې بل اِلٰه نشته مګر يَو الله دے، او زۀ دا ګواهي كوم چې تۀ دَ الله رب العزة رسول ئې".

بس خلقو يَو بل ته دَ خوشحالئ نه مباركئ شروع كړې، چې شكر دے عمر مسلمان شو. صحابه ﷺ ډير خوشحاله شول، سيدنا عمر ﷺ اوفرمائيل: چې تول عمر مې دَ مسلمانانو خلاف كړے وو، نن به زۀ دَ مسلمانانو دفاع كوم. او يَو كس دے چې هغه پۀ دې كښې ډير مشهور وو، چې هغۀ به خبره ډيره خوروله، دَ هغۀ نوم دے "جميل بن معمر"، دَ هغۀ خوا ته لاړو او ورته وائي: جميله! تۀ خبر ئې؟ عمر مسلمان شو. جميل بن معمر منډه كړه او چې چا سره مِلاويږي نو هغۀ ته وائي: چې عمر صابي شوے دے. سيدنا عمر ﷺ ورپسې روستو روان دے، چې دَ قريشو يَو ډلې ته اورسيدو نو هغوي ته وائي: زۀ صابي شوے نۀ يم، زۀ مسلمان شوے يم. خو سيدنا عمر ﷺ خو يَو بهادر انسان وو، مسلمانانو ته ئې اووئيل: چې راځئ! اوس به تاسو پۀ پټه عبادت نۀ كوئ. بيا به مسلمانان بيت الله ته راتلل، او مونځ به ئې هلته كښې كولو، هلته به ناست وو، دعوت به ئې هم چلولو. بيا چا دَ هغوي خلاف نۀ شو كولے.

تردې پورې بيان اوشو، ان شاء الله باقي سيرت به نورو جُمعو كښې بيانيږي.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا

(سورة الأحزاب: 21)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه شپاړلسمه

"مقاطعه بني هاشم او هغې با ندې ليكل او بيت الله كښې اويزا نول"

بتاريخ: 2022-06-03

مقام: جلسۍ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربآني حفظه الله

سیرة النبي ﷺ حصه شپاړلسمه

"مقاطعه بني هاشم او هغې باندې خط ليکل او بيت الله کښې اويزا نول"

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا﴾.(1)

حاضرينو عزتمندو مسلمانانو رونړو! دَ رسول الله ﷺ سيرتِ طيبه شروع وو، چې کوم تڪليفونه رسول الله ﷺ ته دَ دينِ اسلام دَ دشمنانو نه، دَ کفارو نه رسيدلي وو او دَ هغوي صحابؤ ﷺ ته چې کوم تڪليفونه رسيدلي وو دَ هغې بيان شروع وو. دَ صحابؤ ﷺ تڪليفونه او مشکلات بيان شول. مخکښې مونږ اووئيل: چې سيدنا حمزه ﷺ او دَ هغې نه بعد سيدنا عمر ﷺ چې کله مسلمانان شول چې دَ هغوي دَ اسلام واقعات مونږه تيره جُمعه کښې بيان کړي دي.

قريش دَ مسلمانانو دَ حال نه خبريدل او بيا دَ مسلمانانو نه دَ بائيکاټ اعلان کول

قريشو ته چې کله پته اولګيده چې اوس مسلمانان رو رو مضبوطيږي، او خلق دَ هغوي سره په اسلام کښې دننه کيږي نو هغوي هم دَ مسلمانانو خلاف کښې خپل کار لږ تيز کړو، ټول قريش په "دار الندوه" کښې (چې دا ئې دَ جرګو دپاره يو کونسل، يو ځائے جوړ کړے وو چې هغوي به په دې کښې راجمع کيدل) راجمع شول. او په هغې کښې ئې دا فيصله اوکړه: "چې يره! دَ

(1) [سورة الأحزاب: 21].

دې نبي نه مونږ تنګ راغلو او يَواځې نهٔ دے نوي نوي خلق راځي او دَ دهٔ سره ملګري کيږي نو داسې کوؤ: رسول الله (ﷺ) چې دے او دَ دهٔ سره چې څومره ملګري دي نو دَ دې ټولو سره به زمونږ بائيکاټ وي او دَ دوي سره به زمونږ هيڅ قسمه ربط او تعلق نهٔ وي، دَ دوي سره به نهٔ غم ښادي کوئ، او نهٔ به دوي باندې څهٔ څيز خرڅوئ او نهٔ به دَ دوي نه څهٔ څيز اخلئ، نهٔ به دَ دوي زنانه جينکئ پهٔ نڪاح اخلئ او نهٔ به دوي له خپلې لونړه خويندې پهٔ نڪاح ورکوئ، هيڅ قسمه تعاون به دَ دې خلقو سره نهٔ کوئ. دوي به ځان له وي او مونږ به ځان له يُو، تر هغې وخته پورې چې تر څو پورې دوي مونږ ته دا خپل پيغمبر راکړے نهٔ دے چې تاسو پوهه شئ او دے پوهه شه، کهٔ وژنئ ئې او کهٔ هر څهٔ ورسره کوئ. تر څو پورې چې دوي دَ دې پيغمبر ملګرتيا کوي نو تر هغې پورې به مونږه دَ دوي سره هيڅ قسمه تعلق نهٔ ساتو".

دَ نبي ﷺ پهٔ خلاف کښې ليکل کول

نو پهٔ دې مقاطعه باندې ليکل اوشو، او دَ کافرانو غټو غټو سردارانو پهٔ هغې باندې دستخطې اوکړې. نو دا کاغذ ئې چې اوليکلو نو دَ خانه کعبې ديوال ته ئې دننه طرف ته آويزان کړو، چې دا به خانه کعبه کښې محفوظ پروت وي او څوک به دَ دې سره لاس نهٔ لګوي.

او دَ دې کاغذ کاتب (ليکونڪے) منصور بن عکرمه وو. او دَ الله کار ته ګوره! دهٔ چې دا کاغذ پهٔ کوم لاس باندې اوليکلو نو هم هغه لاس ئې الله شل کړو او تر مرګه پورې ئې بيا دغه لاس مکمل شل وو.

خلق دوه ډلې شول، نبي ﷺ او دَ هغهٔ ملګري شعبِ ابي طالب ته لاړل، دا دَ مکې نه بهر داسې يَو ځائے وو، دا دَ بنو هاشم وو. هغوي بيا پهٔ خپل اولاد کښې تقسيم کړو، شعبِ ابي طالب کښې دَ نبي ﷺ دَ خاندان او دَ نبي ﷺ زمکې وې. هلته کښې لاړل او بيا هلته کښې اوسيدل، بنو هاشم او بنو عبد المطلب پهٔ هغوي کښې چې کوم مؤمنان وو نو هغوي خو هسې هم دَ نبي ﷺ ملګري وو خو چې کوم کسان پکښې کافران وو نو هغوي هم دَ نبي ﷺ سره ملګري شول، چې قوميت دے، دا زمونږ دَ قوم سړے دے، زمونږ ورارهٔ دے او زمونږ نوَسے دے او زمونږ کشر دے

مونږه تول به دَ دهٔ ملګري يُو. هغه غيرت پکښې راغے اګر چې کافر وو خو دَ نبي ﷺ سره اودريدل.

دَ نبي ﷺ مخالف

بنو هاشم کښې يَو سړے داسې وو چې هغه کافر وو او دَ نبي ﷺ سره ملګرے نهٔ شو او سخت خلاف ئې کولو چې هغه ابو لهب ظالم وو. ابو لهب دَ نبي ﷺ سخت مخالف شو، دا دَ نبي ﷺ ترهٔ وو. درې (۳) کاله مسلسل دوي پهٔ دې تکليفونو کښې اوسيدل، او ډير سخت ژوند ئې تيرولو. داسې حال ته دَ هغوي ژوند رسيدلے وو چې لوږه او قحط پهٔ هغوي باندې شروع شو، چا ورله څهٔ شے نهٔ ورکولو او نهٔ ئې پرې څهٔ شے خرڅولو، او کهٔ دَ بهر نه به قافله راغله نو ابو لهب لعين به ورته اووئيل: چې پهٔ نورو خلقو ئې خرڅوئ خو پهٔ دوي به ئې نهٔ خرڅوئ، او کهٔ خرڅوئ ئې نو ښهٔ ګران به ئې پرې خرڅوئ، چې ښهٔ تاواني شي. نو اول نه خو هسې هم غريبي وه، او چا به مزدورئ ته بوتلل هم نهٔ، او نهٔ به پرې چا کار کولو او چې بيا به څهٔ شے راغے او هغه به هم ګران وو نو کهٔ هغوي به بازار ته راغلي وو نو بيا به تش تور لاړل، هغه شے به ئې وانهٔ غستو. ابو لهب به هغې قافلې والا ته وئيل: چې څومره تاوان مو کيږي خير دے هغه زما نه اخلئ خو دوي له مهٔ ورکوئ او کهٔ يَو څيز ورکوئ نو هم پهٔ ډبل قيمت به ئې ورکوئ.

مسلمانانو باندې لوږه شروع شوه.

دَ سعد بن ابي وقاص ﷺ رومبنې حالت

سعد بن ابي وقاص ﷺ وائي: چې دومره وږے شوے اووم چې دَ حد نه سبوا، يَو شپه مې دَ دې خېمې سره څهٔ شے يخ غوندې اولګيدو نو وائي: کتلې مې ورته نهٔ دي چې څهٔ شے دے؟ خو ډير زيات اوږے اووم، چې لاس مې ورسره وُلګيدهٔ او پهٔ لاس مې را اوچت کړو او ډارک مې اوخوړو، وائي: قسم دے کهٔ اوسه پورې ما ته دا پته وي چې دا څهٔ شے وو؟

دَ سعد بن ابي وقاص ﷺ دويم حالت

يَو بله واقعه کښې راځي: سعد بن ابي وقاص ﷺ وائي: يَو شپه زهٔ وړو بولو ته را اووتم، نو

لوږې ډير زيات پهٔ مخه اغستے ووم دَ لوږې خوب نه هم نهٔ راتلو... وائي: چرته ښخوا چا يَو اوښ حلال کړے وو، څرمن پرته وه، بالکل اوچه شوې وه، وائي: راغلم هغه څرمن مې خپې سره اولګيده، ما اوئيل: چې دا څهٔ شے دے؟ چې راخکته شوم نو هغه څرمن وه، دَ څرمنې يَو ټوټه وه، هغه اوچه څرمن مې را اوچته کړه او اُور مې بل کړو، اول مې ترې هغه ويښتهٔ لرې کړل او بيا مې پهٔ اُور باندې سرهٔ کړه نو بيا مې وريسې کانړے را واغستو او وړهٔ مې کړه (چې وُړهٔ مې کړه لکه څنګه چې دا خلق ميده دوائي خُلهٔ کښې اچوي او وريسې اوبهٔ څښکي)، وائي: پهٔ دې طريقه باندې مې خُلې ته اوغورځوله او بيا مې وريسې اوبهٔ اوڅښکلې. نو هغه وُړهٔ کړې څرمن مې پهٔ دې طريقه باندې اوخوړله. تر دې پورې چې انتهائي حالت خراب وو....

خو دومره غيرتي وو چې کهٔ هر څهٔ کيږي خو پيغمبر دې کافرو ته نهٔ حواله کوو، مړهٔ به شو خو پيغمبر به دوي له حواله نهٔ کړو. مسلمانانو خو خود نهٔ حواله کولو خو کافرو به وئيل: مړهٔ به شو خو حواله به ئې نهٔ کړو.

پهٔ دې دوران کښې بعضې عزيزانو، بعضې دوستانو چې به دې حالت ته کتل نو دَ زړهٔ نه به ئې يَو الله خبر وو، کهٔ هر څهٔ دي نو انسانان خو دي کنه؟ دا ولې مونږه دومره ظلم او زياتے کوؤ؟ دَ چا به پټکښې خپلوان يا به ئې دَ چا سره پټ تعلق وو نو هغوي به دَ نورو خلقو نه پټ دوي ته دَ خوراک څهٔ شے اوليږلو، چې دا مې تا له راوړے دے، دا اوخوره.

دَ حکيم بن حزام او دَ ابو جهل بحث

حکيم بن حزام دا دَ سيدة خديجة الکبرٰی ﷺ ورارهٔ وو، نو دهٔ خپل غلام ځان سره کړو او خپلې پپو (ترور) له ئې څهٔ غله ځان سره راوړه. ابو جهل لعين پهٔ لاره کښې ولاړ وو، او چې حکيم بن حزام ئې اوليدو نو هغه ته وائي: چې حکيمه! تا بنو هاشم له دَ خوراک څهٔ شے يوړو؟ هغهٔ ورته اووئيل: يره! څهٔ اوکړو، غريبانان دي، کمزوري دي، لوږې، تندې تيرَوي، ترور مې ده هلته کښې وادهٔ ده نو هغې له مې دَ مجبورئ نه راوړو. ابو جهل ورته وائي: چې نا! خبردار کورے! کله به ورته هم څهٔ شے نهٔ اوړې، کهٔ مړهٔ کيږي نو مړهٔ دې شي خو څهٔ شے به نهٔ اوړې؛ ځکه

فیصله دا شوې ده.

دَ ابو البختري او ابو جهل بحث

پهٔ دې کښې دوي دواړه پهٔ شور باندې وو، يَو بل کافر دے دَ هغهٔ نوم دے "ابو البختري". هغه وخت لا ابو البختري او حکيم دواړه نهٔ وو مسلمانان شوي، روستو بيا دواړه الله مسلمانان کړي دي. نو ابو البختري را روان وو او دوي يَو بل سره لګيا دي نو ابو البختري ورته وائي: څهٔ چل دے؟ ابو جهل ورته وائي: ګوره! مونږه پهٔ خانه کعبه کښې کاغذ رازوَړند کړے دے او دے هغه وعده ماتئ او ترور له خوراک اوړي؟ نو ابو البختري ورته وائي: نو چې خوراک ئې يوړو نو څهٔ چل اوشو خپله ترور ئې ده خوراک ورله اُوړي. پهٔ دې کښې ابو البختري او ابو جهل دَ يَو بل سره ګرم شول، ابو البختري خکته ټوپ کړو او دَ اوښ يَو هډوکے پروت وو هغه ئې را واغستو او ابو جهل له ئې سر ته را خلاص کړو. سرے ئې زخمي کړو. چې زخمي ئې کړو نو دَ دې نهٔ رو رو خبره خرابيده او معاهده کښې فرق راتلو.

دَ هشام بن عَمرو حالت

پهٔ دې کښې بيا يَو بل کس دے "هشام بن عَمرو"، دے بيا دَ مکې دَ فتحې پهٔ وخت کښې مسلمان شوے وو. نو دے وائي: چې ما له دا خيال پهٔ زړهٔ کښې راغے چې دا زمونږ خپلوان دي او دا زمونږه رشته داران دي، دوي سره زمونږ غم ښادي وه، او نن مونږه دوي پهٔ دې مجبوره کوؤ چې دا خپل کشر (يعني محمد ﷺ) مونږ له راکړئ او کهٔ مونږ له ئې نهٔ راکوئ نو مونږه ورسره دومره تعلق ختموؤ!!!، پهٔ دې باندې ډير خفه اووم.

نو پهٔ دې خيال کښې روان اووم نو يَو ځل ما ته زهير بن اُميه مخې ته راغے (زهير بن اُميه دے بيا روستو مسلمان شوے دے دَ فتح مکه پهٔ موقع باندې. دے دَ عبد المطلب نوَسے کيدو، دَ نبي ﷺ ترور عاتکه بنت عبد المطلب دے دَ هغې ځوي وو، دَ نبي ﷺ خپل وو). نو دهٔ ته وائي: چې زهيره! تا له دا خوند درکوي چې ستا ترور، ستا رشته داران، ماماکان هغوي دې داسې لکه دَ لوږې او تندې دَ لاسه ترسيږي او مونږه دې خائسته خائسته خوراکونه کوؤ او دَ هغوي دې څهٔ سوچ نهٔ

کوؤ؟ کۀ دَ ابو جهل ماما داسې پۀ تکلیف کښې وي هغۀ به کله هم مونږ سره داسې مُعاهده باندې دستخط نۀ وو کړے، او زمونږ ماما خیلي ده، او زمونږه رشته داران دي نو خیر دے چې زمونږ نه ئې دستخطي اغستې دي؟ نو زهیر ورته وائي: یره! پۀ دې زړۀ کښې مې هره ورځ دا خبره تیرېږي خو زۀ یَواځې یم څۀ وئیلے نۀ شم ټول خلق یَو خوا دي نو زۀ به یَواځې څۀ اوکړم؟ نو هشام بن عَمرو ورته وائي: چې زۀ دې ملګرے یم، دواړه دې کښې یَو تحریک چلوؤ. دے ورسره ملګرے شو، دواړه یَو ځائے شول، وائي: ځان له یَو دریم ملګرے پیدا کوؤ.

نو دوي روان شول او دَ مطعم بن عدي سره لاړل، هغۀ ته ئې دا قصه اوکړه، هغۀ ورته اووئیل: چې دا خو واقعي ظلم دے، زۀ هم درسره ملګرے یم. دَ هغۀ نه روان شول دَ ابو البختري خوا ته لاړل، هغۀ ورسره هم ملګرے شو وائي: دَ دې ظلم خلاف زۀ هم آواز اوچتوم، هغۀ خو مخکښې نه دَ ابو جهل سر ته هډوکے راخلاص کړے وو. دَ هغې نه بعد زمعه بن اسود پسې لاړل، هغه ئې هم ملګرے شو. نو دا پنځۀ کسان غلي غلي ملګري شول چې راځئ! یَو توړ پیدا کوؤ، دَ دې کافرانو دا معاهده ختموؤ.

چې دوي ټول ملګري شول نو وائي: یره! اوس به دا خبره څوک کوي؟ نو زهیر بن اُمیه ورته وائي: دا اوس زما کار دے، اوس به خبره زۀ کوم. ټول خلق ئې راجمع کړل، قریش ئې راجمع کړل، دے پاسیدو او هغوي ته وائي: چې ګوره مکې والؤ! ډیره لویه دَ افسوس خبره ده چې زمونږ خپلوان، زمونږه رشته داران دې لوږې تندې تیرَوي، او مونږه دې خوشحاله ګرځوؤ او ژوند دې تیرَوؤ!!!، دا ظلم نۀ دے؟ دا زیاتے نۀ دے؟ پۀ دې کښې ماشومان دي، پۀ دې کښې زنانه دي، پۀ دې کښې کمزوري خلق دي، هغوي سره ولې زیاتے کوؤ؟ زهیر بن امیه ورته وائي: زما دې پۀ خدائے قسم وي! چې دَ نن نه پس دا معاهده زۀ نۀ منم، تر هغې وخته پورې زۀ نۀ کینم تر څو پورې چې مې دَ مُعاهدې دا کاغذ شلولے نۀ وي. نو ابو جهل پاسیدو، وائي: زما دې قسم وي کۀ ته کاغذ ته نزدې شوې نو زۀ تا سره داسې چل کوم. شور جوړ شو، پۀ دې کښې دَ زهیر بن امیه هغه ملګري یَو یَو پاسیدو: زمعه بن اسود پاسیدو وائي: قسم پۀ خدائے دے دا کاغذ به شلوؤ. بل

خوا نه هغه بل ملكرے ابو البختري پاسيدو وائي: دے بالكل صحيح وائي، دا شے نا رواه دے، دا تاسو زياتے كوئ. بل خوا نه هغه بل ملكرے پاسيدو او هغۀ آواز اوكړو... هر يَو آواز اوكړو.

پۀ كنره كښې چې څلور، پنځۀ كسان يَو خبره اوكړي، څۀ خو اكثر خاموش پاتې شي نو نورو كافرانو كښې خو هر يَو سرے دَ خبرو نۀ وو. نو ابو جهل چې پوهه شو نو وائي: نا! نا! دا تاسو بيكا څۀ چل كړے دے، تاسو دا يَو مشوره كړې ده، يَو اتفاق مو كړے دے... بهر حال دا خبرې شروع دي. پۀ دې كښې وائي: صبا به خبرې كوؤ....

دَ قريشو معاهده باندې دَ الله رب العزة وينۀ مسلط كول

چې سحر شو، ابو طالب (دَ نبي ﷺ ترۀ) هم بيت الله له مونځ له راغلے دے. نبي ﷺ ته الله دَ وحي پۀ ذريعه دا خبر رسولے وو چې كافرانو هغه كومه مُعاهده ليكلې وه نو دَ هغې شلولو ته ضرورت نشته، هغه ختمه شوې ده. وائي: څنګه؟ الله تعالیٰ داسې وينۀ پيدا كړل چې دوي خانه كعبه كښې دا كاغذ اويزان كړو چې څوك ورته كوتې نۀ وُړي، چې څنګه دا اوشلوم دا خو دَ خپل قوم سره خيانت دے، هلاك به شم... نو الله داسې وينۀ پيدا كړل چې هغې كښې صرف دَ الله نوم ئې پرېخودے وو او نور چې څومره كاغذ وو او پۀ هغې كښې چې څومره تكي وو نو ټول ئې ترې خوړلي وو، كاغذ سورے سورے پروت وو، هيڅ شے پكښې نۀ وو، او دوي خو خوشحاله وو چې معاهده رازوَرنده ده.

نبي ﷺ خپل ترۀ ابو طالب ته اووئيل: چې كاكا جي! داسې كار شوے دے: دې كافرو چې زمونږ خلاف كوم ليكل كړي دي نو الله تعالیٰ داسې يَو وينۀ پيدا كړي دي چې دَ هغې نه ئې هغه ټولې خبرې خوړلي دي او كاغذ ئې ټول خوړلے دے صرف هغه كاغذ ئې بچ پرېخودے دے چې پۀ كوم باندې دَ الله نوم وو. ابو طالب ورته راغے ورته وائي: اے كافرو! (دے هم كافر وو)، اے ظالمانو! تاسو چې زمونږ خلاف دومره كلكې معاهدې كړي دي دا ظلم دے او دا نا روا دي او كۀ تاسو نۀ منئ نو ورشئ هغه كاغذ مو اوګورئ! چې كوم مو زمونږ خلاف ليكلے دے ما ته زما ورارۀ وئيلي دي چې هغه كاغذ وينو خوړلے دے او هغه ئې ختم كړے دے. ابو طالب خپله ليدلے نۀ

وو چې ريشتيا ئې خوړلے دے او کۀ نۀ خو دَ هغۀ يقين وو چې زما ورارۀ څۀ اووائي نو دے دروغ نۀ وائي. کافرانو ورته اووئيل: چې نۀ ئې دے خوړلے، دے ورته وائي: خوړلے ئې دے.

ابو طالب ورته وائي: راځئ! يَو خبره کوؤ: کۀ چرته زما ورارۀ دروغ وئيلي وي نو دے خو بيا پيغمبر نۀ دے، دے خو دروغژن دے، زۀ درسره دا معاهده کوم چې زۀ درته دا خپل ورارۀ حواله کوم چې تاسو ورسره څۀ کوئ نو بيا ئې اوکړئ!. او کۀ هغۀ ريشتيا وئيلي وي نو کۀ تاسو زمونږ ملګري کيږئ نۀ نو ڪم از ڪم دا ظلم خو را سره مۀ کوئ، دا تعلقات خو را سره مۀ کټ کوئ. دوي ورته اووئيل: صحيح ده. ځئ چې کاغذ اوګورو، چې راغلل نو پۀ کاغذ کښې هيڅ شے پاتې نۀ وو، ځنګه چې رسول الله ﷺ وئيلي وو هم هغه شان خبره وه. کاغذ کښې صرف دَ الله نوم ئې چې کوم ځائے کښې ليکلے وو نو هغه ځائے باقي وو نور کاغذ وينو تول خوړلے وو.

دوي ته پته اولګيده چې واقعي دا کاغذ مونږ دَ ظلم کاغذ ليکلے دے. نو هغه معاهده دَ هغوي بيا درې (۳) کاله بعد بيا ختمه شوه. نو درې کاله نبي ﷺ او دَ هغۀ ملګرو پۀ شعبِ ابي طالب کښې ډير دَ تڪليف وخت تير کړے وو.

دَ ابوبڪر صديق ﷺ هجرت ڪول

پۀ دې دوران کښې ابو بڪر صديق ﷺ هغه هم مهاجر شو، نبي ورته اووئيل: ابا بڪر! مونږ باندې خو هسې هم پابندیانې دي، تڪليف دے، تۀ خو چرته اوځه!. ابو بڪر صديق ﷺ دَ حبشې دَ سفر پۀ اراده روان شو کله چې "برک الغماد" علاقې ته اورسيدو، هغه دَ قاره علاقې يَو سردار وو ابن الدغنه، هغه ورسره مِلاؤ شو، ابو بڪر ﷺ ته وائي: ابا بڪر! چرته ځې؟ دے ورته وائي: چې ځمه، دا کلے پريږدم او حبشې له ځم. وائي: څۀ له ځې؟ وائي: مزدورئ له ځې؟ وائي: نا!. دَ الله دَ دين دَ وجې نه ځم، دا خلق مې دَ الله دين نه نۀ پريږدي. حديث کښې راځي: ابن الدغنه ورته وائي:

"إِنَّ مِثْلَكَ لاَ يَخْرُجُ وَلاَ يُخْرَجُ، فَإِنَّكَ تَكْسِبُ المَعْدُومَ، وَتَصِلُ الرَّحِمَ، وَتَحْمِلُ الكَلَّ، وَتَقْرِي الضَّيْفَ، وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الحَقِّ".

"اے ابو بڪر! ستا پۀ شان سړے نۀ پۀ خپله باندې اوځي او نۀ هغه څوک ايستلے شي،

(ولې؟؛ ځکه ته خو دومره قیمتي سړے ئې چې ته خو غریبانانو سره احسانات کوې) چې کوم سړے کسب نۀ شي کولے نو هغۀ له کسب کوې او هغه شتۀ کوې، تۀ دَ خلقو سره خپلوَلي او رشته داري پالې (تۀ خو دَ رشته دارئ دَ پاللو او یَو ځائے کولو والا ئې)، او تۀ دَ خلقو بوجونه پۀ خپله غاړه باندې اوچتوې، او تۀ میلمنو ته میلمستیا ورکوې، او تۀ پۀ حوادثو دَ حق کښې خلقو سره مرسته او تعاون کوي". نو ستا پۀ شان خلق هم لا څوک دَ ملک نه اوباسي. هغۀ ته خو پته نۀ وه چې دا کافر ئې نۀ مني، ابن الدغنه ورته وائي:

"وَأَنَا لَكَ جَارٌ".

"زۀ ستا دپاره پناه ورکونکے یم"، راځه! زۀ ستا ضمانت کوم، او تۀ خپل کور ته واپس راځه.

ابو بکر ﷺ ئې را روان کړو ورته وائي:

"فَارْجِعْ فَاعْبُدْ رَبَّكَ بِبِلاَدِكَ".

"واپس شه! راځه! پۀ خپل کلي کښې دَ خپل ربّ عبادت کوه"، تا ته به څوک څۀ نۀ وائي. ابو بکر ﷺ ورته اووئیل: چې تۀ مې ضمانت کوې نو زۀ هلته کښې څۀ کوم چې ځم، ځه! چې ځو.

کله ئې چې ابو بکر ﷺ واپس راوستو نو پۀ ټولو سردارانو دَ قریشو باندې ابن الدغنه اوګرځیدو، او هغوي ته وائي: اے قریشو! دَ ابو بکر پۀ شان سړے هغۀ دَ ملک نه نۀ شي ایستے کیدے، دا خو دَ ایستلو سړے نۀ دے، آیا تاسو داسې سړے دَ ملک نه اوباسئ چې:

"يَكْسِبُ المَعْدُومَ، وَيَصِلُ الرَّحِمَ، وَيَحْمِلُ الكَلَّ، وَيَقْرِي الضَّيْفَ، وَيُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الحَقِّ".[1]

"چې هغه دَ عاجزانو سره امداد کوي، هغه دَ خپلوانو سره خپلوَلي پالي، دَ کمزورو بوج پۀ خپل سر باندې اخلي، میلمه ته میلمستیا ورکوي، پۀ حوادثو کښې مرسته او امداد کوي؟".

نو قریشو اووئیل: دا خو غټ سړے دے اوس دۀ ته څۀ اووایُو؟ دے به را نه خفه شي کۀ څۀ ورته وایُو، وائي: بس صحیح ده چې تۀ ابو بکر له پناه ورکوې نو ستا خبره مونږه نۀ غورځوؤ،

---

(1) أخرجه البخاري في كتاب الكفالة، باب جوار أبي بكر في عهد النبي ﷺ وعقده: (98/3).

مونږ ورله هم پناه ورکوؤ، بس دے دې دلته کښې وي، خو يَو شرط دے:

دَ قريشو شرط

هغه شرط دا دے: چې:

"مُرْ أَبَا بَكْرٍ، فَلْيَعْبُدْ رَبَّهُ فِي دَارِهِ، فَلْيُصَلِّ، وَلْيَقْرَأْ مَا شَاءَ، وَلاَ يُؤْذِينَا بِذَلِكَ، وَلاَ يَسْتَعْلِنْ بِهِ، فَإِنَّا قَدْ خَشِينَا أَنْ يَفْتِنَ أَبْنَاءَنَا وَنِسَاءَنَا".

"ابو بکر ته اووايه: چې دَ خپل ربّ عبادت دې پهٔ خپل کور کښې کوي، او پهٔ کور کښې دې دننه مونځونه کوي او تلاوت دې کوي څومره ئې چې خوښه وي، خو مونږ له دې بهر تکليف او نقصان نهٔ رارسَوي، بهر دې دَ خلقو مخکښې تلاوت نهٔ کوي، عبادت دې نهٔ کوي؛ ځکه مونږه يريږو چې زمونږه زنانه او اولاد به پهٔ فتنه کښې واقع کړي".

نو ابن الدغنه دوي ته اووئيل: چې ډيره ښهٔ ده، دا يَو پابندي به اومني، نو ابن الدغنه ابو بکر ﷺ ته اووئيل: چې دَ مشرکينو دغه يَو شرط دے دا اومنه. نو ابو بکر ﷺ اومنلو، وائي: صحيح ده. نو ابو بکر ﷺ يَو څو ورځې پهٔ خپل کور کښې عبادت کولو او بهر به ئې پهٔ ډاګه مونځونه نهٔ کول او نهٔ به ئې بل ځائے کښې بهر چرته تلاوت کولو. نو ابو بکر ﷺ بيا اووئيل: خپله زمکه مې ده، خپل کور مې دے، دَ کور مخې له ئې وړه غوندې جونګړه جوړه کړه، ابو بکر ﷺ پهٔ هغې کښې مونځ هم کولو او دَ قرآن تلاوت به ئې هم پکښې کولو. او دَ قرآن تلاوت چې به ئې کولو نو روايت کښې داسې راځي:

"فَيَتَقَصَّفُ عَلَيْهِ نِسَاءُ الْمُشْرِكِينَ وَأَبْنَاؤُهُمْ، يَعْجَبُونَ وَيَنْظُرُونَ إِلَيْهِ".

"نو دَ قريشو ماشومانو او دَ هغوي زنانه به پهٔ ابو بکر ﷺ باندې سمه ګڼړه جوړه شوه، ټول به ترې را چاپير شول، او دوي به تعجب کولو، او ابو بکر ﷺ ته به ئې کتل". نو دوي چې به دَ ابو بکر ﷺ دا سبق اوريدو نو هغوي به تعجب کولو چې دا دے لا څهٔ وائي!!!؛ ځکه هغوي ته خو به پته نهٔ وه چې دا دَ الله کلام دے. او بل خوا ابو بکر ﷺ کښې هم دَ الله دَ دين يَو مينه وه او دومره اخلاص پکښې وو: چې دَ ابو بکر ﷺ باره کښې راځي:

"وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ رَجُلاً بَكَّاءً، لاَ يَمْلِكُ دَمْعَهُ حِينَ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ".

"ابو بکر ﷺ يَو داسې نرم دِل انسان وو چې ډېر ژړيدونکے وو، چې کله به ئې دَ قرآن تلاوت شروع کړو نو بے اختياره به ئې دَ سترګو نه اوښکې روانې شوې"، او دَ قرآن دَ تلاوت سره به ئې ژړل. نو چې دَ مشرکانو ښځو او ماشومانو به دۀ ته کتل نو هغوي به هم دَ دۀ دَ وجې نه ژړل، دَ دۀ به هم اوښکې بهيدې او دَ هغوې به هم اوښکې بهيدې.

قريش راغونډ شول وائي: يره! دا ابو بکر چې مونږه دَ کوم يَو څيز نه منع کړے وو نو دے هم هغه کار کوي هسې نۀ چې زمونږه زنانه او زمونږه ماشومان بے دينه کړي (نعوذ بالله!). نو دوي ابن الدغنه پسې سؤال جواب اوکړو چې راشه! يا دا سړے منع کړه او يا مونږ ته خپل ضمانت واپس کړه او دے لرې کوه دَ ځان نه. هغۀ ورپسې راغے ابو بکر ﷺ ته وائي: چې ګوره! ما درله ضمانت کړے دے نو تۀ دا عبادت دننه کوه، تلاوت دننه کوه، او يا ما ته خپله ذمه واپس را کړه. ابو بکر ﷺ ورته وائي:

"إِنِّي أَرُدُّ إِلَيْكَ جِوَارَكَ، وَأَرْضَى بِجِوَارِ اللهِ".(1)

"روره! ضمانت دې واپس واخله او زۀ دَ الله پۀ ضمانت باندې خوشحاله يم"، الله به زما حفاظت کوي، ما پرېږده چې څۀ کيږي نو هغه به کيږي خو زۀ دننه کيږم نۀ.

نو دا ډېر دَ تکليف وخت وو، دَ ډېرو مشکلاتو وخت وو.

دَ ابوطالب وفات

بيا پۀ دغه کال باندې دَ دې نه پس علماؤ ليکلي دي: تقريبًا دَ رسول الله ﷺ دَ عُمر نهه څلويښتم (٤٩) کال وو او اتۀ (٨) مياشتې پرې دَ پاسه وې چې دَ نبي ﷺ ترۀ ابو طالب وفات شو. او څوک وائي: چې دا دَ نبي ﷺ دَ نبوّت لسم کال وو. او څوک نهم يادَوي. دَ نبي ﷺ دَ هجرت نه درې کاله مخکښې دا واقعه شوې وه. دَ نبي ﷺ لوئي سپورت خو دَ هغۀ ترۀ کولو، ابو طالب به کولو، نو دغه ترۀ دَ نبي ﷺ وفات شو. نبي ﷺ دَ خپل ترۀ پۀ وفات باندې ډېر سخت پريشانه وو، حديث

(1) أخرجه البخاري في كتاب الكفالة، باب جوار أبي بكر في عهد النبي ﷺ وعقده: (98/3).

کښې راځي: نبي ﷺ راغے کله چې ئې دا ترهٔ وفات کيدو، دَ ترهٔ سره ئې ابو جهل بن هشام او عبد الله بن ابي اميه (کافران) هم ناست وو، نو نبي ﷺ سخت پريشانه وو، ترهٔ ته وائي:

«يَا عَمِّ، قُلْ: لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ، كَلِمَةً أَشْهَدُ لَكَ بِهَا عِنْدَ اللهِ».[1]

"ترهٔ! تهٔ ما ته "لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ" پهٔ دې غوږ کښې اووايه! دا داسې کلمه ده چې قيامت کښې به پرې الله ما له ستا شفاعت جائز کړي نور سفارش به درته زهٔ کوم".

خو ابو طالب ورته اوکتل وائي: وراره! خفه کيږه مهٔ؛ بيا به دا قريش وائي: چې آخر کښې دَ اُور نه اويريدو، او دَ اُور دَ وجې ئې دَ پلار نيکهٔ دين پريخودو. وائي: اُور ته دې لاړ شم خو دَ پلار نيکهٔ دين پريخودو ته پهٔ دې وخت کښې تيار نهٔ يم، بيا به دا جينکۍ ما له پيغوررونه راکوي چې دَ پلار نيکهٔ دين ئې دَ اُور دَ وجې نه پريخودو. وائي: اُور ته دې لاړشم خو دَ پلار نيکهٔ دين نهٔ پريږدم: "فَاخْتَارَ الْعَارَ عَلَى النَّارِ". "هغهٔ غيرت ئې دَ جهنم پهٔ اُور غوره کړو"، خو دَ جاهليت غيرت ئې پرې نهٔ خودو.

نبي ﷺ دَ هغهٔ دَ خوا نه روان شو او دے دَ کفر پهٔ حالت کښې وفات شو. نبي ﷺ ډير پريشانه وو چې ترهٔ مې ټول عمر خدمتونه اوکړل نو يَو خو مې سر پرست ختم شو او بل دا چې کلمه ئې اونهٔ وئيله، بے ايمانه دَ دنيا نه لاړو، ډير زيات پريشانه وو. الله تسلي راليږي:

﴿إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَاءُ﴾.[2]

"پيغمبره! تهٔ هدايت نهٔ شې کولے هغه چا ته چې ستا ورسره مينه وي ليکن الله رب العزة هدايت کوي چا ته چې اوغواړي".

دَ ابو طالب باره کښې دَ جمهورو مسلک

دَ جمهورو علماؤ مسلک دا دے: چې ابو طالب دَ کفر پهٔ حالت کښې دَ دنيا نه تلے دے، دے کافر وفات شوے دے.

(1) أخرجه البخاري في كتاب الجنائز، باب إذا قال المشرك عند الموت: لا إله إلا الله، برقم: (1360).

(2) [سورة القصص: 56].

بعضې خلق دا زور لګوي: چې ابو طالب مسلمان وو، ليکن شيخ الحديث مولانا محمد ادريس کاندهلوي رحمه الله ليکلي دي: "اہل سنت والجماعت کا عقیدہ یہی ہے: کہ ابو طالب کفر ہی پر مرا ہے، جیسا کہ آیات اور احادیث سے واضح ہو چکا ہے"۔ (1)

"دَ اهلِ سنت والجماعت دَ علماؤ متّفقه فيصله ذا ده: چې ابو طالب پهٔ کفر باندې وفات شوے دے لکه څنګه چې دَ آيتونو او احاديثو نه دا خبره واضحه ده".

او صحيح حديث کښې راځي: نبي ﷺ فرمائي: "ابو طالب به جهنم کښې وي، خو چونکه زما ئې ډير خدمتونه کړي دي نو دَ دې پهٔ وجه باندې به الله تعالیٰ پهٔ هغهٔ باندې عذاب کښې تخفيف راولي (عذاب معاف نهٔ دے)، دے به نرې غوندې اُور کښې ولاړ وي چې تر ګيټو پورې به ئې وي".

نو دَ ابو طالب بِه تر ګيټو پورې اُور رار سيرې. او بل يَو حديث کښې راځي: "دهٔ ته به دَ اُور دوه پنړۍ واچولے شي چې دَ هغې دَ وجې نه به ئې دَ خپو دَ لاندې اُور بليږي، او دَ هغې دَ وجې نه به ئې پهٔ سر کښې دماغ ايشيږي او دے به زړهٔ کښې وائي: چې زما نه سخت عذاب پهٔ کښې دَ چا نشته"؛ ځکه دَ جهنم عذاب خو ډير سخت دے.

دَسيدة خدجة الكبرى رضي الله عنها وفات

دَ ابو طالب دِ مرګ نه پنځهٔ (٥) ورځې بعد يا درې (٣) ورځې بعد دَ نبي ﷺ بي بي خديجة الكبرٰى رضي الله عنها هم وفات شوه. دې کال ته دَ علماؤ پهٔ نزد "عام الحزن" (دَ غمونو کال) وائي. دا دَ پريشانو هغه کال وو، يَو خوا دَ کافرانو دَ طرف نه هغه پابندئ وې، پهٔ شعبِ ابي طالب کښې درې کاله تکليفونه وو، پريشانئ وې، چې دَ هغې نه آزاد شول نو دَ رسول الله ﷺ ترهٔ وفات شو، دَ هغهٔ غم نه لا فارغ شوے نهٔ وو چې بي بي ئې وفات شوه. خديجة الكبرٰى رضي الله عنها هغه بي بي وه چې دَ دې پهٔ ژوند نبي ﷺ دَ بلې بي بي سره وادهٔ نهٔ وو کړے، او ډيره يَو خوښياره زنانه وه، دَ الله دَ نبي ﷺ ډيره تابعداره وه.

حديث کښې راځي: نبي ﷺ دَ هغې پهٔ فراق ډير زيات پريشانه وو، خوله بنتِ حکيم رضي الله عنها نبي ﷺ

(1) انظر: "سيرة المصطفٰى": (253/1)، وفي طبع: مكتبة عمر فاروق مخرّجا: (220/1).

ته وائي: يا رسول الله! ته خو ډير خفه ئي؟

نبي ﷺ ورته وائي: بالكل خفه يم، ولې نهٔ؟!

«كَانَتْ أُمَّ الْعِيَالِ، وَرَبَّةَ الْبَيْتِ».[1]

"خديجه خو زما دَ تولو بچو مور وه، او خديجه خو زما دَ كور پرورش كونكې وه"، ټول كور پهٔ هغې راغونډ وو. نو زهٔ به خفه نهٔ يم؟ حديث كښې راځي: كله چې دَ خديجة الكبرٰى ﵂ دَ زنكدن حال شروع وو نو نبي ﷺ ئې خوا ته راغے، نبي ﷺ ورته وائي: خديجې! دا كوم حالت دې شروع دے دَ زنكدن؟ تهٔ خفه ئې، پريشانه ئې، چې تهٔ كله وفات كيږې صحيح ده چې تا له به تكليف وي او پريشاني به وي خو كله كله الله انسان له پهٔ تكليف كښې ډير خير اوكرځوي.

او يو روايت كښې راځي: دَ الله نبي ﷺ ورته دَ جنت انكور وركړل وائي: دا خوره!. او پهٔ يو حديث كښې راځي: نبي ﷺ ورته اووئيل: خديجې! چې ځې كنه نو تهٔ خو دَ دنيا نه رخصتيږې خو ستا پهٔ هغې بنو به زما سلام وائې. "بنه" دَ خاوند هغې بلې ښځې ته وائي. وائي: څوک دي؟ نبي ﷺ ورته وائي: دَ فرعون ښځه ده "آسيه بنتِ مزاحم" او دَ عيسٰى ؑ مور ده "مريم بي بي"، چې دا دواړه به الله ماته پهٔ هغه جهان كښې راكوي، پهٔ هغوي زما سلام وايه.

خديجې ﵂ سره دَ نبي ﷺ ډيره مينه وه. عائشه ﵂ فرمائي: ډير وخت پس كله كله به نبي ﷺ شروع شو دَ خديجې ﵂ به ئې ډير تعريف كولو، چې خديجه ﵂ داسې وه او داسې وه. وائي: مونږه به ورته وئيل: چې بس دنيا كښې الله يو خديجه پيدا كړې وه، بله ښځه چرته دنيا كښې نهٔ وه چې تهٔ دَ هغې دومره صفتونه كوې!. نبي ﷺ ورته اووئيل: خديجه خو خديجه وه. او چې كله به نبي ﷺ داسې څهٔ ښهٔ شے پوخ كړو نو نبي ﷺ به اووئيل: دا فلانئ زنانه ته يوسئ، فلانئ زنانه ته ئې يوسئ! وائي: دا ولې؟! وائي: ځكه چې خديجې ﵂ به پهٔ خپل ژوند دوي كره تحفې ليږلې نو زهٔ ځكه ليږم چې دَ هغې هغه ملګرې دا اونهٔ وائي: چې نن خديجه نشته. نو كني مونږ له دَ الله نبي ﷺ څهٔ نهٔ راليږي. دومره مينه وه دَ نبي ﷺ دَ خديجة الكبرٰى ﵂ سره.

---

(1) انظر: "السيرة النبوية" لمحمد بن محمد بن سويلم أبي شهبة: (397/1).

يَو روايت كښې راځي: نبي ﷺ دَ هغې پهٔ فراق ډير زيات پريشانه وو، تر دې چې کله ئې دَ عائشې ﷺ سره نڪاح اوشوه نو بيا دَ نبي ﷺ هغه فراق او جدائي دَ هغې هغه غم لږ ڪم شو.

نو دا عام الحزن وو. يَو خوا نبي ﷺ او صحابؤ ﷺ باندې دومره سختي او بل خوا دَ نبي ﷺ هِغه ترهٔ چې دَ نبي ﷺ مَلاتړ وو، چې دَ الله نبي ﷺ ته ئې وئيلي وو:

وَاللهِ لَنْ يَصِلُوا إِلَيْكَ بِجَمْعِهِمْ حَتَّى أُوَسَّدَ فِي التُّرَابِ دَفِينَا[1]

"قسم پهٔ خدائے دے! ورارهٔ! کهٔ دا ټول عرب راجمع شي تا ته نهٔ شي نزدې کيدے، هله به تا ته نزدې کيږي چې ما له دَ خاورو بالخت جوړ کړے شي".

نو هغه ترهٔ هم دَ نبي ﷺ وفات شو، بي بي ئې هم وفات شوه.

تر دې ځائے پورې سيرت بيان شو باقي به ان شاء الله نورو جُمعو کښې بيانوؤ.

وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

(1) انظر: "السيرة النبوية" لابن كثير: (464/1).

بسم اللہ الرحمن الرحیم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا

(سورة الأحزاب: 21)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه اوولسمه

"دَ نبي ﷺ قبائلوله دعوت ورکول او دَ طائف واقعه "

بتاريخ: 2022-06-10

مقام: جلسې

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

سیرة النبي ﷺ حصه اوولسمه

"دَ نبي ﷺ قبائلوله دعوت ورکول او دَ طائف واقعه "

اَلْحَمْدُ للهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا﴾.(1)

حاضرینو عزتمندو مسلمانانو رونړو! دَ رسول الله ﷺ سیرتِ طیبه شروع وو، تر دې ځائے پورې خبره پهٔ تیره جُمعه کښې شوې وه چې کله کافران پوهه شول چې دَ دې پیغمبر ﷺ سره مونږ جنګ جګړه څکه نهٔ شو کولے چې قوم ئې پهٔ سر اودریږي او دشمني او جنګ جوړیږي نو راغونډ شول او دَ نبي ﷺ او دَ هغهٔ دَ قوم سره ئې مقاطعه اوکړه او بائیکاټ ئې اوکړو. پهٔ شعبِ ابي طالب کښې درې (۳) کاله رسول الله ﷺ او دَ هغهٔ چې خومره رشته دار او خپلوان وو دَ هغوي سره مقاطعه وه، رشتې ورسره بندې وې، سودا ورکول هغوي ته یا دَ هغوي نه اغستل دا بند وو، تعلقات بند وو. درې (۳) کاله بعد بیا رو رو پهٔ خلقو کښې شعور راتلو چې یره! دا خو ظلم دے او نا روا دي او وینهٔ هغه کاغذ هم تړول خوړلے وو، او ختم کړے ئې وو کوم چې دوي دَ مقاطعې پهٔ عنوان لیکلے وو. نو هغهٔ مقاطعه درې (۳) کاله بعد بیا ختمه شوه او آزادي مِلاؤ شوه خو بیا ئې هم مسلمانانو ته

---

(1) [سورة الأحزاب: 21].

تکلیفونه رسول، څوک مهاجر شول، څوک پهٔ هغې ځائے کښې وو. نبي ﷺ خو خپل کار پریخودو نهٔ نو نبي ﷺ بیا دَ دعوت کار شروع کړو. دا دریم قسم مرحله وه، اول دعوت دا وو: چې نبي ﷺ به پټ پټ یَو یَو کس له پهٔ مکه کښې دعوت ورکولو، او کهٔ هغهٔ به منلو او کهٔ به ئې نهٔ منلو خو کورے چې بل څوک درنه خبر نهٔ شي. بیا دویم قسم دعوت دا وو: چې نبي ﷺ پهٔ مکه کښې ښکاره دعوت شروع کړو، دَ هغې دَ لاسه به هغوي له دا تکلیفونه او مصیبتونه مِلاویدل.

دَ نبي ﷺ دَ مکې نه بهر خلقو له دَ اسلام دعوت

دا اوس دریمه مرحله ده: چې رسول الله ﷺ دَ مکې مکرمې نه بهر چې کوم خلق وو هغوي ته به تلو او دَ اسلام دعوت به ئې ورکولو اګر چې هغوي به دَ مکې نهٔ وو، دَ نورو ځایونو به وو هغوي له دَ دعوت سلسله ئې شروع کړه.

دَ نبي ﷺ طائف ته تلل

لسم (۱۰) کال دَ نبوّت دَ رسول الله ﷺ وو، او عیسوي تقریبًا شپږ سوه نوؤلسمه (۶۱۹) وه، او دا اوس دو هزار بائیس (۲۰۲۲) دے، کوم چې هجري کال دے هغه خو لا شروع شوے نهٔ دے چې مونږه ئې هجري کال یاد کړو. دَ شوّال میاشت وه رسول الله ﷺ سوچ اوکړو: چې بهر خلقو له دعوت ورکوم نو اول طائف ته لاړو، طائف دَ مکې نه تقریبًا شپیتهٔ (۶۰) میله بهر یَو ځائے دے، چې دا دَ سفر دَ هغې انداز نه سهوا دے؛ ځکه دَ سفر انداز اتهٔ څلویښت (۴۸) میله دے او دا شپیتهٔ (۶۰) میله دے. نبي ﷺ دا شپیتهٔ (۶۰) میله مزل پهٔ خپلو خپو باندې پیدل کړے وو، تلے هم پیاده وو او بیا راغلے هم پیاده وو، ورسره یَو غلام وو زید بن حارثه رضي الله عنه، دے ورسره ملګرے وو او شپیتهٔ (۶۰) میله لرې دَ الله نبي ﷺ طائف ته تلے وو. لس (۱۰) ورځې ئې تقریبًا هلته تیرې کړې دي، بعضې روایاتو کښې میاشت راځي او هلته ئې هغې خلقو له دعوتونه ورکول.

پهٔ لاره تلل او دَ نبي ﷺ خلقو له دعوت ورکول

پهٔ دې لاره لاره چې روان وو نو دا هم دَ دعوت سلسله وه، چې کله به پهٔ لاره کښې پهٔ یَو

قبیله باندې تیریدو نو هغوي له به ئې دَ اسلام دعوت ورکولو، خو هغوي به منلو نهٔ، بس صرف اوریدو به ئې خو منلو به ئې نهٔ. نبي ﷺ آخر طائف ته اورسیدو او چې کله طائف له اورسیدو نو دَ ثقیف قبیلې درې (۳) رونړه وو چې هغوي دَ دې ټول طائف سرداران او مشران وو: (۱) يَو: عبد یالیل، (۲) دویم: مسعود وو او (۳) دریم: حبیب وو. چې دا درې واړه دَ عَمرو بن عُمیر الثقفي بچې وو. درې واړه خلقو مشران جوړ کړي وو چې دا اوښیاران دي. نبي ﷺ اووئیل: کهٔ دا مشران پوهه شول کیدے شي چې دا کشران پهٔ خپله باندې سم شي. هغوي ته نبي ﷺ ورغے او هغوي له ئې ډیر پهٔ خائسته انداز کښې دعوت ورکړو.

(۱) هغه يَو اووئیل: کهٔ چرته تهٔ الله پیغمبر رالیږلے ئې نو زهٔ به دَ خانه کعبې دا کپړه کټ کړم. معنٰی: تهٔ دَ سره پیغمبر نهٔ ئې.

(۲) هغه دویم کس ورته اووئیل: مړه! الله بل څوک پیغمبر نهٔ پیژندو، بل څوک الله ته نهٔ وو معلوم چې تهٔ ئې رالیږلې، يَو غریب او يَو یتیم، بے موره او بے پلار ئې رالیږلو چرته خان نواب، چرته مخوریز سړے ئې ولې نهٔ پیغمبر کولو، بل الله.نهٔ وو لیدلے چې تهٔ ئې رالیږلې، نو هغهٔ هم انکار اوکړو.

(۳) هغه دریم نبي ﷺ ته وائي: پهٔ خدائے قسم! چې زهٔ تا سره دَ سره خبرې نهٔ کوم، کهٔ چرته تهٔ پیغمبر ئې نو ما له نهٔ دي مناسب چې زهٔ تا سره خبرې اوکړم او کهٔ تهٔ پیغمبر نهٔ ئې نو بیا خو تهٔ دروغژن ئې نو بیا خو هډو پکار نهٔ دي چې زهٔ تا سره خبرې اوکړم نو لِهٰذا زهٔ نهٔ تا ته آؤ کوم او نهٔ درنه انکار کوم زما دَ خوا نه ځه!.

دَ نبي ﷺ دَ طائف نه اوباسل

نبي ﷺ چې پوهه شو چې دا درې واړه زما خبره نهٔ مني نو نبي ﷺ دَ هغوي نه روان شو. چې کله روان شو نو پهٔ دې تلو تلو کښې دوي له يَو خبره کوي چې ګوره! منئ ئې خو نهٔ خو زما دا خبره بل چا ته مهٔ کوئ، ځان سره ئې اوساتئ. بیا نبي ﷺ پهٔ طائف کښې لس (۱۰) ورځې پاتې شوے وو، او چې کوم اوچت سړے به وو هغې يَو يَو پسې کور ته ورغلے وو او هغوي له ئې دعوت ورکړے وو. هغوي دَ نبي ﷺ دَ دعوت نه انکار اوکړو او رسول الله ﷺ ته وائي: چې:

"أُخْرُجْ مِنْ بِلَادِنَا".[1] دعوت خو لرې خبره ده "زمونږه دَ دې ښار نه اوځه!"، زمونږ دَ دې علاقې نه اوځه، چرته خپل کلي کښې ولې مسئلې نهٔ کوې، چې دلته راغلے ئې مونږ له کار کورې، زمونږ کلي کښې شر پيدا کوې!!!. نبي ﷺ پسې ئې ماشومان، کم عقل او ليوني ئې ورپسې کړل او هغوي ته ئې اووئيل: چې دهٔ پسې ګرځئ او دے پهٔ کاڼړو اولئ، چغې ورپسې اوباسئ، دَ رسول الله ﷺ پهٔ خلاف پهٔ طائف کښې ډير زيات نوجوانان تيار شول، داسې ظالمان وو چې دَ رسول الله ﷺ پهٔ خلاف کښې ئې کسان را اوچت کړل، نبي ﷺ چې پهٔ کومه لار روان وو نو دَ لارې يَو طرف ته او بل طرف ته ورته اودريدل، هر يَو به نبي ﷺ ته کنځلې کولې، پهٔ کاڼړو به ئې ويشتو چې دَ هغوي پهٔ خوا به تيريدو، تر دې چې دَ نبي ﷺ بدن مبارک ټول پهٔ وينو باندې لوند شو، پنړې مبارکې ئې دَ وينو ډکې شوې. نبي ﷺ روان دے او دوي ئې پهٔ کاڼړو اولي.

دَ نبي ﷺ دَ غلام زيد بن حارثه ﷺ حالت

زيد بن حارثه ﷺ چې دَ نبي ﷺ غلام وو، هغهٔ دَ رسول الله ﷺ سره دے، يَو کس دے نو هغه څهٔ کولے شي، يَو خوا ټول کافر دي او بل خوا يَو رسول الله ﷺ او زيد بن حارثه ﷺ دي، خو صحابؤ ﷺ ته خو رسول الله ﷺ دَ خپل ځان نه زيات محبوب وو، زيد بن حارثه ﷺ کوشش کوي چې خپل ځان کاڼړي ته مخامخ کړي چې رسول الله ﷺ بچ کړي خو کله دَ يَو طرف نه ګزار او کله دِ بل طرف نه ګزار... تر دې پورې چې دَ زيد بن حارثه ﷺ دا سر ټول پهٔ کاڼړو زخمي شوے وو، چې پهٔ رسول الله ﷺ به ئې ګزار کولو نو پهٔ هغهٔ به لګيدو. پهٔ دې کښې رسول الله ﷺ دَ طائف نه درې ميله بهر تر هغې ځائے پورې هلکان دَ هغوي پسې را روان وو او پهٔ کاڼړو ئې ويشتو، کله چې به دَ الله نبي ﷺ لړ حصار شو، سترے به شو؛ ځکه چې سرے زخمي وي نو بيا مزل هم نهٔ شي کولے نو چرته چې به دَ الله رسول ﷺ يَو ديوال ته يا يَو سورې ته به کيښناستو دمه به ئې کوله نو دوي به بيا را منډه کړه وائي: هغهٔ دے ولاړ دے، يا ناست دے شابئ! ځان ورپسې اورسَوئ، بيا به

---

(1) انظر: "الرحيق المختوم" لصفي الرحمن المباركفوري، الرسول ﷺ في الطائف: (113).

ئې نبي ﷺ پسې را منډې کړې او نبي ﷺ به ئې پاسولو، چې شابه! زر ځه، چې حصار نهٔ شې.

دَ نبي ﷺ يو باغ ته رسيدل او دَ الله نه دعاء كول

تر دې پورې چې دَ الله نبي ﷺ يو باغ ته اورسيدو، هغه باغ دَ عتبه او شيبه وو، چې دا دواړه دَ ربيعه ځامن وو. درې (۳) ميله بهر دَ طائف نه باغ وو، نو كله چې دَ الله پيغمبر ﷺ هغه باغ ته راغے نو هغوي اووئيل: هسې نهٔ چې دَ باغ دا مالک را ته غصه شي نو هغوي دَ نبي ﷺ نه واپس شول، وائي: يره! پريږدئ. نبي ﷺ دَ انګورو يو وُنه وه دَ هغې لاندې كيښناستو. او چې كله كيښناستو نو دَ نبي ﷺ حالت ډير زيات خراب وو، زخمي زخمي وو، درد مند درد مند وو، او ډير خفه او پريشانه وو، پهٔ دې حالت كښې نبي ﷺ دعاء شروع كړه، رحمةٌ للعالَمِين وو كنه!، نبي ﷺ دعاء كوي فرمائي:

«اللهُمَّ إِلَيْكَ أَشْكُو ضُعْفَ قُوَّتِي، وَقِلَّةَ حِيلَتِي، وَهَوَانِي عَلَى النَّاسِ أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ، أَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ، إِلَى مَنْ تَكِلُنِي؟، إِلَى عَدُوٍّ يَتَجَهَّمُنِي، أَمْ إِلَى قَرِيبٍ مَلَّكْتَهُ أَمْرِي، إِنْ لَمْ تَكُنْ غَضْبَانًا عَلَيَّ، فَلاَ أُبَالِي، إِنَّ عَافِيَتَكَ أَوْسَعُ لِي، أَعُوذُ بِنُورِ وَجْهِكَ الَّذِي أَشْرَقَتْ لَهُ الظُّلُمَاتُ، وَصَلَحَ عَلَيْهِ أَمْرُ الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ أَنْ تُنْزِلَ بِي غَضَبَكَ، أَوْ تُحِلَّ عَلَيَّ سَخَطَكَ، لَكَ الْعُتْبَى حَتَّى تَرْضَى، لاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِكَ».[1]

"يا الله! زهٔ تا ته شكايت كوم چې زهٔ ډير كمزورے يم، زما قوت او طاقت نشته، الله ما له پوره چل هم نهٔ راځي، الله دَ چل را سره هم كمے دے، الله! زهٔ پهٔ خلقو باندې سپک يم؛ ځكه زهٔ يواځې يم او خلق ډير دي، اے هغه پهٔ ټولو جهان كښې لوئي رحم كوونكي ذاته! تهٔ دَ ټول جهان نه لوئي رحم كوونكے ئې (يو روايت كښې داسې دي: اے الله! تهٔ دَ هغې خلقوٌ رب ئې چې هغوي عاجزان او كمزوري دي، دَ كمزورو ربّ تهٔ ئې)، يا الله! تهٔ ما چا ته سپارې؟ دشمن ته مې حواله كوې چې هغه تا زما مشر كړے دے يا خپلو ته مې حواله كوې چې هغوي زما سره ظلم او زياتے كوي؟ الله! كهٔ تهٔ ما ته غصه نهٔ ئې نو پهٔ دې تكليف هم زما څهٔ پروا نشته، الله! ستا معافي چې ده هغه ما له دَ دې نه ډيره فراخه ده، دَ دې نه ډيره فائده منده ده. الله! زهٔ ستا دَ هغې مخ پهٔ نور باندې ستا پورې پناه غواړم چې ټولې تيارې دَ هغې دَ وجې نه رڼړا دي، او الله! دَ دنيا او دَ آخرت

---

(1) أخرجه الطبراني في "المعجم الكبير"، برقم: (181)، (13/73)

کارونه په هغې سمیرې دَ دې نه پناه غواړم الله! هسې نۀ چې تۀ په ما باندې چرته غضب نازل کړې، یا دَ دې نه چې چرته ستا غصه په ما نازله نۀ شي، الله تا ته رجوع کوم تر دې پورې چې تۀ رضاء شې، نشته دے دَ ګناه نه دَ اوړيدو طاقت او نشته دے دَ نيکئ طاقت مګر په تا دے".

دَ ربيعه دَ ځامنو دَ نبي ﷺ خوا ته راتلل

دا دعاګانې دَ الله نبي ﷺ غوښتې، دَ ربيعه ځامنو چې اوليدو چې نا آشنا سړے دے، باغ له راغلے دے، او ټول په وينو سور دے نو دوي ورله خوا له راغلل، او زړۀ ئې پرې خوږ شو، اګر چې کافر وو خو دَ نبي ﷺ په دې حال ئې زړۀ خفه شو، خپل يَو نصراني غلام هغه ئې را اوغوښتو، دَ غلام نوم ئې "عداس" وو، دا دَ دې باغ دَ مالکانو غلام وو. عداس ته وائي: اے عداسه!

"خُذْ قِطْفًا مِنْ هَذَا الْعِنَبِ، فَضَعْهُ فِي هَذَا الطَّبَقِ، ثُمَّ اذْهَبْ بِهِ إِلَى ذَلِكَ الرَّجُلِ، فَقُلْ لَهُ يَأْكُلُ مِنْهُ".

"ورشه دَ انګورو يَو غُنچک را واخله او په دې شکرئ کښې ئې کيږده بيا دا دې سړي له ئې يوسه، دۀ له ئې ورکړه او ورته اووايه: چې دَ دې نه اوخوره!".

هغۀ هغه غُنچک راواغستو او رسول الله ﷺ ته ئې راوړو، نبي ﷺ تږے هم دے او اوږے هم دے، په وينو باندې سور هم دے، ټول خوږ خوږ دے، دَ نبي ﷺ مخې له ئې چې کله کيخودو نو رسول الله ﷺ لاس ور اوږد کړو او نبي ﷺ وائي: بسم الله. بسم الله ئې اووئيله او بيا ئې دَ هغې نه خوراک شروع کړو، نو عدّاس چې دَ بسم الله دا ټکے واوريدو نو هغه غلام خو کافر وو، هغۀ خو دا نۀ پيژندو نو عدّاس نبي ﷺ ته وائي:

"وَاللهِ إِنَّ هَذَا الْكَلَامَ مَا يَقُولُهُ أَهْلُ هَذِهِ الْبِلَادِ".[1]

دا تا چې کوم کلام اوکړو نو "قسم په الله چې دَ دې علاقې دا خلق چې کله خوراک شروع کوي نو هغوي خو پکښې دا نۀ وائي"، دا تا څنګه کلام اوکړو؟

دَ رسول الله ﷺ دَ عدّاس نه تپوس کول

رسول الله ﷺ ورته يَو خبره کوي، وائي: هلکه! تۀ دَ کوم ښار ئې؟ دَ کوم ځائے ئې؟؛ څکه

(1) انظر: "سيرة ابن هشام": (421/1).

دے خو غلام وو، دَ طائف خو نهٔ وو. او بل تپوس تري دا کوي: چي تهٔ پهٔ کوم دين باندې ئې؟ نو دے ورته وائي: زهٔ دَ نينوىٰ علاقې يم، نينوىٰ پهٔ موصل ښار کښې يَو علاقه وه. کوم ځائے کښې چې الله رب العزة يونس ﷺ پيغمبر راليږلے وو، او وائي:

"وأنا نَصْرَانِيٌّ". "زهٔ نصراني يم".

نبي ﷺ ورته اووئيل: چې خا! "مِنْ قَرْيَةِ الرَّجُلِ الصَّالِحِ يُوْنُسَ بْنِ مَتَّى".

"تهٔ دَ هغه ډير نيک انسان دَ علاقې ئې چې هغه ډير نيک انسان وو، دَ هغهٔ نوم يونس بن متّیٰ ﷺ وو"، نو تهٔ دَ يونس ﷺ دَ علاقې ئې.

دَ عدّاس دَ نبي ﷺ نه تپوس کول

نو دا عدّاس دَ الله پيغمبر ﷺ ته وائي: تهٔ يونس بن متّیٰ څنګه پيژنې؟ نبي ﷺ ورته وائي: "ذَاكَ أَخِي، كَانَ نَبِيًّا وَأَنَا نَبِيٌّ". هغه زما ورور دے، "هغه هغې وخت کښې نبيَ وو او زهٔ اوس نبي يم (او دَ انبياؤ ﷺ دين خو يَو وي کنه) هغه زما ديني ورور دے". نو هغهٔ هم پيغمبر وو او زهٔ هم پيغمبر يم. دے ورته وائي: خا! تهٔ پيغمبر ئې؟! څکه دې دا خلق پهٔ کاڼړو باندې اولي. نو عدّاس چې دے غلام وو نو را منډه ئې کړه او دَ رسول الله ﷺ لاس او خپې ئې ښکلول شروع کړل، او کله دَ الله دَ نبي ﷺ تلي ښکلوي، هان! لکه تهٔ دَ الله رسول ئې.

اوس دَ هغې ځائے نه ورته دَ ربيعه ځامن ګوري، نو دا يَو دَبل ته وائي:

"أَمَّا غُلاَمُكَ فَقَدْ أَفْسَدَهُ عَلَيْكَ".

"هلکه! غلام دې ورليږلے وو (چې انګور ورته يوسه) هغه خو ئې درله خراب کړو". خپل دين ته ئې درنه واړولو، اوګوره! هغه اوس لګيا دے هغهٔ ښکلوي. عدّاس چې کله واپس راغے نو دې خپلو مالکانو (دَ ربيعه ځامنو) ورته اووئيل:

"وَيْلَكَ يَا عدّاس! مَا لَكَ تُقَبِّلُ رَأْسَ هَذَا الرَّجُلِ وَيَدَيْهِ وَقَدَمَيْهِ؟".

"هلاک شې اے عدّاسه! دا تا څهٔ کول، تا خو هغه سړے ښکلولو، لاسونه او خپې دې ورله ښکلولې؟".

نو عدّاس ورته وائي:

"يَا سَيِّدِي مَا فِي الْأَرْضِ شَيْءٌ خَيْرٌ مِنْ هَذَا، لَقَدْ أَخْبَرَنِي بِأَمْرٍ مَا يَعْلَمُهُ إِلَّا نَبِيٌّ".

"اے زما سرداره! قسم په الله دے! چې دَ دې انسان نه په مخ دَ زمکه باندې بل بهترين انسان نشته، دا خو دَ الله رسول دے؛ ځکه چې دهٔ ماله دَ يو داسې يو څيز خبر را کړو چې دَ هغې صرف نبي ته پته وي، غير نبي ته دَ هغې پته نهٔ وي، دَ يونس عليه السلام قصه ئې چې ما ته کوله نو دا صرف نبي ته پته وي، عام خلق په دې څهٔ پوهيږي؟ دوي ورته اووئيل:

"وَيْحَكَ يَا عَدَّاسُ، لَا يَصْرِفَنَّكَ عَنْ دِينِكَ، فَإِنَّ دِينَكَ خَيْرٌ مِنْ دِينِهِ".[1]

"اے عدّاسه! تباه شې خبردار! کورے دَ خپل دين نه دې وانهٔ ړوي؛ ځکه ستا دين (چې نصرانيت دے) غوره دے دَ دهٔ دَ دين نه"، نو په دې خپل دين باندې ټينګ شه. نو هغهٔ خو غلام وو هغهٔ کښې دومره زور چرته وو.

دَ نبي ﷺ مکې ته واپس راتلل او دَ جبرئيل امين عليه السلام سره ملاقات کول

نبي ﷺ مکې ته را روان دے، هغې باغ نه را روان شو، ډير سخت پريشانه دے، زړهٔ ئې خفه دے، قرن الثعالب دَ دې مکې او دَ طائف په مينځ کښې يَو ځائے دے، واپس مکې ته را روان دے. قرن الثعالب ته چې را اورسيدو نو دغه ځائے کښې جبرئيل امين عليه السلام ورته مخې له راغے، او ورسره يَو فرشته ده، چې هغې ته "مَلَكُ الْجِبَالِ" وائي، هغه فرشته چې هغې له الله تعالٰی دَ غرونو دَ اوچتولو او بل ځائے ته دَ منتقل کولو طاقت ورکړے دے، جبرئيل امين عليه السلام راغے او نبي ﷺ ته وائي: چې تا سره يَو مشوره کوم..... بخاري کښې بيا تفصيلًا حديث راځي، اوږد حديث دے دَ هغې په آخر کښې دا دي: نبي ﷺ فرمائي: زهٔ داسې را روان ووم، په ځان نهٔ پوهيدم (کله چې سړے ډير پريشانه وي نو بيا په ځان نهٔ پوهيږي، په سرچونو کښې ډرب وي، پته ورته بيا نهٔ لګي چې دا زهٔ په کوم ځائے کښې روان يم؟). نبي ﷺ وائي: چې مې اوکتل نو قرن الثعالب يا قرن المنازل کښې روان يم (هغې وخت کښې ورته قرن الثعالب وئيلو او قرن المنازل ورته هم وائي)، نو چې سر مې اوچت

(1) انظر: "سيرة ابن هشام": (421/1).

کړو او ما اوکتل نو زما د سر دَ پاسه وریځ وه چې پهٔ ما ئې سورے کړے، هغه وریځ ما سره روانه وه، نو ما چې اوکتل نو پهٔ هغې وریځ کښې جبرئیل علیه السلام وو، نو:

«فَنَادَانِي فَقَالَ: إِنَّ اللهَ قَدْ سَمِعَ قَوْلَ قَوْمِكَ لَكَ، وَمَا رَدُّوا عَلَيْكَ، وَقَدْ بَعَثَ إِلَيْكَ مَلَكَ الجِبَالِ لِتَأْمُرَهُ بِمَا شِئْتَ فِيهِمْ».

"جبرئیل امین علیه السلام ما ته آواز اوکړو: چې اے دَ الله رسوله! الله تعالی ستا دَ قوم خبرې هم واوریدې او ستا خبرې ئې هم واوریدې او دَ هغوي جوابونه ئې هم واوریدل او الله تا ته یَو دَ غرونو فرشته رالیږلې ده (چې دَ دې کار دے دَ غرونو دَ یَو ځائے نه بل ځائے ته منتقل کول، پهٔ غرونو دَ دې وَس رسي)، اوس خوښه ستا ده (دا طائف خو هسې هم غره ئیزه علاقه ده) چې تهٔ څنګه غواړې هغهٔ شان ورته اووایهٔ دوي به درته دَ غرونو پهٔ دې مینځ کښې اوچقوي، او پهٔ یَو ځل به ئې تباه کړي".

«فَنَادَانِي مَلَكُ الجِبَالِ فَسَلَّمَ عَلَيَّ، ثُمَّ قَالَ: يَا مُحَمَّدُ، فَقَالَ، ذَلِكَ فِيمَا شِئْتَ، إِنْ شِئْتَ أَنْ أُطْبِقَ عَلَيْهِمُ الأَخْشَبَيْنِ؟".

"هغه دَ غرونو فرشتې ما ته آواز اوکړو، ما باندې ئې سلام واچولو، بیا ما ته وائي: اے محمده! کهٔ ستا خوښه وي چې زهٔ پرې دا دوه غرونه را جوخت کړم". یَو دَ مکې دَ ابي قبیس او بل قیقعان غرونو کهٔ ستا خوښه وي چې عذاب پرې راولو.

دا کهٔ اوس بل څوک وے نو وئیل به ئې چې یَو سیکنډ ورته صبر اونهٔ کړې خو پیغمبر ﷺ څهٔ وائي؟ (اللهُ! اللهُ!)، نبي ﷺ ورته اوفرمائیل:

«بَلْ أَرْجُو أَنْ يُخْرِجَ اللهُ مِنْ أَصْلاَبِهِمْ مَنْ يَعْبُدُ اللهَ وَحْدَهُ، لاَ يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا». [1]

دوي نهٔ پوهیږي او "زما امید دے چې دَ دوي پهٔ بچو کښې به الله تعالی داسې خلق پیدا کړي چې هغوي به دَ یَو الله رب العزة عبادت کوي او دَ الله رب العزة سره به څوک نهٔ شریک کوي".

(1) أخرجه البخاري في كتاب بدء الخلق، باب إذا قال أحدكم: آمين والملائكة في السماء، ... فوافقت إحداهما الأخرى، غفر له ما تقدم من ذنبه، برقم: (3231).

نو رسول الله ﷺ هغه فرښتې له اجازت ورنهٔ کړو چې پهٔ دې خلقو عذاب راولي. کهٔ هغهٔ صرف وئیلے وے نو دا فرښته الله رب العزة رالیږلې دَ دې دپاره وه چې نن زما حبیب څهٔ وائي هغه به مني او هغه شان عذاب به پهٔ دې خلقو باندې راولي.

دَ جنّاتو حاضریدل

رسول الله ﷺ را روان وو، حدیث کښې راځي: نبي ﷺ چې وادي النخله مقام ته را اورسیدو نو پهٔ وادي النخله کښې نبي ﷺ مونځ کولو، او پکښې جنّات (پیریان) هم راغلي دي، دَ نبي ﷺ دَ تلاوت هغه آواز ئې اوریدو.... اوږده واقعه ده. دا قرآن هم ذکر کړې ده:

﴿وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوا أَنصِتُوا فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا إِلَىٰ قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ﴾.[1]

"کله چې مونږه را واړوله ستا طرف ته یَوه ډله دَ پیریانو نه، طلب ئې کولو دَ اوریدو دَ قرآن، او کله چې حاضر شول نو یَو بل ته وائي: چپ شئ، کله چې دَ قرآنِ عظیم بیان پوره شو نو واوړیدل خپل قوم ته یره ورکونکي".

دا جنات راغلل او دَ رسول الله ﷺ نه ئې قرآن واوریدو او دوي الله مسلمانان کړل او بیا خپل قوم ته لاړل، هغوي ته ئې بیا بیان او تقریر شروع کړو. الله رب العزة دَ نبي ﷺ دَ دعوت اثر پهٔ جنّاتو اوکړو، هغوي کښې الله رب العزة مسلمانان پیدا کړل، بیا رسول الله ﷺ مکې مکرّمې ته واپس راغے، بیا دَ هغې نه روستو نبي ﷺ نورو قومونو ته خطونه لیږل او دعوتونه به ئې ورکول.

تر دې ځائے پورې دَ نبي ﷺ دَ سیرت حصه مونږ بیان کړه، باقي به ان شاء الله وریسې راځي.

وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

(1) [سورة الأحقاف: 29].

بسم اللہ الرحمن الرحیم

سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ

(سورة الإسراء: 1)

موضوع

سیرۃ النبي ﷺ حصه اتلسمه

"معراج النبي ﷺ"

بتاریخ: 2008-02-01

مقام جلسئ

خطیب

فصیح اللسان لذیذ البیان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

سيرة النبي ﷺ حصه اتلسمه

"معراج النبي ﷺ "

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴾.[1]

عزتمندو، حاضرينو، مسلمانانو رونړو! دَ رسول الله ﷺ ډېر زيات معجزات وو، دَ هغې نه بعضې معجزات تاسو اوريدلي وو، اوس يَو بله لويه معجزه بيانوو:

يَو لويه معجزه

هغهٔ معجزه دَ أمام الأنبياء محمد مصطفٰی ﷺ دا وه: چې نبي ﷺ باندې الله رب العزة دَ آسمانونو سيل کړے وو، بره ئې خيژولے وو، دَ معراج واقعه علماء کرام ذکر کوي: دا دلالت کوي: پهٔ رفع شان دَ محمد رسول الله ﷺ باندې، او دا دلالت کوي: پهٔ رسالت دَ محمد رسول الله ﷺ باندې، دَ معراج واقعه علماء کرامو ذکر کړې ده، محدثينو حضراتو دَ احاديثو پهٔ رڼړا کښې واضحه کړې ده.

معراج او اسراء کښې فرق

يَو دے "إِسْراء" او يَو دے "مِعراج"، پهٔ دې دواړو کښې فرق دے، "إِسْراء" دَ شپې بوتللو ته

(1) [سورة الإسراء: 1].

وائي، او "مِعراج" پهٔ بره ختلو ته وائي، نو "إِسْراء" دَ رسول الله ﷺ دَ مکې نه تر بيت الـمقدَّس پورې وه، او امام نووي رحمه الله پهٔ شرحه دَ "صحيح مسلم" باندې ذکر کړي دي: چې پهٔ دې "المقَدَّس" کښې دوه (۲) قِراءَته دي: "بيت المُقَدَّس"، او "بيتُ الْمَقْدَسْ"، نو بيت المَقْدَس پورې نبي ﷺ پهٔ زمکه باندې دَ بُراق پهٔ ذريعې تلے وو، بيا دَ هغې نه بره نبي ﷺ آسمانونو ته ختلے وو نو هغې ته "مِعراج" وائي.

دَ مفسر قرطبي او قاضي عياض رحمه الله اقوال

دې دواړو اوږد بحث کړے دے: چې معراج دَ نبي ﷺ څنګه وو؟

(۱) اول قول: دَ معراج دَ نبي ﷺ باره کښې: چې دا بالروح وو فقط

بعضې علماء وائي: چې معراج دَ نبي ﷺ پهٔ روح باندې وو، يعني پيغمبر ﷺ صرف . رب ليدلے وو، ټخپله پهٔ ويخه باندې نهٔ دے ختلے، دا دَ بعضې علماؤ قول دے، معاويه رضي الله عنه هم پهٔ دې کښې دے، چې معراج دَ نبي ﷺ دا پهٔ خوب کښې وو، روح ئې تلے وو، او هغوي بيا پهٔ دې لائل پيش کوي:

(۱) يَو دليل: چې قرآنِ کريم کښې الله فرمائي:

﴿وَمَا جَعَلْنَا الرُّؤْيَا الَّتِي أَرَيْنَاكَ إِلَّا فِتْنَةً لِلنَّاسِ﴾.[1]

"ستا هغهٔ خوب چې مونږ تا ته ښودلے وو، مونږ نهٔ دے ګرځولے هغې لره مګر امتحان دَ خلقو دپاره".

چې نبي ﷺ سحر خلقو ته بيانولو نو چا منلو، چا نهٔ منلو، نو وائي: دا نبي ﷺ پهٔ خوب کښې تلے وو، روح ئې تلے وو، هغهٔ ټخپله باندې نهٔ وو تلے.

(۲) دويم دليل: هغه دا دے: چې دَ سيده عائشه رضي الله عنها نه نقل دي: چې هغهٔ وائي:

"مَا فَقَدْتُ جَسَدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عليه وسلم".[2]

---

(1) [سُورة الاسراء: 60].

(2) انظر: "الشفا بتعريف حقوق المصطفى" للقاضي عياض بن موسى: (187/1).

"ما روک نهٔ وو موندلے بدن مبارک دَ رسول الله ﷺ"، معنٰی دا شوه: چې هغهٔ ځائے کښې وو، نو څنگه تلے وو، چې بدن ئې دلته وو؟

(۳) دریم دلیل: دَ هغوي دا وو: «بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ».[1]

نبي ﷺ وائي: "زهٔ پهٔ مسجدِ حرام کښې اودهٔ اووم (چې ما ته جبرئیل امین راغے)".

نو هغوي وائي: چې نا! نبي ﷺ پهٔ ویخه باندې معراج نهٔ دے کړے، پهٔ اودو ئې کړے دے، خوب ئې لیدلے وو، روح ئې ختلے دے.

(۲) دویم او صحیح قول: قاضي عیاض رحمه الله ذکر کوي: دا روح مع الجسد وو...

لیکن صحیح قول دا دے: چې نبي ﷺ پهٔ ویخه باندې معراج کړے دے، قاضي عیاض رحمه الله وائي:

"وَذَهَبَ مُعْظَمُ السَّلَفِ وَالْمُسْلِمِينَ إِلَى أَنَّهُ إِسْرَاءٌ بِالْجَسَدِ وَفِي الْيَقْظَةِ وَهَذَا هُوَ الْحَقُّ وَهُوَ قَوْلُ ابْنِ عَبَّاسٍ وَجَابِرٍ وَأَنَسٍ وَحُذَيْفَةَ وَعُمَرَ وَأَبِي هُرَيْرَةَ وَمَالِكِ بْنِ صَعْصَعَةَ وَأَبِي حَبَّةَ الْبَدْرِيِّ وَابْنِ مَسْعُودٍ وَالضَّحَّاكِ وَسَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ وَقَتَادَةَ وَابْنِ الْمُسَيَّبِ وَابْنِ شِهَابٍ وَابْنِ زَيْدٍ وَالْحَسَنِ وَإِبْرَاهِيمَ وَمَسْرُوقٍ وَمُجَاهِدٍ وَعِكْرِمَةَ وَابْنِ جُرَيْجٍ".

"پهٔ سلفو صالحینو علماؤ کښې دَ لویُو علماؤ او دَ لویُو مسلمانانو دا نظریه او دا عقیده ده: چې نبي ﷺ پهٔ ویخه باندې روح او جسد دواړو سره آسمانونو ته ختلے دے، معراج ئې کړے وو، او دا صحیح او حقه خبره ده، او دا قول دَ عبد الله بن عباس، دَ جابر بن عبد الله، دَ انس بن مالک، دَ حذیفه، دَ عمر فاروق، دَ ابو هریره، دَ مالک بن صعصعه، دَ ابي حبّه البدري، دَ ابن مسعودؓ، دارنګې دَ ضحاک، دَ سعید بن جبیر، دَ قتاده، دَ ابن المسیّب، دَ ابن شهاب، دَ ابن زید، دَ حسن بصري، دَ امام ابراهیم نخعي، دَ مسروق، دَ امام مجاهدؒ، دَ امام عکرمه، دَ ابن جریج رحمهم الله دَ دې ټولو دا نظریه ده: چې نبي ﷺ پهٔ ویخه باندې سره دَ روح نه دا معراج کړے دے".

او بیا وائي: "وَهُوَ قَوْلُ أَكْثَرِ الْمُتَأَخِّرِينَ مِنَ الْفُقَهَاءِ وَالْمُحَدِّثِينَ وَالْمُتَكَلِّمِينَ وَالْمُفَسِّرِينَ".[2]

---

(1) انظر: "الشفا بتعريف حقوق المصطفى" للقاضي عياض بن موسى: (187،188/1).

(2) انظر: "الشفا بتعريف حقوق المصطفى" للقاضي عياض بن موسى: (188/1).

"او دا قول پهٔ متأخرينو علماؤ کښې دَ اکثرو فقهاؤ، محدثينو، متکلمينو او مفسرينو وو".
نو دَ دې ټولو هم دا نظريه او عقيده وه: چې نبي ﷺ پهٔ ويخه باندې معراج کړے دے.

(۳) دريم قول: دَ معراج دَ نبي ﷺ باره کښې

دريم قول دَ بعضې علماؤ دا دے: وائي: نبي ﷺ تر بيت الـمقدّس پورې پهٔ ويخه باندې تلے وو، بره بيا پهٔ خوب کښې تلے دے، او دَ هغوي عقيده او نظريه دَ دې آيت نه ده: چې قرآنِ کريم کښې الله تعالی فرمائي:

﴿سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى﴾.[1]

"پاکي ده هغهٔ ذات لره چې بوئې تلو خپل بنده لره دَ شپې دَ مسجد حرام نه مسجدِ اقصٰی پورې".

وائي: دا معجزه دَ پيغمبر ﷺ پهٔ قرآنِ کريم کښې بيان ده، کهٔ چرته نبي ﷺ دَ معراج پهٔ شپه باندې پهٔ بره باندې پهٔ ويخه تلے وو، نو الله به دَ هغې ذکر کړے وے، دا به ئې وئيلے وے: چې بيا ئې آسمانونو ته هم اوخيژولو، خو سورة بني اسرائيل کښې صرف دا دي: چې دَ مسجد حرام نه صرف تر مسجد اقصٰی پورې بوتلے وو، دا دَ هغوي دليل دے.

بيا قاضي عياض ذکر کړي دي، وائي: صحيح خبره دا ده: "وَالصَّحِيحُ إِنْ شَاءَ اللهُ أَنَّهُ إِسْرَاءٌ بِالْجَسَدِ وَالرُّوحِ فِي الْقِصَّةِ كُلِّهَا".[2]

"صحيح خبره دا ده: چې نبي ﷺ هغهٔ تلے وو، نو روح او بدن دواړه ئې الله تعالی خيژولي وو، اول دَ بيت الله نه واخلې تر بيت الـمقدّس پورې تلے وو پهٔ بُراق باندې، او بيا دَ هغې نه پس الله تعالی خپل پيغمبر ﷺ آسمانونو ته خيژولے وو".

نو زهٔ به تاسو ته اول دا ښايم: چې څنګه تلے وو؟ روستو به بيا اختلاف ذکر کوو:

دَ سيدنا انس بن مالک ﷺ روايت

حديث کښې راځي: دَ "صحيح مسلم" روايت دے، او دا صحيح روايت دے: سيدنا انس بن

(1) [سورة الإسراء: 1].
(2) انظر: "الشفا بتعريف حقوق المصطفى" للقاضي عياض بن موسى: (189/1).

مالک ﷺ فرمائي: نبي ﷺ فرمائيلي دي:

«أُتِيتُ بِالْبُرَاقِ، وَهُوَ دَابَّةٌ أَبْيَضُ طَوِيلٌ فَوْقَ الْحِمَارِ، وَدُونَ الْبَغْلِ».[1]

"ما ته بُراق راوستلے شو، او (دا "براق" څۀ شے دے؟) دا بُراق يَو ځناور دے، چې تک سپين ځناور دے، او اوږد ځناور دے، دَ خر نه لږ اوچت او دَ قچر نه لږ غوندې لاندې داسې يَو شے دے".

نو بُراق داسې يَو ځناور چې نۀ خر وو، او نۀ قچر وو، تک سپين ځناور وو، دَ خر نه لږ اوچت وو، او دَ قچر نه لږ ښکته وو، اوږد وو، "يَضَعُ حَافِرَهُ عِنْدَ مُنْتَهَى طَرْفِهِ".

"دَ هغې يَو يَو قدم به دومره وو لکه څومره چې دَ انسان دَ نظر انتهاء ده".

دومره ځائے پورې دَ هغې يَو ټوپ وو، پۀ سيکنډونو کښې مسجدِ اقصٰی ته رسيدلے وو، حالانکه هغۀ دَ مياشتو مياشتو مزلې دي، پۀ يَو شپه کښې نبي ﷺ مسجدِ اقصٰی ته هم اورسيدو، دَ بيت الله نه بيت الـمقدّس ته، او بيا ئې معراج هم اوکړو، بيا هم راغلے.

قَالَ: «فَرَكِبْتُهُ حَتَّى أَتَيْتُ بَيْتَ الْمَقْدِسِ»، قَالَ: «فَرَبَطْتُهُ بِالْحَلْقَةِ الَّتِي يَرْبِطُ بِهِ الْأَنْبِيَاءُ»، قَالَ «ثُمَّ دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ، فَصَلَّيْتُ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ».

"نبي ﷺ فرمائي: زۀ پۀ هغې باندې کيښناستم او بيت الـمقدّس ته راغلم، ما دا بُراق دَ هغې کړئ پورې اوتړلو کومې کړئ پورې چې انبياؤ ﷺ خپل اسونه تړلي وو چې کلۀ به ئې بيت الـمقدّس کښې مونځ کولو، نو دَ هغې کړئ پورې ما دغه خپل اس اوتړلو، بيا بيت الـمقدّس جومات ته دننه شوم، نو دوه رکعته مونځ مې پۀ بيت الـمقدّس کښې اوکړو".

بيا روايات مختلف دي: بعضې رواياتو کښې راځي: ځان له مې مونځ اوکړو، بعضې رواياتو کښې راځي: چې ما ته الله تعالٰی انبياء کرام ﷺ متشکّل کړل، انبياء کرام ﷺ راپسې روستو ولاړ وو، او زۀ مخکښې ولاړ ووم، ما ورته امامتي ورکړه، دوه رکعته مونځ مو اوکړو.

بيا نبي ﷺ فرمائي:

«ثُمَّ خَرَجْتُ فَجَاءَنِي جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ بِإِنَاءٍ مِنْ خَمْرٍ، وَإِنَاءٍ مِنْ لَبَنٍ، فَاخْتَرْتُ اللَّبَنَ».

---

(1) أخرجه مسلم في كتاب الإيمان، باب الإسراء برسول الله ﷺ إلى السماوات، وفرض الصلوات، برقم: (162).

"بیا زهٔ رابهر شوم دَ بیت الـمقدّس نه نو جبرئیل امین ﷺ ماته دوه (۲) لوښي راوړل: (۱) یَو لوښے دَ شرابو وو، هغې کښې شراب وو، (۲) او بل لوښے دَ پیو وو هغې کښې پئ وو، ما نه ئې دواړه راوړل، نو ما پئ غوره کړل او پئ مې ترې اوڅښکل"، دا هغهٔ وخت وو چې شراب جائز وو، دوه لوښي ئې ما ته راوړل، یَو لوښے دَ پیو نه ډک وو، بل لوښے دَ شرابو نه ډک و، ما ته وائي: چې پهٔ دې کښې کوم ستا خوښ دے، نو هغهٔ واخله، نبي ﷺ فرمائي: ما پئ غوره کړل، پئ مې ترې اوڅښکل، شراب مې پریښودل، نو فَقَالَ جِبْرِیلُ ﷺ: "اخْتَرْتَ الْفِطْرَةَ".[1]

"نو جبرئیل امین ﷺ اووئیل: چې تا فطرت غوره کړو".

بیا جبرئیل امین ﷺ اووئیل: څه چې خیژو!

«ثُمَّ عُرِجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ».

"بیا جبرئیل امین ﷺ مونږه آسمان ته اوخیژولو".

"فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِیلُ".

"جبرئیل امین ﷺ طلب اوکړو دَ دروازې دَ کولاویدو".

"فَقِیلَ: مَنْ أَنْتَ؟ قَالَ: جِبْرِیلُ، قِیلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ، قِیلَ: وَقَدْ بُعِثَ إِلَیْهِ؟ قَالَ: قَدْ بُعِثَ إِلَیْهِ، فَفُتِحَ لَنَا".

"بره نه آواز راغلے، چې څوک ئې؟ (چې آواز کوې چې دروازه کولاؤ کړئ)، جبرئیل امین ﷺ ورته وائي: زهٔ جبرئیل یم، بیا بره نه تپوس کیږي: دا بل ملګرے درسره څوک ولاړ دے؟ دا څوک دے؟ نبي ﷺ فرمائي: چې جبرئیل امین ﷺ ورته اوفرمائیل: چې دا محمد ﷺ دے، بیا تپوس کیږي: بره نه آواز راغلے: چې دے خپله راغلے دے او کهٔ تهٔ وریسې الله لیږلے ئې؟ جبرئیل امین ﷺ ورته وائي: نا! زهٔ خو وریسې لیږلے شوے یم، نو بیا هله دَ آسمان دروازه کولاؤ شوه".

دَاسلام نه مخکښې آسمان ته ختل

پهٔ دې آسمان باندې چوکیدارانې فرشتې وې، دا چوکیدارې دَ آسمان کوي، هیڅ څهٔ شے

(1) أخرجه مسلم في كتاب الإيمان، باب الإسراء برسول الله ﷺ إلى السماوات، وفرض الصلوات، برقم: (162).

بره نشي ختلے، او چې کله اسلام نهٔ وو راغلے نو مشهور روایت دے: دَ اسلام دَ راتلو نه مخکښې دَ نبي ﷺ دَ راتلو نه مخکښې دا شیطانان به دَ یَو بل دپاسه اودریدل، آسمان ته به رسیدل، او هلته پهٔ آسمان کښې فرشتو به چې څهٔ خبره کوله، هغهٔ به دوي واوریده، چې صبا به الله داسې کار کوي، نو دوي به راغلل خپلو شیطانانو کاهنانو ته به ئې اووئیل: چې صبا به داسې کار کیږي، نو هغوي به خلقو ته اووئیل: چې صبا به دا کار کیږي، نو چې هغهٔ کار به اوشو نو خلقو به اووئیل: اوګوره! ریشتیا وائي کنه، یَو به ئې هغهٔ ریشتیا خبره اوکړه او سل (۱۰۰) به ئې ورسره دروغ ملګري کړل، نبي ﷺ وائي: یَو به دغه خبره وه، او یَو کم سل به ئې ورسره دروغ ملګري کړل، خلق به ئې پهٔ هغې دهوکه کول، کله چې نبي ﷺ راغلے نو شیطانان بیا بره نشو ختلے، دا معجزه وه دَ نبي ﷺ.

نو چې کله دَ آسمان دروازه کولاؤ شوه، نبي ﷺ فرمائي:

"فَإِذَا أَنَا بِآدَمَ، فَرَحَّبَ بِي، وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ".[1]

"پس ناڅاپه زهٔ خپل نیکهٔ آدم ؈ سره مېلاؤ شوم، ما ته ئې پخیر راغلې اووئیل، او زما دپاره ئې دعاء دَ خیر اوغوښتله".

پهٔ رومبي آسمان کښې آدم ؈ وو، او دا متشکل کیدل دي، ګني دَ انبیاء ؊ قبرونه خو پهٔ زمکه کښې دي. دلته "فَرَحَّبَ بِي، وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ" دا الفاظ راغلل.

بعضې روایاتو کښې لږ بدل الفاظ راځي: "مَرْحَبًا بِالابْنِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ".[2]

"پهٔ خیر دې راشې زما نیک بچے او نیک نبي".

نو بیا نبي ﷺ فرمائي: "ثُمَّ عُرِجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ الثَّانِيَةِ، فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ، فَقِيلَ: مَنْ أَنْتَ؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ، قِيلَ: وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ، فَفُتِحَ لَنَا".

"بیا دوم آسمان ته اوختلو نو جبرئیل امین ؈ هغهٔ شان بیا دروازه اوټکوله: چې دروازه کولاؤ

---

(1) أخرجه مسلم في كتاب الإيمان، باب الإسراء برسول الله ﷺ إلى السماوات، وفرض الصلوات، برقم: (162).

(2) أخرجه البخاري في كتاب مناقب الأنصار، باب المعراج، برقم: (3887).

کړئ؟ تپوس کیږي: چې څوک راغلے دے؟ جبرئیل امین علیه السلام ورته وائي: زهٔ جبرئیل یم، بیا بره نه تپوس کیږي: دا بل ملګرے درسره څوک دے؟ جبرئیل امین علیه السلام ورته اوفرمائیل: چې دا محمد ﷺ دے، بیا تپوس کیږي: بره نه آواز راغلے: چې دے خپله راغلے دے او کهٔ ته وریسې الله لیږلے ئې؟ جبرئیل امین علیه السلام ورته وائي: نا! زهٔ خو وریسې لیږلے شوے یم، نو بیا دَ آسمان دروازه کولاؤ شوه".

نبي ﷺ فرمائي: «فَإِذَا أَنَا بِابْنَيِ الْخَالَةِ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ، وَيَحْيَى بْنِ زَكَرِيَّاءَ، صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِمَا، فَرَحَّبَا وَدَعَوَا لِي بِخَيْرٍ».

"ناڅاپه زهٔ ملګرے شوم چې هغهٔ دوه دَ ماسي زامن بره پهٔ آسمان کښې وو هغوي سره، یو عیسی ابن مریم علیه السلام، او دویم: یحیي بن زکریا علیه السلام، دا دواړه دَ ماسي زامن وو، هغوي ما ته پخیر راغلي اووئیل او هغوي دواړو زما دپاره دَ خیر سؤال اوکړو".

بیا دریم آسمان ته هم دغه طریقې سره تر اووم آسمانه پورې چې: جبرئیل امین علیه السلام وائي: دروازه کولاؤ کړئ؟ تپوس کیږي: چې څوک راغلے دے؟ جبرئیل امین علیه السلام ورته وائي: زهٔ جبرئیل یم، بیا بره نه تپوس کیږي: دا بل ملګرے درسره څوک دے؟ جبرئیل امین علیه السلام ورته اوفرمائیل: چې دا محمد ﷺ دے، بیا تپوس کیږي: بره نه آواز راغلے: چې دے خپله راغلے دے او کهٔ ته وریسې الله لیږلے ئې؟ جبرئیل امین علیه السلام ورته وائي: نا! زهٔ خو وریسې لیږلے شوے یم، نو بیا دَ آسمان دروازه کولاؤ شوه، نو چې دریم آسمان ته اوختلو نو:

«فَإِذَا أَنَا بِيُوسُفَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِذَا هُوَ قَدِ أُعْطِيَ شَطْرَ الْحُسْنِ، فَرَحَّبَ وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ».

"ناڅاپه چې ما اوکتل نو زهٔ دَ یُوسف علیه السلام سره میلاؤ شوم، او یوسف علیه السلام له یو لوئي حسن ورکړے وو، یو لویه حصه دَ حسن الله هغهٔ له ورکړې وه، هغهٔ ما ته پخیر راغلي اووئیلې او زما دپاره ئې دَ خیر دعاء اوکړه".

«ثُمَّ عُرِجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ الرَّابِعَةِ، فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ، قَالَ: وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ، فَفُتِحَ لَنَا».

"بيا څلورم آسمان ته اوختلو او چې څلورم آسمان ته اوختو نو هم دغه طريقه وه جبرئيل امين ﷺ به تپوس کولو: چې دروازه کولاؤ کړئ!، هغوي به وئيل څوک ئې؟ (دا دومره سخته سيکورتي)، بيا بره نه تپوس کيږي: دا بل ملګرے درسره څوک دے؟ جبرئيل امين ﷺ ورته اوفرمائيل: چې دا محمد ﷺ دے، بيا تپوس کيږي: بره نه آواز راغلے: چې دے خپله راغلے دے او که ته ورپسې الله ليږلے ئې؟ جبرئيل امين ﷺ ورته وائي: نا! زۀ خو ورپسې ليږلے شوے يم، نو بيا دَ آسمان دروازه کولاؤ شوه، وائي: کله چې زۀ څلورم آسمان ته اوختم نو: «فَإِذَا أَنَا بِإِدْرِيسَ، فَرَحَّبَ وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ، قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: ﴿وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا﴾».[1]

"نو ناڅاپه زۀ دَ ادريس ﷺ سره ميلاؤ شوم، هغۀ ما ته پخير راغلې اووئيل، زما دپاره ئې دَ خير دعاء اوکړه، الله فرمائي: مونږ پورته کړے دے ادريس ﷺ لره اوچت مقام ته".

دَ دروغو واقعه

بعضې خلقو پۀ دې آيت يَو واقعه مشهوره کړې ده، هغۀ ټول دروغ دي، ﴿وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا﴾.[2] الله وائي: "ما ادريس ﷺ له لوئي مقام ورکړے وو".

بعضې خلق وائي: ادريس ﷺ پۀ جنت کښې ژوندے دے، وائي: دَ جنتيانو جامې ګندي، دا خبره عوامو کښې مشهوره ده، وائي: ادريس ﷺ دَ جبرئيل امين ﷺ سره ډير ښۀ تعلق وو، وائي: يَو ځل جبرئيل امين ﷺ ته وائي: چې ما باندې چرته دَ آسمانونو سيل اوکړه، او دَ جنت سيل راباندې اوکړه!، وائي: جبرئيل امين ﷺ ورته اووئيل: چې دا ډير مزيدار ځائے دے، بيا به ته نۀ راکوزيږې، اول ما سره وعده اوکړه چې راکوزيږم به، نو هغۀ ورسره وعده اوکړم، چې زما درسره وعده ده ته مې دَ ځان سره بوځه، صرف تماشه کوم بيا به راځم، نو چې کله ئې ادريس ﷺ بوتلو، تماشه ئې ورباندې اوکړه، دننه ئې بوتلو، نو ادريس ﷺ خو وعده کړې وه چې زۀ به بهر راوځمه، او جنت هم ډير مزيدار وو، زړۀ ئې ترې هم نۀ کيدو، چې څۀ چل اوکړم؟ وائي: هغۀ ته

(1) أخرجه مسلم في كتاب الإيمان، باب الإسراء برسول الله ﷺ إلى السماوات، وفرض الصلوات، برقم: (162).

(2) [سورة مريم: 57].

وائي: چې راځه چې ځو، نو سوچ ئې اوکړو چې بهر به اوځم او دا پنړۍ به په دې جنت کښې پریږدم، نو چې بهر اوځو، نو زۀ به جبرئيل امين عليه السلام ته وايم: تۀ اودریږه! زما نه دننه پنړۍ پاتې شوي دي، بيا به راشمه، وعده به هم پوره شي؛ ځکه زۀ خو به يَو ځل راوتلے يم، نو بيا به پکښې پاتې شم، وائي: ادريس عليه السلام ته وائي: ځه! چې بهر کيږو، نو ادريس عليه السلام پنړۍ پريښودې، بهر رااوتل، چې لږ مزل ئې اوکړو، ورته وائي: چې تا سره مې وعده کړې وه چې بهر کيږو به رابهر شوم کنه؟ هغۀ ورته وائي: آو، چې لږ مخکښې شول، وائي: زما نه خو پنړۍ پاتې شوي، وائي: جبرئيل امين عليه السلام ورته وائي: چې ورشه پنړۍ راواخله، نو چې دننه لاړو نو بيا نۀ رابهر کيدو، وائي: جبرئيل امين ورته اووئيل: رابهر شه کنه تا چې وعده کړې وه؟ وائي: ما خو خپله وعده يَو ځل پوره کړې ده، زۀ رابهر شوے يم، دا خو زۀ بخپله راغلے يم، تا خو نۀ يم راوستے.

وائي: ادريس عليه السلام په جنت کښې دے؛ ځکه جنت کښې خو بيا مرګ نشته، نو وائي: هغۀ په جنت کښې دے او ژوندے دے، او څلورم آسمان کښې دے، او ادريس عليه السلام چې جنت کښې دے نو هغۀ جنتيانو له جامې ګنډي.

نو دَ هغۀ خو به هډو سر نۀ اوزګاريږي دُ جنتيانو دَ لباس نه؛ ځکه دَ يَو يَو جنتي به څومره جامې وي، او بيا جنتيان څۀ لږ خو نۀ دي، او ادريس عليه السلام يَو دے، بيا خو لږ تيلران نور هم کتل غواړي؟، دازنګې دويم دا: اے ساده خلقو! په جنت کښې دَ سره مشقت نشته، او بل دا چې: جنت کښې خو به هر څۀ تيار ميلاويږي، او بل دا چې: دا جامې ګنډل آسان کار دے څۀ؟ (جامې ګنډل خو ګران کار دے او تکليف دے نو جنت کښې خو به تکليف نۀ وي)، دا هسې دې خلقو دَ ځان نه قيصې مشهورې کړې دي.

الله وائي: ﴿وَرَفَعۡنَٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا﴾،[1] "ما ادريس عليه السلام اوچت کړے وو لوئې مقام ته"، الله وائي: ما ورته لويه مرتبه ورکړې وه، نو دا نورې خبرې دروغ دي، په دې باندې علماؤ ردّ کړے دے: مولانا شبير احمد عثماني رحمه الله په "تفسير عثماني" کښې چې په اُردو ژبه کښې ليکلے شوے، هغۀ په دې ردّ

(1) [سورة مريم: 57].

کړے دے، چې دا دَ دروغ واقعه ده.

نو نبي ﷺ فرمائي: پۀ ځلورم آسمان کښې دَ ادریس علیه السلام سره میلاؤ شوم.

"ثُمَّ عُرِجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ الْخَامِسَةِ".

"بیا مونږه پنځم آسمان ته اوختلو، چې پنځم آسمان ته اوختلو نو دغه طریقه وه: چې تپوسونه به کیدل".

نو چې کله مونږ پنځم آسمان ته اوختو نو:

"فَإِذَا أَنَا بِهَارُونَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَرَحَّبَ، وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ".

"ناڅاپه زۀ دَ هارون علیه السلام سره میلاؤ شوم نو هغۀ ما ته پخیر راغلې اووئیل او زما دپاره ئې دَ خیر دعاء اوکړه".

"ثُمَّ عُرِجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ السَّادِسَةِ".

"نو بیا شپږم آسمان ته اوختلو"، او چې شپږم آسمان ته اوختلو نو:

"فَإِذَا أَنَا بِمُوسَى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَرَحَّبَ وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ".

"نو ناڅاپه زۀ دَ موسٰی علیه السلام سره میلاؤ شوم، نو هغۀ ما ته پخیر راغلې اووئیلې او زما دپاره ئې دعاء دَ خیر اوغوښتله".

وائي: بیا مونږ دَ شپږم آسمان نه اووم آسمان ته اوختلو:

"فَإِذَا أَنَا بِإِبْرَاهِيمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْنِدًا ظَهْرَهُ إِلَى الْبَيْتِ الْمَعْمُورِ".

"ناڅاپه مونږه دَ ابراهیم علیه السلام سره میلاؤ شو، چې ابراهیم علیه السلام دَ بیت المعمور شاه ته ډډه لګولې وه".

بیت المعمور څۀ څیز دې؟

بیت المعمور دَ اووم آسمان دپاسه یَو کعبه ده، دَ الله پاک یَو کور دے، لکه څنګه چې دنیا کښې بیت الله دے، لکه څنګه چې پۀ دنیا کښې پۀ تمامو ځایونو کښې معزّز ځائے پۀ تمامو جوماتونو کښې معزّز جومات هغۀ دَ الله کور "مسجدِ حرام" دے، او خلق ورته دَ کرد ونواح نه راځي، پۀ آسمانونو کښې دَ اووم (۷) آسمان دپاسه دغه یَو کعبه ده، او دغه دَ بیت الله

په شان ځائے دے، چې هغهٔ الله رب العزة د ملائڪو دپاره جوړ کړے دے، هغې کښې ملائک دَ الله عبادت کوي، دغه بیت الـمعمور داسې دے چې روزانه اویا زره (۷۰۰۰) ملائک هغې ته وردننه کیږي او دَ الله عبادت پکښې کوي. او بیا د هغوي نمبر نهٔ راځي، هر وخت دغه ځائے دَ الله په عبادت باندې ډک وي.

ابراهیم علیه السلام دغه بیت الـمعمور ته ډډه لګولې وه، او ناست وو، وائي: چې کله ورغلم نو هغهٔ هم ما ته پخیر راغلې اووئیل او زما دپاره ئې دعاء اوغوښتله.

"ثُمَّ ذَهَبَ بِي إِلَى السِّدْرَةِ الْمُنْتَهَى".

"نو بیا دَ اووم آسمان نه مونږه سدرة الـمنتهٰی ته لاړو".

"سِدْرَةِ المنتهٰی" دَ اوؤ (۷) آسمانونو دپاسه هغهٔ بیره ده: هغهٔ دومره لویه بیره ده، چې منتهٰی ده، معنٰی هغې ته انتهاء کیږي دَ علم دَ مخلوق، نبي ﷺ فرمائي: کله چې ما هغهٔ بیره اوکتله نو:

«وَإِذَا وَرَقُهَا كَآذَانِ الْفِيَلَةِ، وَإِذَا ثَمَرُهَا كَالْقِلَالِ».

"نو ناڅاپه دَ هغې بیرې پاڼړې دومره لوئي لوئي وې لکه دَ هاتیان غوږونه، او دَ هغې میوې او بیرې چې وې نو هغهٔ دَ حجر مقام دَ منګوټو پشان وې، لوئي لوئي بیرې ئې کړې وې چې هغهٔ بیره ئې پټه کړې وه".

قرآنِ کریم کښې آیت دے: ﴿إِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشَى﴾.[1]

"کله چې پټه کړه هغې بیرې لره څهٔ لوئي پټول وو".

په دې آیت باندې علماء کرام ذکر کوي: څهٔ څیز پټه کړه؟ بعضې وائي: چې دغه بیره دَ ملائڪو دَ ډیر والي دَ وجې نه پټه وه، ګیر چاپیره ملائڪې وې، یا علماء کرام ذکر کوي: او حدیث کښې هم راځي: چې دَ هغې بیرې نه ګیر چاپیره دَ سرو زرو ملخان تاویدل نو هغې سره بالکل ټوله بیره پټه وه.

نبي ﷺ سره دَ الله تعالی مناجات

---

(1) [سورة النجم: 16].

نبي ﷺ فرمائي: دغه ځائے کښې الله تعالی ما سره مناجات شروع کړل:
«فَفَرَضَ عَلَيَّ خَمْسِينَ صَلاَةً فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، فَنَزَلْتُ إِلَى مُوسَى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: مَا فَرَضَ رَبُّكَ عَلَى أُمَّتِكَ؟ قُلْتُ: خَمْسِينَ صَلاَةً».

"نو په ما او زما په امت باندې الله پنځوس (۵۰) مونځونه فرض کړل، چې تاسو به روزانه پنځوس (۵۰) مونځونه کوئ، وائي: ما ورته اووئيل: صحيح ده، خو چې زۀ راروان شوم، دَ سيدنا موسٰی الطّیٰلا خواته چې راغلم نو وائي: ما ته موسٰی الطّیٰلا وائي: چې الله درباندې څۀ څيز فرض کړو؟ څۀ حکم ئې درته اوکړو؟ نو ما ورته اووئيل: چې الله وائي: پۀ تا او ستا پۀ امت باندې ما پنځوس (۵۰) مونځونه فرض کړل، روزانه به ئې کوئ".

وائي: موسٰی الطّیٰلا ما ته اووئيل: "ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ يُطِيقُونَ ذَلِكَ، فَإِنِّي قَدْ بَلَوْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَخَبَرْتُهُمْ".(1)

"ورشه! الله تعالی نه سؤال اوکړه چې الله تعالی پۀ دې کښې لږ تخفيف او سپکوالے راولي؛ ځکه ستا امت کورے بيا دَ دې طاقت نشي لرلے، ما ته دَ خپل قوم پته ده، او ما دَ هغوي امتحان اغستلے وو".

پنځوس (۵۰) مونځونه کول ډير ګران کار دے، ستا امت دا نشي کولے، ورشه! الله ته اووايه: چې سپک والے پکښې راشي، ما ته دَ خپل قوم پته ده، دَ بني اسرائيلو ما پۀ هغوي امتحانات کړي وو، بيا ستا قوم دا نشي اداء کولے.

نو نبي ﷺ فرمائي: «فَرَجَعْتُ إِلَى رَبِّي، فَقُلْتُ: يَا رَبِّ، خَفِّفْ عَلَى أُمَّتِي، فَحَطَّ عَنِّي خَمْسًا».(2)

"زۀ خپل ربّ ته واپس شوم او ورته مې اووئيل: اے زما ربه! زما دَ امت نه پۀ دې کښې لږ غوندې سپکوالے راوله، لږ ترې نه کم کړه، نو پنځۀ (۵) مونځونه الله کم کړل".

نو پنځۀ څلويښت (۴۵) شول، بيا راغلم، الله دې پۀ موسٰی الطّیٰلا باندې رحم اوکړي، چې کله

(1) أخرجه مسلم في كتاب الإيمان، باب الإسراء برسول الله ﷺ إلى السماوات، وفرض الصلوات، برقم: (162).

(2) أخرجه مسلم في كتاب الإيمان، باب الإسراء برسول الله ﷺ إلى السماوات، وفرض الصلوات، برقم: (162).

دَ موسٰی علیه السلام خواته راورسیدم نو موسٰی علیه السلام ما ته وائي: چې څنګه چل اوشو؟ نو ما ورته اووئیل: چې پنځۀ ئې راته کم کړل، وائي: ما ته وائي: چې بیا ورشه! نبي ﷺ فرمائي: زۀ بیا لاړم بیا مې الله تعالی ته اووئیل: چې یا الله! پۀ دې کښې تخفیف راوله، وائي: الله دَ هغې نه پنځۀ مونځونه نور هم کم کړل، نو څلویښت (۴۰) پاتې شول، بیا راغلم موسٰی علیه السلام راته وائي: چې بیا ورشه! دا ډیر دي، دا نشي کولے، وائي: زۀ به تلم نو الله به پنځۀ، پنځۀ مونځونه کمول، او چې موسٰی علیه السلام خواته به راغلم نو ما به وئیل: بس دے، نو موسٰی علیه السلام به وئیل: چې شابه ورشه!، دا ډیر ګران کار دے، بیا به موسٰی علیه السلام واپس کړم، هر ځل به الله پنځۀ، پنځۀ کمول تردې پورې چې کله پنځۀ مونځونه پاتې شول نو دَ موسٰی علیه السلام خوا ته راغلم، نو موسٰی علیه السلام ما ته وائي: چې ورشه! او الله ته اووایه: چې پۀ دې کښې درته هم تخفیف راولي، ستا امت دَ دې وس نۀ لري، وائي: ما ورته اووئیل:

«قَدْ رَجَعْتُ إِلَى رَبِّي حَتَّى اسْتَحْيَيْتُ مِنْهُ».

"چې ښا! زۀ بیا بیا دَ الله دربار ته لاړم، او راغلم، نوره ما له دَ الله تعالی نه حیاء راځي چې ورته اووایم: چې دَ دې نه ئې هم راته کم کړه، نور ورته نشم وئیلے".

نو نبي ﷺ وائي: الله ما ته اووئیل:

"يَا مُحَمَّدُ، إِنَّهُنَّ خَمْسُ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، لِكُلِّ صَلَاةٍ عَشْرٌ، فَذَلِكَ خَمْسُونَ صَلَاةً".[1]

"اے پیغمبره! دا پنځۀ مونځونه واخله، ځوک چې دا پنځۀ (۵) مونځونه پابندئ سره کوي نو زۀ به هغۀ ته دَ پنځوستو (۵۰) مونځونو اجر ورکوم".

دَ ګناه اراده

او الله ماته دا هم اوفرمائیل: "وَمَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كُتِبَتْ لَهُ حَسَنَةً، فَإِنْ عَمِلَهَا كُتِبَتْ لَهُ عَشْرًا، وَمَنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا لَمْ تُكْتَبْ شَيْئًا، فَإِنْ عَمِلَهَا كُتِبَتْ سَيِّئَةً وَاحِدَةً".

"او هغۀ ځوک چې دَ نیکئ اراده ئې اوکړه ستا پۀ امت کښې، کۀ نیکي ئې کړې هم نۀ ده خو دَ دۀ دپاره به یَو نیکي میلاؤ شي، او کله چې دوي دَ نیکئ اراده اوکړه او بیا هغۀ کار اوکړي نو

(1) أخرجه مسلم في كتاب الإيمان، باب الإسراء برسول الله ﷺ إلى السماوات، وفرض الصلوات، برقم: (162).

الله به ورته دَ هغې يوې نيکئ بدله يَو پهٔ لس باندې ورکړي او چې کله ستا امت دَ يَو ګناه اراده اوکړه، او ګناه ئې اوکړه نو صرف يَو بدي او يَو ګناه به ورته اوليکم".

قرآنِ کريم کښې الله رب العزة فرمائي: ﴿مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا﴾.(1)

"چا چې يَو نيک عمل اوکړو دَ يَو نيک عمل پهٔ ځائے به ورته يَو پهٔ لس بدلې ورکړم".

نو پنځوَ له چې پهٔ لسو کښې ضرب ورکړې نو پنځوس شول، چې پنځهٔ وخته مونځونه پابندئ سره کوي نو الله تعالى به تا له دَ پنځوستو مونځونو اجر درکوي، نو دَ هغې وخت نه پهٔ دې امت باندې پنځهٔ مونځونه فرض شول.

دا دَ نبي ﷺ دَ معراج واقعه ده، دا بالکل صحيح روايت دَ "صحيح مسلم" دے.

دَ معراج واقعه پهٔ يَو بل روايت سره

پهٔ بعضې رواياتو کښې څهٔ کمے او زياتے شته، څهٔ کمزوري او ضعيف روايات پکښې هم شته، خو پهٔ هغې باندې کلام شته، يَو روايت دے چې پهٔ دې باندې کلام شته، دَ امام بيهقي رحمه الله نه ابن کثير رحمه الله نقل کړے دے: "چې نبي ﷺ فرمائي: چې زهٔ روان اوم، پهٔ براق چې کله کيښناستم، ما ته يَو آواز اوشو، دَ ښي طرف نه ماته آواز اوشو، چې اے محمد! لږ غوندې انتظار اوکړه، دَ يَوې خبرې تپوس درنه کوم، ما جواب نهٔ ورکولو، بيا آواز اوشو: اے محمد! لږ غوندې اِنتظار اوکره تپوس درنه کوم، وائي: ما جواب ورنهٔ کړو، او پهٔ مخه تړې نه لاړم، چې لږ غوندې نور هم مخکښې لاړم نو وائي: بيا يَو زنانه وه، ماته مخې له راغله، چې مَتې ئې وهلې وې، نهايته حسينه وه، نهايته خائسته وه، ما ته مخې له راغله، وائي: چې:

"يَا مُحَمَّدُ! انْظُرْنِي أَسْأَلْكَ".(2)

"اے محمد! لږ غوندې انتظار ماته اوکړه: زهٔ ستا نه دَ يَوې خبرې تپوس کوم".

وائي: هغې ته هم اونهٔ دريدم او پهٔ مخه تړې نه لاړم.

---

(1) [سورة الأنعام: 160].

(2) أخرجه البيهقي في "دلائل النبوة"، برقم: (390/2).

کله چې بیت المقدس ته اورسیدم، نو چې دوه (۲) رکعته مونځ مې اوکړو، بیا جبرئیل امین ﷺ ما ته دوه (۲) لوښي زاوړل، یَو لوښے دَ پیو وو، او بل لوښے دَ شرابو وو. وائي: ما ته ئې اووئیل: چې دَ دې نه اوڅښکه، وائي: دَ هغې نه دَ پیو هغۀ لوښي نه ما اوڅښکل او دَ شرابو هغه لوښے مې پریخودو. وائي: چې کله مې دَ شرابو لوښے پریخودو نو جبرئیل امین ﷺ ما ته وائي: کۀ چرته تا شراب څښکلے وے نو ستا ټول امتیان به شرابیان وے، خو چونکه تا پۀ اوڅښکل نو ټهیک ده چې بعضې خلق به شراب څښکي خو ټول به شرابیان نۀ وي.

نبي ﷺ وائي: بیا ماته جبرئیل امین ﷺ اووئیل: چې لا ر کښې خو تا ته څۀ شے مخې ته نۀ دے راغلے؟ ما ورته اووئیل: چې آو! لا ر کښې ماته آوازونه اوشول، دَ ښي طرف نه آواز اوشو چې تپوس کوم لږ اودریږه، نو ما جواب ورنۀ کړو، کَڅ طرف نه آواز اُوشو ما جواب ورنۀ کړو، یَو حسینه او خائسته زنانه ما ته مخې له راغله، دَ کالو نه ډکه وه، ما له ئې آواز راکړو، لیکن ما هغې له جواب ورنۀ کړو، وائي: ما ته جبرئیل امین ﷺ اووئیل: دا دَ ښي طرف نه چې تا ته آواز شوے وو نو دا یهودیت وو، کۀ چرې تۀ اودریدلے وې او تا دَ هغې خبرو له غوږ کیخودلے وو نو ستا امت به یهودیان شوي وے، خو ښۀ ده چې نۀ ئې اودریدلے، او دا کَڅ طرف نه ئې چې تاله آواز درکړو دا نصرانیت وو، دا نصارٰی وو، کۀ چرې تۀ اودریدلے وې، او دَ دې خبرې دې اوریدلے وے او دَ دې سره دې سؤال جواب کړے وے نو ستا امت به ټول نصارٰی شوے وے، او دا حسینه او جمیله زنانه چې مَتې ئې وهلې وې، ځان ئې سمبال کړے وو، تا ته ئې چې آواز کولو: چې اودریږه، نو دا دنیا وه، کۀ چرې تا دَ دې خبره منلے وے، نو ستا دَ امت ټول خلق به دنیا پسې شوي وے، نو دا دنیا وه؛ ځکه دنیا ټوله دهوکه دهوکه ده، الله فرمائي:

﴿وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ﴾.[1]

"نۀ دے ژوند دَ دنیا مګر څښکه دَ دهوکې ده".

یَو څو ورځې ژوند دے، یَو څو ورځې مزه ده، بیا به هیڅ هم نشته، لکه دَ ناوې پشان چې

(1) [سورة آل عمران: 185].

يَو ځو ورځې خائسته وي بيا هيڅ هم نهٔ وي، دغسې دنيا ده تا ته به ډير حسين شکل ښکاري، خو چې تهٔ پرې دهوکه شوې نو بيا هيڅ هم نشته، نو کهٔ چرې تهٔ دې خائسته زنانه طرف ته اودريدلے وے ميلان دې کړے وے دَ هغې سؤال جواب دې اوريدلے وے ستا امت به ټول پهٔ دنيا کښې مبتلاء وے. دا روايت امام بيهقي پهٔ "دلائل النبوة" کښې ذکر کړے دے، او دَ امام بيهقي رحمه الله نه بيا ابن کثير رحمه الله نقل کړے دے پخپل تفسير "تفسير ابن کثير" کښې.

بيا نبي ﷺ فرمائي: چې دَ هغې ځائے نه مونږ روان شو، نو بره آسمانونو ته مونږه اورسيدو، ړومبي آسمان کښې چې ما اوکتل نو سيّدنا آدم عليه السلام زما سره ميلاؤ شو، چې آدم عليه السلام ميلاؤ شو نو چې ما اوکتل دَ هغهٔ ښي طرف ته هم دَ خپل اولاد روحونه دي او ګڅ طرف ته هم دَ اولاد روحونه وو؛ ځکه دا انسانان ټول دَ هغهٔ اولاد دے، نو چې کله به آدم عليه السلام ښي طرف ته اوکتل نو ډير خوشحاله به شو، وائي: دا ښهٔ روحونه دي، او عليين ته اورسَوئ، هغې ځائے ته ئې اورَسوئ کوم ځائے کښې چې دَ ښيکانو خلقو روحونه دي، او کله چې به ئې ګڅ طرف ته اوکتل وائي: دا پليت او خبيث روحونه دي، دا سِجِّين ته، دَ الله جيل ته اورَسوئ، کوم ځائے کښې چې دَ بدکاره خلقو روحونه جمع کيږي، هلته ئې بوځئ، وائي: ما تپوس اوکړو: چې دا څوک دے؟ وائي: ماته وائي: چې دا آدم عليه السلام دے، او دا ښي طرف ته روحونه دَ نيکانو مومنانو دي، او دا ګڅ طرف ته روحونه دَ فاجرانو بدکاره خلقو دي، دَ ګنانګارو خلقو روحونه دي، وائي: آدم عليه السلام زما دپاره دعاء اوغوښتله او ما ته ئې پخير راغلې اووئيل.

نو دَ هغې ځائے نه لږ غوندې نور مخکښې شو، يَو درستخوان لګيدلے دے، يَو درستخوان پروت دے، چې پهٔ هغې باندې غوښې غوړيدلي دي، يَو درستخوان چې پهٔ هغې باندې مزيداره غوښه پرته ده، هيڅ څوک ئې هم خوا له هم نهٔ راځي، او هيڅ څوک ئې هم نهٔ خوري، او بل طرف ته يَو درستخوان دے چې هغهٔ دَ بدبويه او ګنده غوښو ډک دے، دا خلق راځي او دَ هغې نه خوري، پهٔ هغې ګنده غوښه باندې اخښتي دي، وائي: ما تپوس اوکړو: "يَا جِبْرِيلَ مَنْ هَؤُلَاءِ؟".[1]

---

(1) أخرجه البيهقي في "دلائل النبوة"، برقم: (390/2).

"اے جبرئيل امين ﷺ! دا څوک دي؟".

وائي: جبرئيل امين ﷺ ما ته وائي: چې دا تا ته کوم کسان ښکاري چې په دې مرداره باندې ارم دي، خوري ئې نو دا ستا په امت کښې هغهٔ خلق دي: چې حلال نهٔ خوري او حرام خوري، چې حلالو ته خوا ته نهٔ ورځي، او حرامو پسې منډې وهي، دا ستا دَ امت هغهٔ خلق دے.

نبي ﷺ فرمائي: چې دَ هغهٔ ځائے نه لږ مخکښې شو، نو داسې خلق ماته مخې ته راغلل چې دَ هغوي دومره لوئي لوئي خيټې وې، لکه دَ غټو کوټو هومره، نبي ﷺ فرمائي: چې کله به يو کس راپاسيدو نو چرته به پاسيدلے شو بيا به رااوغورځيدو، نو بيا به ئې په زوروڼو باندې ځان نيغ کړو، نو بيا به اوغورځيدو، وائي: ما تپوس اوکړو: چې "يَا جِبْرِيلُ مَنْ هَؤُلَاءِ؟".[1]

"جبرئيل امين ﷺ! دا څوک دي؟ چې په دې دومره لوئي عذاب کښې مبتلاء دي".

وائي: جبرئيل ﷺ ماته اووئيل: دا ستا دَ امت هغهٔ کسان دي چې دوي په دنيا کښې سود خوړو.

دَسود خور سزا

قرآنِ کريم کښې الله فرمائي:

﴿الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ﴾.[2]

"کوم کسان چې دنيا کښې دَ سود مال خوري، نو چې کله دَ قيامت ورځ شي نو دَ قيامت په ميدان کښې به دوي داسې پاسيږي لکه څنګه چې يَو سړي باندې پيريان وي، نهٔ به پاسيږي دوي دَ خپلو قبرونو نه مګر داسې به پاسيږي چې هغې سړي باندې ليونتوب او پيريان راغلي دي".

لکه څنګه چې يَو سړي باندې پيريان وي، او هغهٔ پاسي نو کله يَو طرف ته درز خوري، کله بل طرف ته درز خوري، بے اختياره درزونه خوري، دَ ځان دَ حال نه خبر نهٔ دے، الله وائي: سود کونکي خلق دَ قيامت په ورځ به دَ هغوي داسې حال وي لکه څنګه چې دَ پيرياني سړي حالت وي.

نو جبرئيل امين ﷺ وائي: دا هغهٔ سود کونکي خلق وو، چې خيټې به ئې دومره لوئي

(1) أخرجه البيهقي في "دلائل النبوة"، برقم: (390/2).

(2) [سورة البقرة: 275].

سوزېږي لکه څومره چې کوټې وي، دَ دغې حالت نه دې الله تعالى مونږه او تاسو پهٔ آمان کړي (امين)، د دې حالت نه به پهٔ آمان کيږې خو کهٔ سود پرېږدې، او کهٔ کوي سود او وائي: چې آمين' نو دا هسې خبره ده.

بيا نبي ﷺ فرمائي: لږ غوندې دَ هغې ځائے نه اخوا لاړو، چې کله اخوا لاړو نو يَو قوم ته راغلو چې دَ هغوي دومره غټې شوندې وې لکه دَ اوښانو پشان غټې غټې شوندې ئې وې، نبي ﷺ فرمائي: دَ هغوي خُلهٔ به کولاؤ کړے شوه او يَو غټه کټه (حجر) به دَ دوي پهٔ خُلو کښې ورا وغورځولے شوه، او لاندې به ترې نه اووته، دا دَ هغوي سزا وه، ما تپوس اوکړو:

"يَا جِبْرِيلَ مَنْ هَؤُلَاءِ؟".[1]

"چې اے جبرئيل! دا څوک دي؟ چې دوي ته پهٔ دې دومره غټې کټې سره سزا ورکولے شي؟".

وائي: ماته جبرئيل امين عليه السلام اووئيل:

"هَؤُلَاءِ مِنْ أُمَّتِكَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا...".

"دا ستا دَ امت هغهٔ کسان دي چې هغوي دَ يتيمانانو مال پهٔ دنيا کښې خوړلو".

قرآنِ کريم کښې الله تعالى فرمائي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا﴾.[2]

"يقينًا هغهٔ کسان چې هغوي دَ يتيمانانو مال خوري پهٔ ظلم او زياتي باندې پهٔ دهوکه باندې ئې خوري، يقينًا دوي پخپلو خيټو کښې اُور اچوي زر دے چې دننه به شي لمبې وهونکي جهنم ته".

نو نبي ﷺ فرمائي: "ما يَو سړے اوليدو، چې پهٔ خيټه کښې ئې دننه اُور بليدو، او دَ اُور هغهٔ لمبې دَ هغهٔ دَ خُلې نه دَ هغهٔ دَ سترګو نه راوتلې، ما تپوس اوکړو: دا څوک دي؟ ما ته اووئيلے شو: چې دوي به دَ يتيم مال خوړو".

بيا نبي ﷺ فرمائي: "چې لږ دَ هغې ځائے نه مخکښې لاړو، ناڅاپه چې ما اوکتل نو څهٔ زنانه دي

(1) أخرجه البيهقي في "دلائل النبوة"، برقم: (390/2).

(2) [سورة النساء: 10].

چې هغوي دَ خپلو سينو نه رازوَړندې شوي دي، او عذاب ورله ورکولے شي، ما تپوس اوکړو: چې اے جبرئيل! دې زنانؤ له دا سزا ولې ورکولے شي؟ دوي ولې دَ سينو نه زوَندې دي؟ وائي: جبرئيل امين علیه السلام ماته اووئيل: چې دا ستا پۀ امت کښې هغۀ زنانه دي چې دَ دوي کار زِناء وه، دوي به دنيا کښې زناکانې کولې، نو دوي نن دَ خپلو سينو نه رازوَړندې دي، پۀ دې عذاب کښې پرتې دي.

بل حديث کښې راځي: چې نبي ﷺ فرمائي: زۀ پۀ يَو تنّور باندې راغلم، دَ تنور پۀ شکل باندې يَو ځائے جوړ وو، چې ښکته نه کولاؤ وو، او بره نه ئې خُلۀ تنګه وه، نبي ﷺ فرمائي: چې پۀ هغې کښې اُور بليدو، پۀ هغې کښې نارينه او زنانه ګډوډ پراتۀ وو، هغوي دَ جهنم پۀ هغې اُور کښې سوزيدل، دومره تيز اُور بليدو چې هغې اُور به دَ ځان سره دوي رااوچت کړل، او دې خلقو به چغې وهلې او فريادونه به ئې کول، وائي: ما تپوس اوکړو: چې دې خلقو له دا عذاب ولې ميلاويږي؟ وائي: جبرئيل امين علیه السلام راته وائي: چې دا ستا پۀ امت کښې هغۀ نارينه او زنانه دي چې دوي به پۀ دنيا کښې زناکانې کړې وې، نن دَ هغوي دا سزا ده.

دنيا کښې ئې دَ يَو بل نه پرده نۀ وه کړې دَ يَو بل نه ئې حياء نۀ وه کړې، دَ الله تعالى نه ئې يره نۀ وه کړې؛ ځکه الله تعالى دَ جهنم اُور کښې ګډوډ غورځولي دي، او ګډوډ دَ جهنم اُور کښې پراتۀ دي، دا ئې سزا ده، نبي ﷺ فرمائي: ما چې کله اوکتل نو دَ سينو نه رازوَړندې وې، وائي: ما اووئيل: چې دا ولې؟ وائي: دا زناء کارې زنانه وې.

نبي ﷺ وائي: چې دَ هغې نه لږ مخکښې لاړم چې ما اوکتل نو ناڅاپه څۀ کسان دي چې دَ هغوي دَ اړخونو نه غوښې لرې کولے شي، او هغوي دپاره واپس نوړئ کولے شي او هغوي ته پۀ خُلۀ کښې ورکولے شي: چې دا خوره!، پۀ دې عذاب کښې مبتلاء دي، او ورته وئيلے شي: چې دا غوښې داسې اوخوره لکه څنګه دې چې پۀ دنيا کښې دَ مُسلمان ورور غوَښې خوَړې، نبي ﷺ فرمائي: ما تپوس اوکړو: چې دا څوک دي؟ چې پۀ دې عذاب کښې مبتلاء دي، وائي: ماته جبرئيل امين علیه السلام اووئيل: چې دا ستا پۀ امت کښې هغۀ چغلي کونکي خلق دي، چې هغوي به دَ مسلمانانو چغلي کوله، او دا هغۀ خلق دي چې پۀ خلقو باندې به ئې بدنامې لګولې، او دا هغۀ

کسان دي: چې دَ مسلمانانو غیبتونه ئې کول؛ ځکه دَ مسلمان ورور غیبت کول دومره لوَیه ګناه ده لکه دَ مسلمان غوښې خوړل، مونږه او تاسو خو پرې ګپ ګرموو، او بعضې خلق وائي: دا خبره کوم خو الله دې غیبت کښې نۀ راولي، کوي غیبت او الله دې غیبت کښې نۀ راولي عجیبه سړے ئې، چې تۀ غیبت کوې نو ځنګه به دې پکښې نۀ راولي؟ او بعضې جاهلان وائي: دا به درته زۀ دَ هغۀ مخکښې هم اووایم، مقصد ئې دا وي: چې دا صفت پکښې شته دے، غیبت خو وائي دیته: چې سړي کښې نقصان موجود وي، او تۀ دَ هغې بد وائي، نو هغې ته غیبت وائي، کۀ ورته وائي: چې غیبت مۀ کوه، وائي: دَ څۀ غیبت؟ زۀ به ئې درته دَ هغه پۀ مخکښې هم اووایم، نو هم دغې ته غیبت وائي، او کۀ یو نقصان پکښې نشته، او تۀ وائي: چې دے داسې دے، نو هغه خو بهتان دے، هغۀ خو دَ غیبت نه لویه ګناه ده، غیبت دیته وائي: چې مسلمان کښې یو نقصان موجود دے او تۀ خلقو ته وائي.

جائز غیبت

هاں! ناکاره بادشاه دے دَ هغۀ غیبت اوکړه، بدعتي سړے دے چې دَ هغۀ نه بدعات خوریږي دَ هغۀ غیبت اوکړه، یو داسې سړے دے چې دَ هغۀ نه نور خلق خرابیږي دَ هغۀ غیبت اوکړه، پاتې شو عام خلق دَ هغوي غیبت کول ناروا دے.

نبي ﷺ فرمائي: "چا چې پۀ مسلمان باندې یو پرده واچوله الله به پۀ هغۀ باندې اویا (۷۰) پردې واچوي، او چې دَ یو مسلمان حاجت دې پوره کړو، الله به ستا اویا (۷۰) حاجتونه پوره کړي"، مونږ وایُو: زمونږ هغۀ دې نۀ پوره کیږي، خو دَ بل سره امداد نۀ کوو، مونږ وایُو: الله دې زمونږ نه شل (۲۰) کرته پرده اوچته کړي خو چې بل مسلمان بے عزته کړو، چې تۀ دَ بل بے عزتي خوښوې، الله به تا بے عزته کوي، او چې دَ بل عزت کوې نو الله به تا ته عزت درکوي.

نو جبرئیل امین علیه السلام نبي ﷺ ته فرمائي: دا هغۀ خلق دي ستا پۀ امت کښې چې دوي به دنیا کښې دَ خلقو غیبتونه کول، پۀ خلقو به ئې الزامونه لګول، پۀ خلقو باندې به ئې بدنامي لګولې؛ دَ معراج دَ واقعې یو څو حالات ما ستاسو مخکښې ذکر کړل، پۀ دې ... ډیر اوږد بحث دے؛ ځکه

بعضې خلق دَ معراج نه انکار کوي، دَ هغوي جوابونه دَ وخت دَ کمي دَ وجې نه پاتې شول. بعضې خلق وائي: نبي ﷺ پهٔ خوب کښې تلے وو، څوک وائي: صرف روح ئې تلے وو، ما درته صرف دومره اووئيل: چې نبي ﷺ پهٔ ويخه باندې تلے وو، او روح ئې هم تلے وو، دا معجزه وه دَ نبي ﷺ: چې دَ شپې پهٔ لږه غونډې حصه کښې الله تعالى دَ مسجدِ حرام نه روان کړو تر مسجدِ اقصٰى پورې لاړو، بيا دَ مسجدِ اقصٰى نه ئې روان کړو بره دَ آسمانونو سيل ئې ورباندې اوکړو، او چې راغلے نو بيا هم لا شپه پاتې وه، چې دا مزل پهٔ کال کښې هم نهٔ ختميږي، او چې راغلے نو بيا هم شپه پاتې وه، تردې پورې چې نبي ﷺ دَ کومې بسترې نه پاسيدلے وو، هغهٔ هم له يخه شوې نهٔ وه، هغهٔ حرارت پکښې هغهٔ شان وو، امِّ هانئ فرمائي: دَ ماسخوتن مونځ ئې مونږ سره اوکړو، مونږه اودهٔ شو، او پيغمبر ﷺ هم اودهٔ شو، چې سحر شو، نبي ﷺ مونږ هم مونځ له پاسَولو، او پخپله هم پاسيدو، بيا راغلے وو، او پخپل کټ کښې اودهٔ وو، دا معجزه وه دَ رسول الله ﷺ او دَ دې بيان الله سورة بني اسرائيل کښې کوي، الله رب العزة دې مونږ او تاسو له دَ صحيح عمل کولو توفيق رانصيب کړي (آمين!).

وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا

(سورة الأحزاب: 21)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه نوؤلسمه

"پهٔ مدينه منوّره كښې دَ اسلام ابتداء "

بتاريخ: 2022-07-15

مقام: جلسئ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

سیرة النبي ﷺ حصه نوؤلسمه

"په مدینه منوّره کښې دَ اسلام ابتداء "

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا﴾.(1)

حاضرینو عزتمندو مسلمانانو رونړوا دَ رسول الله ﷺ سیرتِ مبارکه شروع وو، دَ سیرت څهٔ حصه مخکښې بیان شوې وه، دَ نبي ﷺ دَ پیدائش نه واخلې دَ نبوّت تر لسم کال پورې، دَ هغې څهٔ مختصر نقشه ذکر شوې وه.

په مدینه منوّره کښې دَ اسلام ابتداء

نننې بیان کښې دَ نبي ﷺ دَ یوؤلسم، دولسم او دیارلسم کال سیرت بیانوؤ. په دې کلونو کښې غټ کار دا شوے وو: چې مدینې منوّرې ته اسلام راورسیدو. تاسو ته دا هم واضحه کوؤ: چې نن خو مدینه منوّره دَ صحابو ﷺ او دَ دینداره خلقو یو مرکز دے، او ښخوا وو. ابتداءً دې مدینې ته اسلام څنګه راورسیدو؟ په څهٔ طریقه راورسیدو؟ نبي ﷺ خو مکه کښې وو او دَ مکې کافر خو دَ نبي ﷺ سخت خلاف وو. په مدینه منوّره کښې دوه ډلې وې، دا دَ دغه ځائې خلق وو، او دا ډیرې

(1) [سورة الأحزاب: 21].

لوئي قبيلې وې په مدينه منوّره کښې، لوئي خاندانونه وو. يَو ته به ئې اوس وئيلو او دويم ته به ئې خزرج وئيلو. اوس او خزرج دواړه دَ يَو بل ډير سخت دشمنان هم وو او کافر هم وو، او دوي بت پرست هم وو، مشرکان وو، اهلِ کتاب نهٔ وو.

پهٔ دې مدينه کښې يهوديان هم اوسيدل، او هغوي هم دوه ډلې وې: (۱) يَو: بنو نضير، او (۲) بله: بنو قريظه. دا يهوديان چې وو نو دوي لږ وو خپله کښې ئې يَواځې زندګي نهٔ شوه تيرولے، اکثر څوک پښتنې دَ اوس سره ملګري وو او څوک پښتنې دَ خزرج سره ملګري وو. دَ هغوي پهٔ ملګرتيا کښې به ئې ژوند تيريدو. نو دَ اوس او دَ خزرج پهٔ مينځ کښې دشمني هم وه نو کله به دَ يهودو هم دَ اوس او دَ خزرج سره اختلاف راغے؛ ځکه چې کله يَو ځائے کښې څوک پاتې کيږي نو خامخا اختلاف راځي. نو اوس او خزرج خو ډيرې غټې ډلې وې او دا يهود خو لږ غوندې خلق وو، نو دوي کله دَ هغوي مقابله کولے شوه. نو دې يهوديانو به اوس او خزرج ته وئيل (چې دا کافر وو): چې زمونږه پهٔ کتاب کښې ئې ليکلي دي: چې آخري نبي به راځي، او دَ هغهٔ وخت نزدې شوے دے، نو کله چې دغهِ نبي راشي مونږه ټول به دَ هغهٔ ملګري کيږو او پهٔ هغهٔ باندې به ايمان راوړو، او ستاسو مشرکانو او دَ دې کافرانو سره به جنګيږو او تاسو بيا کله هم پهٔ مونږه باندې زورَور کيدے نهٔ شئ. دَ دې اهلِ کتابو دا خبره دَ دې کافرانو (اوس او خزرج) پهٔ دماغو کښې پرته وه، خو هغه وخت کښې ئې خو منله نهٔ.

دَ خزرج دَ قبيلې څهٔ خلق حج ته تلل

چونکه دا حج دَ نبي ﷺ دَ بعثت نه مخکښې هم وو، دَا دَ ابراهيم عليه السلام دَ زماني نه شروع وو، بلکه دَ هغې نه هم مخکښې شروع وو. نو دَ حج موسم چې راغے نو دَ حزرج دَ قبيلې څهٔ خلق حج ته بيت الله ته، مکې مکرّمې ته لاړل. دا تقريبًا دَ نبوّت يَوؤلسم کال وو، هجرت خو لا شوے نهٔ دے، دَ نبوّت خبره ځکه کوؤ. نو دوي چې لاړل او نبي ﷺ ئې اوليدو نو دَ دوي پهٔ زړهٔ کښې هغه خبره راغله، چې يهوديانو به مونږ ته دا خبره کوله چې آخرنے پيغمبر به راځي او دَ هغهٔ وخت را نزدې دے او مونږه به هغهٔ سره ملګري کيږو، او مونږ به پرې ايمان راوړو او بيا به تاسو سره

جنګیږو. دوي چې نبي ﷺ اولیدو نو ډارک پوهه شول چې زمونږ په خیال هغه نبي دا دے. نو دا خزرج قبیلې والا راغلل او نبي ﷺ سره ئې ملاقات اوکړو. نبي ﷺ ورته دَ ایمان دعوت ورکړو، قرآن ئې ورته اولوستو نو دوي په خپل مینځ کښې مشوره اوکړه چې هغه پیغمبر خو دا دے خو هسې نهٔ چې دا یهود راشي او هغوي پرې زمونږ نه مخکښې ایمان راوړي نو راځئ! دَ دې یهودو نه پرې مونږه مخکښې ایمان راوړو نو دا یهود به را ته بیا نهٔ شي تینګیدے.

دَ خزرج دَ خلقو ایمان راوړل

نو نبي ﷺ چې دعوت ورکړو نو هغې خبرو په دوي باندې اثر اوکړو او دوي نبي ﷺ ته اوونیل: چې مونږ ته کلمه اووایه، مونږ درباندې ایمان راوړو او ستا ملګري کیږو، دا شپږ (٦) کسان حج ته راغلي وو: (١) اسْعد بن زراره، (٢) عوف بن الحارث، (٣) رافع بن مالک بن عجلان، (٤) قطبه بن عامر، (٥) عقبه بن عامر، او (٦) جابر بن عبد الله بن رئاب ﷺ. دا هغه مشهور جابر ﷺ نهٔ دے بلکه دا بل دے دَ مدینې دے. دا شپږ (٦) صحابه ﷺ اولني هغه خلق وو چې دَ مدینې منورې نه مکې ته حج له راغلي وو، او هلته ورته الله ایمان نصیب کړے وو، دوي چې مدینې منورې ته لاړل نو هلته به دَ خلقو سره کیښناستل او دَ نبي ﷺ صفتونه به ئې خلقو ته کول، چې داسې انسان وو، یره! ما لیدلے وو، ډیر قیمتي سړے وو، ډیر غوره انسان وو، ډیر خوش اخلاقه وو. نو دا مذاکره هم په خلقو کښې پوره اثر کوي. نو دَ نورو کسانو په زړهٔ کښې دَ ایمان او دَ نبي ﷺ محبت الله پیدا کولو، نو دولسم کال دَ نبوّت باندې چې کله دَ حج موسم راغے نو دغه کسان هم راغلل، په دې کښې دا یَو (جابر بن عبد الله بن رئاب ﷺ) کس نهٔ وو شریک شوے. او پنځهٔ هغه زاړهٔ مسلمانان شول او ځان سره ئې اووهٔ (٧) کسان نور هم راوستل، نو دولسو (١٢) له تعداد اورسیدو. نو په هغه نورو ملګرو کښې: (١) یَو: "معاذ بن حارث" دا دَ عوف بن حارث ﷺ رور وو، (٢) ذکوان بن عبدِ قیس، (٣) عباده بن صامت، (٤) یزید بن ثعلبه، (٥) عباس بن عباده بن نضله، (٦) ابو الهیثم مالک بن تیهان، او (٧) عویم بن ساعده ﷺ دا ملګري ئې دَ ځان سره راوستل. او نبي ﷺ ته وائي: چې دوي ته کلمه اووایه، مِنٰی کښې نبي ﷺ دَ عقبه سره په خوا کښې ئې دوي کیښنول، او دَ دوي نه ئې بیعت واغستو چې دَ

يَو الله توحيد به منئ، دَ الله سره به شريک نهٔ جوړوئ، غلا به نهٔ کوئ، زِنا به نهٔ کوئ، اولاد به نهٔ وژنئ، قتل به نهٔ کوئ، پهٔ يَو بل به بدنامي نهٔ لګوئ... دا بيعتونه ئې ترې واغستل او دا کسان مسلمانان شول. چونکه اول شپږ وو اوس دولس (۱۲) کسان شول.[1]

مصعب بن عمير او عبد الله بن ام مکتوم ﷺ دَ دعوت دپاره ليږل

نبي ﷺ اوفرمائيل: چې دوي خو ايله راغلل، ما ورته کلمه اوونيله او ايمان ئې راوړو، اوس دوي له تعليم ورکول غواړي نو دوي خو لاړل، کال بعد به بيا راځي نو دوي له داسې يَو کس پکار دے چې دوي سره هلته کښې لاړ شي او دوي له هلته کښې درس کوي او دوي ته دين ښائي. نو نبي ﷺ دَ هغوي سره دوه صحابه کرام ﷺ اوليږل: يَو (۱) عبد الله ابن ام مکتوم ﷺ دے، خو دے خو پهٔ سترګو ړوند وو نو معذوره وو. (۲) بل ئې ورسره مصعب بن عمير ﷺ اوليږلو. دوي دواړو ته ئې اوونيل: چې تاسو به لاړ شئ او دوي ته به هلته کښې دَ قرآن تعليم ورکوئ، قرآن به ورته ښايئ. اوس کله چې دوي دواړه لاړل، نو مدينه خو پردے ځائے وو، دَ دوي پکښې څهٔ نهٔ وو، او دوي غريبانان هم نوي نوي مسلمانان شوي وو، دومره تصرُّف او دومره اختيار ئې هم نشته، خو اسعد بن زراره ﷺ دَ ملګرو سره مشوره اوکړه: وائي: زما دا کور ښهٔ دے، او زما پهٔ کور کښې به را جمع کيږو او مصعب بن عمير ﷺ به مونږ ته قرآن وائي. (اللّٰهُ اکبر!!! څهٔ عجيبه منظر به وو!!!).

مصعب بن عمير ﷺ هغوي ته دَ قرآن درس شروع کړو. قرآن ډير انقلابي کتاب دے، او دَ اسلام دعوت به ئې ورکولو، او چونکه ابتدائي دور وو نو مونځ به ئې هم ورله پهٔ هغه کور کښې جَمعې سره ورکولو. دوي به راتلل او بيا به دَ هغه ځائے نه تلل، مصعب بن عمير ﷺ ئې استاذ هم وو او امام ئې هم شو.

دَ أسَيد بن حضير ﷺ دَ مصعب بن عمير ﷺ خوا ته راتلل

يَوه ورځ مصعب بن عمير ﷺ دوي ته دَ اسلام دعوت ورکوي، دَ قرآن درس کوي، خلق

(1) انظر: "سيرة المصطفى": (304/1).

راجمع دي، پهٔ دې کښې دَ مدينې يَو سردار دے "اسيد بن حضير ﷺ" (دَ دې ټولو سره مونږ ځکه رضِيَ اللهُ عَنْهُ وايُو؛ چې دې ټولو ته بيا الله رب العزة ايمان نصيب کړے وو). نو دا أُسيد بن حضير لا دغه وخته پورې پهٔ هغوي کښې مسلمان شوے نهٔ وو، وائي: مړه! دَ دې مکّې نه يَو سړے راغلے دے، څهٔ ليونے غوندې دے، ټول خلق ئې ګمراه کړل، نوې نوې مسئلې ئې ورته شروع کړي دي. توره ئې راواغسته او وائي: نن به ترې دا مدينه خالي کړمه. را روان شو چې راغے مصعب بن عمير ﷺ دَ قرآن درس کوي، خلقو ته دَ اسلام تعليم ورکوي، او دے ورته اودريدو او مصعب بن عمير ﷺ ته وائي: تهٔ دَ مکّې نه راغلے ئې، دلته زمونږه پهٔ مدينه کښې زمونږه خلقو ته دين بيانوې، ولې مونږه درته بے دينه ښکارو؟ مونږه درته کافران ښکارو؟ زمونږه زنانه دې بے دينه کړې، زمونږه ماشومان دې بے دينه کړل، تهٔ دلته لګيا ئې؟ يا څه ګنې سر درنه کټ کوم، پاسه شابه! څه. مصعب بن عمير ﷺ ورته وائي: زما يَو خبره واوره! بيا چې تهٔ هر څهٔ کوې نو اوکړه، دے ورته وائي: اووايه! تهٔ څهٔ وائې؟ وائي: زهٔ خو هسې هم ميلمه يم خو صرف دومره وايم: چې تهٔ کينښنه! زهٔ چې دا کومه خبره کوم نو دا واوره! کهٔ دې خوښه وه نو اوئې منه او کهٔ دې نهٔ وه خوښه نو مهٔ ئې منه، خو تهٔ ئې خو واوره کنه!، تا پهٔ خپله اوريدلې نهٔ ده او دَ بل چا نه دې خبره اوريدلې ده او ما پسې را روان ئې؟ نو زما خبره واوره! کهٔ دې خوښه نهٔ شوه نو مهٔ ئې منه، او بيا به زهٔ لا ړ شم چې تهٔ وائې: چې ځه!. اسيد بن حضير ورته وائي: دا دې هم ښهٔ خبره اوکړه، څه! شابه! تهٔ لګيا شه او زهٔ درته غوږ کيږدم. مصعب بن عمير ﷺ دَ اسلام دعوت شروع کړو، او دَ قرآنِ عظيم تلاوت ئې دې ملګرو ته شروع کړو.

اسيد بن حضير ﷺ توره راغستې ده او پهٔ دې خيال راغلے دے چې دے به وژنم، هغهٔ چې کله قرآن واوريدو نو قرآن خو يَو ډير نا آشنا کلام دے، بے اختياره ئې پهٔ خُلهٔ دا ټکے راغے:

"مَا أَحْسَنَ هَذَا الْكَلَامَ وَأَجْمَلَهُ!".[1]

"ښومره ښائسته کلام دے!"، دومره ښائسته کلام خو ما چرته نهٔ دے اوريدلے، دومره

(1) انظر: "سيرة ابن هشام": (436/1).

مزیدار کلام دَ دې نه مخکښې ما چرته اوریدلے نۀ دے، اے مصعبه! داسې بهترین دین تۀ بیانوې چې دا دین مخکښې ما چرته نۀ دے اوریدلے، زۀ هم غوارم، چې پۀ دې دین کښې داخل شم نو ما ته چل اوښایه چې زه به پۀ دې دین کښې څنګه شاملیږم؟ مصعب بن عمیر ﷺ ورته وائي: غسل اوکړه، کپړې واغونده، خوشبوئي اولګوه او واپس راشه!. دے لاړو غسل ئې اوکړل، کپړې ئې بدلې کړې خوشبوئي ئې اولګوله، واپس راغے مصعب ﷺ ورته اول کلمه دَ شهادت وائي چې وایه:

"أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ".[1]

کلمه ئې ورته اووئیله او بیا ئې ورته دَ مونځ طریقه اوښودله، چې پۀ دې طریقه باندې به مونځ کوې، هغه خو عربي وو، الفاظ ئې ډیر زر یاد شول، او ورته وائي: صبا نه به راځې او مونږ سره به مونځ کښې شریکیږې، أُسید بن حضیر ﷺ ایمان راوړو، مسلمان شو، او دوي سره ئې مونځ هم اوکړو.

دَ سعد بن معاذ ﷺ دَ مصعب بن عمیر ﷺ سره راتلل

اوس أُسید بن حضیر دوي ته وائي: چې هلکه! ما باندې خو مو کار اوکړو، زۀ مو مسلمان کړمه، خو اوس یَو نا آشنا کار کوؤ: وائي: دلته دَ مدینې یَو سردار دے، چې هغه زما نه هم دَ پاسه دے، زۀ ځم او هغه درله رالیږم، چې هغه مو هم مسلمان کړو نو خلق به ډلې ډلې راځي او مسلمانان کیږي به.

أُسید بن حضیر ﷺ لاړو، او دا بل کس سعد بن معاذ ﷺ دے، دے هم ډیر سخت دَ مسلمانانو خلاف وو. سعد بن معاذ ﷺ ورته وائي: أُسیده! تا څۀ چل اوکړو؟ وائي: زۀ خو لاړم، ما خو هغۀ کښې څۀ غلطي اونۀ مونده، خبرې مې ورله هم واوریدې (دا ورته نۀ وائي: چې زۀ مسلمان شوے یم، وائي: هسې نۀ چې ړومبئ شروع پۀ ما اوکړي). وائي: ما خو دَ هغۀ خبرې واوریدې، ما خو څۀ عیب پۀ هغۀ کښې معلوم نۀ کړو، څۀ نقصان مې پکښې معلوم نۀ کړو، او سړے خائسته خبرې کوي، زۀ خو پرې څۀ پوهه نۀ شوم. سعد بن معاذ ﷺ پۀ غصه کښې راغے او توره ئې را واغسته، وائي: دومره غټ سړے ئې او تۀ اوسه پورې پۀ دې هم نۀ پوهیږې چې دے ښۀ دے او کۀ ښۀ نۀ دے؟ زۀ به لاړ شم او

(1) انظر: "سيرة ابن هشام": (436/1).

زۀ به دَ دۀ اوس خوښ شم.

سعد بن معاذ ﷺ راغے، مصعب بن عمیر ﷺ بیا ناست دے او دَ قرآنِ کریم درس کوي اوِ دَ اسلام تعلیم ورکوي، کله چې سعد بن معاذ ﷺ راغے نو ملګري ورته وائي: چې سعد راغے او دے خو ډیر ناکاره دے، الله دې خیر اوکړي. دے چې را ننه شو نو اول خو اسعد بن زرارہ ﷺ ته غصه شو چې تۀ زمونږه دَ قبیلې سرے ئې او دَ بل ځائے نه دې سړے راوستے دے او دِلته دې ډیره کړے دے او ټولو خلقو له دې پرې عقیدې خرابې کړې!، دا دې څۀ چل کړے دے؟ هغۀ ته ئې ردّې بدې اووئیلې. او بیا مصعب بن عمیر ﷺ ته وائي: چې دا تا څۀ ګډې وډې شروع کړي دي؟ تۀ مونږ ته دین بیانوې؟ مصعب بن عمیر ﷺ هغه ته وائي: چې زۀ یَو خبره اوکړم؟ وائي: اووایه!، چې تۀ څۀ وائي؟ وائي: صرف دومره وایم: چې زۀ خو درسره جنګ نۀ کوم، او نۀ درسره شور کوم، کینښنه! دا خبره واوره! یَو دوه منټه به تا سره دا خبره اوکړم کومه چې دوي ته کوم، کۀ دې خوښه شوه نو قبوله به ئې کړې او کۀ دې خوښه نۀ وه نو چې بیا تۀ زمونږ سره څۀ کوې نو هغه اوکړه!، مونږ خو ستا نه تخښتو نۀ، بس وژنه مو، مړۀ مو کړه، مونږ درته ولاړ یُو،ٌ کۀ شړې مو اومو شړه!.

سعد وائي: یره! دا هم ښۀ خبره ده، چې واورم چې دے څۀ وائي؟ نو سعد ﷺ ورته اووئیل: ډیره دَ انصاف خبره دې اوکړه، وایه؟ مصعب بن عمیر ﷺ ورته اول دَ اسلام محاسن بیان کړل، دَ اسلام فائدې ئې ورته بیانې کړې، دَ اسلام دعوت ئې ورکړو، او بیا ئې دَ قرآنِ عظیم ورته شروع کړو. او کله ئې چې دَ قرآن تلاوت شروع کړو هغه خو عربیان وو، صرف تلاوت هم هغوي له کافي وو؛ ځکه هغوي پۀ معنٰی باندې پوهیدل. کله چې دَ قرآنِ کریم تلاوت شروع کړو نو دَ سعد ﷺ رنګ بدلیدو... آخر دے وائي: ما ته طریقه اوښایئ، زۀ هم دا دین قبلوم نو پۀ کومه طریقه به دې دین کښې ورننه کیږو؟ چل را ته اوښایه؟ مصعب ﷺ هغۀ ته هم طریقه اوښودله چې لاړ شه او غسل اوکړه، کپړې واچوه او راشه چې کلمه درته اووایم. دے پۀ منډه منډه لاړو، غسل ئې اوکړو، کپړې ئې واچولې او اغے، کلمه ئې اووئیله، مسلمان شو.

دَ سعد بن معاذ قوم ﷺ له دَ ایمان دعوت ورکول

او چې کله ئې کلمه اووئيله او مسلمان شو نو واپس قوم ته لاړو او خپل قوم ئې مخاطب کړو او قوم ته ئې اووئيل: چې زهٔ تاسو کښې څنګه سړے يم؟ وائي: تهٔ پهٔ مونږ کښې ډير بهتر سړے ئې، او ډير اوښيار سړے ئې، ډير قابل سړے ئې. دے ورته وائي: کهٔ زهٔ درته يَو مشوره درکړم نو تاسو ئې منئ؟ ورته وائي: تا خو چې مونږ له کله هم مشورې راکړي دي نو هغې کښې مونږه چرته نقصان نهٔ دے کړے، بالکل ئې منو. دا خو دَ قوم سردار وو، نو دے ورته وائي: چې ما نن دَ اسلام داسې خبرې واوريدې چې ما پهٔ ټوله زندګئ کښې نهٔ وې اوريدلې، او ما نن دَ داسې يَو کلام تلاوت واوريدو چې دا ما چرته پهٔ دنيا کښې ليدلے نهٔ وو... وائي: زما ټولو ته دا مشوره ده: چې دَ ماښام نه مخکښې مخکښې ټول لاړ شئ او کلمه اووايئ، ايمان راوړئ.

بس خلقو ټولو کورونو ته منډه کړه او هر يَو لامبي او منډې وهي، يَو وائي: ما ته کلمه اووايه، بل وائي: ما ته کلمه اووايه، چې ماښام کيدو نو دَ قبيلې بني عبد الاشهل (عبد الاشهل دغې مدينه منوّره کښې مشر ووَ) يَو کس هم نهٔ وو پاتې شوے، نهٔ سړے، نهٔ زنانه، ټول پهٔ ټوله راغلل او مسلمانان شول، پهٔ دې طريقه باندې مدينه منوّره کښې دين خوريدو. هاں! صرف يَو سړے پکښې پاتې شوے وو، چې دَ هغهٔ نوم وو: "عَمرو بن ثابت". او دَ هغهٔ لقب وو: "أُصَيرم". نو دے دغه وخت کښې دَ اسلام نه پاتې شوے وو خو بيا روستو دَ جنګِ اُحد پهٔ دور کښې مسلمان شوے دے، نو دهٔ بيا روستو ايمان راوړے دے، نوره ټوله قبيله پهٔ يَو ځل باندې دَ سعد بن معاذ ﷺ پهٔ لاس مسلمانه شوه.

بهر حال پهٔ بني عبد الاشهل قبيله کښې دا يَو سړے هغه وخت مسلمان شوے نهٔ وو خو دَ دهٔ واقعه هم نا آشنا ده، دے بيا پهٔ غزوه اُحد کښې مسلمان شو، او چې خبر شو چې دَ اُحد جنګ شروع دے، کلمه دَ شهادت ئې اووئيله او توره ئې غاړې ته واچوله او دَ اُحد جهاد ته لاړو او چې لاړو نو لږ وخت بعد بيا دے شهيد شو. دَ دې وجې نه علماؤ ليکلي دي: چې نبي ﷺ هغهٔ له پهٔ دنيا کښې دَ جنتي کيدو زيرے ورکړے وو. وائي: ابو هريره ﷺ به کله کله صحابو ﷺ ته وئيل: چې ما ته هغه کس اوښايئ، هغه صحابي دَ رسول الله ﷺ را ته اوښايئ: چې هغه مسلمان شو او زندګئ

کښې ئې يَو مونځ نهٔ وو کړے او ډارک جنت ته تلے دے؟ صحابو ﷺ وئيل: دا به لا څنګه سړے وي چې مسلمان وي او مونځ ئې نهٔ وي کړے او بيا به لا جنت ته هم تلے وي؟ ابو هريره ﷺ به ورته وئيل: چې دا اُصيرم ﷺ وو، چې دا ئې لقب وو، خپل نوم ئې عَمرو بن ثابت ﷺ وو. دا هغه سړے وو چې کلمه ئې اووئيله او دَ جهاد دور شروع وو، ډارک ميدانِ جهاد ته لاړو، دَ مونځ وخت پکښې لا نهٔ وو راغلے چې دے شهيد شو. نو مسلمان شوے دے خو يَو مونځ ئې هم نهٔ دے کړے، ډارک جنت ته تلے دے. نو دے هم بيا روستو مسلمان شوے دے. نو دې قبيلې ټولو پهٔ ټوله باندې ايمان راوړو او مسلمانان شول.(1)

دَ جُمعې دَ مونځ ابتداء

بيا چونکه مدينه منوّره کښې اسعد بن زراره ﷺ هغوي به دې خلقو له مونځ هم ورکولو او رو رو ملکري سېوا کيدل، تر دې پورې چې دَ جُمعې مونځ ئې ورله هم شروع کړو، هغه ورځو کښې لا جُمعه نهٔ وه، يهودو به پهٔ هفته کښې يَو ورځ راجمع کيدل، يهود به دَ خالي پهٔ ورځ راجمع کيدل. دا دَ هغوي يَو دَ تعظيم ورځ وه. نصارٰی به پهٔ هفته کښې يَو ورځ راجمع کيدل او هغوي ځان له دَ اتوار ورځ خوښه کړې وه. هغوي به دَ اتوار پهٔ ورځ باندې را جمع کيدل. نو دې صحابوٴ ﷺ مشوره اوکړه او دوي ځان له ورځ منتخب کړه، دَ خالي پهٔ ورځ به راجمع شول، اول به ئې خطبه اووئيله، بيا به ئې ورته مونځ اوکړو. دا دَ جُمعې مونځ دَ هغې وخت نه شروع وو. دغې اسعد بن زراره ﷺ به ورته دَ جُمعې مونځ ورکولو، پهٔ دې طريقه مسلمانان سېوا کيدل.

ديارلسم کال دَ نبوت چې کله راغے، چې دا دَ مکّې آخرنے کال دے، بيا بل کال نبي ﷺ مدينې منوّرې ته هجرت کړے دے. پهٔ ديارلسم (۱۳) کال مصعب بن عمير ﷺ روان شو او هغه ټول ملکري چې دَ ځان سره ئې تيار کړي وو هغه ئې دَ نبي ﷺ سره ټول بيعت ته بوتلل چې راځئ! ايمان خو مو راوړے دے چې دَ رسول الله ﷺ سره ملاقات اوکړئ او بيعت هم دَ رسول الله ﷺ سره اوکړئ. نو تقريبًا بيا څهٔ د پاسه اويا کسان جوړ شوي دي. بيا پهٔ ديارلسم کال باندې دوي لاړل، او

(1) انظر: "شرح الزرقاني على المواهب": (316/1).

نبي ﷺ سره هغوي هغه ځائے کښې بیعت اوکړو، او بعضې علماؤ لیکلي دي: چې چونکه نور کسان ورسره هم لا ړل نو پنځهٔ اویا (۷۵) خو هغه مسلمانان وو او چې نور ورسره تلي دي نو دَ څلور سوؤ نه هم تعداد سیوا کیږي نو دوي خو ایمان دَ مخکښې نه راوړے وو، خو بیعت ئې دَ نبي ﷺ سره اوکړو. علماؤ دَ هغوي پچتر (۷۵) صحابؤ ﷺ نومونه هم لیکلي دي چې کومو دَ نبي ﷺ سره پهٔ دې دریم کال باندې بیعت کړے دے، خو کهٔ زهٔ هغه بیانوم نو پهٔ هغې به ډیر زیات وخت اولګي نو چې دا پنځهٔ اویا (۷۵) صحابه کرام ﷺ دوي دَ نبي ﷺ سره بیعت اوکړو.

نو رو رو پهٔ مدینه منوّره کښې دَ مسلمانانو کثرت نور هم سیوا شو، پهٔ دې کښې اکثر خلق دَ مدینې هغه مسلمانان شوي دي تر دې پورې چې دَ مدینې منوّرې لوئي لوئي سرداران هغه هم مسلمانان شول.

دَ عمرو بن الجموح ﷺ واقعه

دَ مدینې پهٔ سردارانو کښې یَو کس دے، نوم ئې "عَمرو بن جموح" دے، دے دَ بني سلمه قبیلې سردار وو، دَ دهٔ دَ خاندان ټول کشران مسلمانان شول او دے نهٔ مسلمان کیدو، کله کله بوډاګان پهٔ هغې خپلو زړو خبرو ډیر کلک وي. دے ډیر کلک وو، دَ دهٔ ځوي دے هغه هم مسلمان دے، معاذ بن عمرو بن الجموح ﷺ نوم ئې دے، وریرونه ئې هم مسلمانان شول خو دے ډیر کلک وو نهٔ مسلمان کیدو. دهٔ یَو بُت جوړ کړے وو او دَ هغې بُت به ئې ډیر تعظیم کولو. دَ لرګي نه ئې بُت جوړ کړے وو او دَ شپې او دَ ورځې به ئې وینځلو او صفا کولو به ئې، او منختې او نذرانې به ئې ورته پیش کولې. دې ځوي او وراړهٔ ئې او نورو ځوانانو مشوره اوکړه چې دے پهٔ چل باندې مسلمان کړي، وائي: دے به هله مسلمانیږي چې دَ دهٔ دَ دې زړهٔ نه دَ بُت تعظیم ختم شي. نو یَو شپه راغلل او دهٔ چې کوم بُت جوړ کړے وو نو هغه ئې واغستو او پټ ئې کړو او لاړل او یَو کندې ته ئې اوغورځولو. دے اوس راوڼے دے سحر کښې، او خپل بُت پسې ګرځي چې خدائے مې چا روک کړے دے، هغې پسې ګرځیدو خو بُت نهٔ وو. ګرځیدو ګرځیدو، نو چرته چا لیدلے وو، وائي: فلانئ کنده کښې پروت دے. دے چې ورغے نو ګندګئ کښې پروت دے، کنده هم

دے پۀ گندګئ باندې، دۀ هغه را واغستو او ښۀ صفا ئې اووينځلو او ډير زيات خفه وو، چې زما دَ خدائے ډيره غټه بے عزتي اوشوه، کاش، چې دا سړے ما ته معلوم وے!!!، ما به ورسره داسې کړے وے، داسې کړے وے. حالانکه خپل ځوي او ورارۀ ئې دا شے کړے وو، خو غرېئې خو نۀ کولو چې دا کار مونږه کړے دے.

يَو شپه تيره شوه، دوي راغلل او بيا ئې هغه بُت اوچت کړو او هغه ئې ترې اوغورځولو، بيا ورپسې دے ګرځيدو، بيا ئې دَ ګندَګئ نه را اوچت کړو، دۀ ډيرې بدې ردې اووئيلې، صفا ئې کړو او اوئې وينځلو، او بيا ئې ورله چوکيداري کوله، او چې کله کور ته تلو نو توره ئې راوړه او دې بُت ته ئې غاړې ته زوَړنده کړه، وائي: کيدے شي چې دے به تا توتې کړے وے خو توره به درسره نۀ وه؛ ځکه درنه بچ پاتې شوے دے، نو دا توره مې درله دَ دې دپاره راوړه چې کۀ بيا دپاره دې خوک بے عزتي کوي نو پۀ دې توره به ئې وهې. توره ئې ورله غاړې ته واچوله.

نو دا کسان چې راغلل او اوئې کتل چې هغۀ خو ورله نن غاړې ته توره هم اچولې ده او نور ئې هم ښۀ مزيدار کړے دے او صفا کړے ئې دے نو توره ئې ترې اوچته کړه او غاړې ته ئې ترې کيخوده او بُت ئې بيا اوچت کړو. او چې اوچت ئې کړو نو يَو مُردار سپے پروت وو هغه ئې را واغستو او يَوه رسئ ئې را واغسته، نو دا بُت او هغه سپے ئې دواړه پۀ يَو رسئ باندې اوتړل او يَو شاړ کوهے وو هغې کښې ګندونه پراتۀ وو هغې کښې ئې اوغورځولو، سپے او بُت دواړه اوس کوهي کښې يَو ځائے پراتۀ دي. دے چې سحر راپاسيدو، توره پرته ده، او بُت نشته، دے ګرځي راګرځي چې زما بُت چا پټ کړے دے.... آخر چا ورته اووئيل: چې هغې فلانکي کوهي کښې پروت دے، دے چې راغے اوس دغه ځائے کښې الله دۀ له هدايت نصيب کړو، دَ دۀ سوچ راغے چې دا خنګه اِلٰه دے چې زۀ ئې را اوچتوم او خلق ئې رانه پټوي او دے ځان نۀ شي خلاصولے نو ما له به څۀ فائده راکړي؟ نو دماغو ئې کار شروع کړو او دَ کوهي پۀ غاړه اودريدو، او چې لاندې ئې اوکتل نو يَو رسئ باندې بُت او سپے دواړه تړلے شوي دي او يَو ګنده کوهي کښې پراتۀ دي.

دَ عمرو بن الجموح ﷺ اشعار

نو په دغه موقع عَمرو بن الجموح ﷺ څهٔ اشعار وئيلي دي، علماؤ هغه نقل کړي دي، هغه اشعار دا دي:

وَاللهِ لَوْ كُنْتَ إِلٰهًا لَمْ تَكُنْ أَنْتَ وَكَلْبٌ وَسْطَ بِئْرٍ فِي قَرَنْ

"زما دې په الله تعالیٰ قسم وي، اے بُته! کهٔ چرته تهٔ اِله وے او تهٔ حاجت روا وے نو تهٔ او دا سپے دواړه دَ کوهي په مينځ کښې په يَو رسۍ تړلي به نهٔ وئ پراتهٔ (تا خو به دَ دې کند نه ځان بچ کړے وے!)".

أُفٍّ لِمَلْقَاكَ إِلٰهًا مُسْتَدَنْ الْآنَ فَتَّشْنَاكَ عَنْ سُوءِ الْغَبَنْ

"هلاکت وي دَ هغه چا دپاره چې هغه تا ته اِله وائي، او ستا خدمتونه کوي (لکه دَ منجورانو، شپه او ورځ ستا خدمتونه کوي، او تا صفاء کوي او ستا تعظيم کوي نو هغه انسان دې تباه او برباد شي)، نن مونږه ستا معلومات اوکړل، نن مونږ ته معلومه شوه چې تهٔ کم عقل ئې او تهٔ بے وقوفه ئې او تهٔ اِله نهٔ ئې".

الْحَمْدُ لِلّٰهِ الْعَلِيِّ ذِي الْمِنَنْ الْوَاهِبِ الرَّزَّاقِ دَيَّانِ الدِّيَنْ

"حمدونه دي الله لره هغه الله چې هغه ډير اوچت دے او ډير دَ لويو لويو احساناتو خاوند دے، هغه الله چې بخښونکے دے (چې خلقو له بے عِوضه اشياء وربخښې، هنسې مُفته کښې ئې ورکوې)، رزق ورکونکے ذات دے، او دَ دينونو بدلې خلقو له ورکوي".

هُوَ الَّذِي أَنْقَذَنِي مِنْ قَبْلِ أَنْ أَكُونَ فِي ظُلْمَةِ قَبْرٍ مُرْتَهَنْ

"دا الله دے هغه ذات چې زهٔ ئې خلاص کړم مخکښې دَ دې نه چې شمه زهٔ په تيارو دَ قبر کښې کانړه او را بند (دَ هلاکت او دَ مرګ نه مخکښې مخکښې ئې ما له ايمان نصيب کړو او هلاکت نه ئې بچ کړم)".

"بِأَحْمَدَ الْمَهْدِيِّ النَّبِيِّ الْمُرْتَهِنْ".[1]

---

(1) انظر: "الروض الأنف": (86/4)، و"سيرة ابن هشام": (453/1).

"دَ احمد ﷺ دَ وجې نه، چې هدايت والا دے، پيغمبر دے او ګانړه کيخودونکے دے".

او نورو علماؤ دَ هغهٔ دا اشعار هم ذکر کړي دي:

أَتُـوبُ إِلَـى اللهِ مِمَّا مَـضـى　　وَأَسْتَنْقِذُ اللهَ مِنْ نَارِهِ
وَأُثْنِي عَـلَـيْـهِ بِنَعْمَائِهِ　　إِلَهَ الْحَرَامِ وَأَسْتَارِهِ
فَسُبْحَانَهُ عَـدَدَ الْخَـاطِئِينَ　　وَقَطْرَ السَّمَاءِ وَمِدْرَارِهِ
هَدَانِي وَقَدْ كُـنْـتُ فِي ظُلْمَةٍ　　حَلِيفَ مَنَاةٍ وَأَحْجَارِهِ
وَأَنْقَذَنِي بَعْدَ شَيْبِ الْقَذَالِ　　مِنْ شَيْنِ ذَاكَ وَمِنْ عَارِهِ
فَقَدْ كِدْتُ أَهْلِكُ فِي ظُلْمَةٍ　　تَدَارَكَ ذَاكَ بِمِقْدَارِهِ
فَحَمْدًا وَشُكْرًا لَهُ مَا بَقِيتُ　　إِلَهُ الْأَنَامِ وَجَبَّارُهُ
أُرِيـدُ بِذَلِكَ إِذَا قُـلْـتُـهُ　　مُجَاوَرَةَ اللهِ فِي دَارِهِ[1]

دا شعرونه به ئې وئيل، او مکمل دَ شرک نه ئې توبه اوويسته، او دے الله پهٔ دې مسلمان کړو چې دَ هغې بُت بے عزتي ئې اوليده. دا دَ دې مدينې منوّرې هغه ابتدائي دور وو، نو خبره مې دا کوله چې پهٔ دريم (۳) ځل اويا (۷۰) کسان راغلي دي او دَ نبي ﷺ سره ئې بيعت کړے دے.

بيعت

صرف دا واورئ! چې بيعت څهٔ شے دے؟ بيعت دا دَ بيع نه ماخوذ دے. بيع وائي: خرڅولو ته. دا خو لغوي معنیٰ ده. اصطلاح دَ شريعت کښې بيعت وئيلے کيږي: چې دَ الله دَ رضاء دپاره خپل ځان او خپل مال الله باندې خرڅ کړې او دَ دې پهٔ بدله کښې به دَ الله نه جنت غواړې. لکه ته چې پهٔ چا باندې څهٔ شے خرڅ کړې نو ستا اختيار پکښې بيا نهٔ وي.

نو مؤمنان به راغلل او نبي ﷺ ته به ئې وئيل: چې مونږه تا سره بيعت کوؤ، تا سره وعده کوؤ چې مونږ نفس الله لره ورکړو، کله چې الله زمونږ نه نفس غواړي نو منع به نهٔ وي، کهٔ مال غواړي نو منع به نهٔ وي، پهٔ دې چې الله به مونږ له جنت راکوي. دَ دې وجې نه چې کله دا بيعت اوشو نو

(1) انظر: "دلائل النبوة" لأبي نعيم الأصبهاني، برقم: (228).

عبد الله بن رواحه ﷺ یَو خبره اوکړه:

"رَبِحَ الْبَيْعُ لاَ نُقِيْلُ وَلاَ نَسْتَقِيْلُ".[1]

اے دَ الله نبي! "پهٔ دې سودا کښې مونږه ډيره ګټه اوکړه (بدن خو هسې هم خاورې کيږي، مال خو هسې هم ختميږي، نو ډيره لويه ګټه مو اوکړه؛ ځکه چې الله به مونږ له جنت راکوي)، نهٔ مونږه پهٔ دې پښيمانه يُو او کهٔ بل څوک پښيمانه کيږي نو بيا هم مونږ دا سودا واپس نهٔ ورکوؤ". يعني پهٔ يَو طريقه باندې هم مونږه دَ دې سودا واپسئ ته تيار نهٔ يُو، مونږه پهٔ دې باندې کلک يُو.

غزوه خندق پهٔ موقع دَ نبي ﷺ شعر وئيل

او دغه وجه وه چې کله غزوه خندق وو نو نبي ﷺ به يَو شعر وئيلو:

اللّٰهُمَّ لاَ عَيْشَ إِلاَّ عَيْشُ الآخِرَهْ، فَاغْفِرْ لِلأَنْصَارِ وَالمُهَاجِرَهْ[2]

"يا الله! نور هيڅ ژوند نشته مګر صرف دَ آخرت ژوند دے (دَ دنيا به څهٔ ژوند وي! کله يَو شان او کله بل شان، اصل ژوند خو دَ آخرت دے)، الله! انصارو او مهاجرينو ته بخښنه اوکړه".

او صحابه کرامو ﷺ به دَ نبي ﷺ دَ تسلئ دپاره يَو تکے وئيلو:

نَحْنُ الَّذِينَ بَايَعُوا مُحَمَّدَا عَلَى الجِهَادِ مَا بَقِينَا أَبَدَا[3]

"مونږ هغه خلقو يُو چې مونږه دَ محمد رسول الله ﷺ سره بيعت کړے دے (مونږ خپل ځان خرڅ کړے دے مونږ خپل مال خرڅ کړے دے)، او مونږه چې تر څو پورې ژوندي يُو نو مونږه به پهٔ جهاد کښې يُو". يا به غازيان شو فتح به اومومو او يا به شهيدان کيږو خو کور ته دَ تلو والا نهٔ يُو. نو صحابه کرامو ﷺ به دا تکے وئيلو:

نَحْنُ الَّذِينَ بَايَعُوا مُحَمَّدَا عَلَى الجِهَادِ مَا بَقِينَا أَبَدَا[4]

(1) انظر: "السيرة الحلبية": (22/2).

(2) أخرجه البخاري، برقم: (2834)، و برقم: (6414).

(3) أخرجه البخاري، برقم: (2834)، و برقم: (6414).

(4) أخرجه البخاري، برقم: (2834)، و برقم: (6414).

او نبي ﷺ به دا وئيل:

اللَّهُمَّ لاَ عَيْشَ إِلاَّ عَيْشُ الآخِرَهْ　　　فَاغْفِرْ لِلأَنْصَارِ وَالمُهَاجِرَهْ[1]

"الله! (كۀ زما ملګري شهيدان شي پروا نشته)؛ ځکه دَ دنيا به څۀ ژوند وي، الله! لويه خبره دَ آخرت مغفرت دے، زما صحابوٓ ﷺ ته بخښنه اوکړه"، چې جنت ورته ميلاؤ شي، دا لوئي مقام دے.

نو دا هغه ابتدائي دور وو چې مديني منورې ته پۀ دې طريقه باندې اسلام لا ړو، کۀ ژوند وي نو ان شاء الله بله جُمعه کښې به بيا دا وايُو: چې بيا وريسې نبي ﷺ هم لا ړو، هغه بيا اولنے کال دے دَ نبي ﷺ مديني منورې ته، دَ هغې وضاحت به بيا کوؤ.

وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ لله رَبِّ الْعَالَمِينَ.

(1) أخرجه البخاري، برقم: (2834)، و برقم: (6414).

بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا

(سورة الأحزاب: 21)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه شلمه

"دَ رسول الله ﷺ مديني منوّرې ته هجرت "

بتاريخ: 2022-07-22

مقام: جلسئ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

سيرة النبي ﷺ حصه شلمه

"دَ رسول الله ﷺ مديني منوّرې ته هجرت "

اَلْحَمْدُ للهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا﴾.(1)

حاضرينو عزتمندو مسلمانانو رونړو! پهٔ مخکښې جُمعه کښې مونږه دا بيان کړے وو چې مديني منوّرې کښې دَ اسلام ابتداء څنګه شوې وه؟ پهٔ څهٔ طريقه باندې مديني منوّرې ته اسلام را اورسيدو؟ دَ هغې وضاحت شوے وو.

دَ هجرت واقعه

نن جُمعه کښې دَ رسول الله ﷺ دَ هجرت واقعه مديني منوّرې ته هغه ذکر کوؤ. مخکښې مونږه وئيلي وو: چې کفارو به مسلمانانو ته قسم ما قسم تکليفونه رسول، پهٔ دې وجه مسلمانان انتهائي پريشانه شول دَ کافرانو وهلو، ټکولو او بے عزتونه نه. رسول الله ﷺ چې څنګه دَ نبوّت پهٔ ابتداء کښې ښائسته ښائسته خوبونه ليدل نو دغه شان دَ هجرت پهٔ ابتداء کښې هم الله رب العزة به نبي ﷺ ته ښائسته ښائسته ځايونه ښودل چې دا ستا او ستا دَ امت دَ هجرت ځايونه دي. علماء کرام ذکر کوي: چې

(1) [سورة الأحزاب: 21].

نبي ﷺ ته نوم نۀ وو ښودلے شوے. ليکن نبي ﷺ ته به پۀ خوب کښې داسې علامې ښودلے کيدې چې هغې کښې به کجورې ډيرې وې. چې دا ستا دَ هجرت ځايونه دي. نبي ﷺ به پۀ خپل ذهن کښې وئيل: کيدے شي چې دَ حِجر مقام وي، دارنګې نورو ځايونو باندې به ئې سوچونه کول، چې هلته هم کجورې ډيرې دي. آخر دَ نبي ﷺ پۀ دې کښې ډير تردُّد او شک وو نو دَ وحي پۀ ذريعه نبي ﷺ ته الله رب العزة متعين کړو چې ستا دَ هجرت ځائے "مدينه منوّرة" ده. او تۀ مدينې ته لاړشه.[1]

چونکه نبي ﷺ به کوشش کولو چې ضعيف خلق، کمزوري خلق او دَ چا چې دَ هجرت وس کيږي چې هغه مخکښې اوليږي نو پۀ دې وجه نبي ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته دَ مدينې منوّرې ته دَ هجرت کولو حکم اوکړو: چې مدينې ته لاړشئ. کله چې صحابه کرام ﷺ مدينې ته روان شول نو دا خو ابتدائي دور دے چې دَ مکې نه مدينې ته هجرت کول وو. او دا هجرت کول او تلل مدينې ته دا هم څۀ آسان کار نۀ وو؛ ځکه چې دَ کفارو زور وو، او دَ هغوي حکومت وو، طاقت ئې وو او دَ مسلمانانو خو دومره وس نۀ وو چې هغوي پۀ خپل اختيار باندې هجرت کړے وے نو هغوي دَ کفارو نه ډير پريشانه وو.

دَ هجرت پۀ کولو باندې مسلمانانو ته تکليفونه رسيدل

دَ دې وجې نه علماؤ ليکلي دي: چې يَو مسلمان به هجرت کولو نو پۀ دې هجرت کولو به هم هغوي ته ډير سخت تکليف ميلاويدو. کافرانو دا نۀ غوښتل چې دوي لاړشي، او دوي پۀ بل ځائے کښې چرته پۀ آرام سره ژوند تير کړي او دَ خپل ربّ عبادت اوکړي. هغوي به وئيل: چې پريږده چې دوي دلته کښې پۀ دې تکليف کښې وي، نو کله خو به دوي دَ خپل دين نه توبه اوباسي او دَ دين نه به را واپس شي.

دَ امام محمد بن اسحاق رحمه الله قول

امام محمد بن اسحاق رحمه الله ليکلي دي: چې کله بيعت دَ عقبه اوشو نو دَ هغې دَ تکميل نه بعد نبي ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته دَ هجرت حکم اوکړو. او چې کله صحابه کرامو ﷺ ته دَ هجرت

(1) انظر: "سيرة المصطفى": (321/1)..

باره کښې اجازت میلاؤ شو نو په هغې کښې د ټولو نه اول مهاجر د نبي ﷺ رضاعي رور دے چې د هغه نوم "ابو سلمه بن عبد الاسد" دے. دا د بنو مخزوم قبیلې وو، او دا هغه کس دے چې د ده او د نبي ﷺ په مینځ کښې د رضاعت رشته وه، او د ده بي بي ام سلمه ﷺ د هغه د وفات نه بعد بیا د نبي ﷺ په نکاح کښې راغلې ده، او هغه بیا ام المؤمنین ﷺ کرځیدلې ده.

ابو سلمه بن عبد الاسد المخزومي ﷺ اراده اوکړه چې کلے پریږدم او ځمه مدینې ته هجرت کوم، بي بي هم مسلمانه وه، سره د خپلې بي بي او سره د خپلو بچو تیار شول، سامانونه ئې اوتړل او لږ ساعت پس روانیږي او مدینې ته ځي...[1]

د ابو سلمه عبد الاسد المخزومي ﷺ په هجرت باندې قریش خبریدل

نو دے په روانیدو دے او دې کښې کافران خبر شو، قریش خبر شول نو قریشو دا نه غوښتل چې دوي دې هجرت اوکړي، او دوي دې په آرام ژوند تیر کړي نو قریش راغلل او ده ته وائي: چې هجرت به نه کوې. دے ورته وائي: زه ځمه.... نو آخر کښې ده ته وائي: چې ته ځې نو ته لاړشه؛ ځکه ته د خپل اختیار خاوند ئې او د کور والا رشته داران ئې راغلل، بنو مخزوم قبیلې والا، او هغوي ورته وائي: چې ستا دا ښځه خو زمونږ خور او لور ده، دا به د ځان سره نه بوځې. هغه ئې د لاس نه اونیوله، خاوند له ورته وائي: ته ځه او ښځه به دې دلته کښې وي، دا نه شي بوتلے. امّ سلمه ﷺ ئې ترې حصاره کړه، او په زوره ئې حصاره کړه، واړه بچي ئې وو نو د خاوند د طرف خپلوان ئې راغلل (دے خو مسلمان وو او نور خو ټول کافر وو)، او د زنانه طرف دې خپلوانو ته وائي: چې دا ستاسو لور خور ده، تاسو به ئې بوځئ، دا ماشومان به مونږه بوځو، دا نه ابو سلمه د ځان سره بوتلے شي او نه ئې مور د ځان سره بوتلے شي. نو ابو سلمه ﷺ یواځې پاتې شو، بچي ئې ترې یو چا بوتلل او کور والا ئې خپلوانو بوتله او ابو سلمه ﷺ ته وائي: که ته ځې نو ځه او که نه ځې نو مه ځه، تا سره زمونږ هډو څه کار نشته دے. هغوي خو په دین باندې مئین خلق وو، ابو سلمه ﷺ اووئیل: چې زه به یواځې ځم خو زه به ځم، زه د الله دین نه پریږدم. ابو سلمه ﷺ

(1) انظر: "سیرة المصطفی": (1/321-322).

هغه يِک يَواځې مدينې منوّرې ته روان شو.

ام سلمه ﷺ وائي: چې سحر به شو نو زۀ به ابطح (دا پۀ مکه کښې يَو ځائے دے، يَو کارُږنه زمکه ده) ته دَ تولو خلقو نه يَواځې راغلم او دَ سحر نه تر ماښامه پورې به ما توله ورځ پۀ ژړا تيره کړه؛ ولې چې مسلمانه هم وه او دَ خپل خاوند سره ئې ډيره مينه هم وه. نو دَ يَو زنانه نه چې بچي هم جُدا شي او خاوند ئې هم جُدا شي نو دا ډيره گرانه ده. ام سلمه ﷺ وائي: ما به دَ سحر نه تر ماښامه پورې توله ورځ پۀ ابطح مقام کښې پۀ ژړا باندې تيره کړه. ماښام به بيا دَ مجبورۍ نه خپلوانو کره راغلم، شپه به مې تيره کړه، دَ خلقو خبرې را باندې نۀ لگيدې سحر به مې بيا توله ورځ پۀ ژړا تيروله، حتّٰى چې يَو کال مکمل پۀ دې کښې تير شو چې ابو سلمه ﷺ مدينې ته لاړے او ام سلمه ﷺ خپلوانو راوستله او بچي ئې دَ خاوند خپلوانو بوتلل، ټول دَ يَو بل نه جُدا شو.

دَ يَو کس پۀ ام سلمه ﷺ رحم راتلل

ام سلمه ﷺ وائي: يَو کال چې کله تير شو دَ هغې نه بعد زمونږ دَ ترونو پۀ ځامنو کښې يَو سړے وو، چې دَ هغۀ زما پۀ حال باندې ډير رحم راغے چې ما به شپه او ورځ ژړل، وائي: هغه راغے او بنو مغيره ته وائي: چې ظالمانو! دا غريبه دَ خاوند نه او دَ بچو نه تاسو جُدا کړي ده، کال اوشو، دا تاسو دَ خپل دين نه وانۀ ړوله، هغه هم دغه شان پۀ خپل دين باندې کلکه ده او دَ شپې او دَ ورځې دا ژاړي نو کم از کم پۀ دې باندې رحم اوکړئ او دې سره خو نور ظلم او زياتے مۀ کوئ، دا چې چرته خوشحاله وي هلته کښې ئې پرېږدَوئ. نو هغوي ما له اجازت راکړو کۀ تۀ دَ خپل خاوند خوا ته ځې نو تلے شې زمونږه تا ته اجازت دے. بل طرف ته دَ خاوند هغه خپلوان بنو الاسد هغوي را ولگيدل او هغوي اووئيل: چې دوي دې زنانه ته اجازت ورکړو نو مونږ به ورله دا بچي ورکړو، هغوي ورله بچي راوليږل چې دا بچي دې واخله، کۀ دلته اوسيږې او کۀ دَ خاوند خوا ته ځې. نو هغې اووئيل: چې زما خو دَ پخوا نه دَ هجرت آرمان وو نو زۀ دلته څۀ کوم؟[1]

دَ ام سلمه ﷺ يَواځې هجرت کول

دَ ورو ماشومانو بچو سره ئې اوښ تيار کړو او ام سلمه يِک يَواځې مدينې منوّرې ته روانه

---

(1) انظر: "سيرة المصطفى": (322/1).

شوه. څوک چې تلي دي هغوي دا مزل ليدلے دے چې دَ مکې او مديني په مابين کښې څومره لويه فاصله ده؟ اوس خو روډونه دي، او ډير سهولتونه دي، هغه زمانه کښې هيڅ قسم سهولت نهٔ وو، دَ اوښانو او اسونو او دَ غرونو پيدل سفرې وې، پهٔ لاره کښې به شپې راتلې.

نو دا ام سليم ﷺ دَ ورو ورو بچو سره د مديني منورې پهٔ طرف روانه شوه، څوک غمخوار داسې نهٔ وو چې دَ دې سره ملګرے شوے وے، پهٔ هغې وخت کښې يَو کس ذے روستو ورته بيا الله ايمان نصيب کړے دے چې هغه "عثمان بن طلحه ﷺ" دے، دے بيا الله دَ صلح حديبيه پهٔ کال مسلمان کړو او دهٔ بيا مديني منورې ته هجرت هم کړے وو او بيا دے دَ سيدنا عمر فاروق ﷺ پهٔ دور کښې شهيد شوے دے. نو عثمان بن طلحه چې لا هغه وخت کښې مسلمان نهٔ وو، کافر وو، ام سلمه ﷺ وائي: چې زهٔ ئې اوليدم نو ما ته وائي: چې چرته روانه ئې؟ وائي: ما ورته اووئيل: دَ خپل خاوند خوا ته مديني ته ځم. وائي: ما ته وائي: چې يَواځې روانه ئې؟ وائي: ما ورته اووئيل: چې بالکل يَواځې روانه يم، دا ماشومان بچي را سره دي، نور څوک را سره نشته دے، دا زنانه هغهٔ ته وائي:

"لَا وَاللّٰهِ إِلَّا اللّٰهَ وَبُنَيَّ هَذَا".[1]

"قسم پهٔ الله دے! هيڅ څوک را سره ملګري نشته، يَواځې الله زما ملګرے دے او دا وارهٔ وارهٔ بچي زما ملګري دي".

دَ يَو کافر دَ ام سلمه ﷺ مديني منورې ته رسول

ام سلمه ﷺ وائي: دَ هغه کافر پهٔ ما باندې رحم راغے، هغهٔ چې دا واوريدل نو اوښ ئې راوستو او دَ مُهار نه ئې اونيولو او اوښ ئې کيښنولو او ما ته وائي: چې دې اوښ ته اوخيژه او خپل بچي هم دې ته اوخيژوه. وائي: زهٔ اوښ ته اوختم او ما خپل ماشومان هم ځان سره کيښنول، پهٔ خپله ئې دا ټول مزل پيدل اوکړو، لاندې به ئې دَ اوښ مُهار نيولے وو او پياده روان وو، او زهٔ پهٔ اوښ باندې سوره اوم، بچي مې هم پهٔ اوښ باندې سوارهٔ وو. کله چې به لار کښې دَ دمې ځائے راغے نو دهٔ به اوښ کيښنولو او بيا به دَ اوښ نه لرې لاړو چې دلته راکوز شئ!. مونږ به را کوز

(1) انظر: "الروض الأنف": (103/4)، و"سيرة ابن هشام": (469/1).

شو، دمه به مو اوکړه. يعني دومره حياء ناک چې لا ر کښې ئې چرته دَ غلط کار اراده هم نۀ ده کړې، دَ اوښ نه به لرې لاړو او ما ته به ئې اووئيل: چې دا بچي هم راکوز کړه او تۀ هم راکوزه شه او دمه اوکړئ. نو مونږه به دمه اوکړه. وائي: چې کله به بيا واپس تلو نو ما ته به ئې اووئيل: چې اوس بيا اوخيژئ، چې مونږ به اوښ ته اوختو نو بيا به دے راغے او دَ اوښ مُهار به ئې اونيولو او روان به شو.

وائي: پۀ دې طريقه باندې تر مدينې منوّرې پورې عثمان بن طلحه ﷺ (چې هغې وخت کښې لا کافر وو) مونږ ئې اورسولو او چې مونږه ئې را اورسولو او کله چې دَ قباء هغه ځايونه پۀ نظر راغلل (قباء پۀ مدينه منوّره کښې يَو ځائے دے او هلته کښې هم جومات جوړ دے، چې هغې ته مسجد قباء وائي. حديث کښې راځي: هغې کښې دوه رکعته مونځ کول دَ عمرې برابر ثواب لري) نو وائي: ما ته ئې اووئيل: چې دا هغه کلے دے چې پۀ دې کښې ستا خاوند مقيم دے، ځه! دَ الله پۀ خير او برکت سره دې خپل خاوند خوا ته لاړه شه. دا زنانه وائي: چې زما دې پۀ الله باندې قسم وي چې دَ عثمان بن طلحه ﷺ نه زيات عزتمند انسان ما ليدلے نۀ وو، چرته غلطه خبره او غلط حرکت ئې نۀ وو کړے چې هغه وخت لا کافر وو. زۀ ئې مدينې منوّرې ته را اورسولم.[1]

نو اول مهاجر دغه ابو سلمه ﷺ وو، بيا دَ هغۀ بي بي او دَ هغۀ اولاد راغے او بيا وروستو عامر بن ربيعه ﷺ، سره دَ خپلې بي بي نه، چې دَ بي بي نوم ئې "ليلٰى بنتِ ابي حثمه (ﷺ)" وو. هغه راغله او دواړو ښځې او خاوند هجرت اوکړو.

بيا ابو احمد بن جحش ﷺ او دَ هغۀ رور عبد الله بن جحش ﷺ، سره دَ خپل اهل وعيال نه دوي هجرت اوکړو. داسې خلق به رو رو پټ راتلل، سحر به يَو سړے وو، ماښام به نۀ وو، خلقو به وئيل: هغه جوړې تلے دے.

دَ عُتبه او دَ ابو جهل حال

عتبه او ابو جهل دواړه کافران وو، او دَ مسلمانانو سخت دشمنان وو، دا دواړه ولاړ وو او دا

(1) انظر: "عيون الأثر": (173/1).

منظر به ئې کتلو چې يو يو کور به خالي کېدو او يو يو کورنۍ به روزانه دَ مکې نه دَ مدينې طرف تله، وائي: دې عتبه دَ زړهٔ نه يو اسويلے اوکړو او يو شعر ئې اووئيلو:

وَكُلُّ دَارٍ وَإِنْ طَالَتْ سَلَامَتُهَا يَوْمًا سَتُدْرِكُهَا النَّكْبَاءُ وَالْحُوبُ[1]

"هر يو کور که ډېره زمانه روغ پاتې شي خو يو ورځ به پهٔ هغې باندې دَ غم او دَ ماتم حالت راځي".

وائي: ډېره زمانه داسې وه چې مکه يو خائسته ښار وو، خائسته کلے وو خو نن مکه زو رو خالي کېږي، او خلق ترې روان دي!!!. او بيا ئې اسويلے اوکړو: چې دَ مکې ډېر خائسته ژوند وو!، خلق به ورته دَ بل ځائے نه راتلل خو زمونږه دا وراړهٔ (محمد ﷺ) دا ټول کار دَ دهٔ دَ لاسه نه خراب شو. چې دے را پيدا شوے دے نو خلقو کښې ئې اختلافات را پيدا کړل، نن خلق بچي پرېږدي، ښځې پرېږدي، خپلوان پرېږدي او دَ دهٔ سره منډې وهي، او هجرت کوي، وائي: دا ټول شرپسند پهٔ مونږ کښې دے دے (نعوذ بالله!).[2]

دَ هغې نه بعد رو رو نور صحابه کرام ﷺ مهاجر کېدل، دَ هغې نه بعد بيا عکاشه بن محصن، عقبه بن وهب، شجاع بن وهب، اربد بن حميره، منقذ بن نباته، سعيد بن رقيش، محرز بن نضله، يزيد بن رقيش، قيس بن جابر، عَمرو بن محصن، مالک بن عَمرو، صفوان بن عَمرو، ثقيف بن عَمرو، ربيعه بن اکثم، زبير بن عبيد، تمام بن عبيد، سنجره بن عبيده او محمد بن عبد الله بن جحش ﷺ. دا ټول صحابه ﷺ مهاجرين شول.[3]

مُهاجرې زنانه

پهٔ زنانو کښې زينب بنت جحش، ام حبيبه بنت جحش، جذامه بنت جندل، ام قيس بنت محصن، ام حبيب بنت ثمامه، آمنه بنت رقيش، سنجره بنت تميم او حمنه بنت جحش ﷺ، دې زنانو ﷺ هجرت اوکړو، رو رو مدينې ته خلق روان وو. تر دې چې سيدنا عمر ﷺ هم دې ته

(1) انظر: "الروض الأنف": (105/4).

(2) انظر: "سيرة المصطفى": (323/1)، وفي طبع: مكتبة عمر فاروق مخرّجا: (278/1).

(3) انظر: "سيرة المصطفى": (323/1).

مجبوره شو چې مکه پريږدي او هجرت اوکړي.[1]

دَ عیاش بن ابي ربیعه ﷺ هجرت کول او ورسره دَ ابو جهل چل کول

عیاش بن ابي ربیعه ﷺ هم هجرت اوکړو، عیاش بن ابي ربیعه ﷺ چې کله مدینې ته لاړو، دا صحابي دے. ابو جهل بن هشام او حارث بن هشام دا دواړه رونړه دي، او دا حارث بن هشام بیا روستو مسلمان شوے هم دے. نو دا دواړه رونړه مدینې منوّرې ته لاړل عیاش بن ابي ربیعه ﷺ پسې، او چل ئې ورسره اوکړو، وائي: اے عیاشه! تهٔ دلته راغلے ئې، مدینې ته راغلے ئې او مونړه تا پسې څکه راغلو چې ستا پهٔ مور مو زړهٔ خفه شو، وائي: ستا مور دا قسم خوړلے دے چې پهٔ خدائے مې دې قسم وي! چې چرته به سر اونهٔ وینځم، چرته به دَ غرمو نه سورې ته نهٔ شم، خوراک څښکاک به اونهٔ کړم تر څو پورې چې مې خپل څوي عیاش بن ابي ربیعه ﷺ لیدلے نهٔ وي. نو مور دې دَ لوږې او تندې نه ځان وژني، دومره خفه ده نو دومره لاړشه هغه به رضاء کړې بیا به راځې. نو عیاش بن ابي ربیعه ﷺ چې دا واوریدل زړهٔ کښې ډیر خفه شو، دے واپس راغے او چې راغے او دَ ملګرو نه ئې څنګه را جُدا کړو، لاس ئې ورله اوتړل او قسم ما قسم سزاګانې ئې ورله ورکولې. عیاش ﷺ ته وائي: دَ دې اسلام نه به اوړې، دا دین به پريږدې. عیاش ﷺ بالکل پهٔ خپل دین باندې کلک وو، هغې زمانه کښې به نبي ﷺ دَ صبا پهٔ مونځ کښې قنوتِ نازله لوستلو، او نبي ﷺ به دا دعاء کوله:

«اللَّهُمَّ أَنْجِ الْوَلِيدَ بْنَ الْوَلِيدِ وَسَلَمَةَ بْنَ هِشَامٍ وَعَيَّاشَ بْنَ أَبِي رَبِيعَةَ».[2]

الله! دا غریبانان مسلمانان چې دَ کافرانو پهٔ قبضه کښې دي او نهٔ ئې پريږدي او سزاګانې هم ورکوي، "الله ولید بن ولید ته نجات ورکړه، خلاص ئې کړه، سلمه بن هشام دَ کافرو دَ لاس نه را خلاص کړه، عیاش بن ابي ربیعه دے هم دَ کافرو دَ لاسونو نه خلاص کړه". نبي ﷺ به دَ دوي دپاره دعاء کاني کولې.

بهر حال صحابه کرامو ﷺ به ورځ پهٔ ورځ هجرت کولو، محدِّثینو او مؤرِّخینو دَ هغوي هغه

(1) انظر: "سيرة المصطفى": (323/1).

(2) انظر: "شرح الزرقاني على المواهب": (415/10)، "عيون الأثر" لمحمد بن محمد فتح الدين: (202/1).

نومونه هم ليکلي دي خو کهٔ هغه بيانوؤ نو ډير وخت به پرې اولګي.

آخر دا چې پهٔ مکه کښې يو څو کسان پاتې شول، نور ټول مهاجر شول، يو محمد رسول الله ﷺ پاتې شو، يو ابو بکر صديق رضی الله عنه پاتې شو او يو علي رضی الله عنه پاتې شو او نور هغه کمزوري خلق وو چې دَ هغوي دَ هجرت وس نهٔ کيدو، څوک پرې زورور وو، چې ګورے! دَ کور نه اونهٔ ځئ، دَ هجرت لار ورته نهٔ کيده، نو هغوي دَ مجبورئ نه پاتې وو. ابو بکر رضی الله عنه څو څو ځله نبي ﷺ ته وئيلي وو: چې اے دَ الله رسوله! څه چې ځو! نبي ﷺ ورته اووئيل: ما ته لا حکم نهٔ دے شوے چې زهٔ پهٔ خپله لاړ شم. او ابو بکر رضی الله عنه ته ئې اووئيل: چې تهٔ څه مهٔ، دواړه به يو ځائے ځو.

نو نبي ﷺ، ابو بکر صديق رضی الله عنه او علي رضی الله عنه دوي پهٔ مکه کښې پاتې شول.

پهٔ دار الندوه کښې دَ کافرانو راجمع کيدل

کافران پهٔ دار الندوه کښې راجمع شول او مشوره ئې اوکړه. دار الندوه دا يو ځائے وو چې دَ نبي ﷺ پهٔ نيکونو کښې يَو نيکهٔ تير شوے وو قُصئ بن کلاب؛ قصئ بن کلاب دا ځائے جوړ کړے وو، پهٔ هغې کښې به مشورې کيدې. نو پهٔ دې کښې دوي راغونډ شول، او مشوره ئې شروع کړه: چې يره! دا خلق ورځ پهٔ ورځ باندې هجرت کوي او دا ټوله مکه بهٔ شاړه شي، او دا ټول نقصان دَ دې نبي (ﷺ) دَ لاس نه جوړ شوے دے، چې دے دې خلقو ته دا مسئلې کوي نو خلق ئې ټول بے دينه کړل، دَ دهٔ خلاف يو مشوره کوؤ چې دَ دهٔ سره څهٔ اوکړو؟ يو څو غټ غټ کافران دي چې هغوي را جمع شوي دي: عتبه بن ربيعه، شيبه بن ربيعه، ابو سفيان بن حرب، طعيمه بن عدي، جبير بن مطعم، حارث بن عامر، نضر بن حارث، ابو البختري بن هشام، زمعه بن الاسود، حکيم بن حزام، ابو جهل بن هشام، نبيه بن حجاج، منبّه بن حجاج او اميه بن خلف. داسې غټ غټ کافران را جمع شول، دا ئې مشران وو، دوي راغونډ شول.

چې کله دوي پهٔ دار الندوه کښې کيښناستل نو پهٔ دې کښې يو بابا راغے، نا آشنا سړے دے، چا نهٔ پيژندو، نو دوي هغې بابا ته پهٔ خير راغلې اووئيلې، سلام کلام اوشو، دوي هغې بابا ته وائي: چې بابا! تهٔ څه! او زمونږه څهٔ خاص خبره ده، مونږه خپله خبره کوؤ (دا بابا شيطان دے،

انساني شکل کښې راغے). دے ورته وائي: بچو! زۀ خبر شوے يم چې تاسو څۀ مشوره کوئ؟ نو زۀ هم دَ دغې مشورې پۀ خيال راغلے يم، چې زۀ هم تاسو سره پۀ دغه مشوره کښې ځان شريک کړم. دوي ورته اووئيل: چې تۀ دَ کوم ځائے نه راغلے ئې؟ نو دے ورته وائي: چې زۀ خو دَ نجد نه راغلے يم. دوي ورته وائي: کيښنه! باباګان خو ډير اوښياران وي مونږ له به هم څۀ مشوره راکړې. بابا ئې هم ځان سره کيښنولو، چې پۀ اصل کښې دا شيطان وو.

(۱) اوله مشوره: مشورې شروع شوې نو يَو پکښې دا اووئيل: چې يره! دَ دې نبي (ﷺ) نه خلاصيدے نۀ شو، بس دَ خلاصي طريقه به ئې دا وي: چې اوئې نيسئ او کوټه کښې ئې بند کړئ نو تر څو چې ئې توبه ايستلې نۀ ده نو دَ هغې وخته پورې به ئې دَ کوټې نه نۀ راخلاصَوئ، دا دَ دۀ جيل دے چې توبه ئې اوويسته نو را خلاص به ئې کړئ، ټولو اووئيل: چې دا خبره صحيح ده. چې شيطان له کله مشوره راغله نو شيطان وائي: دا بالکل غلطه ده؛ ځکه تاسو به ئې کوټه کښې بند کړئ، دَ هغۀ خاندان ښۀ تکړه خلق دي، هغوي به ئې درنه بيا آزاد کړي، نو بيا به تاسو دَ دۀ سره څۀ اوکړئ؟ او بل دا چې دومره اوږد ئې څوک بندولے شي؟ تاسو به ئې مياشت بند کړئ، کال به ئې بند کړئ نو دومره اوږد به ئې څوک بندَوي؟ دوي اووئيل: يره! دا خبره خو هم صحيح ده.

(۲) دويمه مشوره: بيا ئې مشوره شروع کړه: نو پۀ دويم ځل ئې مشوره پۀ دې باندې راغله چې يره! دَ دې مکې نه به ئې اوباسئ، پريږدئ چې هر خوا ځي، نو مکّه خو به ترې خلاصه کړو، مکّه کښې به را ته خلق نۀ خرابيږي، خلق به نۀ ګمراه کيږي (نعوذ بالله! مسلمان ته به ئې ګمراه وئيلو). وائي: دَ کلي نه به ئې اوباسو نو خلاص به شو ترې نه، ټولو اووئيل: چې دا صحيح ده. خو چې کله دَ شيطان خوا ته دا رائې راغله نو دا بابا ورته وائي: چې نا! نا! دا خبره بالکل غلطه ده، وائي: ولې غلطه ده؟ وائي: دا خو تاسو دَ مکې والا زورَور يئ، دَ مکې نه به ئې اوباسئ نو بل ملک ته به لاړ شي، بل کلي ته به لاړ شي پۀ هغې کلي کښې به دے دعوت شروع کړي او تاسو ته پته ده چې پۀ خُلۀ کښې ئې خو ډير اثر دے نو هلته به ځان سره ملګري تيار کړي، ملګري به جمع کړي او دومره لښکر به جوړ کړي چې مکې والا به ئې بيا مقابله نۀ شي کولے، نو ګورے!

خبردارا! چې بل کلي ته ئې پرې نهٔ ایږدئ، بل چرته درنه لاړ نهٔ شي. دوي اووئیل: یره! بابا خو ډیر اوښیار دے!، دَ دهٔ دا خبره هم صحیح ده. نو دا مشوره ئې هم کینسل کړه.

(۳) دریمه مشوره: دا دریمه مشوره دَ نبي ﷺ خپل ترهٔ ابو جهل لعین پیش کړه، دا دَ رسول الله ﷺ سخت دشمن وو. دهٔ پکښې اووئیل: چې زما رائې دا ده: چې دے مهٔ قید کوئ، مهٔ ئې جلا وطن کوئ، زما رائې دا ده: چې دَ دهٔ بغیر دَ مرګ نه بل علاج نشته، وژنو ئې، خو که زهٔ ئې مړ کوم نو ما له دشمني جوړیږي، کهٔ بل سړے ئې مړ کوي نو هغهٔ له دشمني جوړیږي نو راځئ! دَ مکې دا ټول سرداران دا به یَو شو او پهٔ شریکه باندې به دَ هر خاندان نه یَو یَو سړے واخلو، ټول به پرې پهٔ یَو ځل باندې حمله اوکړو (هغې وخت کښې دَ تورو جنګ وو)، پهٔ تورو به پرې یَو ځل ګزارونه اوکړو نو وارث به ئې دَ چا چا نه بدل اخلي؟؛ ځکه یَو خوا ټوله مکه ده او بل خوا دَ دهٔ خاندان، نو دَ ټولو نه خو بدل اغستے نهٔ شي نو مجبوره به شي دیته چې مونږ له دیت راکړئ، نو خومره دیت چې غواړي نو ورله به ئې کړو او دَ دې نبي نه به ځان خلاص کړو. ټولو چې دا مشوره اوکړه او چې کله شیطان له دا رائې راغله نو هغه ورته وائي: دې ځوان چې کومه خبره اوکړه، دا صحیح مشوره ده، بس دَ دې نه بله مهٔ کوئ. دَ شیطان ورسره پهٔ دې مشوره باندې اتفاق راغے او مشوره ئې دا اوکړه چې: خلق لا مهٔ خبروئ، بس تیار راجمع شوي یئ او ځئ چې تیار دَ نبي (ﷺ) کوڅې له ځو او پهٔ نبي (ﷺ) باندې حمله کوؤ.

دَ رسول الله ﷺ دَ هجرت ابتداء

الله رب العزة خپل نبي ﷺ له وحي راولیږله: چې نبي! ستا خلاف خلق یَو ځائے شوي دي، او تهٔ به نن شپه کښې هجرت کوې او تهٔ به دَ مکې نه ځې. دا دَ نبي ﷺ دَ هجرت ابتداء وه.

حدیث کښې راځي: سیده عائشه رضي الله عنها وائي: نبي ﷺ مونږ کره کله هم غرمه کښې نهٔ وو راغلے، روزانه به دَ ابو بکر صدیق رضي الله عنه ملاقات ته راتلو، دواړه پهٔ یَو بل باندې ډیر مئین وو، سحر به هم راتلو او ماز یګر به هم راتلو خو غرمه کښې چرته هم دَ الله نبي ﷺ نهٔ وو راغلے، پهٔ دې

ځل نبي ﷺ غرمه کښې راغے او وائي: مونږ وئيل: چې دَ الله نبي ﷺ چرته دا وخت راغلے نۀ دے، څۀ چل به وي!، چې راغے نو ابو بکر صديق رضي الله عنه ته ئې اووئيل: چې يا ابا بکر! څۀ مشورې له راغلے يم او دا ماشومان او دَ کور دا خلق دَ کور نه اوباسه، تا سره پټه يَو خبره کوم. ابو بکر صديق رضي الله عنه ورته وائي: چې يا رسول الله! دلته خو نور څوک نشته دے، دا زما لونړه ذي او زما پۀ دوي باندې اعتماد دے چې دوي دَ کور خبره بهر نۀ کوي، وايه؟ وائي: صحيح ده. نبي ﷺ ورته اوۀئيل: چې ما ته ربّ دَ هجرت حکم کړے دے، ابو بکر تۀ تيار ئې او کۀ نۀ؟ ابو بکر رضي الله عنه ورته وائي: چې يا رسول الله! زۀ خو دَ دوۀ مياشتو نه پۀ دې انتظار يم چې کله به دَ ربّ حکم راځي، دوه اوښې مې ساتلي دي، او ښې مې څرېې کړې دي، چې کومه اوښه ستا خوښه وي نو هغه تۀ واخله او بله به زۀ واخلم او دواړه به سوارۀ شو او ځو به. نبي ﷺ ورته وائي: صحيح ده، خو اوښه به هسې نۀ راکوې، پيسې به درکوم. وائي: مشوره اوشوه.

عائشه رضي الله عنها وائي: ما او اسماء دواړو به نبي ﷺ او ابو بکر صديق رضي الله عنه ته توخه تياروله. اسماء بنت ابي بکر رضي الله عنها دا دَ عائشې رضي الله عنها بله خور وه، دَ ابو بکر رضي الله عنه لور وه، دَ عائشې رضي الله عنها نه مشره وه. وائي: نور څۀ شے به نۀ وو چې کله به مونږه دَ خوراک، څښکاک سامان تيار کړو... پخوانۀ چونکه دَ تکليف زمانه وه، کارونه به ډير وو، کمزورياني به وې، سړو او ښځو به اکثر دا مَلاکانې تړلې، کمربند به ئې ترې تاؤ کړے وو نو يَو پټه به ئې جوړه کړې وه چې مَلا به ئې پرې تړله؛ چې دا درد نۀ کوي. وائي: چې بل څۀ شے نۀ مِلاويدو نو اسماء خپل دَ مَلا کمربند را کولاؤ کړو او هغه ئې پۀ مينځ دوه ټوټې کړو او پۀ يَو ټوټه ئې هغې کوډې ته خُلۀ اوتړله چې کوم کښې مونږ دَ خوراک، څښکاک سامان اچولے وو او پۀ بله کپړه به مو هغه مشکيزې ته خُلۀ اوتړله چې هغې کښې اوبۀ پرتې وې. دا سامان مو تيار کړو.

نبي ﷺ لاړو، علي رضي الله عنه ته وائي: چې علي! نن به تۀ زما پۀ کټ کښې اودۀ کيږې، زما پۀ بستره کښې به اودۀ کيږې، علي رضي الله عنه راغے او دَ نبي ﷺ پۀ کټ او بستره کښې اودۀ شو، کافران دَ شپې دَ

نبي ﷺ دَ کور مخې ته ولاړ دي او چې نبي ﷺ راوتو نو حديث کښې راځي: دَ سورة يٰسٓ دا ابتدائي آيتونه ئې وئيل تر دې آيت پورې:

﴿وَجَعَلْنَا مِنۢ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدًّا وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَأَغْشَيْنَاهُمْ فَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ﴾.[1]

نو نبي ﷺ دا آيتونه لوستل او را روان دے او دَ دې کافرو طرف ته ئې شګې اوغورځولې، دَ کافرانو پهٔ مخه نبي ﷺ تيريدو او دې کافرانو نهٔ ليدو، الله رب العزة ورله دا سترګې بلې خوا واړولې، پهٔ نبي ﷺ باندې هډو پوهه نهٔ شول.

اختصار دا دے: چې کله دواړه روان شول نو پهٔ دې کښې دَ ابو بکر ﷺ ځوي (عبد الله بن ابي بکر) دا ډير اوښيار وو، نو دے ورسره هم روان شو، نبي ﷺ او ابو بکر ﷺ دواړه غارِ ثور ته لاړل، چې غارِ ثور ته کله لاړل نو درې (۳) شپې او درې (۳) ورځې دوي پهٔ غارِ ثور کښې وو. دلته به دَ مکې خلقو پهٔ خپل مينځ کښې مشورې کولې چې دوي کوم خوا لاړل؟ دوي ورپسې روستو تلي هم دي، پل ئې معلومولو چې کله غار ته اورسيدل حديث کښې راځي: جولاګے راغے او دَ دې غار پهٔ خُلهٔ کښې جال جوړ کړو او کونترې اګۍ اچولې وې، نو دوي اووئيل: چې دې غار کښې شته نهٔ، او کهٔ وے نو دا جال به روان شوے وے، نبي ﷺ او ابو بکر ﷺ دواړه پهٔ غار کښې ناست دي. ابو بکر ﷺ وائي: کافران ګرځيدل، دا خپې به ئې مونږه ليدلې، وائي: ما نبي ﷺ ته اووئيل: کهٔ لږ ئې لاندې اوکتل نو مونږ به اوويني!، وائي: نبي ﷺ ما ته اوفرمائيل:

«مَا ظَنُّكَ يَا أَبَا بَكْرٍ بِاثْنَيْنِ اللهُ ثَالِثُهُمَا».[2]

"پهٔ هغه دوؤ کسانو ستا څهٔ ګمان دے چې دريم ورسره الله ملګرے دے؟". الله به زمونږه حفاظت کوي.

کافرانو دوي اونهٔ ليدل او واپس لاړل. عبد الله بن ابي بکر به دَ شپې راغے او دوي سره به ئې توله شپه تيره کړه؛ څکه چې دَ مکې حالات به ئې راوړل چې فلانکے کافر دا وائي، فلانکے

(1) [سورة يس: 9].
(2) أخرجه البخاري في كتاب أصحاب النبي ﷺ، باب مناقب المهاجرين وفضلهم، برقم: (3653).

کافر دا وائي، او بیا به سحر وختي (دَ شپې آخرۍ حصه) کښې اووتو، سحر به مکې ته رسيدلے وو، چې دَ مکې خلق پرې پوهه نۀ شي چې دۀ دا شپه پۀ کوم ځائے کښې تيره کړه. داسې سړے وو، ماسخوتن نا وخته به دَ کور نه را اووتو غارِ ثور ته به راغے او بيا به ئې غارِ ثور کښې هغوي سره تپوله مذاکره اوکړه، فلانکے کافر دا وائي، فلانکے کافر دا وائي نو دَ هغوي حال به ئې هم ورته را اورسولو او دَ نبي ﷺ او دَ ابو بکر ﷺ حال به ئې هم معلوم کړو بيا به شپه شپه کښې لاړو نو چې دَ سحر بانګونه به ئې وئيل نو هغه به هلته ناست وو.

دَ ابو بکر ﷺ يَو غلام دے دَ هغۀ څاروي به ئې څرول، اوښان به ئې څرول، ګډې او بيزې به ئې څرولې نو هغه غلام ئې پوهه کړے وو (هغه هم ډير اوښيار وو): چې تۀ به دَ څرولو پۀ خيال خپل څاروي کله کله دې خوا راولې چې مونږ له پۀ غار کښې خوراک، څښکاک ميلاويږي. نو هغه به ماښام کښې او سحر کښې څاروي اخوا بوتلل، دوي له به ئې تازه پئ اولوشل، چې څوک به نۀ وو نو هغه پئ به ئې دوي له ورکړل. درې ورځې دوي هلته کښې تيرې کړې. درې ورځې بعد بيا نبي ﷺ او ابو بکر ﷺ دواړه دَ مدينې پۀ طرف باندې روان شوي دي.

کله چې دوي دَ مدينې پۀ طرف تلل نو هغه زمانه کښې يَو کافر وو، دوي ته لار نۀ وه معلومه، کۀ پۀ مشهوره لار باندې تلل نو بيا خطره وه، چې کافران را ته مخکښې چرته لار اونۀ نيسي. نو هغه وخت کښې يَو کس وو: "عبد الله بن اريقط"، دے ئې دَ رهبرۍ پۀ طور دَ ځان سره ملګرے کړو چې تۀ به مونږ ته لار ښائې، او هغۀ له ئې پيسې ورکړې چې دا به ستا تنخوا وي. دا عبد الله بن اريقط کافر وو، مشرک وو، ليکن دَ نبي ﷺ او دَ ابو بکر ﷺ پۀ دۀ باندې پوره اعتماد وو، چې دے به زمونږ خلاف جاسوسي نۀ کوي، او داسې سړے هم وو چې دَ ابو بکر صديق ﷺ او دَ نبي ﷺ ئې ډير خيال ساتلے وو، روغ رمټ ئې تر دَ مدينې پورې رسولي وو.

تر دې ځائے پورې واقعه راغله، بيا چې نبي ﷺ مدينې منوّرې ته دننه کيدو، هغه کيفيت او هغه حالت هغه به را روانه جُمعه کښې ذکر کوؤ.

وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

بسم الله الرحمن الرحيم

لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا

(سورة الأحزاب: 21)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه يوويشتمه

"دَ نبي ﷺ مديني منوّرې ته دَ هجرت کولو پهٔ وخت کښې پهٔ لاره کښې نا آشنا نا آشنا حالات راتلل "

بتاريخ: 29-07-2022

مقام: جلسئ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

سيرة النبي ﷺ حصه يوويشتمه

"دَ نبي ﷺ مديني منوّرې ته دَ هجرت کولو پهٔ وخت کښې پهٔ لاره کښې نا آشنا نا آشنا حالات راتلل"

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللهَ كَثِيْرًا﴾. (1)

عزتمندو حاضرينو مسلمانانو رونړو! پهٔ تیره جُمعه کښې دَ رسول الله ﷺ دَ هجرت بیان شروع وو، چې نبي ﷺ مدينې منوّرې ته هجرت څنګه کړے وو؟ پهٔ غارِ ثور کښې څو ورځې هغوي تيرې کړې وې؟ او بيا دَ هغې ځائے نه مدينې منوّرې ته له څنګه تلے وو؟ نو مونږه وئيلي وو: چې دَ الله پيغمبر ﷺ دَ کور نه را اووتو نو ابو بکر صديق ﷺ او نبي ﷺ دواړه پهٔ غارِ ثور کښې درې (۳) ورځې او درې (۳) شپې حصار وو، عامر بن فهيرة ﷺ دَ ابو بکر ﷺ غلام وو، هغهٔ به دَ ابو بکر صديق ﷺ ګډې بيزې څرولې، نو هغهٔ به مازيګر کښې ګډې بيزې دېخوا راوستې پهٔ دې خيال باندې چې زهٔ ئې څروم، دوي له به ئې دَ هغې نه پئ اولوشل او پئ به ئې ورکړل. او دَ ابو بکر ﷺ ځوي وو، هغهٔ به دَ شپې دوي خوا ته راتلو او دَ شپې پهٔ آخر حصه کښې به اووتو او دَ

(1) [سورة الأحزاب: 21].

بانګونو په وخت کښې به په مکه کښې ناست وو، دَ مکې دَ خلقو حالات به ئې دوي له راوړل.

درې (۳) ورځې او درې (۳) شپې چې تیرې شوې نو دَ هغې نه بعد نبي ﷺ ابو بکر رضي الله عنه ته اووئیل: اوس دَ دې غار نه اوځو، دَ خلقو هغه ډیر زور کیښناستو.

نبي ﷺ ته دَ یو کافر دَ مدینې لار ښودل

نو یو کس دے "عبد الله بن اریقط"، دَ هغهٔ سره ئې خبره اوکړه. دے کافر وو خو ډیر امانت دار سړے وو، دهوکه مار نهٔ وو، او دهٔ ته ئې وئیلي وو: چې یو خو هغه مشهوره لار ده نو دا خو مونږ ته هم معلومه ده، په داسې لار به مونږه بوځې چې هغې باندې داسې ډیر څوک نهٔ وي؛ چې دَ دې کافرو نه بچ شو. دهٔ ته لارې معلومې وې، نو دے راغے، دوه اوښان شول: یو دَ نبي ﷺ او دَ ابو بکر رضي الله عنه او یو ورسره دے هم ملګرے شو نو دَ دهٔ اوښ شو. دوي په دوؤ اوښانو باندې روان شو او کومه چې مشهوره لار نهٔ وه نو په هغې لار روان شول. په یو اوښه باندې نبي ﷺ سور شو او په بله اوښه باندې ابو بکر صدیق رضي الله عنه او دَ هغهٔ آزاد شده غلام (عامر بن فهیره رضي الله عنه)، دَ خدمت دپاره ئې دا ځان سره روان کړو او روستو ئې وریس عبد الله بن اریقط هم کیښنولو؛ ځکه دهٔ ته لار معلومه وه چې دے به را ته لاره ښائي. او بعضې علماء وائي: چې په یو اوښه باندې نبي ﷺ او روستو وریسې ابو بکر صدیق رضي الله عنه کیښیناستو، او په دې دویمه اوښه باندې عبد الله بن ابي بکر (دَ ابو بکر رضي الله عنه ځوي)، عامر بن فهیره رضي الله عنه او هغه بل کس (عبد الله بن اریقط) کیښناستل. روان شول. یا دریمه اوښه ورسره هم وه او په هغې باندې عبد الله بن اریقط (دا کافر) کیښناستو.

په لاره کښې نا آشنا نا آشنا حالات راتلل

دوي چې روان شول نو په دې لاره کښې نا آشنا نا آشنا حالات راغلل، چې نن زهٔ ستاسو مخکښې دَ هغې تذکره کوم:

کله چې دوي په دې لاره باندې تلل نو په دغې وخت کښې ابو بکر صدیق رضي الله عنه ځان له ئې پیسې جمع کړې وې او په هغې باندې به ابو بکر صدیق رضي الله عنه غلامان اغستل او آزادول به ئې؛ دَ

دې دپاره چې زما ثواب کيږي. چالیس هزار (۴۰۰۰۰) درهم هغه زمانه کښې أبو بکر صدیق ﷺ دَ غلامانو پهٔ اغستلو او خرڅولو لګولي وو. پهٔ هغې کښې پنځهٔ زره (۵۰۰۰) درهمه پاتې وو، نور پينځيس (۳۵۰۰۰) هزار درهم ئې لګولي وو. نو ابو بکر صديق ﷺ دا پنځهٔ زره (۵۰۰۰) درهم را واغستل او وائي: پهٔ دې باندې به ما او نبي ﷺ پهٔ لاره کښې خرڅه کوؤ. عجيبه صحابه ﷺ وو هغوي ته دَ دې نه سېوا ګټه نهٔ ښکاريده. نو هغه خپلې پيسې ابو بکر صديق ﷺ راغستې دي او پهٔ لاره کښې هغه پهٔ نبي ﷺ باندې خرچ کوي.

يَو نا آشنا حالت، واقعه دَ ام معبد ﷺ

بهر حال چې دوي را روان شول نو پهٔ لاره کښې يَو خيمه مخې له راغله چې دَ هغې خيمې پهٔ خوا تيريدل نو دا خيمه دَ يَوې زنانه وه، خاوند ئې پهٔ دې موقع چرته څاروي بوتلي وو، هغه نهٔ وو. ام معبد ﷺ (چې روستو ورته بيا الله ايمان هم نصيب کړے دے)، دا دَ هغې خيمه وه. پخواني خلق به داسې وو چې چرته پهٔ شاړو کښې به ئې تامبو اوترلو او څاروي به ئې څرول. دَ دې ام معبد ﷺ دَ خيمې پهٔ خوا چې نبي ﷺ او ابو بکر ﷺ تيريدل نو دا ډيره شريفه او مهمان نوازه زنانه وه، مشهوره وه نو دغه ځائے ته چې اورسيدل نو نبي ﷺ دې ملګرو ته اووئيل: چې لږ حصار شئ کهٔ دلته څهٔ شے ميلاويږي چې ځان له ئې را واخلو، هغې ته ئې اووئيل: چې څهٔ غوښه به ميلاؤ شي او کهٔ نهٔ؟ پهٔ پيسو به ئې ترې اغسته، وائي: نشته دے. وائي: کجورې به ميلاؤ شي؟ وائي: کجورې هم نشته، هيڅ شے نشته دے.

نو دې خوا چې نبي ﷺ اوکتل نو دَ دې خيمې پهٔ ګټ کښې يَو چيلۍ ولاړه وه، نبي ﷺ ورته وائي: دا ولې ولاړه ده؟ وائي: خاوند مې نور څاروي څرولو له بوتلي دي خو دا بيماره شوې وه، انتهائي تپه ده، نو تلے نهٔ شي نو دا دَ مجبورۍ نه پهٔ دې کور کښې ولاړه ده. نو نبي ﷺ ورته وائي: دا يئ نهٔ کوي؟ هغه زنانه ورته وائي: مړه کيږي او تهٔ وائې: چې يئ نهٔ کوي!!!، هغه بالکل ختمه ده، اوچه چيلۍ ده. نبي ﷺ ورته وائي: دَ دې نه مونږ له لږ يئ نهٔ را کوې؟ نو هغه زنانه حيرانه شوه چې دې

کښې يۀ چرته دي، دا خو اوچه ده، ګټ يۀ پکښې نشته دے. نبي ﷺ ورته وائي: کۀ مونږ ترې ځان له يۀ اولوشو نو ستا به اجازت وي؟ نو هغه زنانه نوره حيرانه شوه وائي: زۀ درته وايم: چې يۀ پکښې نشته دے او تۀ وائي: چې مونږ ترې ځان له يۀ لوَشو!، نو ځه! اولوشه ترې نه کنه. شته پکښې نۀ نو تۀ به ئې ترې څۀ اولوَشې؟ نبي ﷺ اووئيل: چې صرف تۀ اجازت اوکړه نوره تۀ بے غمه شه؟ حديث پاک کښې راځي: چې نبي ﷺ راغے خو چې څنګه ئې دَ هغې غُلانزې ته لاس نزدې کړو، وائي: بسمِ اللهِ الرحمٰنِ الرحيم، نو دَ هغه چيلۍ غُلانزه يک دم دَ پيو نه ډکه شوه. نبي ﷺ اووئيل: ورشئ! لوښے راوړئ!. او چې لوښے ئې راوړو نو دومره لوښے چې تقريبًا پۀ هغې باندې پۀ يَو ځل اتۀ (۸) يا لس (۱۰) کسان مړيدل. داسې يَو لوښے ئې ورله راوړو او نبي ﷺ ورته کيښناستو او يۀ ترې لَشي، لوښے ئې ډک کړو. او چې لوښے ئې کله ډک کړو نو نبي ﷺ ام معبد رضي الله عنها ته وائي: چې تا خو به هم څۀ نۀ وي خوړلي؟ شابه! دَ دې نه يۀ اوڅکه، نو هغې زنانه باندې ئې اول اوڅکل بيا نبي ﷺ سره چې کوم ملګرې وو ابو بکر رضي الله عنه او دَ هغۀ ځوي او غلام دَ هغۀ او هغه کافر پۀ دې ټولو ئې اوڅکل. دَ الله نبي ﷺ پۀ خپله هم اوڅکل ښۀ موړ شو. وائي: ورشه! او بل لوښے راوړه، نو دَ هغې نه ئې ورله غټ يَو بل لوښے راوړو، نبي ﷺ ورته بيا کيښناستو او بيا ئې ترې يۀ لوَشَلْ، هغه لوښے ترې هم ډک شو. چې ډک شو نبي ﷺ ورته وائي: چې مونږ درنه ځو او دا لوښے سمبال کړه دا ستاسو يۀ شول.

هغه زنانه چې اوکتل چې داسې انسان خو ما چرته پۀ دنيا کښې نۀ وو ليدلے، وائي: يا رسول الله! زۀ هم درسره بيعت کوم، زۀ هم پۀ تا ايمان راوړم. هغه هم مسلمانه شوه. خاوند ئې کډې، بيزې څرولو ته بوتلې وې، چې کله ئې خاوند راغے نو اوئې کتل (کډې بيزې خو دَ هغۀ سره وې، پۀ کور کښې خو دَ پيو کډه، بيزه نۀ وه) نو لوښے دَ پيو نه ډک دے. هغه خاوند دې زنانه ته وائي: چې دا يۀ درله چا درکړي دي؟ دا دومره يۀ دَ کوم ځائے نه راغلل؟ پۀ کور کښې خو دَ پيو کډه، بيزه هم پاتې نۀ وه، چې تا به دَ هغې نه لوَشلے وے؟ نو امّ معبد رضي الله عنها ورته وائي: چې سړيه! څۀ نا آشنا قصه شوې ده، نن پۀ دې لاره داسې يَو مبارَک انسان تيريدو، زما دې پۀ الله قسم وي! کۀ چرته هم زما سترګو

داسې انسان لیدلے وي، هغهٔ چې دَ دې چیلۍ غُلانزې ته کوتې کړې نو دَ دې غُلانز ډکه شوه. ابو معبد ته ښځې دا ټوله قصه اوکړه.

دَ ابو معبد رضي الله عنه ایمان راوړل

دَ ابو معبد رضي الله عنه پهٔ زړهٔ کښې هم یَو مینه او محبت پیدا شو. وائي: کډې او بیزې تهٔ سمبالَوه او زهٔ دغه دے چې لا ړم، دَ دې سړي ملاقات ته زهٔ هم ځم. دے روان شو (الله اکبر!)، خو دے ښځې ته وائي: چې ما ته ئې داسې نخښه او پته اوښایه چې زهٔ به چا چا پسې کرځم او څوک به کورم. دا زنانه ورته دَ نبي ﷺ هغه حلیه بیانَوي: چې داسې یَو خائسته انسان وو، نهٔ ډیر دنګ وو او نهٔ ډیر مندرے وو، نهٔ ډیر خرب وو، نهٔ ډیر نرے وو، سترګې ئې داسې وې.... او ګیره ئې داسې وه، لباس ئې داسې وو، دَ نبي ﷺ دا هیئت ئې چې ورته څنګه بیان کړو نو ابو معبد رضي الله عنه خپلې بي بي ته وائي: ښځې! دا خو جوړې دَ قریشو هغه نوجوان دے چې دے ځان ته پیغمبر وائي، را روان شو او چې راغے نو دَ نبي ﷺ خوا ته راغے او دهٔ هم پهٔ نبي ﷺ باندې ایمان راوړو، دے هم بیا مسلمان شوے دے. او شیخ الحدیث مولانا محمد ادریس کاندهلوي رحمه الله هغه اشعار را نقل کړي دي، چې دے پهٔ دې لاره تلو نو دهٔ به غیبي اشعار اوریدل او انسان دَ شعرونو وئیلو والا به چرته پهٔ نظر نهٔ راتلو، دَ هغې نه هم پهٔ دهٔ پوره اثر شوے وو. پهٔ هغې کښې ډیر اشعار دي خو یَو څو شعرونه پکښې دا دي:

جَزَى اللهُ رَبُّ النَّاسِ خَيْرَ جَزَائِهِ　　رَفِيقَيْنِ حَلاَّ خَيْمَتَيْ أُمِّ مَعْبَدِ

"هغه الله چې دَ ټولو خلقو مالک دے هغه دې دَ خیر بدله ورکړي (بهترینه بدله دې ورکړي) هغه دوؤ دوستانو ته (هغه دوؤ ملګرو ته) چې دَ امِّ معبد پهٔ خیمه کښې میلمانهٔ وو او دغه خیمې ته ورغلي وو".

هُمَا نَزَلاَهَا بِالْهُدَى فَاهْتَدَتْ بِهِ　　فَقَدْ فَازَ مَنْ أَمْسَى رَفِيقَ مُحَمَّدِ

"دې دواړو ملګرو (ابو بکر رضي الله عنه او دَ الله پیغمبر ﷺ) دَ امِّ معبد خیمې ته ځان سره هدایت یوړو (رڼرا ئې یوړه)، نو امِّ معبد هدایت دَ دوي نه قبول کړو، هغه ئې حاصل کړو نو ایمان ئې

راورو)، پهٔ تحقيق سره کامياب دے هغه څوک چې هغهٔ دَ رسول الله ﷺ سره ملګرے شوے دے"، څوک چې دَ دې پيغمبر ﷺ ملګرے شي نو هغه کامياب شي.

لِيَهْنَ أَبَا بَكْرٍ سَعَادَةَ جَدِّهِ بِصُحْبَتِهِ مَنْ يُسْعِدِ اللهُ يَسْعَدِ(1)

"مبارک دې شي دَ ابو بکر دپاره دَ هغهٔ دَ کوشش او دَ هغهٔ دَ محنت دې نيک بختي؛ ځکه چې دے دَ هغه چا ملګرے دے چې څوک الله نيک بخته کوي نو دَ دهٔ ملګرے ئې کړي او نيک بخته ئې کړي". او داسې شروع ئې اوکړه، شعرونه ئې وئيل.

دهٔ چې دا شعرونه واوريدل نو دَ دهٔ پهٔ زړهٔ کښې نوره مينه هم پيدا شوه، او نور ئې محبت سبوا شو نو دے هم راغے او پهٔ نبي ﷺ ئې ايمان راورو.

نو ابو معبد هم مسلمان شو. نو هجرت کښې دا يَو نا آشنا واقعه مخې ته راغله.

دويم نا آشنا حالت: واقعه دَ سراقه بن مالک بن جعشم

بله نا آشنا قصه داسې اوشوه، کله چې نبي ﷺ او ابو بکر ﷺ هجرت کوي، نو کافرانو خو دوي اونهٔ موندل، چې دوي پهٔ کوم طرف لاړل؟ نو کافرانو اعلان اوکړو، کير چاپيره ئې اِشتهارات خوارهٔ کړل: چې انعام مقرر دے هغه چا لره چې چا يا دَ الله پيغمبر ﷺ ژوندے راوستو او يا ئې شهيد کړو، يا ئې ابو بکر ﷺ ژوندے راوستو او يا ئې شهيد کړو هغوي ته به سل (۱۰۰) اوښان ميلاويږي. شابېٔ! ځان اورَسوئ، چې چا چرته اوموندل نو انعام به درله نقد ميلاويږي. چې دَ چا پهٔ زړهٔ کښې لالچ وو نو هر يَو به وئيل: چې زهٔ مخکښې اورسيدے.

دې کښې يَو کس دے "سراقه بن مالک بن جعشم"، دا سراقه بن مالک بن جعشم دا دَ عربو يَو لوئي پهلوان وو، ډير جنجګو او بهادر انسان حسابيدو او مشهور بد معاش وو. سراقه بن مالک بن جعشم ته چا اووئيل: چې تا ته پته ده؟ داسې يَو اعلان شوے دے، چې نبي (ﷺ) او ابو بکر (ﷺ) مديني ته هجرت کوي نو کهٔ چرته چا اوليدل مړهٔ ئې کړل او يا ئې ژوندي اونيول نو سل (۱۰۰) اوښان به انعام کښې ميلاويږي. سراقه زړهٔ کښې اووئيل: دا اوس موقع ده، دا انعام اغستل غواړي.

(1) انظر: "سيرة المصطفى"، طبع: مكتبة عمر فاروق مخرّجا: (302/1 - 304).

چا ورته اوویٔیل: یره! دَ دې سمندر پهٔ غاړه څهٔ کسان روان وو، جوړې دغه دي؟ سراقه وائي: چې ما زړهٔ کښې اوویٔیل: کهٔ زهٔ او وایم: چې دا دي نو هسې نهٔ چې بل څوک را نه مخکښې شي، او دا انعام را نه هغه اوګټي نو وائي: هغوي ته مې اوویٔیل: چې هغه بل څوک دي، هغه ما لیدلي دي، هغه نهٔ دي؛ دَ دې دپاره مې ورته دا اوویٔیل: چې دَ دوي نه دي خطاء کړم او دا انعام زهٔ اوګټم.

وائي: دَ دوي نه لږ غوندې ساعت پس غلے غوندې پاسیدم چې کور ته ځم. وائي: وینزې ته مې سوال جواب اوکړو: چې شابه! اس باندې زین واچوه او اس باندې سامان برابر کړه او دَ هغه فلانکئ ډیرئ ویخ ته ئې راوله، فناه ځائے وو، چې دې خلقو زهٔ لیدم نهٔ، هغې ته ئې راوله او زهٔ کور ته غلے غوندې لاړم، توره مې را واغسته او غشي مې را واغستل او واپس راغلم. وینزې ما له هغه اس هغه ځائے ته رارسولے وو. او یک یَواځې زهٔ پهٔ خپل اس باندې سور شوم. اوس چرته دَ اوښانو او چرته دَ اس دَ دې چرته کیږي، هغوي پهٔ اوښانو روان دي او دے وریسې پهٔ اس روان شو. وائي: چې دَ سمندر پهٔ غاړه باندې لاړم نو مخکښې ګورم نبي ﷺ دے او ابو بکر رضی اللہ عنہ دے او دا نور کسان (دا غلام او خادم ئې او بل کافر کوم چې ورته لاره ښائي) ورسره دي. ابو بکر رضی اللہ عنہ چې شاه طرف ته اوکتل نو ابو بکر رضی اللہ عنہ نبي ﷺ ته وائي: چې یا رسول الله! هغه دے سراقه بن مالک را روان دے، توره پهٔ لاس دے، غشي ورسره دي، اوس به څهٔ کوؤ؟ مونږ خو تش تور یُو، څهٔ را سره شته هم نهٔ. وائي: نبي ﷺ ابو بکر رضی اللہ عنہ ته اوویٔیل: چې پروا مهٔ کوه:

﴿لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا﴾.[1]

اے ابو بکره! مهٔ خفه کیږه! "مهٔ غمژن کیږه! یقینًا الله تعالٰی زمونږ ملګرے دے"، الله به زمونږ امداد کوي. دَ سره ورته ګوره مهٔ.

وائي: پهٔ دې کښې نبي ﷺ خیرې اوکړې، دوه (۲) قسمه الفاظ پهٔ احادیثو کښې راغلي: یَو قسم الفاظ راغلي: چې:

«اللّٰهُمَّ اصْرِعْهُ».[1]

(1) [سورة التوبة: 40].

"يا الله! دَ دې اس نه ئې را اوغورځوه".

او يَو روايت کښې راځي: نبي ﷺ دعاء اوکړه:

«اللهُمَّ اكْفِنَا بِمَا شِئْتَ».[2]

"الله زمونږ دپاره تهٔ کافي شي څنګه چې ستا خوښه وي، پهٔ څهٔ شي چې ستا خوښه وي"، دَ دې ظالم نه مونږه خلاص کړه.

ابو بکر صديق رضي الله عنه وائي او سراقه پهٔ خپله هم وائي: چې کله زهٔ ور نزدې شوم نو پهٔ کلکه زمکه کښې زما اس دَ خپو نه ډوب شو، بس زمکې زما دا اس اونيولو تر سينې پورې اس خخ شو، زوررونه کوي او اس راختلے نهٔ شي، نو وائي: زهٔ پوهه شوم چې دا نور څهٔ نهٔ دي، دا پيغمبر ﷺ خيرې کړې دي، او دا دَ هغې اثر دے. خو وائي: يک دم زما پهٔ زړهٔ کښې راغلل چې دَ دې سړي مقابله کيدے نهٔ شي، او يَو وخت به داسې راځي: چې دے به الله تعالىٰ پهٔ دې ټولو عربو باندې زورَور کوي، داسې يَو زمانه به راځي. وائي: ما ورته اووئيل: چې ستاسو دې پهٔ الله قسم وي چې ستاسو خيرو زما دا اس دلته حصار کړے دے، زما دې پهٔ خپل الله قسم وي چې زهٔ تاسو سره وعده کوم چې زهٔ به بالکل تاسو له تکليف نهٔ رسوم او تکليف څهٔ چې زهٔ به مو بچ کوم؛ څکه چې نور خلق ما پسې را روان دي، زهٔ به ورته وايم: چې پهٔ دې لاره باندې زهٔ تلے يم، او ما څوک ليدلي نهٔ دي، خو اوس دَ الله تعالىٰ نه سؤال اوکړئ چې زما اَس الله خلاص کړي او ما الله پهٔ خير واپس کړي؛ څکه چې دا شے خو ما پهٔ اول ځل اوليدو. وائي: پهٔ دې کښې نبي ﷺ دعاء اوکړه، او چې څنګه ئې دعاء اوکړه نو دَ اس خپې را کولاؤ شوې. نو چې را کولاوې شوې نو سراقه پوهه شو چې دا کمال خو پهٔ دې سړي کښې دے چې وختي مې اس انختے وو او چې دهٔ دعاء اوکړه نو را خلاص شو. نو پوهه شو چې دا اوچت انسان دے. نو نبي ﷺ ته وائي: چې زهٔ يَو درخواست کوم کهٔ دا دې را ته منظور کړو دا به ډيره ښهٔ وي؟ وائي: څهٔ؟ سراقه وائي: زما يقين راغے چې ته به يَو ځل الله پهٔ دې دنيا غالب کوي

(1) أخرجه البخاري في كتاب مناقب الأنصار، باب هجرة النبي ﷺ وأصحابه إلى المدينة، برقم: (3911).

(2) انظر: "دلائل النبوة" للبيهقي، برقم: (483/2).

او دا تړوله دنیا به دَ دهٔ دَ حکومت دَ لاندې راځي، دَ دهٔ سره څوک مقابله شي کولے چې الله دَ دهٔ داسې غیبي امدادونه کوي؟ وائي: ما ورته اووئیل: چې زما دپاره به یَو خط لیکې چې ما له به امان راکوې، ما ته معافي کوې، کهٔ ستا ملګري زورَور شي چې ما بیا نهٔ وژني؟ نو نبي ﷺ اووئیل: چې هلکه! دا ورله اولیکۀ!. د ابو بکر رضي الله عنه غلام چې وو عامر بن فهیره رضي الله عنه، چې خدمت دپاره ورسره تلے وو، دے کاتب هم وو. هغه زمانه وه چې نهٔ کاغذونه وو، او نهٔ دومره اسباب وو نو وائي: عامره! شابه! دهٔ له څهٔ امان اولیکه!، دَ دهٔ دپاره دَ امن خط اولیکه. نو دَ دهٔ دپاره ئې دَ امن یَو خط اولیکو، او خط ئې پهٔ څهٔ اولیکو؟ نو دَ څرمنې یَو ټکړه ئې را کټ کړه او پهٔ هغې باندې ئې اولیکلو: چې دا دَ دهٔ دپاره امان دے دهٔ ته به څوک څهٔ نهٔ وائي.

ابو جهل ته دَ سراقه خپله واقعه بیا نول

یَو ځل ابو جهل ته سراقه هغه خپله قصه پهٔ شعر کښې کوي، وائي:

أَبَا حَكَمٍ وَاللهِ لَوْ كُنْتَ شَاهِدًا ... لِأَمْرِ جَوَادِي إِذْ تَسِيخُ قَوَائِمُهُ

عَجِبْتَ وَلَمْ تَشْكُكْ بِأَنَّ مُحَمَّدًا ... نَبِيٌّ وَبُرْهَانٌ فَمَنْ ذَا يُقَاوِمُهُ[1]

"اے ابو حکمه! قسم پهٔ الله! کهٔ چرته تهٔ حاضر وے هغه موقعې ته کله چې زما کره اسْ دَ خلورو وارو خپو نه انختے وو، نو تهٔ به حیرانه شوے وې او تا به شک نهٔ وو کړے چې یقینًا محمد (ﷺ) پیغمبر دے او واضحه دلیل دے نو څوک به دَ دهٔ مقابله اوکړي؟".

ابو حکم دا دَ ابو جهل کُنیه وه، وائي: اے ابو جهله! زما دې پهٔ الله قسم وي! کهٔ چرته هغه موقع کښې تهٔ حاضر وې کله چې زما هغه کره آسْ چې دَ هغې نه چرته اسونو دوړ کتلے نهٔ وو، چرته هغه پساؤ شوے نهٔ وو او هغه دَ څلورو وارو خپو نه اونختو او دَ ځائے نه خوزیدے نهٔ شو، ابو جهله! کهٔ تا دا منظر لیدلے وے نو تا به پهٔ دې یقین کړے وے، ستا زړهٔ کښې به شک هم نهٔ وو پاتې شوے، پهٔ دې خبره به ستا یقین راغلے وے چې محمد (ﷺ) دَ الله نبي (ﷺ) دے، او پوره واضحه دلیل سره نبي دے او هیڅ څوک دَ دهٔ مقابله کولے نهٔ شي؛ ځکه چې نهٔ ئې زما اسْ ته

(1) انظر: "دلائل النبوة" لأبي نعيم الأصبهاني، برقم: (237)، و"دلائل النبوة" للبيهقي: (489/2).

لاس ورړے دے او نۀ ئې پرې ګُزار کړے دے او آس انختے دے نو ابو جهله! تا به ښۀ یقین سره دا خبره منلے وے چې دَ دې نبي (ﷺ) سره مقابله ګرانه ده، خو تۀ خو هغه ځائے کښې نۀ وې.

دَ نبي ﷺ دَ معجزې تشبیه دَ موسی علیه السلام دَ معجزې سره

محدّثین وائي: دَ نبي ﷺ دا معجزه دَ موسٰی علیه السلام دَ معجزې سره مشابه وه؛ دَ موسٰی علیه السلام پۀ زمانه کښې قارون ډیر مالداره وو، پۀ خپل مال به ډیر نازیدو او پۀ خپل خائست او پۀ خپل طاقت به ډیر نازیدو، دَ موسٰی علیه السلام سره به ئې مقابلې کولې، وئیل به ئې: مړه! دے ځان ته پیغمبر وائي او دَ ډوډۍ درک ئې نۀ لګي، خپل کور ئې نشته او دا ئې نشته او زۀ ډیر اوچت سړے یم. نو موسٰی علیه السلام خیرې اوکړې نو الله رب العزة فرمائي:

﴿فَخَسَفْنَا بِهِۦ وَبِدَارِهِ ٱلْأَرْضَ﴾.[1]

"مونږه قارون او دَ قارون کور پۀ زمکه کښې خکته اوموندل".

نو قارون تباه او برباد شو، سره دَ مال او دَ خزانو نه غرق شو. نو دَ موسٰی علیه السلام معجزه دا وه: چې دَ هغۀ دَ وجې نه الله رب العزة قارون او دَ هغۀ کور پۀ زمکه منډلے وو، نو دَ رسول الله ﷺ معجزه دا شوه: چې دَ سراقه اس الله پۀ زمکه کښې خخ کړو، خو پۀ دعاء دَ رسول الله ﷺ بیا را خلاص شو.

دَ سراقه نورو خلقو لره واپس کول

سراقه واپس شو، وعده خو ئې کړې وه کنه، نو پۀ لاره کښې به چې ورته څوک هم مخې ته له راغے نو دۀ به ورته وئیل: څۀ کوې؟ وائي: یره! کۀ چرته پۀ قِسَمت کښې مې دا انعام وي، کۀ دا مې اوکټلو نو ځم کۀ چرته دا پیغمبر (ﷺ) مې اولیدو!. نو سراقه به ورته اووئیل: چې دا علاقه خو ما توله اوکتله، دا دے واپس را روان یم، پۀ دې لاره نشته دے. نو هغه به ئې هم واپس کړو. بل به مخې له راغے وائي: ځم کۀ چرته دا انعام ما اوګټلو!، دا پیغمبر شهید کوم، نو هغۀ به ورته اووئیل: چې ظالمه! دا دے اس مې پۀ منډو منډو ستړے کړو ما خو چرته اونۀ لیدو، راځه! هسې ځان مۀ ستړے کوه، پۀ بله لار تلے دے، پۀ دې لار نشته دے. نو نور کسان الله رب العزة

(1) [سورة القصص: 81].

دَ سراقه په وجه واپس کړل.

دریم ناآشنا حالت: دَ بریدة الأسلمي ﷺ واقعه

نبي ﷺ او ابو بکر ﷺ ملګري روان شول، بیا روان دي، په لاره کښې چې مخکښې لاړل نو بریدةُ الْأَسْلمي ﷺ ورله مخې ته را اورسیدو. بُریدة الاسلميٰ دا بل صحابي دے، دې ټولو ته بیا الله رب العزة ایمان نصیب کړے دے. دے هم دَ دې اعلان نه خبر شوے وو: چې سل اوښان میلاویږي چې چا دے شهید کړو او یا ئې ژوندے اونیولو. نو دهٔ دَ ځان سره نور کسان هم ملګري کړل، اویا (۷۰) کسان ئې ځان سره واغستل، وائي: راځئ! مونږه اویا (۷۰) کسان یُو، دے به زمونږ نه په کومه لار باندې ځي؟ دَ اویاؤ (۷۰) کسانو ډله ئې تیاره کړه او روان شو چې نبي (ﷺ) او ابو بکر (ﷺ) که چرته مخې له راغلل نو موقع ده انعام به حاصل کړو، چې کله دوي دَ الله دَ پیغمبر او دَ ابو بکر صدیق ﷺ په تالاش کښې روان شول نو دوي هم دَ نبي ﷺ او ابو بکر ﷺ خوا ته اورسیدل. چې کله بُریده وزنزدې شو نو نبي ﷺ ورته آواز کوي:

"مَنْ أَنْتَ؟"

"هلکه ته څوک ئې؟".

نو دے ورته جواب کښې وائي:

"أَنَا بُرَيْدَةُ". "زهٔ بُریده یم".

نو چې کله ئې دا تپوس اوکړو نو ابو بکر صدیق ﷺ وائي: نبي ﷺ ما ته اوکتل او ما ته ئې اووئیل:

"يَا أَبَا بَكْرٍ! بَرُدَ أَمْرُنَا وَصَلُحَ".

"پروا مهٔ کوه! زمونږ کار چې دے هغه یخ شو او برابر شو".

دا نبي ﷺ دَ دې نوم نه دا یَو اثر معلوم کړو، چې دَ بریده معنیٰ "يَخْ" ده، دَ "بَرَدَ" نه ماخوذ دے، یَخْ کوتے. معنیٰ: زمونږ کار یخ شو، زمونږ کار هغه خائسته شو او برابر شو. بیا ورته نبي ﷺ وائي: ته دَ کومې قبیلې نه ئې؟

نو دے ورته وائي: "مِنْ أَسْلَمَ". "زهٔ دَ اسْلَم قبیلې نه یم".

دَ الله پیغمبر ﷺ بیا ابو بکر ﷺ ته اوکتل او ابو بکر ﷺ ته تفاؤُلًا وائي:

"سَلِمْنَا".

"اے ابو بکره! بس مونږ دَ دوي دَ شرّ نه محفوظ شو"، پروا مهٔ کوه! مونږه الله ساتي. بیا ورته دَ الله نبي ﷺ وائي: چې اسلم خاندان کښې دَ کوم خاندان نه ئې؟ نو هغه ورته وائي:

"مِنْ بَنِي سَهْمٍ"

"زهٔ دَ بني سهم قبیلې یم".

نبي ﷺ بریده ته وائي:

"خَرَجَ سَهْمُكَ".

"بریده! بس ستا دَ ایمان غشے راوتلے دے"، تا ته به الله ایمان نصیب کوي.

بس چې څنګه ئې ورته دا اوونیل نو دا بریده پیغمبر ﷺ ته وائي:

"فَمَنْ أَنْتَ؟". "تهٔ څوک ئې؟".

نبي ﷺ ورته وائي:

"أَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ رَسُولُ اللهِ".

"زهٔ محمد یم، دَ عبد الله څوي یم او دَ الله رسول یم".

نو بریده ورته وائي: خا! تهٔ دَ الله رسول ئې؟ نو هغهٔ ورته وائي: آو! زهٔ پیغمبر یم. دے ورته وائي: چې تهٔ رسول الله ئې نو زما اعلان واوره:

"أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَنَّكَ عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ".[1]

چغه ئې کړه او کلمه ئې اوونیله. راغلے دوي پسې دے چې انعام کټم او دَ الله پیغمبر (ﷺ) وژنم، دهٔ هم دَ ایمان شهادت ورکړو. او هغه اویا (٧٠) ملګري چې کوم ورسره دي هغوي چې اوکتل چې دې مشر ئې ایمان راوړو نو هغوي هم چغې کړې چې: "أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ". پهٔ یو ځائے باندې اویا (٧٠) کسانو ته الله رب العزة پهٔ دغه ځائے کښې

(1) انظر: "أخلاق النبي ﷺ" لابي الشيخ الأصبهاني: (65/4)، برقم: (788).

ایمان نصیب کړو. تلي دَ الله دَ پیغمبر (ﷺ) وژلو پسې او هغوي هم مسلمانان شول او هغوي هم دَ الله په نبي ﷺ باندې ایمان راوړو.

دَ نبي ﷺ ابو بکر ؓ ته وینا

دَ دې نه پس نبي ﷺ ابو بکر ؓ ته اوونیل: چې ابو بکرا دَ دې نه پس پروا مهٔ کوه، دَ کافرانو نه را خلاص شو، دَ هغوي چې څومره زور وو، دغې ځائے پورې ئې منډې اووهلې چې کوم مونږ ته راورسیدل، هغوي ته الله ایمان نصیب کړو او نور نهٔ شي را رسیدے. دلته دَ مکې والا انعامونه مقرر کړي دي، چې څوک به ئې وژني او څوک به ئې ژوندي راولي چې سل سل اوښان ورله ورکړو. دَ مدینې والا په دې انتظار دي چې څوک به مونږ له دَ رسول الله ﷺ دَ راتلو زیرے راوړي چې مونږ ورله انعام ورکړو (اللهُ أکبر کبیرا!).

دَ مدینې دَ خلقو سحر وختي دَ کور نه راوتل

ان شاء الله را روانه جُمعه کښې به زهٔ تاسو ته اووایم: دَ مدینې خلق هغوي به سحر وختي چونکه خبر لګیدلے وو، ټیلیفون په هغه زمانه کښې نهٔ وو، داسې نور څهٔ مراسل هم نهٔ وو، په تلو تلو به وخت لګیدو. نو خبر رسیدلے وو چې رسول الله ﷺ را روان شوے دے نو دَ مدینې خلق به سحر وختي راغلل، دَ کورونو نه به را اووتل، یَو اوچت ځائے کښې یَو ډیرئ وه او په هغې ډیرئ باندې به ولاړ وو، غرمه به شوه، نمر به را ګرم شو، په دې انتظار به وو چې کوم بختور به اول دَ الله نبي ﷺ او ابو بکر ؓ اووینې!!! چې رانزدې شوي خو به نهٔ وي نو چې نهٔ به وو نو بیا به لاړل خپلو کورونو ته. او کله چې به صبا شو نو بیا به سحر وختي راغلل او په دې انتظار به ولاړ وو، تو له ورځ به تیره شوه چې بیا به را اونهٔ رسیدل نو بیا به واپس لاړل. په دغه ځائے کښې حرّه یَو مقام دے، دَ دغې حرّې پورې به هغوي راتلل، دا یَو اوچت ځائے دے دَ دې نه به دَ لرې پورې اندازه لګیده. نو هغې حرّې کښې به هغوي ولاړ وو.

یَوه ورځ داسې اوشوه چې دوي راغلي دي او په دې انتظار دي چې کهٔ رسول الله ﷺ راشي نو څومره به ښهٔ وي!، نو دَ دوي یقین ختم شو چې نن هم رانغلو، دوي واپس لاړل او چې څنګه واپس

لا رل نو لږ وخت تیر شو نو یهودي هلته کښې وو، چغه ئې کړه، چې کله ئې اوکتل چې نبي ﷺ دے او ورسره ملګري دي او دَ لرې نه داسې پړقیږي، چغه ئې کړه:

"يَا بَنِي قَيْلَةَ، هَذَا جَدُّكُمْ".[1]

"اے بني قیلوا (دا "قیله" دَ مدینې والؤ یَوه پخوانۍ نیا (دادي) تیره شوې شوه نو دَ انصارو دا نسل دَ هغې نه خوره شوے وو)، اے دَ قیله ابۍ ځامنو! ستاسو هغه نصیب، ستاسو هغه ارمان او ستاسو هغه کوشش او تاسو چې به دَ چا پۀ انتظار کښې توله ورځ ولاړ وئ هغه دے راغے".

چې څنګه دا آواز کیدل وو نو دَ مدینې انصارو صحابؤ ﷺ بے اختیاره منډې وهلې دَ رسول الله ﷺ دَ ملاقات دپاره. ان شاء اللّٰهُ تعالٰی دَ هغې تذکره به بیا کوؤ، او بیا رسول الله ﷺ دَ چا ځائے ته لاړو؟ او مدینه کښې بیا څنګه پاتې کیدو؟ دَ هغې ذکر به بله جُمعه کښې راشي.

وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

---

(1) أنظر: "سيرة ابن هشام": (492/1)، و"دلائل النبوة" للبيهقي: (503/2).

بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا

(سورة الأحزاب: 21)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه دوه ويشتمه

"پهٔ مدينه منوّره کښې دَ هجري کال ابتداء او نبي ﷺ دَ چا پهٔ کور کښې پاتي کيدو؟ "

بتاريخ: 2022-08-05

مقام: جلسئ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

سيرة النبي ﷺ حصه دوه ويشتمه

"پهٔ مدينه منوّره كښې دَ هجري كال ابتداء او نبي ﷺ دَ چا پهٔ كور كښې پاتې كيدو؟"

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا﴾.(1)

عزتمندو حاضرينو مسلمانانو رونړو! دَ رسول الله ﷺ سيرتِ مباركه شروع وو، تر دې ځائے پورې خبره را رسيدلې وه چې رسول الله ﷺ دَ مكّې مكرّمې نه مدينې منوّرې ته دَ هجرت پهٔ اراده را روان شو، پهٔ تيره جُمعه كښې چې دَ مكّې نه را روان شو، دَ غارِ ثور نه مدينې ته راتلو نو پهٔ دې لاره كښې چې عجائب او واقعات وو نو دَ هغې تذكره مونږ كړې وه.

اول دَ نبي ﷺ قُباء ته راتلل

كله چې رسول الله ﷺ مدينې منوّرې ته را اورسيدو نو دَ مدينې نه بهر دَ دريؤ (۳) ميلو پهٔ فاصله باندې يَو علاقه ده، يَو آبادے دے چې هغې ته "قُباء" وائي. دغه ځائے دَ مدينې څهٔ خلق (انصار) اوسيدل، دَ انصارو څهٔ خاندانونه هلته كښې آباد وو. پهٔ هغې كښې دَ ټولو نه ممتاز خاندان

---

(1) [سورة الأحزاب: 21].

چې وو، اوچت خاندان چې وو نو هغه دَ عَمرو بن عوف ﷺ خاندان وو، او دَ هغې خاندان سردار چې وو نو "كلثوم بن هدم ﷺ" وو. نبي ﷺ چې مدينې ته راغے نو اول ئې پهٔ قُباء کښې پړاؤ اوکړو، دغه كلثوم بن هدم ﷺ دَ دوي پهٔ ځائے کښې رسول الله ﷺ پاتې شو. او ابو بکر صديق ﷺ دَ يو بل صحابي چې خبيب بن اساف ﷺ نوم ئې دے، دَ هغوي ځائے ته لاړو او دَ هغوي سره ميلمه شو.

او چې کله دَ قُباء خلق او دَ مدينې خلق دَ نبي ﷺ نه خبريدل نو ډلې ډلې خلق به راتلل او دَ رسول الله ﷺ خدمت کښې به حاضريدل او کير چاپيره ډيره زياته خوشحالي وه. نبي ﷺ چې علي ﷺ پريخودے وو پهٔ خپله بستره باندې او نبي ﷺ راوتے وو نو علي ﷺ دَ نبي ﷺ دَ هجرت نه پس درې (۳) ورځې هلته حصار وو، کوم امانتونه چې نبي ﷺ ورته حواله کړي وو هغه ئې ټول خپلو خپلو مالکانو ته اورسول او چې څهٔ ذمه وارئ وې نو هغه ئې پوره کړې او بيا علي ﷺ را روان شوے دے. دَ الله پيغمبر ﷺ لا پهٔ قُباء کښې وو چې علي ﷺ هم را اورسيدو او دَ كلثوم بن هدم ﷺ پهٔ ځائے کښې دَ نبي ﷺ سره ميلاؤ شو.

پهٔ قُباء کښې دَ نبي ﷺ اولنې کار

پهٔ قُباء کښې دَ ټولو نه اول کار چې نبي ﷺ کړے وو نو هغه دَ مسجد قُباء تعمير وو، دَ هغې بنياد وو. دَ خپل دَ کور نه مخکښې دَ الله دَ کور سوچ وو. او پهٔ هغې کښې دَ ټولو نه اول کانړے پهٔ خپلو لاسونو نبي ﷺ پهٔ قباء کښې لګولے وو، قبلې طرف ته ئې کيخودو او صحابو ﷺ ته ئې اووئيل: چې دلته به دَ الله دَ عبادت ځائے جوړوؤ، جومات به جوړوؤ. وريسې ابو بکر صديق ﷺ کانړے راوړو او بيا وريسې عمر ﷺ راوړو، دَ دې نه بعد بيا صحابه ﷺ شروع شول، هر يو صحابي دَ خپلې مينې اظهار کوي او جومات جوړوي. کار شروع شو، نبي ﷺ څو ورځې حصار وو بيا نبي ﷺ دَ هلته نه را روان شو مدينې منوّرې ته. او مدينې منوّرې ته چې راتلو نو پهٔ لاره کښې دَ جُمعې دَ مونځ ټائم راغے نو رسول الله ﷺ دَ جُمعې مونځ هغه بيا پهٔ لاره کښې کړے دے.

پهٔ قباء کښې دَ مونځ فضيلت

دَ مسجد قباء دومره فضيلت دے چې حديث کښې راځي: رسول الله ﷺ به هره ورځ دَ خالي پۀ ورځ مسجدِ قباء ته تللو، کله پيادل او کله پۀ سورلئ، درې (۳) ميله مزل به ئې کولو. نو دَ خالي پۀ ورځ به لاړو او هلته کښې به ئې دوه رکعته نفل کول. دَ مديني نه به هلته تلو!!!.

او دَ سهل بن حنيف ﷺ روايت دے چې رسول الله ﷺ فرمائي:

«مَنْ تَطَهَّرَ فِي بَيْتِهِ ثُمَّ أَتَى مَسْجِدَ قُبَاءَ، فَصَلَّى فِيهِ صَلَاةً، كَانَ لَهُ كَأَجْرِ عُمْرَةٍ».[1]

"کوم سړے چې خپل کور کښې اودس اوکړي بيا مسجدِ قباء ته روان شي؛ دَ دې دپاره چې هلته دے دوه رکعته مونځ اوکړي نو دۀ ته پۀ دې قباء کښې دَ يَو عمرې هومره ثواب ميلاويږي".

اوس هم چې څوک مديني ته لاړ شي نو مسجد قباء ته خامخا ځي، او پۀ هغې کښې دوه رکعته مونځ کولو باندې دَ يَو عمرې هومره ثواب ميلاويږي.

دَ نبي ﷺ مديني منوّرې ته روانيدل او پۀ لاره کښې دَ نبي ﷺ دَ جُمعې اولنۍ خطبه وئيل

دا جومات لا برابر نۀ وو صحابه کرامو ﷺ ته ئې اووئيل: چې دا جومات به جوړوئ. او نبي ﷺ مديني منوّرې ته را روان شو، پۀ اوښه مبارکه سور شو، پۀ لاره کښې محلّه راځي "بني سالم"، بني سالم ته چې نبي ﷺ را اورسيدو نو دَ جُمعې دَ مانځۀ ټائم وو، هلته دَ الله رسول ﷺ دَ جُمعې مونځ اوکړو او اولنۍ خطبه وه چې رسول الله ﷺ دَ جُمعې پۀ خطبه کښې صحابه کرامو ﷺ ته وئيلې وه، "المنتظم في تاريخ الملوك والأُمم" دَ هغې خطبې څۀ الفاظ هم زاوړي دي چې رسول الله ﷺ کومه خطبه وئيلې وه دَ هغې خلاصه دا وه، دَ الله نبي ﷺ وئيلي وو:

«الْحَمْدُ لله، أَحْمَدُهُ وَأَسْتَعِينُهُ، وَأَسْتَغْفِرُهُ وَأَسْتَهْدِيهِ وَأُومِنُ بِهِ وَلَا أَكْفُرُهُ، وَأُعَادِي مَنْ يَكْفُرُهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ لا إِلَهَ إِلا اللهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، أَرْسَلَهُ بِالْهُدَى وَالنُّورِ وَالْمَوْعِظَةِ، عَلَى فَتْرَةٍ مِنَ الرُّسُلِ، وَقِلَّةٍ مِنَ الْعِلْمِ، وَضَلَالَةٍ مِنَ النَّاسِ، وَانْقِطَاعٍ عَنِ الزَّمَانِ، وَدُنُوٍّ مِنَ السَّاعَةِ، وَقُرْبٍ مِنَ الأَجَلِ، مَنْ يُطِعِ اللهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ رَشَدَ، وَمَنْ يَعْصِ اللهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ غَوَى وَفَرَّطَ، وَضَلَّ ضَلالا بَعِيدًا، وَأُوصِيكُمْ بِتَقْوَى اللهِ، فَإِنَّهُ خَيْرُ مَا أَوْصَى بِهِ الْمُسْلِمَ الْمُسْلِمُ أَنْ يَحُضَّهُ عَلَى

(1) أخرجه ابن ماجة في كتاب إقامة الصلاة والسنة فيها، باب ما جاء في الصلاة في مسجد قباء، برقم: (1412).

الْآخِرَةِ، وَأَنْ يَأْمُرَهُ بِتَقْوَى اللهِ، فَاحْذَرُوا مَا حَذَّرَكُمُ اللهُ مِنْ نَفْسِهِ، وَلا أَفْضَلَ مِنْ ذَلِكَ نَصِيحَةٌ وَلا أَفْضَلَ مِنْ ذَلِكَ ذِكْرًا، وَإِنَّ تَقْوَى اللهِ لِمَنْ عَمِلَ بِهِ عَلَى وَجَلٍ وَمَخَافَةٍ مِنْ رَبِّهِ، عَوْنُ صِدْقٍ عَلَى مَا تَبْغُونَ مِنْ أَمْرِ الْآخِرَةِ، وَمَنْ يُصْلِحِ الَّذِي بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللهِ مَنْ أَمْرَهُ فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ، لا يَنْوِي بِذَلِكَ إِلا وَجْهَ اللهِ يَكُنْ لَهُ ذِكْرًا فِي عَاجِلِ أَمْرِهِ، وَذُخْرًا فِيمَا بَعْدَ الْمَوْتِ حِينَ يَفْتَقِرُ الْمَرْءُ إِلَى مَا قَدَّمَ، وَمَا كَانَ مِنْ سِوَى ذَلِكَ، يَوَدُّ لَوْ أَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهُ أَمَدًا بَعِيدًا، وَيُحَذِّرُكُمُ اللهُ نَفْسَهُ، وَاللهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ. وَالَّذِي صَدَّقَ قَوْلَهُ، وَأَنْجَزَ وَعْدَهُ، لا خُلْفَ لِذَلِكَ، فَإِنَّهُ يَقُولُ: مَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ وَمَا أَنَا بِظَلَّامٍ لِلْعَبِيدِ ﴿الآية﴾ فَاتَّقُوا اللهَ فِي عَاجِلِ أَمْرِكُمْ وَآجِلِهِ فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ، فَإِنَّهُ مَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يُكَفِّرْ عن سَيِّئَاتِهِ، وَيُعَظِّمْ لَهُ أَجْرًا، وَمَنْ يَتَّقِ اللهَ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا، وَإِنَّ تَقْوَى اللهِ يُوقِي مَقْتَهُ، وَعُقُوبَتَهُ، وَسَخَطَهُ، وَيُبَيِّضُ الْوُجُوهَ، وَيُرْضِي الرَّبَّ، وَيَرْفَعُ الدَّرَجَةَ.

خُذُوا بِحَظِّكُمْ، وَلا تُفَرِّطُوا فِي جَنْبِ اللهِ، قَدْ عَلَّمَكُمُ اللهُ كِتَابَهُ وَنَهَجَ لَكُمْ سَبِيلَهُ، لِيَعْلَمَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلِيَعْلَمَ الْكَاذِبِينَ. فَأَحْسِنُوا كَمَا أَحْسَنَ اللهُ إِلَيْكُمْ، وَعَادُوا أَعْدَاءَهُ، وَجَاهِدُوا فِي اللهِ حَقَّ جِهَادِهِ، هُوَ اجْتَبَاكُمْ وَسَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ لِيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَنْ بَيِّنَةٍ، وَيَحْيَا مَنْ حَيَّ عَنْ بَيِّنَةٍ، وَلا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ، فَأَكْثِرُوا ذِكْرَ اللهِ، وَاعْلَمُوا أَنَّهُ خَيْرُ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا، وَاعْمَلُوا لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ، فَإِنَّهُ مَنْ يُصْلِحْ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللهِ يَكْفِهِ اللهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّاسِ، ذَلِكَ بِأَنَّ اللهَ يَقْضِي الْحَقَّ عَلَى النَّاسِ وَلا يَقْضُونَ، وَيَمْلِكُ مِنَ النَّاسِ وَلا يَمْلِكُونَ مِنْهُ، اللهُ أَكْبَرُ وَلا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيمِ».(1)

او دا خطبه "البدايه والنهايه" كښې هم ذكر ده. په پښتو كښې دَ دې لنډ مقصد دا دے:

رسول الله ﷺ اول كښې دَ الله حمد او ثناء اووئيله، دَ الله تعريفونه ئې اوكړل او ترغيب ئې ورکړو: "چې اے خلقو! الله رب العزة خپل پيغمبر په داسې يَو دور كښې راوليږلو، داسې يَو زمانه كښې ئې راوليږلو چې دَ انبياء كرامو عليهم السلام سلسله قطع شوې وه، شپږ سوه (۶۰۰) يا پنځۀ سوه او اويا (۵۷۰) كاله شوي وو چې په دې دومره زمانه كښې څوک پيغمبر نۀ وو راغلے، او داسې زمانه وه چې قيامت ېكښې نزدې دے. چا چې دَ الله او دَ الله دَ رسول ﷺ خبره اومنله نو هغه په سمه لار شو

(1) انظر: "المنتظم في تاريخ الملوك والأمم" لأبي الفرج ابن الجوزي: (66/3)، وفي بعض النسخ: (394/2). "البداية والنهاية": (213/3).

او چا چې دَ الله او دَ الله دَ رسول ﷺ خلاف اوکړو نو دے بے لارې شو او ډیر لوئي گمراه شو، دَ حق نه ډیر لرې لاړو". او بیا وائي: "اے خلقو! دَ الله رب العزة نه اویریږئ او په خپل ځان کښې تقوٰی او یره پیدا کړئ".

تقوٰی طرف له دَ الله نبي ﷺ ډیر ترغیب ورکړو، آخر کښې وائي: "چې الله رب العزة فرمائي: چې څوک دَ الله نه یریږي نو الله تعالٰی به دَ هغهٔ نه گناهونه لرې کړي، او لوئي اجر به ورکړي، او چې څوک دَ الله نه اویریږي هغه به الله کامیاب کړي، او چې څوک دَ الله نه یریږي دَ الله دَ غُصې نه به بچ شي، دَ الله رب العزة دَ خفگان نه به بچ شي، او دَ الله نه یره کول دَ انسان مخ سپینَوي او روښانه کوي ئې، دَ انسان درجه اوچتوي. اے خلقو! تاسو له ما دَ الله کتاب ښودلے دے او دَ الله لاره مې درته ښودلې ده. الله رب العزة دا پیغمبر دَ دې دپاره رالیږلے دے: چې تابعدار دَ غیر تابعدار نه جُدا کړي. اے خلقو! تاسو سره چې الله رب العزة څنگه احسانات کړي دي نو تاسو هم دَ نورو خلقو سره احسانات اوکړئ. الله رب العزة تاسو له نوم منتخب کړے دے "مسلمین"".

بیا دَ الله نبي ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته وائي: "چې اے خلقو! دَ آخرت دپاره تاسو ځان له تیاري اوکړئ، کوم انسان چې خپل مینځ کښې او دَ الله مینځ کښې معامله سمه کړه نو الله تعالٰی به دَ هغهٔ او دَ خلقو مینځ کښې ټولې معاملې سمې کړي، او کوم سړي چې دَ الله او خپل مینځ کښې معامله خرابه کړه نو الله رب العزة به دَ هغهٔ ټول معاملات خراب کړي، دَ ټولو خلقو به بدي شي. او خبردار! دَ الله دَ مخلوق دَ یرې چرته دَ الله خلاف اونهٔ کړئ".

دا تاریخي خطبه وه، رسول الله ﷺ وئیلې وه. عربئ کښې اوږده ده ما درته پښتو کښې دَ هغې لنډ مطلب بیان کړو.

قباء نه نبي ﷺ مدینې ته راغے، علماء کرام ذکر کوي: نبي ﷺ چې مدینې منوّرې ته تلو نو قباء ته چې راغلے وو نو دا دَ گل ورځ وه، باره ربیع الاول دیارلسم (۱۳) کال (دَ نبي ﷺ دَ نبوّت) وو، علامه محمد بن اسحاق رحمه الله چې مشهور مؤرِّخ دے دا هغهٔ لیکلي دي. او نور دَ سیرت علماء وائي: چې نبي ﷺ په اتم تاریخ دَ ربیع الاول دَ قباء نه راغلے دے؛ ځکه دَ زیارت په ورځ

پهٔ ۲۷ تاريخ دَ صفر المظفر نبي ﷺ دَ مکّې نه را روان شوے، درې (۳) ورځې دَ الله دَ نبي ﷺ پهٔ غارِ ثور کښې وې، او پهٔ يکم ربيع الاول دَ پير پهٔ ورځ نبي ﷺ دَ غارِ ثور نه مدينې منوّرې ته را روان شو او پهٔ دې لاره لاره چې راتلو نو اتهٔ ورځې لګيدلې وې نو بيا ۸ ربيع الاول وو دَ پير ورځ وه نبي ﷺ قُباء ته راغلے دے.

دَ اسلامي تاريخ ابتداء

زمونږ دا اسلامي تاريخ چې کوم دے دا اوس ۱٤٤٤ هجري ده. دَ محرم مياشت نه نوے کال شروع وو، ۱٤٤٤ هجري شروع شوه. دا اسلامي تاريخ دَ څهٔ وخت نه شروع شو؟ نو مؤرخين ليکي: چې دا تاريخ دَ عمر ﷺ پهٔ دور کښې دَ دې ايجاد شوے دے او دَ دې شروع شوې ده. او وجه دا ده: چې عمر ﷺ ته به خط راغے يا به دهٔ چا له خط ليکلو نو تاريخ به پرې نهٔ وو ليکلے نو پته نهٔ لګيده چې مخکښې کوم خط راغلے دے؟ او روستو کوم خط راغلے دے؟ نو دوي اووئيل: چې يَو تاريخ ليکو چې پهٔ هغې تاريخ مونږ پوهيږو چې دا رومبنے دے او دا روستنے دے، خو دَ تاريخ ابتداء دَ کوم ځائے نه اوکړو؟ نو پهٔ دې مشورې کيدې. امام سرخسي ؒ ليکلي دي: دَ چا مشوره دا وه: چې دَ نبي ﷺ دَ پيدائش نه به دا تاريخ شروع کړو، چې پهٔ دې ورځ دَ الله نبي ﷺ پيدا شوے دے، دا دَ مسلمانانو عظيم رهبر دے، نو تاريخ ولادت نه به اسلامي تاريخ شروع کړو، دا به ليکو چې خومره ورځې اوشوې، دا به وريسې روان وې. سيدنا عمر ﷺ صحابه کرام را جمع کړل، دَ بعضې صحابوُ ﷺ رائې دا وه. خو عمر ﷺ اووئيل: چې دا خبره مې خوښه نهٔ ده، ولې؟؛ چې دې کښې مشابهت راځي دَ عيسايانو سره؛ ځکه عيسايانو دَ خپل تاريخ ابتداء دَ عيسیٰ ؑ دَ پيدائش دَ ورځې نه کړې ده، چې پهٔ کومه ورځ عيسیٰ ؑ پيدا شوے وو. نو کهٔ مونږه دَ رسول الله ﷺ دَ پيدائش دَ ورځې نه اسلامي تاريخ شروع کړو نو دَ هغوي سره مشابهت راځي، او مشابهت دَ غير دينه خلقو سره خوند نهٔ کوي، دا ناجائز دے.

چا پکښې دا اووئيل: چې دَ رسول الله ﷺ دَ وفات دَ ورځې نه به تاريخ شروع کړو، چې

نبي ﷺ پۀ کومه ورځ وفات شوے دے نو مونږه به وايُو چې: دَ دې نه اسلامي تاريخ شروع دے. او قدرتي دا وه، اګر چې دروغ دِه خو مشهوره خلقو کښې دا وه: چې نبي ﷺ پۀ باره (۱۲) ربيع الاول وفات دے. دا اختلافي دے، او اتفاقي ده چې پۀ باره (۱۲) ربيع الاول نبي ﷺ وفات دے پۀ لسم کال دَ هجرئ باندې. نو وائي: دَ نبي ﷺ دَ وفات نه به تاريخ شروع کړو، چې پۀ دې تاريخ نبي ﷺ وفات شوے دے او دومره زمانه اوشوه. سيدنا عمر رضي الله عنه ورته وائي: دا مې هم خوښه نۀ ده، ولې؟، دا پۀ اسلام کښې يَو ډيره لويه حادثه وه او دَ غم ورځ وه، نو مونږ دَ خپل تاريخ ابتداء دَ غم دَ ورځې نه نۀ کوؤ (اللهُ أکبر!).

دَهجرت کال نه دَ اسلامي تاريخ ابتداء

نو صحابۇ رضي الله عنهم اوويئيل: نو څۀ کوؤ؟ نو آخر کښې دَ صحابۇ رضي الله عنهم مشوره پۀ دې باندې راغله: چې دَ هجرت نه به شروع اوکړو، نبي ﷺ چې دَ کومې ورځې نه دَ مدينې هجرت کړے دے، بس دَ هجرت نه به شروع اوکړو. اوس کۀ ستاسو خيال وي نو ديته هجري تاريخ وائي، نو دَ هجرت نه به شروع اوکړو؛ ځکه هجرت دَ ټولو فتوحاتو بنياد وو. تر څو چې نبي ﷺ هجرت نۀ وو کړے، يَو ملک نۀ وو فتح شوے، دومره امدادونه نۀ وو. چې هجرت اوشو نو دَ الله امدادونه شروع شول، دَ اسلام غلبه راغله، ملکونه فتح کيدل، دَ اسلام قوّت خلقو اوليدو نو راځئ! دَ هجرت دَ تاريخ نه به ابتداء اوکړو. وائي: ډيره ښۀ ده.

خو تاسو ته ما اوويئيل: چې هجرت کښې دوه قوله دي، يَو قول دَ امام محمد بن اسحاق رحمه الله وو چې هغۀ وائي: چې ۱۲ ربيع الاول سن ۱۳ هجري باندې نبي ﷺ مدينې ته راغلے وو او نور علماء دَ سيرت وائي: پۀ ۸ اتم ربيع الاول باندې راغلے دے. او زمونږ اسلامي تاريخ دَ محرم نه شروع کيږي. محرم خو پکښې مخکښې دے او باره (۱۲) ربيع الاول خو پکښې روستو راځي، نو دا مخکښې ولې لاړو؟ محرم پسې صفر وي بيا صفر پسې ربيع الاول دے نو دا مياشت يَوه نيمه مخکښې ولې تاريخ شروع شو؟ صحابۇ رضي الله عنهم مشوره اوکړه: چې دَ هجرت شروع دَ کومې ورځې نه واچوو؟ نو بيا ئې اتفاق پۀ دې باندې راغے چې دَ نبي ﷺ دَ هجرت اراده دَ محرم دَ مياشت نه وه؛

ځکه ما تاسو له مخکښې تاریخ وئیلے وو چې په عقبه کښې چې صحابو ﷺ دَ نبي ﷺ سره په آخر ځل بیعت کړے وو، په لسم تاریخ دَ ذو الحجې باندې وو، دوي بیا دَ ذو الحجې په آخر آخر کښې واپس راغلل او نبي ﷺ دَ مدینې منوّرې دَ هجرت اراده اوکړه او صحابؤ ﷺ ته ئې هم اووئیل: چې تاسو هجرتونه کوئ. نو دَ هجرت اراده نبي ﷺ په محرم کښې کړې وه نو دَ هغې نه دَ هجرت تاریخ شروع شو. نو نبي ﷺ خو مدینې له په ربیع الاول کښې را رسیدلے دے، لیکن اراده ئې په محرم کښې وه نو دا اوس دَ محرم میاشت ده نو ۱۴۴۴ سال اوشول، دَ نبي ﷺ دَ هغې ارادې اوشول چې کله ئې دَ مدینې منوّرې دَ هجرت اراده کړې وه. دا څوارلس سوه څلور څلویښتم کال دَ هغې شروع شو او صحابه کرامو ﷺ به لیکلو.

خو عجیبه دا ده: چې نبي ﷺ کله مدینې منوّرې له را روان شو نو دَ دهٔ دار الهجرة خو قباء نهٔ وه، قباء خو لار کښې راغله، پړاؤ ئې اوکړو، دَ الله نبي ﷺ خو مدینې ته راتلو، دَ مدینې خلق ډیر زیات په نبي ﷺ باندې مئین وو. او تاسو ته ما مخکښې جُمعه کښې وئیلي وو چې هغوي له دا پته لګیدلې وه چې دَ الله نبي ﷺ را روان دے، نو سحر به راغلل او یَو ډیرئ وه هغې ته به ختلي وو، او په دې انتظار به وو چې کله به دَ الله نبي ﷺ را ښکاره کیږي، چې را به نغلو نو واپس به لاړل، دومره انتظارونه ئې کړي وو، کله چې خبر شول چې قُباء له راغلے دے او مدینې ته را روان دے نو په لاره کښې انصار هم ځائے په ځائے ولاړ وو... هغې وخت کښې لا دَ پردې حکم نهٔ وو راغلے، زنانه دَ کوټو سرونو ته ختلې وې او دَ الله دَ نبي ﷺ په انتظار کښې ولاړې وې، ماشومانې ولاړې او هغوي به دَ ډیرې خوشحالئ نه دا شعرونه وئیل:

طَلَعَ الْبَدْرُ عَلَيْنَا مِنْ ثَنِيَّاتِ الْوَدَاعْ
وَجَبَ الشُّكْرُ عَلَيْنَا مَا دَعَا لِلّٰهِ دَاعْ

"مونږ باندې دَ څوارلسمې سپوږمئ را ښکاره شوه دَ هغې ډیرئ دَ وَداع نه ("ثنیات الوداع" یَوه ډیرئ وه، مدینې والؤ چې به میلمه رخصتولو نو تر دَ هغې پورې به ورسره راغلل، نو نبي ﷺ دَ هغه

طرف نه راغے، نو دوي وائي: زمونږ په مدينه باندې دَ ثنيات الوداع دَ طرف نه الله يَو سپوږمۍ را ښکاره کړه)، او دَ دې ځوارلسمې سپوږمۍ په مونږ باندې دَ الله شکر اوباسل واجب دي (چې دا احسان مونږ باندې الله اوکړو نو واجب دے په مونږ باندې شکر دَ الله) تر څو چې يَو داعي دَ الله موجود وي". نو مونږ به دَ دې نعمت شکريه اداء کوؤ. او بيا وائي:

أَيُّهَا الْمَبْعُوْثُ فِيْنَا جِئْتَ بِالْأَمْرِ الْمُطَاعْ[1]

"اے مبارکه انسانه! چې تهٔ مونږ ته پيغمبر راليږلے شوے ئې تا دَ الله دَ طرف نه مونږ ته داسې حکمونه راوړي دي چې دَ هغې تابعداري په مونږ باندې واجب ده او هغه به مونږ خامخه منو".

نو دا شعرونه به ئې دَ خوشحالئ نه وئيل او دَ الله نبي ﷺ را زوان دے.

دَ نبي ﷺ دَ استقبال دپاره وړې جينکۍ اودريدل

بنو نجار ذا دَ نبي ﷺ دَ نيکهٔ دَ طرف نه ماما خيلي وه، بنو نجار وړې وړې ماشومانې دَ نبي ﷺ دَ استقبال دپاره لار کښې اودرولې وې. لکه اوس چې يَو غټ سړے رائحي، اکثر خلقو ماشومان ځان سره بوتلي وي، او هغوي له ئې دَ ګلونو اميلونه ورکړي وي، او هغوي ئې هغې غټو خلقو له ورکړي، دَ ملکونو غټ غټ خلق راشي، سرمايه داران راشي نو اکثر په دې لويو خلقو کښې دوي ځان سره ماشومان هم بوځي، بيا هغه ماشوم هغه غټ سړي له تحفه ورکړي، او هغه ئې دَ ځان سره راجوخت کړي، او کله ماشومان شعرونه اووائي. نو دَ نبي ﷺ په استقبال کښې دَ بنو نجار وړې وړې جينکۍ ولاړې وې او هغوي به وئيل:

نَحْنُ جَوَارٍ مِنْ بَنِي النَّجَّارْ يَا حَبَّذَا مُحَمَّدٌ مِنْ جَارْ[2]

"مونږ دَ بنو نجار قبيلې جينکۍ يُو، واه! څومره دَ خوشحالئ خبره ده چې الله رسول الله ﷺ زمونږه ګاونډي کړو!!!".

خلقو دَ رسول الله ﷺ دَ مرګ بندوبست کولو، دَ کلي نه ئې ايستلو او څوک دَ الله شکر اداء

(1) انظر: "الرحيق المختوم" لصفي الرحمن المباركفوري: (156).

(2) انظر: "دلائل النبوة" للبيهقي: (508/2).

کوي چې شکر دے چې الله رسول الله ﷺ زمونږ کاونډي کړو. او دَ ډيرې خوشحالئ نه به وړو ماشومانو جينکو وئيل:

"جَاءَ نَبِيُّ اللهِ جَاءَ رَسُوْلُ اللهِ".

"اے خلقو! دَ الله نبي راغے، اے خلقو! دَ الله رسول راغے".

نبي ﷺ ته ټول دَ مديني خلق ولاړ دي، هر يَو سړے دَ الله نه سؤال کوي: يا الله! کۀ زما کور ته راغے نو ځومره به ښۀ وي، کۀ زما کاونډي شو نو ځومره به ښۀ وي. هر يَو سړے پۀ دې سوچ کښې دے.[1]

دَبراء بن عازب ﷺ روايت

براء بن عازب ﷺ وائي: دَ مديني خلقو له پۀ هيڅ يَو شي دومره خوشحالي نۀ ده رسيدلې او دومره خوشحالي ئې نۀ ده ليدلې کومه خوشحالي چې هغوي دَ نبي ﷺ پۀ راتلو باندې مناؤ کړې وه. دومره خوشحالي پۀ مدينه کښې يَو ځل چا نۀ ده ليدلې ځومره چې هغه دَ خوشحالئ ورځ وه پۀ کومه ورځ چې دَ دواړو جهانو سردار مديني ته راتلو.[2]

دَانس بن مالک ﷺ روايت

"سنن ابي داود" کښې راځي: دَ انس بن مالک ﷺ روايت دے، وائي: کله چې نبي ﷺ مديني منوّرې ته راغے، نو دَ حبشو نوجوانانو دَ نبي ﷺ دَ راتلو پۀ خوشحالئ کښې هغوي دَ خپلې نيزه بازئ کرتبونه کړي وو، پوره تماشه را جمع شوه، او هغوي نيزه بازي کوله، دَ تورو چلول او دَ غشو ويشتل يَو قسم ټريننګ ئې کولو، نبي ﷺ پۀ هغې ډير خوشحاله شو. دَ حبشو پۀ دې کښې ډير مهارت وو، نبي ﷺ به اکثر تماشې له ولاړ وو. او پۀ دې به ډير خوشحاليدو چې دوي به دَ غشو چل ياد کړي، دوي به دَ تورو چل ياد کړي نو کۀ صبا دشمن سره مقابله راځي چې بيا زمونږ ملکري

---

(1) انظر: "سيرة المصطفى": (366/1).

(2) انظر: "صحيح البخاري": (558/1).

قابل وي، او تکره وي.[1]

دَ ابو ایوب رضي الله عنه دَ کور مخې له دَ نبي ﷺ دَ اوښې کیښناستل

دَ نبي ﷺ دا اوښه را روانه وه، نبي ﷺ صحابه کرامو رضي الله عنهم ته اوفرمائيل: چې زما اوښه به پريږدئ چې کوم ځائے کښې زما اوښه کيښناسته هغه ځائے کښې به زۀ ميلمه کيږم، ستاسو به هغې سره کار نۀ وي؛ ځکه کۀ يَو سره تلو نو بل به خفه شوے وو او کۀ بل سره تلو نو بل به خفه شوے وو. نبي ﷺ دَ خپلې اوښې پړے سُست کړو، وائي: چې دا اوښه کوم ځائے له لاړه نو هغه ځائے کښې به يُو. صحابه کرام رضي الله عنهم ټول حيران دي، چې دا اوښه به دَ کوم بختور پۀ کور کښې کيښني. دا کوم ځائے کښې چې مسجدِ نبوي دے دغه ځائے کښې اول اوښه کيښناسته، نبي ﷺ ترې نه را کوز شوے نۀ وو، چې بيا پاسيده نو دَ ابو ايوب انصاري رضي الله عنه کور وو دَ هغۀ دَ کور مخې له دا اوښه کيښناسته. ابو ايوب انصاري رضي الله عنه دَ خوشحالئ نه پۀ جامو کښې نۀ ځائيږي. نبي ﷺ لږ صبر اوکړو اوښه بيا پاسيده، دَ جومات خوا له راغله. نبي ﷺ ابو ايوب انصاري رضي الله عنه ته وائي: چې دا سامان تۀ کور ته اوچلوه؛ ځکه زۀ به ستا پۀ ځائے کښې يم؛ ځکه دا اوښه دلته دَ الله پۀ حکم باندې کيښناسته. ابو ايوب انصاري رضي الله عنه خپل کور ته سامان اوچلولو. ابو ايوب انصاري رضي الله عنه وائي: زما کور دوه (۲) چته وو، يَو دَ لاندې چت وو، يَو د پاسه چت وو. وائي: ما وئيل: چې لاندې خو هر قسمه حالت وي، دَ پاسه به پرې ښۀ مزيداره هواء لګي نو دَ الله پيغمبر له به دا دِويم چت ورکړم نو نبي ﷺ به پۀ هغې کښې اوسيږي. وائي: نبي ﷺ ما ته اوفرمائيل: چې نا! زۀ لاندې اوسيږم. نبي ﷺ ته پته وه چې زما به ميلمانۀ ډير راځي، خلق به مُلاقاتونو له راځي، هر وخت به دَ ابو ايوب رضي الله عنه کور کښې خلق پناه کيږي، بيا به راوځي، بيا به فناه کيږي، بيا به راوځي.۔ دا به ګرانه شي. نبي ﷺ ورته وائي: ابو ايوبه! تۀ بره اوسيږه او مونږ به لاندې يُو. ابو ايوب رضي الله عنه ورته وائي: چې تۀ پۀ خپله خوښه پاتې کيږې نو زما خوښه ده. ابو ايوب رضي الله عنه وائي: ما له دا هم ضمير اجازت نۀ را کولو چې زۀ څنګه

---

(1) انظر: "سيرة المصطفى": (1/366، 367).

پهٔ هغې چت اوګرځم چې لاندې ئې رسول الله ﷺ وي، خو هغه دَ الله دَ نبي ﷺ خوښه وه چې زما داسې خوښه ده.

پهٔ بره چت اوبهٔ اوړيدل

يَوه واقعه کښې راځي: ابو ايوب ﷺ وائي: يَو ځل زمونږ نه پهٔ بره چت اوبهٔ واوړيدې، هغه پرناله لاندې راکوزه شوې وه، وائي: ما زر زر خپل قميض لرې کړو نوره کپړه نهٔ وه او پهٔ هغې مو هغه اوبهٔ اوچولې؛ چې لاندې دَ الله دَ نبي ﷺ کور ته اوبهٔ لاړې نهٔ شي. وائي: بيا را سره نورې جامې هم نهٔ وې، دغسې ورته ناست اوم چې دا اوچې شي. دومره ادب او دومره احترام وو.

دَ ابو ايوب انصاري ﷺ نبي ﷺ له ډوډئ تيارول

ابو ايوب انصاري ﷺ وائي: مونږ به هر وخت دَ الله دَ نبي ﷺ دپاره ډوډئ تياروله او راليږله به مو. يَو ځل ابو ايوب ﷺ خپل کور والا ته اووئيل: چې ښهٔ پروګرام اوکړه. وائي: اوګه، پياز، مصالحه هر څهٔ مې پکښې واچول، ښهٔ مزيداره ترکاري مې پخه کړه، نبي ﷺ ته مې چې راوليږله نو (وائي: مونږ به کله هم چې دَ الله نبي ﷺ ته خوراک راوړو نو نبي ﷺ چې به څومره خوړلے شوه نو هغه به ئې اوخوړه، باقي به پاتې شوه، وائي: قسم پهٔ خدائے دے! چې هغه ځائے پسې به مونږه ګوتې ګرځولې پهٔ کوم ځائے چې به رسول الله ﷺ خپلې ګوتې کيخودې وې، مونږه وئيل: چې دا برکت زمونږ دې خيټې ته لاړ شي، هغه ځائے نه به مونږه خوراک کولو دَ کوم ځائے نه به چې رسول الله ﷺ خوراک کړے وو) نبي ﷺ نهٔ وه خوړلې. مونږ هغه ځائے معلومولو چې نبي ﷺ به پهٔ کوم ځائے باندې ګوتې کيخودې وي هغه ځائے پکښې مونږ پيدا نهٔ کړو، ما سره غم شو، پهٔ منډه منډه راکوز شوم، دَ الله نبي ﷺ ته وايم: چې اے دَ الله نبيّ! نن خو تاسو ډوډئ نهٔ ده خوړلې، څهٔ چل شوے دے؟ څهٔ غلطي شوې ده؟ څهٔ نقصان شوے دے؟ څهٔ وجه ده؟ وائي: رسول الله ﷺ ما ته وائي: چې نن پکښې تاسو اوګه او پياز اچولي وو، او دا بدبودار شے دے، دا زهٔ نهٔ خورم. وائي: ما اووئيل: چې حرام دي؟ وائي: نا! حرام خو نهٔ دي، تاسو له جائز دي، خوړئ ئې خو ما سره هغه مخلوق راځي چې تاسو سره نهٔ راځي،

ما سره جبرئيل عليه السلام راځي، دَ جبرئيل عليه السلام بد بوئي بدي شي (دَ الله دَ نبي ﷺ به خوشبوئي ډيره خوښه وه، بد بوئي به ئې ډيره بدې شوه) نو جبرئيل عليه السلام بيا خفه وي، نو لهٰذا زهٔ دا نهٔ خورم. ابو ايوب رضي الله عنه وائي: دَ هغې نه پس بيا ما کور والا ته اووئيل: چې رسول الله ﷺ ته کهٔ هر شے پخوئ خو اوګه او پياز به پکښې نهٔ اچوئ. چې رسول الله ﷺ کوم شے نهٔ خوري نو هغه مونږ څهٔ له پخوؤ؟ کهٔ زمونږ ډير هم خوښ وي خو چې رسول الله ﷺ ئې نهٔ خوري نو مونږ پرې څهٔ کوؤ؟

دَ نبي ﷺ دَ ابو ايوب انصاري رضي الله عنه کره دَ پاتې کيدو وجه

علماؤ ليکلي دي: چې نبي ﷺ دَ ابو ايوب انصاري رضي الله عنه کور ته ولې راغے؟ دا څهٔ وجه وه؟ د اوښه مامور مِنَ الله وه خو اصل کښې يَو واقعه پخوا شوې وه:

دَ يمن ټولو بادشاهانو ته به ئې "تُبَّعْ" وئيلو، نو پهٔ دې بادشاهانو کښې يَو بادشاه وو "تبَّعْ"، او دا تبّع ډير ښهٔ سړے وو، قرآنِ عظيم کښې الله وائي:

﴿أَهُمْ خَيْرٌ أَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ﴾.[1]

الله رب العزة دَ تبّع دَ قوم مذمّت بيان کړے دے، خو دَ تبّع مذمت الله نهٔ دے بيان کړے، عائشه رضي الله عنها فرمائي: "چې نبي ﷺ فرمائي: چې تبّع ته به کنځلې نهٔ کوئ؛ ځکه چې دا مسلمان وو".

دا تبع چې دے دهٔ دَ ځانِ سره پهٔ يَو زمانه کښې مدينې منوّرې ته دَ توراة څلور سوه (۴۰۰) عالمان را روان کړي وو (پخواني خلق هغوي به دَ علماؤ ډير قدر کولو). نو چې کله دوي مدينې منوّرې ته راغلل نو دې علماؤ دَ هغې بادشاه نه تپوس اوکړو: چې کهٔ ته مونږ له اجازت راکوې نو مونږ به پهٔ دې مدينه کښې آباد شو، دلته به پاتې شو؟ هغې بادشاه ورته اووئيل: چې ولې؟ وائي: زمونږ پهٔ توراة کښې ئې ليکلي دي: چې آخري پيغمبر چې راځي نو دَ هغهٔ دار الهجرة به مدينه منوّره وي، نو دا به دَ هغې نبي (ﷺ) دَ هجرت مقام وي، دَ هغهٔ ځائے به وي نو مونږ وايو: چې مونږ دلته آباد شو، چې کله هغه نبي (ﷺ) راشي نو مونږ چې پهٔ هغهٔ باندې ايمان راوړو. وائي: هاں! د دې د

---

(1) [سورة الدخان: 37].

وجې نه؟ وائي: آو. وائي: بے غمه شئ هغه خو بادشاه وو، الله ورله مال ورکړے وو، هغې څلور سوه (۴۰۰) علماؤ ته يَو يَو له ځان له پهٔ مدينه منوّره کښې کور جوړ کړو. او دا انصار ټول دَ هغې علماؤ پهٔ اولاد کښې راتلل. هغوي دلته آباد شول، چې آباد شول نو تُبّع ورته وائي: چې تاسو وايئ: چې توراة کښې ئې ليکلي دي نو دا يَو کور زهٔ جوړوم او دا به دَ هغې نبي (ﷺ) وي چې کوم نبي مدينې ته هجرت کوي، چې کله دے مدينې ته راغے نو دا به دَ هغهٔ ځائے وي، پهٔ هغې عالمانو کښې يَو عالم وو، هغهٔ لهٔ ئې دَ هغې چابياني ورکړې، چې تهٔ به دَ دې نګراني کوې او تهٔ پهٔ دې کښې اوسيږه، چې کله هغهٔ راغے نو بيا به ئې هغهٔ له پريږدې، او پهٔ دې کښې به بيا هغه نبي (ﷺ) اوسيږي. او يَو خط ئې ورله ورکړو چې دَ مرګ ژوند پته نهٔ لګي، کيدے شي چې زهٔ نهٔ يم، چې هغه نبي (ﷺ) راځي (تاسو وايئ: چې روستو به راځي) نو کهٔ زهٔ نهٔ اوم او تاسو کښې کوم يَو ژوندے وو نو دا زما خط به هغه نبي (ﷺ) له ورکړئ، او کهٔ چرته تاسو مړهٔ وئ نو چې کله تاسو وفات کيږئ نو دا خط به خپلو وارثانو او خپلو بچو له پريږدئ، او هغوي ته به دا وصيت اوکړئ: چې دا خط چې کله هغه نبي (ﷺ) راشي نو دا خط به زما دَ طرف نه هغې نبي (ﷺ) له ورکړئ.

دَ تُبّع بادشاه دَ اسلام اظهار

پهٔ هغه خط کښې هغهٔ دَ خپل اسلام اظهار کړے وو. دَ هغه خط مضمون دا وو:

شَهِدْتُ عَلَى أَحْمَدَ أَنَّهُ ... نَبِيٌّ مِّنَ اللهِ بَارِي النَّسَمْ

فَلَوْ مُدَّ عُمْرِي إِلَى عُمْرِهِ ... لَكُنْتُ وَزِيْرًا لَهُ وَابْنُ عَمْ

وَجَاهَدْتُ بِالسَّيْفِ أَعْدَاءَهُ ... وَفَرَّجْتُ عَنْ صَدْرِهِ كُلَّ هَمْ[1]

وائي: "زهٔ تبّع دا ګواهي کوم چې احمد (ﷺ) دَ الله پيغمبر دے، دَ هغې الله چې روحونو پيدا کونکے دے (دے دَ هغهٔ حق او سچ پيغمبر دے). او کهٔ چرته ما ته دومره عمر ميلاؤ شو چې زهٔ هغې وخته پورې ژوندے اوم کوم وخت کښې چې دا نبي (ﷺ) دنيا ته راشي نو زهٔ به دَ هغهٔ ملګرے او مددګار يم، لکه دَ ترهٔ دَ ځوي پهٔ شان به ورته کلک ولاړ يم، او دَ وزير پهٔ شان به ورسره

(1) انظر: "الروض الأنف": (84/1)، و"السيرة النبوية" لابن كثير: (24/1).

کلک ولاړ یم. او زهٔ به پهٔ توره باندې دَ هغهٔ دشمنانو سرَه جنګ کوم او دَ هغهٔ د زړهٔ نه به هر غم او مصیبت لرې کوم".

دا خط ئې لیکلے وو، او پهٔ هغې ئې خپل مهر هم لګولے وو، ابو ایوب انصاري رضي الله عنه دَ هغې عالِم پهٔ اولاد کښې راتلو چې کوم عالم له ئې دا کور حواله کړے وو، او دا خط ئې ورله ورکړے وو. کله چې نبي ﷺ پهٔ هغې کور کښې پاتې شو نو ابو ایوب انصاري رضي الله عنه ورله هغه خط راوړو چې ستا پهٔ نوم خط دا زما بابا ته میلاؤ شوے وو او دا تُبّع بادشاه هغهٔ له ورکړے وو او دا کور ئې ستا دپاره جوړ کړے وو. دَ دې وجې نه بعضې علماؤ دَ سیرَت لیکلي دي: چې نبي ﷺ دَ ابو ایوب انصاري رضي الله عنه کور ته نهٔ دے راغلے، دا نبي ﷺ پهٔ حقیقت کښې هغې خپل کور ته راغلے دے چې کوم کور تُبّع بادشاه دَ نبي ﷺ دپاره آباد کړے وو، خو حواله کړے ئې دَ ابو ایوب انصاري رضي الله عنه پلارانو او نیکونو ته وو او دَ هغوي نه ابو ایوب انصاري رضي الله عنه ته پاتې وو او ابو ایوب انصاري رضي الله عنه نبي ﷺ ته اووئیل: چې دا خو ستا خپل کور دے.

پهٔ دغه کور کښې بیا نبي ﷺ اوسیدو، او صحابه کرام رضي الله عنهم به راتلل. را روانه جُمعه کښې به دا وایُو: چې وفدونه به راتلل دَ رسول الله ﷺ ملاقات له، بیا نبي ﷺ پهٔ مدینه منوّره کښې ابتداءً کوم کوم کارونه کړي دي؟ دَ هغې وضاحت به بله جُمعه کښې راځي.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

بسم الله الرحمن الرحیم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا

(سورة الأحزاب: 21)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه درويشتمه

"په مدينه منوّره کښې دَ يهودو علماؤ

په نبي ﷺ باندې ايمان راوړل "

بتاريخ: 12-08-2022

مقام: جلسې

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

سيرة النبي ﷺ حصه درويشتمه

"په مدينه منوّره کښې د يهودو علماؤ په نبي ﷺ باندې ايمان راوړل "

اَلْحَمْدُ لله نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِالله مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا﴾.[1]

عزتمندو حاضرينو مسلمانانو رونړو! د رسول الله ﷺ سيرتِ طيبه څو حصه مونږه بيان کړې وه. تر دې ځائے پورې خبره بيان شوې وه چې رسول الله ﷺ مدينې ته راتلو نو هغه حالت څنګه وو؟ هغه منظر څنګه وو؟ بيا اول په قُباء کښې څو ورځې پاتې شو، هلته ئې د مسجدِ قباء بنياد کيخودو، او بيا د هغې ځائے نه مدينې منوّرې ته راغے، په مدينه منوّره کښې خلق انتهائي خوشحاله وو، او د هر يَو کس آرمان دا وو: کۀ رسول الله ﷺ ما سره لا ړ نو دا به ښۀ وي. ليکن د الله نبي ﷺ داسې کولے نۀ شو چې د يَو کس سره تلے وے، چې نور خفه نۀ شي. رسول الله ﷺ ورته اووئيل: چې زما د اوښې مُهار به پريږدوئ چې کوم ځائے کښې اوښه کيښناسته نو هغه ځائے به زما ځائے وي، ديته به الله يَو ځائے اوښائي، دا د الله طرف نه مامور ده. تفصيل مونږ بيان کړے وو، چې اوښه اول کيښناسته په هغه ځائے باندې کوم ځائے کښې نن مسجدِ نبوي آباد

(1) [سورة الأحزاب: 21].

دے، رسول الله ﷺ لا په اوښه ناست وو، لږ ساعت پس اوښه بیا پاسیده او دَ سیدنا ابو ایوب انصاري رضي الله عنه دَ کور مخې ته کیښناسته. ابو ایوب انصاري رضي الله عنه دَ خوشحالۍ نه په جامو کښې نۀ ځائیږي. رسول الله ﷺ ورته وائي: ابو ایوبه! دا سامان کور ته یوسه، زۀ به تا سره یم.

او ما تاسو ته تفصیل بیان کړے وو: چې تبّع (بادشاه چې دَ یمن وو) دا کور دَ رسول الله ﷺ دپاره جوړ کړے وو او دا ابو ایوب انصاري رضي الله عنه دَ هغې عالم په اولاد کښې راتلو چې کوم له هغې بادشاه خط ورکړے وو او دا کور ئې ورته حواله کړے وو. هغه خط هم بیا هغهٔ نبي ﷺ ته اوښودلو. نبي ﷺ په مدینه کښې دَ ابو ایوب انصاري رضي الله عنه په کور کښې دے، ډلې ډلې خلق راځي او په نبي ﷺ باندې ایمان راوړي.

دَ یهودو دَ علماؤ ایمان راوړل

په دې کښې یهود چې وو په هغوي کښې چې کوم ښهٔ مُلیان وو.... مُلیانو کښې خو ښهٔ ډیر کم وي؛ ځکه دوي دَ بغض او دَ حسد ډیرې نمونې وي. په هغوي کښې چې کوم بغضیان وو نو هغوي خو په هغې خپل بغض باندې کلک شول او هغوي به دَ نبي ﷺ سخت خلاف کولو، خو چې کومو مُلیانو کښې بُغض نۀ وو نو هغوي به راتلل او په نبي ﷺ باندې به ئې ایمان راوړو؛ ولې چې هغوي په توراة کښې دَ رسول الله ﷺ کومې نخښې وئیلې وې، کومې علامې ئې ورته معلومې وې نو چې هغه به ئې په نبي ﷺ کښې اولیدې نو پوهه به شول چې دا هغه پیغمبر (ﷺ) دے چې زمونږ په توراة کښې الله رب العزة دَ دهٔ ذکر کړے دے. توراة کښې الله رب العزة وئیلي وو: چې آخري نبي (ﷺ) به الله تعالیٰ رالیږي، او په هغهٔ به دَ انبیاؤ ﷩ سلسله بندیږي، مکه کښې به پیغمبر وي او مدینې ته به هجرت کوي، او مدینې له به راځي، داسې نخښې ئې دي، داسې نخښې ئې دي.... نو کله چې به هغوي هغه نخښې اولیدې نو چې ضد به پکښې نۀ وو نو ایمان به ئې راوړو.

دَ دې وجې نه په رسول الله ﷺ باندې دَ یهودو ډیرو علماؤ ایمان راوړے وو. ابن عائذ په سند دَ عروه بن زبیر (چې راوي دے) نقل کړي دي: چې دَ یهودو عالمانو کښې دَ ټولو نه مخکښې

چې دَ نبي ﷺ پهٔ خدمت کښې حاضر شوے وو نو هغه يَو مُلا وو: "ياسر بن اخطب". دا دَ حُيَيِّ بْنِ اخطب يهودي رور وو. دَ نبي ﷺ ملاقات ته راغے، ټول خلق را رَوان وو، دے پکښې هم راغے، دے وائي: چې ما کله دَ نبي ﷺ خبرې واوريدې نو دَ هغهٔ خبرې ډيرې نا آشنا وې. واپس چې دے کله خپل قوم ته لاړو نو هغې خپل قوم ته وائي:

"أَطِيعُونِي فَإِنَّ هَذَا النَّبِيُّ الَّذِي كُنَّا نَنْتَظِرُ".(1)

اے قومه! "زما خبره اومنئ (زهٔ تلے ووم او ما دَ هغې نبي (ﷺ) ملاقات اوکړو چې کوم ځان ته نبي وائي، زهٔ پهٔ دې خبره پوهه شوم چې) دا هغه نبي (ﷺ) دے چې دَ کوم نبي (ﷺ) مونږه پهٔ انتظار کښې وو". مونږ توراة کښې لوستلي وو چې آخري نبي (ﷺ) به راځي نو دا هم هغه نبي (ﷺ) دے، راځئ! ما سره ملګري شئ چې ايمان پرې راوړو. نو دَ دهٔ رور حُيَيِّ بْنِ اخطب هغهٔ دَ دې خپل رور خلاف شروع کړو، وائي: دے ګډې وډې وائي. او حُيَيِّ بْنِ اخطب دا خلقو يَو مشر ګڼړلے وو نو چې دهٔ خلاف شروع کړو نو هغه خلق هم دَ حُيَيِّ بْنِ اخطب ملګري شول او دَ دې ياسر بن اخطب ؓ خبره ئې اونهٔ منله، خو دهٔ پهٔ خپله ايمان راوړو.

دَ سيدنا ابوهريره ؓ روايت

سعيد بن مسيّب ؒ دَ ابو هريره ؓ نه نقل کوي: چې کله نبي ﷺ مدينې منوّرې ته راغے نو دَ يهودو دَ درس ځايونه چې وو هغې له به ئې "بيت المِدْراس" وئيلو، پهٔ هغې کښې به يهود جمع شول او پهٔ خپل مينځ کښې به ئې مشوره اوکړه: چې يره! دا پيغمبر (ﷺ) دے او کهٔ نهٔ؟ او دے وائي: چې زهٔ پيغمبر يم نو داسې څهٔ تپوسونه ترې کوؤ چې دِ هغې جواب بغير دَ نبي نه بل چا له نهٔ ورزي، کهٔ چرته جواب ئې اوکړو نو دا نبي (ﷺ) دے، او کهٔ جواب ئې را نهٔ کړو نو دا نبي (ﷺ) نهٔ دے. ډير دَ يهودو علماء داسې وو: چې را به غلل، تپوس به ئې اوکړو، جواب به ورته ميلاؤ شو ضد به پکښې نهٔ وو نو هغوي به اووئيل: چې دا بالکل هغه نبي (ﷺ) دے، نو ايمان بهٔ ئې پرې راوړو. او ډير به پهٔ هغې خپل ضد باندې ټينګ پاتې شول.(2)

(1) انظر: "فتح الباري" لابن حجر، قوله باب كذا: (275/7).
(2) انظر: "فتح الباري" لابن حجر، قوله باب كذا: (275/7).

دَ عبد الله بن عباس ﷠ روايت

امام بيهقي دَ عبد الله بن عباس ﷠ پهٔ روايت نقل کړي دي: يَو يهودي عالم دَ نبي ﷺ خدمت کښې حاضر شو، نبي ﷺ دَ سورة يوسف تلاوت کولو، چې هغې کښې الله رب العزة دَ يوسف ؈ تفصيلي واقعه بيان کړې ده، هغه يهودي حيران دے چې دا مضمون خو توراة کښې هم شته، دهٔ نهٔ سبق وئيلے دے، نهٔ ئې تعليم حاصل کړے دے، نهٔ دَ چا شاګرد پاتې شوے دے نو چې دهٔ ته دا چا اوښودل؟ مونږ خو توراة زده کړے دے، دے خو پهٔ توراة هم نهٔ پوهيږي!!!. نو دے رسول الله ﷺ ته وائي: چې اے محمد! دا را ته اووايه: چې دا تعليم تا ته چا درکړے دے؟ دا بيان درته چا ښودلے دے؟ نبي ﷺ ورته وائي: ما ته زما الله دَ دې تعليم راکړے دے، الله را ته دا ښودلي دي.

دا يهودي مُلا ډير زيات حيران شو. واپس لاړو، او هغوي ته وائي: "اے يهودو! نن ما دَ محمد (ﷺ) دَ خُلې نه قرآن واوريدو چې هغه لوستو، دا کتاب، دا قرآن ما ته داسې معلوميدو چې دا او دَ موسٰی ؈ کتاب دواړه يَو مسئله بيانوي، يَو خبره کوي، دَ هغې پهٔ شان خبرہ ده. ما دَ دې نبي (ﷺ) شکل اوليدو، ما دَ دې نبي (ﷺ) شکل او صورت اوکتلو نو ما چې اوکتل نو هغه نخښې او هغه علامې پهٔ دهٔ کښې موجود وې چې کومې پهٔ توراة کښې دَ نبي آخر الزمان (ﷺ) ليکلے شوې دي. زما پهٔ خيال چې دا هغه نبي (ﷺ) دے نو راځئ! چې ايمان پرې راوړو".

کله کله دَ يَو مُلا پهٔ وجه باندې ټول قوم سم شي او کله کله دَ يَو مُلا پهٔ وجه باندې ټول قوم خراب شي؛ ولې چې مُلا ته حق معلوم وي او نهٔ ئې مني نو عوام وائي: چې زمونږ استاذ چې وائي: چې دا خبره صحيح نهٔ ده نو دَ استاذ پهٔ وجه هغه ټول منکر شي. او کله داسې وي چې عالِم دَ حق تابع شي نو دَ هغې عالم دَ وجې نه ډيرو خلقو ته هدايت نصيب شي. نو چې دې مُلا اووئيل: چې دا هغه نبي دے چې توراة کښې دَ دهٔ نخښې او علامې ذکر شوي دي او بالکل هغه ټولې پهٔ دهٔ کښې موجود دي نو دے او قوم ئې ټول پهٔ يَو ورځ مسلمانان شول.[1]

(1) انظر: "سيرة المصطفى": (1/371 - 372).

دَ ابن صوريا واقعه

ابن اسحاق او بيهقي دَ ابو هريره ﷺ پهٔ روايت نقل كړي دي: چې يَو ځل نبي ﷺ ابن صوريا (چې دا دَ يهودو عالم وو) سره خبرې كولې، نبي ﷺ ورته وائي: چې ابن صوريا! ما ته اوكوره! ستا دې پهٔ الله قسم وي! رشتيا رشتيا به وائې! توراة كښې دَ شادي شده (چې سړے وي او كهٔ زنانه وي او وادهٔ كړې وي او زِنا اوكړي) نو توراة كښې دَ هغې څهٔ حكم دے؟ دروغ به نهٔ وائې! نو هغه ابن صوريا ورته وائي: چې توراة كښې دَ هغې حكم رجم دے. نبي ﷺ ورته اووئيل: چې زهٔ هم دا وايم: چې دَ هغې حكم رجم دے نو زما او دَ توراة خبره خو يَوه ده نو بيا تاسو ولې نهٔ منئ؟ ابن صوريا دَ الله نبي ﷺ ته وائي:

"اَللّٰهُمَّ نَعَمْ، أَمَا وَاللهِ يَا أَبَا الْقَاسِمِ! إِنَّهُمْ لَيَعْرِفُونَ أَنَّكَ لَنَبِيٌّ مُرْسَلٌ وَلٰكِنَّهُمْ يَحْسُدُونَكَ".[1]

"اے دَ الله نبي! توراة كښې هم دغه خبره ده چې وادهٔ كړے سړے او زنانه چې زِنا اوكړي نو دَ هغوي سزا رجم ده، او دوي ښهٔ پوهيږي پهٔ دې خبره چې تهٔ دَ الله نبي ئې او الله خلقو له پيغمبر را ليږلے ئې خو ځكه دې نهٔ مني: چې دوي تا سره بُغض او حسد كوي". وائي: كهٔ مونږ دهٔ ته رسول اووايُو نو عزت به تول دهٔ له لاړ شي، بيا به زمونږه څوک عزت او قدر نهٔ كوي، اوس خو مو دا نا پوهه خلق دهوكه كړي دي چې هغوي وائي: چې زمونږ مُلا وائي: چې دا نبي نهٔ دے. خو كهٔ مونږه پرې ايمان راوړو نو بيا خو زمونږ څهٔ حيثيت نهٔ پاتې كيږي، بيا خو تول عزت دهٔ له ځي. نو دَ خپل عزت بر قرار ساتلو دپاره ئې خلاف كولو. بعضې داسې ډير مُليان وي چې ورته پته اولګي چې زما دا خبره غلطه ده، وائي: شرم دے څنګه به زهٔ اوس دَ دې نه واپس را كرځم، نهٔ ئې مني. داسې ډير علماء دَ يهودو وو چې هغوي پهٔ نبي ﷺ باندې ايمان راوړے وو.[2]

دَ عبد الله بن سلام ﷺ دَ اسلام واقعه

مشهوره واقعه پكښې دَ عبد الله بن سلام ﷺ ده. عبد الله بن سلام ﷺ چې دے دا هم دَ

---

(1) انظر: "الخصائص الكبرى" للبيهقي: (193/1)، و"سيرة ابن هشام": (565/1).

(2) انظر: "سيرة المصطفى": (372/1).

يهودو يَو لوئي عالم وو، او دے دَ سيدنا يوسف ﷺ پهٔ اولاد کښې راتلو، او دَ عبد الله بن سلام ﷺ اصل نوم "حُصين" وو. کله ئې چې اسلام راوړو نو نبي ﷺ دَ هغهٔ نوم عبد الله بن سلام کيخودو. نو دا نوم ورله بيا رسول الله ﷺ کيخودلے دے. او نوم ئې ورله بدل کړے دے.

دا عبد الله بن سلام ﷺ پهٔ خپله خپله واقعه بيانَوي، وائي: کله چې رسول الله ﷺ مديني ته راغے، زهٔ خبر شوم چې يَو سړے راغلے دے، او دَ دنيا خلق دَ هغهٔ ملاقات له ځي، او هغه وائي: چې زهٔ دَ الله رسول يم. وائي: ما اووئيل: چې راشه! تهٔ ئې هم ملاقات ته لاړ شه. دا هم يَو خبره ده چې مُلا دَ بل مُلا ملاقات له لاړ شي نو بيا ورته اکثر الله لاړ کولاؤ کړي، هدايت ورته هم نصيب کړي، خو چې دا تا سره مخ هم نهٔ ميلاؤ وي نو پهٔ دهٔ باندې بيا خبره اثر نهٔ کوي، دهٔ کښې بُغض وي. دا عبد الله بن سلام ﷺ وائي: زهٔ دَ رسول الله ﷺ ملاقات له لاړم. وائي:

"فَلَمَّا رَأَيْتُ وَجْهَهُ، عَرَفْتُ أَنَّ وَجْهَهُ لَيْسَ بِوَجْهِ كَذَّابٍ".(1)

نورې خبرې خو پريږدَوه خو "کله چې ما دَ نبي ﷺ مخ مبارَک اوليدو نو زهٔ پهٔ دې خبره باندې پوهه شوم چې دا مخ دَ دروغژن سړي مخ نهٔ دے". دَ هغهٔ دَ مخ نه پهٔ ما باندې يَو اثر اوشو چې ما دَ هغهٔ مخ ته اوکتل چې دا مخ دَ دروغژن سړي مخ نهٔ دے، واقعي سړے نبي دے، هسې نهٔ وائي.

دَ عبد الله بن سلام ﷺ دَ نبي ﷺ نه اوله خبره اوريدل

بيا وائي: اوله خبره چې ما دَ رسول الله ﷺ دَ خُلې نه اوريدلې وه هغه دا وه: چې زهٔ څنګه لاړم، دَ الله نبي ﷺ لګيا دے او خلقو ته بيان کوي، وائي:

«يَا أَيُّهَا النَّاسُ! أَفْشُوا السَّلَامَ، وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ، وَصَلُّوا وَالنَّاسُ نِيَامٌ تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ».(2)

دا دَ الله دَ نبي ﷺ خبرې وې، ما واوريدې:

---

(1) أخرجه الترمذي في أبواب صفة القيامة والرقائق والورع، باب، برقم: (2485)، والدارمي في "سننه"، ومن كتاب الاستئذان، باب في إفشاء السلام، برقم: (2674)، واللفظ له.

(2) أخرجه الترمذي في أبواب صفة القيامة والرقائق والورع، باب، برقم: (2485)، واللفظ له، والدارمي في "سننه"، ومن كتاب الاستئذان، باب في إفشاء السلام، برقم: (2674).

(۱) اوله خبره: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ! أَفْشُوا السَّلَامَ».

"اے دَ ټولې دنيا خلقو! سلام عام کړئ"، چا سره چې ميلاويږئ او مسلمان وي نو سلام پرې اچوه، دا اخلاقِ حسنه پيدا کړه.

(۲) دويمه خبره: «وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ».

"اے دَ ټولې دنيا خلقو! اے انسانانو! دَ الله دَ رضاء دپاره خلقو له خوراک ورکوئ، ډوډئ ورکوئ...".

دَ الله رب العزة دَ رضاء دپاره خلقو له طعام ورکوئ. دا يَو بهترين صفت دے، او دا الله رب العزة بعضې خلقو کښې پيدا کړے وي، چې ميلمه راشي نو هغهٔ بيا خوشحاليږي. او بعضې داسې خلق وي چې پهٔ دې ډير پريشانه کيږي، پهٔ زرګونو پيسې لګوي خو ډوډئ دَ کور نه نهٔ راوباسي، چائے دَ کور نه نهٔ راوباسي. نو نبي ﷺ اوفرمائيل: چې «وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ». "دَ الله دَ رضاء دپاره ډوډئ ورکوئ".

(۳) دريمه خبره: «وَصِلُوا الْأَرْحَامَ».[1]

"او خلقو سره خپلوَلئ او رشته دارئ پالئ".

زمونږ دَ نورو خلقو سره نښهٔ لګي خو خپله کښې مو دَ يَو بل سره نهٔ لګي، دَ ترهٔ ځوي سره مو نهٔ لګي، رور سره مو نهٔ لګي، ترهٔ سره مو نهٔ لګي، پپو (ترور)، ماماګانو او ماسي سره مو نهٔ لګي، دَ پلار او دَ بچو خپله کښې نهٔ لګي او نورو خلقو سره بالکل زمونږ تعلق صحيح وي. نن مصيبت دا دے: چې ډير پهٔ کوم کار کښې ثواب وو نو هغهٔ مونږ نهٔ منو. زما عزتمندو! دَ الله نبي ﷺ وائي: خپلوَلي پالئ.

(٤) څلورمه خبره: «وَصَلُّوا وَالنَّاسُ نِيَامٌ».[2]

---

(1) أخرجه الترمذي في أبواب صفة القيامة والرقائق والورع، باب، برقم: (2485)، والدارمي في "سننه"، ومن كتاب الاستئذان، باب في إفشاء السلام، برقم: (2674)، واللفظ له.

(2) أخرجه الترمذي في أبواب صفة القيامة والرقائق والورع، باب، برقم: (2485)، واللفظ له، والدارمي في "سننه"، ومن كتاب الاستئذان، باب في إفشاء السلام، برقم: (2674).

او بعضې رواياتو کښې «وَصَلُّوا بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ» الفاظ راغلي دي. "دَ شپې مونځ کوئ په داسې حالت کښې چې خلق اوده وي"، نو تاسو الله ته پاسيږئ او الله ته اودريږئ. دا دَ اخلاص نخښه ده، چې هيڅ څوک خبر نهٔ دي، يَو الله ستا دَ حال نه خبر دے او تهٔ بستره پريږدې، خوب پريږدې او الله ته اودريږې.

نو دَ شپې مونځ کوئ چې خلق اودهٔ وي، نو چې دا څلور (٤) کارونه شروع کړئ نو: «تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ». (1) "تاسو به جنت ته سلامتيا سره دننه شئ".

الله رب العزة دې مونږ ټول جنت ته پهٔ سلامتيا سره بوځي. نو دَ جنت ئې پهٔ دې حديث کښې څلور (٤) غټې غټې نخښې اوښودلې دَ ايمان نه پس: (١) يَو سلام عام کړئ، (٢) دويم: دَ الله دَ رضاء دپاره پهٔ خلقو خوراک، څښکاک کول، (٣) دريم: خپلوَلي او رشته داري پالئ او (٤) څلورم: دَ شپې تهجُّد کوئ نو جنت ته به لاړ شئ. عبد الله بن سلام ﷺ فرمائي: چې کله ما دا خبرې واوريدې نو زما پهٔ زړهٔ اثر اوشو.(2)

پهٔ توراة کښې دَ نبي ﷺ صفت

دَ "بيهقي شريف" روايت کښې راځي: عبد الله بن سلام ﷺ وائي: چې ما پهٔ توراة کښې دَ نبي ﷺ نخښې لوستې وې، توراة کښې دَ الله دَ نبي ﷺ پوره تفصيل وو، نو چې کله ما دَ الله دَ نبي ﷺ مخ اوليدو نو زهٔ پهٔ دې باندې پوهه شوم چې دا هم هغه نبي ﷺ دے چې توراة کښې دَ دهٔ ذکر راغلے دے نو ما باندې دَ هغې نه اثر اوشو.

دا عبد الله بن سلام ﷺ وائي: چې کله نبي ﷺ مديني منوَّرې له تشريف راوړو او ما دَ نبي ﷺ دَ راتلو خبر واوريدو (چې اخلاص چا کښې وي نو الله ورته دين نصيب کړي)، چې کله زهٔ خبر شوم چې مديني ته رسول الله ﷺ را روان دے، وائي: زهٔ دَ کجورې يَو وُنې ته ختلے ووم، کجورې

---

(1) أخرجه الترمذي في أبواب صفة القيامة والرقائق والورع، باب، برقم: (2485)، والدارمي في "سننه"، ومن كتاب الاستئذان، باب في إفشاء السلام، برقم: (2674)، واللفظ له.

(2) انظر: "سيرة المصطفى": (373/1).

مې را شوکولې او دَ کجورې دَ وُنې پۀ سر کښې ووم، او هلته نه ما چغه کړه چې: "اللهُ أکبر!!!" دَ ډیرې خوشحالئ نه. وائي: زما پپو (ترور) وه خالده بنت حارث ﷺ (دا بیا روستو مسلمانه شوې ده)، وائي: دې واوریدو نو دې ما له آواز را کړو: چې اے حُصینه! (هغه وخت دَ دۀ نوم حُصین وو) تۀ خو نن دَ دې سړي پۀ دې راتلو دومره خوشحاله شوې چې زما دې پۀ خدائے قسم وي چې کۀ تا له چا دَ موسٰی علیه السلام باره کښې خبر راوړے وو چې هغۀ راغے نو دومره به نۀ وې خوشحاله شوې، لکه څومره چې تۀ نن دَ رسول الله ﷺ پۀ راتلو خوشحاله شوې. وائي: ما ورته اووئیل: چې بالکل پپو (ترور) ستا خبره صحیح ده خو زما دې پۀ الله قسم وي! چې دا محمد او موسٰی علیه السلام دواړه دیني رونړه دي او دې دواړو یَو دین دنیا ته راوړے دے، دَ دواړو دین یَو دے، نو زۀ منم چې دا حق نبي دے نو ځکه خوشحاله شوم. وائي: دَ هلته نه نیغ لاړم او دَ الله نبي ﷺ ته مې اووئیل: چې ما ته کلمه وایه.

بعضې روایاتو کښې راځي: څۀ تپوسونه ئې دَ رسول الله ﷺ نه کړي دي، چې دَ هغې جوابونه نبي ﷺ ورکړل، دۀ له پته وه چې دا جوابونه بغیر دَ نبي ﷺ نه بل څوک نۀ شي ورکولے.

دَ نبي ﷺ دَ یهودو نه دَ عبد الله بن سلام ﷺ باره کښې تپوس

عبد الله بن سلام ﷺ ډیر اوښیار سړے وو، نبي ﷺ ته ئې اووئیل: زۀ ایمان راوړم خو دا یهود پۀ دې بدنامه کښې ډیر تکړه دي، چې سړے بدنام کړي (دا دَ بعضې خلقو کار وي چې پاک خلق به داسې بد نام کړي چې تۀ به حیران شې. نو یهود پۀ دې کښې ډیر تکړه دي چې نیکان خلق بدنامَوي، چې کوم دَ دوي دَ مزاج نه خلاف وي هغۀ پسې به دَ ځان نه دروغ جوړَوي). وائي: کۀ زۀ ایمان راوړم نو دا یهود به بیا وائي: چې دے مونږ له دَ پخوا نه معلوم وو چې دے خراب وو، او دے ناکاره وو، نو هسې به را پسې قیصې جوړَوي نو زۀ دننه پټیږم او صرف زما دَ دې ایمان دَ ظاهریدو نه مخکښې به زما پۀ باره کښې دَ دې یهودو نه تپوس کوې چې دوي څۀ وائي؟ دا ئې مطلب وو: چې دَ الله نبي ﷺ تا ته پته اولګي چې دوي ما باندې دَ ایمان راوړو نه پس کوم الزامونه لګوي، کومې خبرې کوي چې دا نور څۀ نۀ دي، صرف بُغض او حسد پۀ مخه اغستي دي. یعني پۀ

دې خُلۀ اول صفت کوه او چې اوس هغۀ ایمان راوړو نو اوس وریسې رډې بدې وایه. نبي ﷺ ورته اووئیل: ډیره ښۀ ده. دے دننه پټ شو، نبي ﷺ یهود را اوغوښتل ورته وائي:

«أَيُّ رَجُلٍ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلاَمٍ فِيكُمْ؟».

"اے یهودو! تاسو کښې عبد الله بن سلام څنګه سړے دے؟" ښۀ سړے دے او کۀ ناکاره دے؟ نو هغه یهودیان ورته وائي: "خَيْرُنَا وَابْنُ خَيْرِنَا، وَسَيِّدُنَا وَابْنُ سَيِّدِنَا".

"هغه خو پۀ مونږ کښې ډیر بهتر سړے دے (دَ هغۀ پۀ شان سړے زمونږ پۀ دې خاندان او زمونږ پۀ دې قوم کښې نشته)، دَ هغۀ پلار هم ډیر ښۀ سړے وو، او هغۀ زمونږ دَ ټولو سردار دے، مشر دے، او دَ هغۀ پلار هم زمونږ دَ ټولو مشر وو (هیڅ عیب پکښې نشته دے)".

نبي ﷺ ورته وائي: کۀ عبد الله بن سلام ایمان راوړي نو تاسو به ایمان راوړئ؟ دوي اووئیل: چې توبه! عبد الله بن سلام او ایمان راوړل، الله دې هغۀ ستا دَ ایمان راوړو نه محفوظ اوساتي، وائي: هغۀ به ولې پۀ تا ایمان راوړي؟ نبي ﷺ ورته بیا دغه خبره اوکړه، هغوي بیا هم دغه شان جواب ورکړو. عبد الله بن سلام ﷺ دننه پټ ناست وو نو بهر میدان ته را اووتو، وائي:

"أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ".

یهود پۀ هغې میدان کښې حیران پاتې شول، عبد الله بن سلام ﷺ کلمه توحید، کلمه شهادت اووئیله، پۀ رسول الله ﷺ ئې ایمان راوړو. نو چې یهودو اوکتل (نو پۀ بدنامه کښې څومره مخکښې وو، ګوره! هم هغه ځائے دے، هم هغه میدان دے، او بیا ئې ډارک زرۀ بدلیږي) وائي:

"شَرُّنَا وَابْنُ شَرِّنَا، وَانْتَقَصُوهُ".

"دا پۀ مونږ کښې ډیر ناکاره سړے وو، او دَ دۀ هغه پلار دَ دۀ نه سیوا ناکاره وو، بیا وریسې اولګیدل نو هغه الزامونه او رډې بدې ئې وریسې شروع کړې چې څۀ ئې پۀ خُلۀ باندې راتلل".

عبد الله بن سلام ﷺ اووئیل:

"فَهَذَا الَّذِي كُنْتُ أَخَافُ يَا رَسُولَ اللهِ!".[1]

---

(1) أخرجه البخاري كتاب تفسير القرآن، بَابُ ﴿مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيلَ﴾ [البقرة: 97]، برقم: (4480)، وأيضا بـ (3938).

"نو دا هغه دي چې زهٔ دَ دې نه بیزېدم اے دَ الله رسوله!"، چې کله ایمان راوړم نو دوي پهٔ ما باندې دَ دروغو الزامونه لګوي خو څهٔ! شکر دے چې پهٔ دې خُلهٔ ئې یَو ځل زما صفتونه کړي دي، اوس دې لګیا وي، اوس به ئې ټوله دنیا پیژني چې دا دَ ضد نه لګیا دي.

دَ سلمان فارسي ﷺ ایمان راوړل

داسې ډیر خلق به راتلل او پهٔ رسول الله ﷺ به ئې ایمان راوړو، پهٔ دې دوران کښې سلمان فارسي ﷺ هم راغلے وو، او پهٔ رسول الله ﷺ ئې ایمان راوړے وو، دَ دهٔ واقعه څهٔ ډیره عجیبه ده.

سلمان فارسي ﷺ اصل کښې دَ فارس علاقې وو، او علماؤ لیکلي دي: چې سلمان فارسي دا دَ دهٔ نوم دے، او ابو عبد الله دَ دهٔ کنیه ده، او دَ دهٔ لقب دے "سلمان الخیر" او دے مشهور پهٔ "سلمان ابن الاسلام" باندې دے؛ ځکه دَ دهٔ پلار خو مجوسي وو، کافر وو، او دَ اُور عبادت به ئې کولو. دے پهٔ فارس کښې وو او دے دَ شاهي خاندان نه وو، پلار ئې چرته ډیر اوچت سړے وو پهٔ حکومت کښې، دَ بادشاهانو دَ خاندان نه وو. دے پهٔ فارس کښې رام هرمز کښې یَو ځائې دے "جَيْئ" دَ هغې اوسیدونکے دے.

وائي: دَ سلمان ﷺ نه به چې چا تپوس اوکړو: چې ستا دَ پلار څهٔ نوم دے؟ او ستا نوم څهٔ دے؟ نو هغهٔ به ورته وئیل:

"أَنَا سَلْمَانُ ابْنُ الْإِسْلَامِ".[1]

"زما نوم دے سلمان، او زما پلار هغه اسلام دے (یعني: ما له خپل پلار تربیت نهٔ دے کړے، تربیت زما اسلام کړے دے)".

او دَ دهٔ پهٔ باره کښې دا مشهوره ده: چې پهٔ صحابؤ ﷺ کښې دَ دهٔ هومره عمر دَ بل چا نهٔ وو، دا دَ ډیر عمر سړے وو. بعضې علماء وائي: دَ دهٔ مُلاقات دَ عیسٰی ﷺ سره شوے وو. خو دا خبره ضعیفه ده؛ دَ عیسٰی ﷺ پهٔ رعیت او دَ هغهٔ پهٔ ملګرو کښې دَ یَو کس سره ملاقات شوے دے. څوک وائي: دَ دهٔ یَو نیم سل (۱۵۰) کاله عمر وو او څوک وائي: درې نیم سوه (۳۵۰) سوه کاله عمر ئې وو.

(1) انظر: "إمتاع الإسماع" لأحمد بن علي بن عبد القادر، أبي العباس الحسيني العبيدي، تقي الدين المقريزي: (338/6).

ابن عباس ؓ وائي: سلمان فارسي ؓ ما ته خپله واقعه پهٔ خپله بیان کړې وه (چې څومره درد وو دَ دهٔ پهٔ دې زړهٔ کښې!):

سلمان فارسي ؓ وائي: زهٔ پهٔ فارس کښې دَ جَیْئ علاقې ووم، زما پلار دَ هغې علاقې لوئي سردار او لوئي سړے وو. مونږ پهٔ خپل ځائے کښې یَو آتش کده (دَ اُور بلولو ځائے) جوړه کړې وه. دا پهٔ اصل کښې مجوسیان وو، دوي به دَ اُور عبادت کولو. او دا اُور به ئې داسې بلولو چې هغوي به وئیل: چې دا اُور مړ شي نو دا نقصان دے، شپه او ورځ به اُور بل وو، او هغې ته به ئې سجدې کولې. دے وائي: چې څومره زمانه تیره وه چې زمونږ پهٔ هغې آتش کده کښې اُور مړ شوے نهٔ وو، یا به ورته زهٔ ناست اوم یا به مې ورتهِ پلار ناست وو یا به ورته بل کس ناست وو او مونږ به دا اُور بلولو، مونږ به دا اُور بلولو چې دا مړ نهٔ شي؛ ځکه دا زمونږ اِلٰه دے. نو چې دا مړ شي نو مونږ به مدد دَ چا نه غواړو؟ داسې ناپوهه خلق وو!. وائي: زهٔ به پلار بهر نهٔ پرېخودم. او هسې هم دا مالداره خلق چې وي دوي پهٔ بچو ډیر مئین وي او خرچې پرې هم ډیرې کوي، نو وائي: پلار به را باندې خرچه هم ډیره کوله، خیال به ئې هم را ته ډیر ساتلو، وائي: زهٔ به ناست ووم او آتش کده کښې به مې اُور بلولو.

سلمان فارسي ؓ وائي: یَو ځل زهٔ خپل پلار څهٔ کار پسې اولیږلم، نو وائي: ما داسې کار اوکړو: چې پهٔ لار تیریدم نو پهٔ لار کښې ما دَ عیسٰی علیه السلام دَ مذهب یَو راهب اولیدو، یَو الله والا سړے مې اولیدو چې هغهٔ دَ خپل ربّ عبادت کولو، او ناست وو. وائي: زهٔ چې دَ هغهٔ خوا ته ورغلم، ما دَ هغهٔ سره خبرې اترې اوکړې نو دَ هغهٔ دَ هغه خبرو اترو پهٔ ما باندې اثر اوشو. وائي: زما زړهٔ کښې اللهِ راوستل چې زمونږ دَ اُور دا عبادت دا دین غلط دے او دَ دوي دا دین زمونږ دَ دین نه صحیح دے. وائي: ما دَ هغهٔ سره ځان ملګرے کړو، او دَ هغې راهب سره مې تعلق جوړ کړو، وائي: پلار پهٔ ما باندې پوهه شو، زهٔ ئې ډیر اووهلم او ما له ئې ډیرې سزاګانې راکړې، تر دې پورې چې ما له ئې لاسونو او خپو له ځنزیرونه واچول چې دے دَ کور نه بهر اونهٔ وځي.

سلمان فارسي ؓ وائي: خلق به تلل راتلل، ما به حالات معلومول، وائي: ما دَ دغې راهب نه تپوس اوکړو چې ما له یَو داسې حق پرست عالم اوښایه چې زهٔ لاړ شم او دَ هغهٔ نه دین زده کړم؟ پهٔ

دين دومره مئين ووا. وائي: هغهٔ ما ته اووئيل: چې شام له به ځې، او هلته کښې عيسايان دي، ډير غټ غټ عالمان دي، پادريان دي، دَ هغوي نه به دين زده کوې. وائي: ما وئيل: چې شام خو ما ليدلے هم نهٔ دے، بهر هم نهٔ يم وتلے.

وائي: پټ پټ به مې معلومات کول چې کله ما ته پته اولګيده چې قافله شام ته ځي نو ما زر زر هغه زنځيرونه اوشلول او منډه مې کړه، او دَ هغوي سره شام ته لاړم. دَ کور نه شام ته لاړم. نو پهٔ شام کښې مې معلومات کول چې لوئي عالم به چرته وي چې زهٔ هغهٔ سره لاړشم او دَ هغهٔ نه زهٔ دَ عيسٰي ؑ دا دين زده کړم؟، ځکه دا ما ته صحيح ښکاري. وائي: يَو عالم راته چا اوښودلو، زهٔ لاړم، زهٔ پهٔ يَو ډير شوق او جذبه تلے ووم خو ما چې هغه مُلا ته کتل نو دَ هغهٔ هغه کردار ما ته ښهٔ ښکاره نهٔ شو، ولې؟؛ چې هغهٔ به خلقو ته خبره يَو شان کوله او عمل به ئې بل شان وو. خلقو به ورله پيسې راوړې، چندې به ئې راوړې نو هغه به ئې ځان له لګولې، جومات او مدرسه کښې به ئې نهٔ لګولې، او چې دَ کوم څيز چې به ئې نورو ته وئيل: چې دا نا روا دے، هغه به ئې پهٔ خپله باندې کولو، زهٔ پرې پوهه شوم چې دا سړے وائي يَو څهٔ او کوي بل څهٔ؟ نو ما باندې دَ هغهٔ نه څهٔ اثر اونهٔ شو. وائي: ما اووئيل: چې دا څنګه دين دے چې خلقو ته يَو څهٔ وائي او کوي بل څهٔ؟ وائي: دے مړ شو. چې کله دا راهب مړ شو نو هغې خلقو پهٔ زړهٔ کښې وئيل: چې زمونږ ډير لوئي عالم مړ دے!. وائي: ما ورته هغه ټول حقيقت ښکاره کړو، نو وائي: دَ هغه خلقو ترې هم نفرت پيدا شو. وائي: هغوي پهٔ ځائے دَ دې چې دَ هغهٔ قدر او عزت اوکړي نو هغهٔ ئې پهٔ مړوني را زوړند کړو او پانسي ئې کړو، پهٔ دهٔ خو زمونږ ډير غټ اعتماد وو، دے داسې سړے ووا.

سلمان فارسي ﷺ وائي: دَ دغې راهب دَ مرګ نه بعد بيا ما معلومات کول: چې ما ته يَو داسې سړے اوښايئ چې زهٔ دَ هغهٔ نه دين زده کړم. وائي: بل عالم راته چا اوښودلو چې دَ هغهٔ خوا ته لاړشه (يا دغې خلقو دَ هغهٔ مخکښې راهب پهٔ ځائے باندې بل عالم مشر کړو). نو وائي: زهٔ دَ هغهٔ خوا ته راغلم او دَ هغهٔ مريدي مې شروع کړه، وائي: هغه سړے چې ما اوليدو نو هغه ډير نا آشنا وو، ډير الله والا سړے وو، او ډير الله والا انسان وو او پهٔ دين باندې ډير مئين وو. وائي: ما دَ هغهٔ نه ډيرې

مسئلې زده کړې. دَ هغهٔ نه پهٔ ما باندې پوره اثر اوشو بس زهٔ دَ هغهٔ خادم شوم (شاهي سړے دَ يو عام سړي خدمت کوي!!!). خدمتونه مې کول کول... وائي: چې کله هغه وفات کيدو نو دهٔ له الله ډير اوږد عمر ورکړے وو، ډير استاذان او ډير ملګري ئې تير شوي وو نو وائي: ما ورته اووئيل: چې يره جي! تاسو خو مړ کيږئ خو تاسو راته اوښايئ چې کوم يو سړے به صحيح وي چې زهٔ لاړ شم او دَ هغهٔ سره پاتې شم؟ هغهٔ ما ته اووئيل: چې فلانکي کلي ته به لاړ شې او هلته کښې زمونږ عيسايانو کښې فلانکے مُلا صحيح دے، دَ هغهٔ نه به دين زده کړې، هغهٔ له لاړ شه.

سلمان فارسي ﷺ وائي: چې دا راهب وفات شو نو دهٔ چې ما ته کوم عالم ښودلے وو نو هغه له لاړم. دَ هغهٔ سره به اووم، دَ هغه نه مې هم دَ دين خبرې زده کولې، او خدمت به مې کولو. نو چې کله هغهٔ وفات کيدو نو ما ورته اووئيل: چې اوس را ته ته اوښايه! چې چا ته لاړ شم؟ هغهٔ به را ته بل اوښودو...

وائي: آخري له چې زاغلم او دَ هغهٔ خدمتونه مې کول... نو چې کله هغه وفات کيدو نو ما ورته اووئيل: چې ما ته اوس داسې ځائے اوښايه چې ستا نه بعد زهٔ بيا دَ هغهٔ نه دين زده کوم؟ وائي: ما ته ئې اووئيل: چې اوس پهٔ عيسايانو کښې څوک صحيح پاتې شوے نهٔ دے؛ ځکه ټول خلق خراب دي، مُليان ئې خراب دي، عوام ئې خراب دي. وائي: ما ورته اووئيل: چې زهٔ څهٔ اوکړم ما خو کلے پريخودے دے، وطن مې پريخودے دے، مور پلار مې پريخودي دي دَ دې دين دپاره؟ وائي: ما ته ئې اووئيل: چې زهٔ درته يو خبره کوم، پهٔ دې توراة کښې مونږ لولو، هغه آخري پيغمبر محمد رسول الله (ﷺ) دَ هغهٔ وخت رانزدې شوے دے نو تهٔ پهٔ دې انتظار اوسيږه چې کله هغه راغے نو بيا انتظار اونهٔ کړې دَ هغهٔ خوا ته به ځان اورَسوې، او پهٔ هغهٔ باندې به ايمان راوړې، دا آخري پيغمبر ﷺ به حق او سچ پيغمبر وي. وائي: ما دَ هغې خپل پير او استاذ خبره اومنله او پهٔ دماغو کښې مې دا سوچ دے چې زهٔ به مدينې له ځان رسوم او مدينه به دَ هغهٔ دار الهجرة وي.

دَ سلمان فارسي ﷺ مدينې ته تلل

سلمان فارسي ﷺ وائي: ما مدينه چرته ليدلې وه، ما ته پته هم نهٔ وه چې مدينه پهٔ کوم ځائے

کښېږي ده؟ زهٔ خو شام کښې اووم. وائي: ځان له مې څهٔ څاروي، غوان، ګډې او بيزې پيدا کړل، پهٔ هغې مې خپل ژوند تيرولو او دَ الله دَ نبي ﷺ تپوس به مې کولو. پهٔ دې کښې يَو قافله دَ يهوديانو مدينې ته تله نو وائي: ما دَ هغوي نه تپوس اوکړو: چې زهٔ مدينې له ځم؟ وائي: هغوي راته اووئيل: چې مونږ سره به لا ړشې کنه!، وائي: هغه دومره بد بخته خلق وو چې زهٔ ورسره پهٔ لاره روان شوم نو زما نه ئې هغه ټول څاروي هم واغستل او زهٔ ئې اوتړلم او خلقو ته ئې اووئيل: چې دا زمونږ غلام دے او پهٔ پيسو ئې خرڅوؤ. سلمان فارسي ﷺ ته خو عربي هم سمه نهٔ ورتله نو هغه غريب څهٔ وئيلے شو، وائي: زهٔ ئې خرڅ کړم پهٔ بل سړي باندې او هغوي را نه لاړل او هغه څاروي ئې را نه هم بوتلل نو چې کله ئې را نه څاروي بوتلل نو زهٔ دغه شان پاتې شوم. وائي: ما اووئيل: چې زهٔ روان چرته يم او کيږي څهٔ؟ خو څه! الله به خير کړي.

دَ "صحيح البخاري" رَوايت کښې راځي: سلمان فارسي ﷺ وائي: زهٔ تقريبًا لس (۱۰) کرتې خرڅ شوے يم، يَو به پهٔ يَو خرڅ کړم او بل به پهٔ بل خرڅ کړم، بل به پهٔ بل خرڅ کړم. داسې يَو سلسله شروع وه، آخري سړي چې زهٔ واغستم نو هغه دَ مدينې يَو يهودي وو، نو هغه زهٔ مدينې ته راوستم. ګوره! پهٔ کوم چل مدينې ته راغے؟ وائي: چې زهٔ مدينې منوّرې ته راغلم او ما چې مدينه اوليده او ما چې دَ خپل استاذ نه کوم تعريف اوريدلے وو نو زهٔ پوهه شوم چې دا مدينه ده، او هغه پهٔ خپله وائي:

"حَتَّى قَدِمْتُ الْمَدِيْنَةَ، فَوَ اللهِ مَا هُوَ إِلاَّ أَنْ رَأَيْتُهَا، فَعَرَفْتُهَا بِصِفَةِ صَاحِبِيْ وَأَيْقَنْتُ أَنَّهَا هِيَ الْبَلَدَةُ الَّتِيْ وُصِفَتْ لِيْ".(1)

"کله چې زهٔ مدينې ته راغلم او ما مدينه اوکتله نو زهٔ پوهه شوم چې زما استاذ ما ته کومې نخښې ښودلې وې هغه هم دا دي، ما ته ئې وئيلي وو: چې دَ کجورو علاقه به وي، دَ کجورو وُنې به پکښې ډيرې وي او آب هواء به ئې داسې وي". نو هغه ټولې نخښې پهٔ مدينه کښې وې.

نو وائي: زهٔ پوهه شوم چې هغه مدينه هم دا ده. اوس پيغمبر ﷺ به چرته ګورم او چې راغلے

(1) انظر: "سيرة المصطفى": (378/1)، وفي طبع: مكتبة عمر فاروق مخرّجا: (325/1).

دے او کهٔ نهٔ دے؟ وائي: زهٔ مدینې ته راغلم خو رسول الله ﷺ لا مدینې له نهٔ وو راغلے. وائي: زهٔ دَ هغې يهودي غلام ووم، زهٔ ئې بوتلے اووم. ما به دَ دغه يهودي سره باغ کښې کار کولو. يَو ورځ زهٔ وُنې ته ختلے ووم او کجورې راشوکوم، يا پهٔ هغې کښې څهٔ کار کوم، وائي: پهٔ دې کښې يَو کس راغے او زما دَ هغې مالک چې زهٔ ئې پهٔ چا خرڅ کړے اُووم دَ هغهٔ دَ ترهٔ ځوي راغے او زما هغه مالک ته وائي: چې فلانکيه! تهٔ خبر نهٔ ئې؟ وائي: هغهٔ ورته اووئيل: چې ولې؟ وائي: دې مدينې له بنو قيلوؤ کښې يَو سړے دَ مکې نه راغلے دے او هغهٔ وائي: چې زهٔ پيغمبر يم. او دا خلق ډلې ډلې ورِ روان دي او پهٔ هغهٔ ايمان راوړي. سلمان فارسي رضي الله عنه وائي: چې دا مې واوريدل نو زهٔ پوهه شوم چې رسول الله ﷺ مدينې ته راغلے دے. سلمان فارسي رضي الله عنه وائي:

«فَلَمَّا سَمِعْتُهَا أَخَذَتْنِي الْعُرَوَاءُ، حَتَّى ظَنَنْتُ سَأَسْقُطُ عَلَى سَيِّدِي».(1)

"نو کله چې ما دا خبره واوريده نو دَ ډيرې خوشحالۍ نه پهٔ دې وُنه کښې ما باندې ريګ زيدے اولګيدو، بدن مې ريکزي (او وائي: چې اوس راټوپ کړم او کهٔ راکوز شم؟)، وائي: قريب اُووم چې دَ بره نه زهٔ پهٔ خپل مالک باندې راغورځيدلے وے". وائي: زهٔ پوهه شوے نهٔ يم چې پهٔ کومه طريقه باندې زهٔ دَ هغې وُنې نه راکوز شوے يم؟

وائي: چې کله زهٔ دَ وُنې نه راکوز شوم نو زهٔ هغې کس ته رانزدې شوم او ما ورته اووئيل: چې دا څوک راغلے دے؟ او څهٔ قصه ده؟ اوس نه چل معلوموم، لاره معلوموم، ځائے معلوموم، وائي: زما هغه آقا چې هغه پهٔ ما پوهه شو چې هسې نه چې دے چرته لاړ شي او ايمان پرې راوړي، وائي: ما پسې راغے او يَو ډيره ناکاره سپيړه ئې را له راکړه او ما ته وائي: چې ستا دَ دهٔ سره څهٔ کار دے؟ ځه! شابه! وُنې ته خيژه، وائي: بيا ئې را باندې هغه کار شروع کړو او زهٔ ئې پرې نهٔ بنودم. وائي: ما تر ماښامه پورې دَ خپل مالک کار اوکړو.

سلمان فارسي رضي الله عنه وائي: چې ماښام شو نو دا سوچ مې کولو چې زهٔ به نن ځم او دا سړے به وينم، ما ته زما هغې استاذ او پير وئيلي وو: چې دَ دهٔ نخښه به دا وه: چې دَ هغهٔ دَ دوارو اوګو پهٔ

---

(1) أخرجه أحمد في "مسنده"، أحاديث رجال من أصحاب النبي ﷺ، حديث سلمان الفارسي رضي الله عنه، برقم: (23737).

مینځ کښې به مهر وي او چې صدقه ورله ورکړې نو نهٔ به ئې اخلې او چې هدیه او تحفه ورله ورکړې نو هغه به اخلي. سلمان فارسي رضي الله عنه وائي: دَ ځان سره مې لږې کجورې واغستې. وائي: ما ورته اووئیل: چې جي! دا صدقه مې راوړې ده، دا واخلئ، وائي: نبي ﷺ اووئیل: چې زهٔ خو صدقه نهٔ اخلم، ذې نورو ته ئې ورکړه، صحابوٓ رضي الله عنهم ته ئې اووئیل: چې دا واخلئ!. نو دَ دې نه ما اومنل چې صدقه ئې خو وانهٔ غسته.

وائي: چې سحر شو نو بله ورځ باندې بیا راغلم، دَ ځان سره مې نورې کجورې راوړې، وائي: ما ورته اووئیل: چې دَ الله نبي! دا مې تاسو له تحفه راوړې ده، دا قبوله کړئ!. وائي: نبي ﷺ اووئیل: چې راکړئ، تحفه ئې واغسته، قبوله ئې کړه. وائي: پهٔ دې کښې زهٔ را تاؤ شوم نو ما دَ نبي ﷺ شاه مبارکه اوکتله (دا هغه دَ قباء واقعه ده، نبي ﷺ مدینې ته لا نهٔ وو راغلے) نو پهٔ هغې کښې هغه مهر هم لګیدلے وو کوم چې ما ته زما استاذ وئیلي وو چې دَ نبوّت او دَ پیغمبرئ مهر وو. هغه درې واړه نخښې ما پهٔ رسول الله ﷺ کښې اولیدې، چې صدقه ئې وانهٔ غسته او تحفه او هدیه ئې واغسته او دَ اوګو پهٔ مینځ کښې ئې هغه مهر هم وو.

مدینې ته چې کله دَ الله پیغمبر ﷺ راغلے نو سلمان فارسي رضي الله عنه وائي: زهٔ هم راغلم او ما پهٔ نبي ﷺ باندې ایمان راوړو، ما ورته اووئیل: چې ما ته کلمه اووایه. نو چې ایمان مې راوړو نو اوس دلته خو دے غلام دے، ټوله ورځ به ئې دَ مالک کارونه کول. یَو ورځ خفه دے، نبي ﷺ ورته وائي: چې ولې؟ وائي: مالک مې نهٔ پریږدي، او ما ته وائي: چې زما کار نهٔ.کوې نو داسې اوکړه: چې څلویښت (٤٠) اَوْقِیَه سرهٔ زر به ما له راکړې او ما له به درې سوه (٣٠٠) دَ کجورو وُنې اوکرې او چې کله هغې میوې اونیولې نو تهٔ به آزاد ئې دَ غلامئ نه. نو ما سره مکاتبت اوکړه، مکاتبت به دا وي: چې تهٔ به ما سره مزدوري کوې څلویښت (٤٠) اَوْقِیَه سرهٔ زر به ما له برابروې، او درې سوه دَ کجورو وُنې به کرې او هغې چې کله میوه اونیوله نو ته به آزاد ئې. کجوره خو ډیره پهٔ قلاره باندې میوه نیسي. سلمان رضي الله عنه پریشانه دے چې دا به څهٔ کیږي؟ نبي ﷺ ورته وائي: سلمانه! پریشانه کیږه

مهٔ، اوبه شي. نبي ﷺ اعلان اوکړو: هلکه! دَ سلمان سره لږ تعاوُن اوکړئ، څوک لا ړل لس (۱۰) وُنې ئې راوړې، څوک شل (۲۰) راوړي، څوک پنځوس (۵۰) راوړي، درې سوه ونې ئې پهٔ یَو ورځ کښې برابر کړې. سلمان ﷺ ته نبي ﷺ وائي: سلمانه! تهٔ لاړشه او دَ دې وُنو دپاره کندې برابر کړه، دَ کجورو وُنو دپاره کندې کښنه. سلمان فارسي ﷺ راغے لوئي میدان دے، پهٔ هغې کښې لګیا دے، کندې جوړَوي. نبي ﷺ ورته اووئیل: چې کله کندې برابر کړې نو بیا ما ته اووایه. نبي ﷺ راغے سلمان ﷺ او نورو صحابؤ ﷺ ته وائي: چې وُنې کرئ. یَو وُنه پکښې رسول الله ﷺ اوکرله، وائي: یَو وُنه پکښې زهٔ هم کرم. چې کله نبي ﷺ پهٔ لاس کښې وُنه واغسته او اوئې کرله (دا معجزه وه دَ رسول الله ﷺ) نو هغه درې سوه (۳۰۰) وُنې الله اولګولې یَو هم پکښې خطا نهٔ شوه. کنې کجورې خو ډیره پهٔ کرانه لګي. او پهٔ کال کښې دننه دننه ورې ورې کجورې وې الله غټې کړې او میوې ئې اونیولې. هغهٔ خو ورته وئیلي وو: چې کله میوې اونیسي نو هله به تهٔ آزاد ئې.

خو سلمان فارسي ﷺ لا پریشانه وو؛ چې دَ کجورو کار خو الله برابر کړو خو څلویښت (۴۰) اَوْقِیه سرهٔ زر خو ځان له څهٔ وائي، نو دا سونا به زهٔ دَ کوم ځائے نه برابروم؟ نبي ﷺ اووئیل: چې الله به خیر کړي، پهٔ دې کښې یَو کس راغے نبي ﷺ له ئې دَ چرګې دَ اګئ هومره سونا راوړه، داسې غونډه غونډې سونا وه، نبي ﷺ ته ئې ورکړه: چې دا خیرات کړه، چې چا له ئې ورکوې نو هغوي له ئې ورکړه. نبي ﷺ اووئیل: ورشئ! سلمان اوګورئ. سلمان فارسي ﷺ ئې را اوغوښتو، ورته ئې اووئیل: چې سلمانه! دا واخله، او دا به خپل مالک له ورکړې، او دَ هغهٔ مکاتبت نه به تهٔ آزاد شې، ستا غلامي به ختمه شي. سلمان ﷺ وائي: ما چې هغې سونې ته کتل نو دَ څلویښت (۴۰) اَوْقِیَه خو ډیر وزن دے، وائي: ما ورته اووئیل: چې یا رسول الله! دا نهٔ برابریږي، دا لږه ده؟ وائي: ما ته ئې اووئیل: چې تهٔ ئې واخله، تهٔ څهٔ کوې، تهٔ ئې ناپ کړه، پته به اولګي. سلمان فارسي ﷺ وائي: چې کله ما یوړه او ما پهٔ زرګر اوتلله نو هغه هم هغه څلویښت (۴۰) اَوْقِیه اوختله. بس هغه اوقیې مې ورله ورکړې او دَ هغهٔ دَ غلامۍ نه الله رب العزة خلاص کړم. سلمان ﷺ دَ فارس نه راغلے وو او

دهٔ پهٔ نبي ﷺ باندې مدينه کښې ايمان راوړے وو.

دَ غزوه خندق باره کښې دَ سلمان فارسي ﷺ مشوره

سلمان فارسي ﷺ پهٔ صحابؤ ﷺ کښې دَ ډير عمر خاوند دے، او چې کله غزوه خندق وو نو نبي ﷺ دَ صحابؤ ﷺ نه مشوره اغسته، چې څهٔ اوکړو کافرانو اتفاق کړے دے؟ سلمان فارسي ﷺ دَ خندق مشوره ورکړې وه، وائي: يا رسول الله! داسې به اوکړو: چې زمونږ پهٔ کلي او علاقه کښې به چې کله دشمن زوروَر وو او زمونږ به وس نهٔ کيدو نو مونږ به خندقونه کنستل... پخواني جنګونه خو به دَ تورو او دَ نيزو او دَ غشو جنګونه وو، ټوپکې چرته وې، ټينکونه چرته وو او بمبارونه چرته وو، دا څيزونه خو نهٔ وو. وائي: دومره کهولاؤ خندق به اوکښنوو چې دَ هغې نه يَو سړے پورې کيدے هم نهٔ شي او چې ورکوز شي ورته نو بيا ترې راختے هم نهٔ شي، او اس ترې ټوپ هم نهٔ شي وهلے، نو دَ ټولې مدينې نه به ګير چاپيره خندق اوکښنو او دَ خندق پهٔ غاړه به ورته مونږ ولاړ يُو چې کوم کافر ورکوز شو نو هغه خو ايله مونږ ته آسانيږي، پهٔ سر به ئې وهو خلاصيږو به ترې، چې هغه راخيژي نو مونږ به دَ هغهٔ فيصله کړې وي او چې نهٔ راکوزيږي نو هلته به ولاړ وي، مونږ باندې به حمله نهٔ شي کولے. دا خندق دَ سلمان فارسي ﷺ پهٔ مشوره باندې دَ ټولې مدينې نه ګير چاپيره کنستلے شوے وو.

نو خبره مې دا کوله چې: نبي ﷺ ته به ډلې ډلې خلق راتلل او پهٔ نبي ﷺ باندې به ئې ايمان راوړو. باقي سيرت چې نبي ﷺ ابتدائي کوم کوم کارونه کړي دي؟ نو ان شاء الله دَ هغې به بله جُمعه کښې تذکره راځي.

وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

لَّقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرۡجُواْ ٱللَّهَ وَٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرٗا

(سورة الأحزاب: 21)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه څليريشتمه

"دَ مسجدِ نبوي تعمير"

بتاريخ: 2022-08-19

مقام: جلسئ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّآني حفظه الله

سيرة النبي ﷺ حصه څليريشتمه

"دَ مسجد نبوي تعمير"

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ يَرْجُو اللهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللهَ كَثِيْرًا﴾.(1)

عزتمندو حاضرينو مسلمانانو رونړو! دَ رسول الله ﷺ سيرتِ مباركه شروع وو، دَ مکې حالات بيان شوي وو، مديني ته دَ راتلو دَ هجرت هنه واقعه بيان شوې وه، بيا رسول الله ﷺ قباء کښې وو، دَ هغې تفصيل موږ بيان کړے وو، دَ هغې دَ جومات دَ تعمير ذکر اوشو، دَ هغې نه بعد رسول الله ﷺ مديني منورې ته راغے، پۀ مدينه منوره کښې دَ ابو ايوب انصاري ﷺ پۀ کور کښې نبي ﷺ اوسيدو، ډلې ډلې خلق به دَ نبي ﷺ ملاقات له راتلل او پۀ اسلام به مشرّف کيدل.

پۀ مدينه منوّره کښې دَ نبي ﷺ اول کار

پۀ مدينه منوّره کښې چې اول کار نبي ﷺ کوم شروع کړے وو نو څنګه چې قباء کښې نبي ﷺ اول دَ جومات فکر کولو نو چې مديني ته راغے نو پۀ مدينه کښې هم رسول الله ﷺ اولنے کار دَ جومات دَ تعمير سوچ او فکر وو. مثاليلي وو: چې نبي ﷺ کله مديني منورې ته راتلو نو دَ هر

(1) [سورة الأحزاب: 21].

سرې دا آرمان وو: چې نبي ﷺ زما سره راشي او زما په کور کښې پاتې شي نو دا به ډېره دَ خوشحالئ خبره وي. خو رسول الله ﷺ داسې نهٔ کول چې يَو کس سره تلے وے او نور ئې پرېخودے وے، نبي ﷺ اووئيل: چې دا اوښه به پرېږدئ، دَ دې پړے او مُهار به نهٔ نيسئ، چې کوم ځائے کښې دا کيښناسته هغه به زما ځائے وي. نو اوښه پهٔ اول ځل يَو ځائے کښې کيښناسته او بيا دَ هغې ځائے نه پاسيده او بيا دَ ابو ايوب انصاري ﷺ دَ کور مخې له کيښناسته. نبي ﷺ ابو ايوب انصاري ﷺ ته اووئيل: چې دا سامان کور ته اوچلوه. هغهٔ سامان کور ته اوچلولو او هغې کور کښې دَ الله نبي ﷺ پاتې کيدو. نو پهٔ اول ځل چې دا اوښه پهٔ کوم ځائے کښې ناسته وه نو پهٔ دغه ځائے کښې نبي ﷺ دَ جومات جوړولو اراده اوکړه: چې دا دَ جومات ځائے شو او دغه ورسره دَ نبي ﷺ دَ اوسيدو ځائے شو. نو نبي ﷺ دَ جومات دپاره دغه ځائے خوښ کړو، دا مدينه منوّره کښې دَ بنو نجّار قبيلې دَ يتيمانانو ماشومانو هلکانو ځائے وو، او دا يَو درمَنْ وو، "مَرْبَد" ورته وائي، دَ کجورو دَ وُچولو ځائے وو، کجورې به ئې پکښې نمر ته اچولې، چې لږې وُچې شي او هغه ډېره نمي ترې نه ختمه شي. نو دَ هغوي درمَنْ غوندې وو، ديوال ترې تاؤ وو، دا کهولاؤ ځائے وو، پهٔ دې کښې دا درمن هم وو او پهٔ دې کښې دَ کجورې وُنې هم ولاړې وې، پهٔ دې کښې پخوا دَ جاهليت پهٔ وخت کښې چرته کافران مړهٔ وو، دَ هغوي قبرونه پکښې هم وو. نبي ﷺ اوفرمائيل: چې دا ځائے دَ دې مونځ دپاره ډېر موزون دے، چې پهٔ دې ځائے کښې جومات جوړ کړو نو دا به ډېره ښهٔ وي. وائي: دا دَ چا دے؟ نو چا ورته اوفرمائيل: چې دا دَ سهل او دَ سهيل دَ هغې ماشومانو دے، چې دا دَ بنو نجار دَ قبيلې يتيمانان وو. نبي ﷺ هغه ماشومان هم را اوغوښتل او دَ دوي ترهٔ وو چې دَ هغوي يَو قسم وارث وو نو هغه ئې هم را اوغوښتو نو هغوي ته ئې اووئيل: چې کهٔ ستاسو خوښه وي نو دا ځائے پهٔ مونږ باندې خرڅ کړئ!، قيمت را ته خير دے تاسو اولګوئ، چې څومره باندې ئې وايئ، پيسې به درکړو او دلته به مونږ جومات جوړ کړو. هغوي نبي ﷺ ته اووئيل: چې نا! مونږ دا دَ جومات دپاره ورکوؤ، مونږ دَ دې پيسې ستاسو نه نهٔ اخلو، بس مونږه دَ دې عِوض او دَ دې کټه دَ

خپل ربّ نه غواړو چې الله رب العزة مونږ ته دَ دې پهٔ بدله کښې اجر را کړي، او دا به مونږ دَ خپل ربّ دَ رضاء دپاره جومات له ورکړو. چونکه بیا هم ماشومان دي نو ماشومان خو داسې نهٔ چې هغه وائي: نا!، او تهٔ وائې: چې الله دې اوبخنبه! او کار اوشو، نبي ﷺ ورته اووئیل: نا! پیسې به خامخه درکوؤ. ابو بکر صدیق ﷺ ته ئې اووئیل: چې ابو بکر! دَ دې قیمت به دوي له ورکوې، ابو بکر ﷺ پهٔ هغه زمانه کښې چې دَ زمکې دومره قیمتونه نهٔ وو، ابو بکر ﷺ لس (۱۰) دیناره دَ هغې دَ جومات قیمت هغې ماشومانو له ورکړو. اګر چې هغوي ډیر وئیل: چې مونږ ئې دَ الله دَ رضاء دپاره درکوؤ، خو دا پیسې ئې ورله ورکړې وې.

دَ نبي ﷺ حکم کول

نبي ﷺ دَ هغې نه بعد حکم اوکړو (پهٔ هغه ځائے کښې چې کومې دَ کجورو وُنې وې)، وائي: دَا اونړوئ!؛ څکه دَ جومات مینځ کښې راتلې، صفونه ئې ورانول. او دَ مشرکینو چې کوم قبرونه وو پخواني نو هغه ئې وران کړل، هموار ئې کړل. چې دَ سلو (۱۰۰) کالو نه کوم قبر واوړي، پخوانے زوړ قبر وي نو هغه بیا هموار کړه، دپاسه کهٔ پرې کور جوړوې او کهٔ دپاسه پرې بیا مونځ کوې چې وقف مقبره نهٔ وي نو کولے ئې شې. يَو خو وقف مقبره ده نو کهٔ سل (۱۰۰) کاله ئې هم اوشي خو بل شے پکښې نهٔ شې جوړولے. او چې وقف نهٔ وي نو چې سل کاله (بعضې پکښې څلویښت کاله یادَوي) ئې تیر شي نو دَ هغې نه بعد کهٔ تهٔ پکښې پټے جوړوې او کهٔ کور پکښې جوړوې نو څهٔ مسئله نشته دے؛ هغه هډوکي هم خاورې شوي وي، بیا پکښې څهٔ پاتې وي؟ او چې وقف مقبره نهٔ وي او يَو ځائے کښې جومات جوړوې او قبرونه پکښې وي نو بیا مسئله دا ده: چې دَ دې نه به دا مړي را اوباسې، دا به مقبره کښې دفن کړې او هغه ځائے هموار کړه، جومات پکښې جوړوه، خو چې قبر هم پکښې وي او جومات هم وي نو بیا کهٔ قبر مخکښې وي نو جومات جوړول نهٔ دي پکار، او کهٔ جومات مخکښې وي نو بیا پکښې قبرونه جوړول نهٔ دي پکار. پخوا به چې څوک مړهٔ شول نو جومات کښې به ئې خښول نو دا جهالت وو. پهٔ جومات کښې به مړي نهٔ خښوې، زمونږ شریعت خو دا وائي: چې تهٔ خو دَ مړې خښول یادَوې....

دَ امام ابو حنیفه او امام مالک رحمهما الله مذهب

زمونږ دَ امام ابو حنیفه او دَ امام مالک رحمهما الله مذهب دا دے: چې جومات کښې دَ مړي جنازه هم مکروه ده. مړے اوشي نو دَ هغهٔ جنازه به جومات کښې نهٔ کوې. هاں! کهٔ عذرِ شرعي وي نو بیا خیر دے، لکه باران وریږي او بل ځائے نشته دے نو بیا مجبوري وي، دَ مجبوریٔ حالت جُدا وي. نو کهٔ دَ مجبوریٔ حالت نهٔ وي نو جنازه به هم جومات کښې نهٔ کوې. هاں! کهٔ داسې وي نو کم از کم چې مړے محراب طرف ته بهر وي نو بیا خیر دے، معنٰی: دَ جوماتو دَ حدودو نه مړے بهر پروت وي او نور ټول خلق دننه جومات کښې ولاړ وي نو بیا خیر دے، لکه مسجدِ نبوي کښې دَ محراب نه ځان طرف ته یَو ځائے دے هلته مړے راوړي او جنازه پرې اوکړي او وائي: "الصلاة علی المیِّت"، او کله "الصلاة علی الأموات" وائي، او دې خوا جومات کښې خلق ولاړ وي.

نو بهر حال چې قبر مخکښې نه وي نو بیا به جومات نهٔ جوړوې، او چې جومات دَ مخکښې نه وو نو بیا به پهٔ هغې کښې قبرونه نهٔ جوړوې. او کهٔ وقف مقبره نهٔ وي او جومات دپاره زمکه وقف شوه نو مړے ترې اوباسه او بل ځائے ته ئې یوسه، دا جائز دي. هاں! روستو شاه طرف ته قبرونه دي، چې دَ سجدې پهٔ وخت کښې نهٔ وي او شاه ته وي نو وي دي، څهٔ خبره نشته، او کهٔ مخې ته وي خو دیوال ترې تاؤ دے نو بیا هم پروا نهٔ کوي، وي دې خو دَ جومات نه به ئې جُدا کوې، دَ هغې نه به مستقل چار دېوالي اوکړې چې پټ شي.

نو نبي ﷺ حکم اوکړو: چې دا قبرونه هموار کړئ. قبرونه ئې هموار کړل، دغه ځائے ئې هِموار کړو. هغې وخت کښې نبي ﷺ صحابؓو ته اووئیل: چې دې له به کچه خښتې جوړوو. دیوال ئې دَ کچه خښتو نه کولو، او دَ کجورو دا وُنې چې وې نو دې کښې ئې دَ څهٔ نه بینچونه (بشونه، تیرونه) جوړ کړل او دَ څهٔ نه ئې ورله ستنې جوړې کړې او دپاسه ئې پرې دَ کجورو لختې واچولې. بس دا جومات وو، پلاستکې هغه وخت کښې چرته وې او سهولتونه دومره چرته وو، دَ کچه خښتو جومات وو. او عجیبه دا ده: چې صحابه کرام ؓ هم او نبي ﷺ هم، انصار او مهاجرین ټول پهٔ اتفاق راغلل، څوک دَ جومات دپاره خښتې اوباسي او څوک ئې چلوي، شروع

دي. او په هغې دور کښې کله کله به صحابه کرامو ﷺ دا شعر وئيلو:

هَذَا الْحِمَالُ لاَ حِمَالَ خَيْبَرْ هَذَا أَبَرُّ رَبَّنَا وَأَطْهَرْ[1]

"مونږ چې کوم بوجونه اوچتوؤ (دَ خختو درانهٔ وزنونه اوچتوؤ) نو دا دَ خيبر دَ کجورو بوجونه نهٔ دي (چې کښي مونږه کجورې راچلوؤ، يا دَ کور دَ کار دپاره څهٔ شے راوړو)، زما دې پهٔ ربّ قسم وي! چې دا ډير نيک او پاک کار دے". دا خو دَ الله دَ کور دپاره يَو خدمت دے.

هغه خلق چې پهٔ ژوند کښې به ئې هم خپل کار نهٔ کولو الله به ورله تياره ورکوله، هغوي به هم راتلل او دَ ثواب پهٔ نيت به ئې جومات کښې کارونه کول. او زمونږ خلق ځان له به ټول عمر کارونه کوي خو دَ جومات کار ته به ئې ډډې نهٔ لګي، دا ورته يَو سپوا کار ښکاري، او کله کله به نبي ﷺ دا شعر هم وئيلو:

اللَّهُمَّ إِنَّ الأَجْرَ أَجْرُ الآخِرَهْ فَارْحَمِ الأَنْصَارَ، وَالمُهَاجِرَهْ[2]

دنيا کښې خو چې خلق کار کوي نو دَ پيسو طمع کوي چې څوک به پيسې راکوي، مزدوري به راکوي، "يا الله پاکه! يقينًا اجر چې دے (عِوَض چې دے، مزدوري چې ده) نو مزدوري دَ آخرت ده (دَ دنيا څهٔ پيسې وي، څهٔ عوض ئې وي، اجر چې دے اجر دَ آخرت دے)، يا الله! زما دا دعاء ده: چې انصارو او مهاجرينو ټولو باندې رحم اوکړه"؛ ځکه دوي ټول ستا دَ کور پهٔ خدمت کښې لګيا دي.

او کله به ئې دا شعر وئيلو:

اللَّهُمَّ إِنَّهُ لاَ خَيْرَ إِلاَّ خَيْرُ الآخِرَهْ فَانْصُرِ الأَنْصَارَ وَالْمُهَاجِرَهْ[3]

"يا الله! خير نهٔ دے مګر خير دَ آخرت دے (دَ دنيا خير خو کله وي او کله نهٔ وي، نيمګړے وي، الله! کامل او پوره خير چې دے دا خو دَ آخرت دے)، يا الله! دې انصارو او مهاجرينو ټولو سره مدد اوکړې".

چې نبي ﷺ به دا اووئيل نو صحابه کرام ﷺ به نور هم پهٔ جذبه کښې راغلل، او لګيا به

(1) انظر: "دلائل النبوة" للبيهقي: (538/2).

(2) أخرجه البخاري في كتاب مناقب الأنصار، باب هجرة النبي ﷺ وأصحابه إلى المدينة: (60/5).

(3) أخرجه البخاري في كتاب مناقب الأنصار، باب مقدم النبي ﷺ وأصحابه إلى المدينة، برقم: (3932).

وو، دَ يَو بل نه به ئې ځان مخکښې کولو. دَ مسجد نبوي پۀ خدمت کښې دَ صحابۇ ﷺ پۀ ژبه دا شعر راغے:

لَئِنْ قَعَدْنَا وَالنَّبِيُّ يَعْمَلُ   لَذَاكَ مِنَّا الْعَمَلُ الْمُضَلَّلُ[1]

رسول الله ﷺ نه هم خختې راوړلې نو صحابه کرامو ﷺ به وئيلې: "کۀ مونږ کيښنو او رسول الله ﷺ لګيا وي نو دا خو به ډير ناکاره کار وي"، چې صحابي دې ناست وي او دَ الله نبي ﷺ دې لګيا وي خدمتونه دې کوي. بلکه هغوي نبي ﷺ ته وئيل: تاسو کار مۀ کوئ، مونږ يُو. نبي ﷺ ورته اووئيل: ولې زما ثواب نۀ دے پۀ کار؟ زۀ به ځان له جنت نۀ ګټم څۀ؟ چې تاسو لا وايئ: چې کار مۀ کوه.

نو هغوي به بيا ځان له پۀ دې باندې جذبه راوچتوله، کۀ مونږ کيښناستو او دَ الله نبي ﷺ لګيا وي کار کوي نو دا خو ډير ناکاره کار دے، دا خو بيا هډو څۀ فائده نۀ کوي چې دَ الله نبي ﷺ لګيا وي او مونږ ناست يُو. نو هغوي به دَ نبي ﷺ نه هم سېوا زور لګولو.

دَ سيدنا علي ﷺ شعر وئيل

سيدنا علي ﷺ به پۀ کښې کِله دا شعر اووئيلو:

لَا يَسْتَوِي مَنْ يَعْمُرُ الْمَسَاجِدَا   يَدْأَبُ فِيهِ قَائِمًا وَقَاعِدًا

وَمَنْ يُرَى عَنِ الْغُبَارِ حَائِدًا[2]

"نۀ دې برابر هغه څوک چې لګيا دي جوماتونه جوړوي، کله دَ جومات پۀ خدمت کښې ولاړ دے او کله ناست دے، کله پۀ ناسته باندې خدمت کوي، کله پۀ ولاړه باندې خدمت کوي او هغه چې هغه دَ خاورو نه ځان بچ کوي، ځان صفا ساتي".

نو دا دواړه کله هم برابر نۀ دي: يَو سړے وائي: چې ګنده نۀ شم او بل وائي: چې دا ټولې جامې مې دې ګنده شي خو چې دَ الله پۀ کور کښې خدمتونه اوکړم نو دا صفا او دا خيرن کله هم نۀ برابريږي؛ ځکه دَ دې ګنده مرتبه ترې ډيره اوچته شوه؛ ځکه دَ دۀ پۀ بدن باندې دَ جومات

(1) انظر: "سيرة ابن هشام": (102/2).

(2) انظر: "سيرة ابن هشام": (497/1).

دوړې اولګیدې، دَ دهٔ پهٔ بدن باندې دَ جومات خاوره لګیدلې ده، پاکه مبارکه خاوره پرې لګیدلې ده، دا خاوره او دَ جهنم اُور به نهٔ یَو ځائے کیږي. نو دا دواړه کله برابریدے شي!.

دَعلي ﷺ عثمان بن مظعون ﷺ پسې مزاح

نو چې کله علي ﷺ دا اووئیل نو عثمان بن مظعون ﷺ یَو صحابي دے. عثمان بن مظعون ﷺ فطري طور باندې یَو سُتهرا انسان وو، چې دَ دهٔ به دَ خاورو نه، دَ ګندګو نه بالکل نفرت وو، چرته به ئې پهٔ خاورو او دوړو کښې خدمتونه نهٔ کول، او چې پهٔ جامه به ئې چرته دوړه اولګیده نو دَ ځان نه به ئې دوړه څنډله. نو سیدنا علي ﷺ به یَو قسم دَ هغهٔ سره مزاح کولو او هغهٔ به ورته وئیل: چې تهٔ خو دَ خاورو نه ډیر ځان ساتې او مونږ پکښې ځان سم ګنده کړو، ورته وائي: عثمانه!

لَا يَسْتَوِي مَنْ يَعْمُرُ الْمَسَاجِدَا يَدْأَبُ فِيهِ قَائِمًا وَقَاعِدًا
وَمَنْ يُرَى عَنِ الْغُبَارِ حَائِدًا(1)

"هغه دواړه کله هم نهٔ دي برابر چې یَو سړے لګیا دے جوماتونه جوړَوي، کله ولاړ وي، کله ناست وي، خاورو کښې لړلے شوے وي، او هغه سړے نهٔ دے برابر چې هغه دَ خاورو نه ځان بچ کوي"، چې خاورې را باندې پریوځي نهٔ.

نو دا دواړه کله هم نهٔ شي برابریدے بلکه پهٔ دې کښې چې درباندې خاورې اوغورځیدې نو دا ډیر ثواب دے. لکه حدیث پاک کښې راځي: چې سړي باندې دَ الله پهٔ لار کښې ګرد وغبار (دوړې) پریوځي دَ هغې ډیر اجر دے. حدیث کښې راځي:

«الْحَاجُّ الشَّعِثُ التَّفِلُ».(2)

حاجي هغه حاجي نهٔ دے چې پهٔ هغهٔ باندې چرته دوړه هم نهٔ ده پریوتې، بلکه "اصل حاجي هغه څوک دے چې سر ئې رابېر شوے وي او ګرد وغبار پرې دپاسه پروت وي"، معلومیږي دا چې دهٔ ډیرې منډې وهلې دي او ډیر کړاؤ ئې کړے دے، تکلیف ئې ډیر تیر کړے دے نو دا

(1) انظر: "سیرة ابن هشام": (497/1).

(2) أخرجه البزار في "مسنده"، مسند عمر بن الخطاب ﷺ، برقم: (182).

اصل کښې اوچت ثواب دے.

نو بهر حال صحابه کرام ﷺ او نبي ﷺ لګيا وو او مسجدِ نبوي ئې جوړولو. دَ مسجدِ نبوي ديوال هغه دَ کچه خښتو وو، او دَ هغې ستنې هغه دَ کجورې تنې وې، او بينچونه چې وو هغه هم دَ کجورو تنې وې، او دپاسه ئې پرې دَ کجورو هغه لختې اچولې وې دَ سورې دپاره. دا جومات وو. دَ رسول الله ﷺ پهٔ دور کښې دا جومات وو. دَ ابو بکر ﷺ پهٔ دور کښې هم پهٔ دغه طريقه باندې وو، دَ سيدنا عمر ﷺ پهٔ زمانه کښې خو هغه زوړ شوے وو نو هغهٔ صرف نوے کړو، نور هم دغه وو. بيا دَ سيدنا عثمان ﷺ پهٔ زمانه کښې دَ جومات نقشه بدله شوه، عثمان ﷺ ورته دَ منَقَّشو خښتو نه ئې ورله ديوالونه اوکړل، او ستنې ئې ورله دَ ګټو نه جوړې کړې او ساج يَو لرګے دے هغه ئې ورله دَ هندوستان نه را اوغوښتو او دَ هغې نه ئې ورله چت جوړ کړو.

دَ سيدنا عثمان ﷺ سره دَ خلقو اختلاف

بعضې خلقو عثمان ﷺ سره اختلاف کولو چې عثمانه! دَ رسول الله ﷺ پهٔ زمانه کښې دا جومات کچه وو، او دَ کچه خښتو جوړ وو، دَ ابو بکر ﷺ پهٔ زمانه کښې دا جومات کچه وو او دَ کچه خښتو جوړ وو، دَ عمر ﷺ پهٔ زمانه کښې کچه وو او دَ کچه خښتو جوړ وو نو دا به نهٔ ورانوؤ. دا به دَ نبي ﷺ پهٔ طريقه باندې دا جومات جوړ وي، دا به دغه شان وي. عثمان ﷺ ورته وائي: چې نا! زهٔ ئې دَ دې دپاره جوړوم چې ما دَ رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي:

«مَنْ بَنَى لِلهِ مَسْجِدًا، بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ».[1]

"چا چې دَ الله دَ رضاء دپاره جومات جوړ کړو الله رب العزة به دَ هغهٔ دپاره جنت کښې کور جوړ کړي".

نو ورته وائي: دا ځکه جوړوم چې ما له الله دَ دې پهٔ بدله کښې پهٔ جنت کښې کور راکړي، نو سيدنا عثمان ﷺ خپلې پيسې (دَ بيت الله پيسې نهٔ)، خپل مال او دولت ئې اولګولو، او

(1) أخرجه مسلم في كتاب المساجد ومواضع الصلاة، بَابُ فَضْلِ بِنَاءِ الْمَسَاجِدِ وَالْحَثِّ عَلَيْهَا، برقم: (533).

جومات ئې بیا پهٔ دغه نقشه آباد کړو. او اوس خو ما شاء الله داسې جوړ دے چې سړے ورته حیران شي. دَ نبي ﷺ پهٔ زمانه کښې دَ جومات دا زمکه کمه وه.

دَ جومات دَ تعمیر نه بعد بیا نبي ﷺ دَ خپلو بیبیانو دَ کور تعمیر شروع کړو، دَ ابو ایوب انصاري رضي الله عنه دَ کور نه بیا نبي ﷺ دَ خپلو بیبیانو دپاره دَ کور تعمیر شروع کړو، دَ جومات سره خوا کښې، او پهٔ هغې کښې اول دَ الله نبي ﷺ دوه کوټې جوړې کړې، یَوه کوټه دَ سیده سودة بنت زمعه رضي الله عنها او دویمه دَ عائشې رضي الله عنها دپاره. نورې کوټې ئې دَ خپلو بیبیانو دپاره بیا روستو جوړې کړي دي. وائي: دغه وخت کښې چې نبي ﷺ مدینه کښې وو نو نبي ﷺ دَ دې جومات سره خوا کښې دَ حارثه بن نعمان الانصاري رضي الله عنه زمکه وه. نبي ﷺ هغهٔ ته اوویل: چې حارثه بن نعمانه! پهٔ دې کښې ما باندې راخرڅه کړه، چې زهٔ پکښې ځان له کور جوړ کړم. حارثه ورته وائي: یا رسول الله! زهٔ به پهٔ تا باندې زمکه خرڅوم!، ستا چې څومره ځائے پکاریږي صرف تاسو به حکم کوئ زما زمکه ده او ځان له پکښې کور جوړوئ، دا ستاسو شوه. چې دَ نبي ﷺ دَ دوؤ (۲) کوټو ضروري وو نو دوه ئې جوړې کړې. او چې بیا ئې نور ودونه کول نو نورې کوټې به ئې جوړولې. وائي: دا زمکه ما دَ الله پیغمبر ﷺ له ورکړې ده. نو دَ حارثه بن نعمان رضي الله عنه دا زمکه وه چې هغهٔ نبي ﷺ ته وقف کړه، او پهٔ هغې کښې ئې ځان له کور جوړ کړو، بیا چونکه دَ نبي ﷺ بي بي سیدة عائشه رضي الله عنها او دارنګې سودة بنت زمعه رضي الله عنها او نورې بیبیانې دا پهٔ مکه مکرمه کښې پاتې وې. بیا نبي ﷺ صحابه کرام رضي الله عنهم اولیږل او ابو بکر رضي الله عنه ورسره خپل ځوي عبد الرحمٰن هم اولیږلو. عائشه رضي الله عنها دَ هغهٔ خور وه، هغه او نورې بیبیانې ئې راوستې او بیا هغوي دَ نبي ﷺ سره پهٔ مدینه کښې پاتې کیدې. دا دَ الله دَ نبي ﷺ کور چې وو نو دَ الله دَ نبي ﷺ تر ژوندہ پورې خو پکښې پهٔ خپله اوسیدو او چې کله دَ الله نبي ﷺ وفات شو نو بیا ازواج النبي ﷺ پهٔ خپلو خپلو کوټکو کښې اوسیدې. دَ نبي ﷺ دَ بیبیانو دَ وفات نه بعد خو چونکه ځامن دَ نبي ﷺ نهٔ وو، صرف لونړه ئې وې، ځامن ئې وو خو وړوکوالي کښې وفات شوي وو، لونړه هم دَ نبي ﷺ پهٔ ژوند وفات شوې وې، یَو فاطمه رضي الله عنها وه چې هغه دَ نبي ﷺ دَ وفات نه

شپږ میاشتې روستو بیا وفات شوې ده. او دَ میراث مسئله هم دا ده: چې دَ نبي ﷺ وراثت به دَ هغهٔ وارثانو ته نهٔ میلاویږي، دا به دَ عامو مسلمانانو وي.

دَ ولید بن عبد الملک اعلان

نو دَ نبي ﷺ هغه کورونه چې وو، هغه دَ بیبیانو کوټکۍ چې وې نو دَ ولید بن عبد الملک دورِ حکومت وو، هغهٔ اعلان اوکړو: چې دَ نبي ﷺ دا کورونه دا هم مسجدِ نبوي سره شامل کړئ. دَ سیده عائشه رضي الله عنها کوټکۍ چې پهٔ هغې کښې دَ الله نبي ﷺ او سیدنا ابو بکر صدیق رضي الله عنه او سیدنا عمر بن الخطاب رضي الله عنه هم دفن دي، دَ هغې نه چار دېوالي ده، او نور هغه ټول میدان دَ مسجد نبوي سره یَو شوے دے. مسجد نبوي خو اوس کھولاؤ شو، دَ ډیرو صحابه کرامو رضي الله عنهم کورونه اوس پهٔ هغې کښې راغلي دي.

دَ سهل بن حنیف رضي الله عنه آفسوس

پهٔ دې کښې یَو صحابي دے سهل بن حنیف رضي الله عنه، سهل بن حنیف رضي الله عنه وئیل: کاش کهٔ چرته دې ولید بن عبد الملک دَ نبي ﷺ دا کورونه دغه شان پرېخودے وے، او دا ئې دَ دې جومات سره نهٔ وے یَو ځائے کړے، او دغه شان وے نو دا به ډیره ښهٔ وه. چې دَ دنیا دَ کُټ کُټ نه خلق راتلل او دَ الله دَ نبي ﷺ هغه کورونه ئې لیدلے وے، هغه کوټکۍ ئې لیدلې وے، هغه سادګي ئې لیدلے وے چې څنګه وه؟ دومره قد دَ جومات هم وو چې ایله به دَ دنګ سړي دَ سر سره برابر وو او دغه شان حالت دَ الله دَ نبي ﷺ دَ کوټکو هم وو، دَ کجورو پټۍ بړې دپاسه او دَ کچه خختو نه جوړې کوټکۍ وې او دغه شان دَ جومات سسټم هم وو. نو دَ نبي ﷺ کورونه هم دَ مسجد نبوي سره یَو ځائے شول. بیا پکښې خلفاء اربعؤ رو رو تغییر راوستو او مسجد نبوي اوس دومره کھولاؤ شو. نو دا اولنے کار وو دَ الله دَ نبي ﷺ چې دَ الله دَ کور دَ تعمیر سوچ ئې اوکړو.

دَ انصارو او مهاجرینو پهٔ مینځ کښې مواخات قائمول

بیا انصار صحابه رضي الله عنهم چې وو نو دا خو دَ مدینې اوسیدونکي وو، زمکې ئې هم وې، جائیدادونه ئې هم وو، کاروبارونه ئې هم وو، مهاجرین چې دَ کلي نه راغلي وو نو دَ هغوي خو داسې څهٔ

لا ره نهٔ وه، اسباب دَ ژوند ورته ګران وو نو دَ دې دپاره به نبي ﷺ مؤاخات کول، دَ صحابۇ ﷺ پهٔ مینځ کښې ئې رورولي قائموله، چې هلکه! دا يَو دَ مکې نه راغلے دے، مهاجر دے او تهٔ دَ مدينې ئې، انصاري ئې، دَ دې ملک ئې نو تهٔ به دَ دې سړي خيال ساتې، تهٔ به دے داسې ګڼړې لکه خپل رور. دا رورولي به ئې دَ هغوي قائمه کړه، نو هغوي به دَ يَو بل سره داسې وو لکه خپل رونړه، څنګه چې خپل رور سره سړے هر څهٔ نيمَوي نو داسې به ئې هغهٔ تهٔ وئيل: راځه! زما کور هم نيم ستا، زما مال هم نيم ستا... سعد بن الربيع الانصاري ﷺ عبد الرحمٰن بن عوف ﷺ ته وائي:

"فَتَعَالَ". [1]

"راځه! چې ما کوم مال ګټلے دے دا به درسره نيم کړم، نيم زما او نيم ستا". او ورته وائي: دوه ښځې مې دي، يَو به طلاقه کړم چې عِدَّتْ ئې تير شي نو تهٔ ئې پهٔ نکاح واخله. عبد الرحمٰن بن عوف ﷺ ورته وائي:

"بَارَكَ اللهُ لَكَ فِي أَهْلِكَ وَمَالِكَ دُلَّنِي عَلَى السُّوقِ". [2]

"الله رب العزة دې تا له ستا مال او اولاد کښې برکت واچوي (زهٔ ښهٔ تکړه يم ماله دَ تجارت چل راځي)، ماله ته دَ بازار لار اوښايه"، زهٔ تجارت کولے شم.

هغهٔ ورته دَ بازار لار اوښودله، وائي: دا دَ مدينې منوّرې بازار دے. يَو څو ورځې چې ئې تجارت اوکړو نو ځان له ئې سرۀ اوګټل، بيا ئې ځان له وادهٔ اوکړو، دَ انصارو يَو زنانه سره ئې نکاح اوکړه. دَ الله نبي ﷺ چې اوليدو نو ورته وائي: هلکه! دا رنګ در باندې دَ څهٔ شي دے؟ دے ورته وائي:

"يَا رَسُولَ اللهِ، تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً مِنَ الأَنْصَارِ".

"اے دَ الله رسوله! ما وادهٔ کړے دے، (وائي: چا سره؟)، دَ انصارو يَو زنانه سره". وائي: مهر دې ورله څهٔ مقرر کړے دے؟ وائي: دَ کجوړې دَ هډوکي هومره سرۀ زر، دا مې ورله مهر مقرر کړے دے. وائي: يا هلکه! عبد الرحمانه!

«أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ».

---

(1) أخرجه البزار في "مسنده"، مسند أبي حمزة أنس بن مالك ﷺ، برقم: (6863).

(2) أخرجه البخاري في كتاب مناقب الأنصار، باب، برقم: (3937).

تا داسې پټ وادهٔ کړے دے، بيا خو به مونږ له پروګرام کوې، "وليمه اوکړه اګر کهٔ پهٔ ګډ وي".

«وَلَوْ بِشَاةٍ» محدِّثين وائي: دَ دې دوه (۲) معاني دي: (۱) يَو دا: "اګر کهٔ يَو ګډ وي". لږ پروګرام اوکړه. او (۲) دويمه معنٰی: چې دلته «وَلَوْ بِشَاةٍ» کښې ډير والي ته اشاره ده، بنهٔ درون پروګرام اوکړه، کهٔ ګډ حلالولے شې نو ګډ حلال کړه. هغه زمانه کښې خو کمزوري وه، وادهٔ به وو، نو څهٔ به ووا، دَ الله نبي ﷺ پهٔ خپل وادهٔ کښې کجورې تقسيم کړې وې، کله به ئې حلوه او پنير دا خيزونه به ئې ګډ وډ کړل او حلوه به ئې ترې پخه کړه هغه به ئې پهٔ خلقو اوخوړه. نو ګډ حلالول خو ډيره غټه خبره وه نو ځکه ورته وائي:

«أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ».[1]

"بنهٔ پروګرام اوکړه، اګر کهٔ ګډ وي".

داسې نبي ﷺ دَ انصارو او مهاجرينو رورولي قائمولهٔ، پنځهٔ څلويښت (۴۵) مهاجرين او انصار صحابه ﷺ دَ هغوي رورولي نبي ﷺ قائمه کړې وه. شيخ الحديث مولانا محمد ادريس کاندهلوي رحمه الله باقاعده دَ هغوي هغه نومونه نقل کړي دي، چې دَ دې صحابوٴ ﷺ رورولي دَ دهٔ سره قائمه وه، دَ دې صحابي رورولي دَ دهٔ سره وه، او هغهٔ به ورته داسې کتل لکه خپل رور ته چې سړے ځنګه ګوري.

دا هغه ابتدائي حالات وو، چونکه جومات جوړ شو بيا دَ مونځ خبره وه، دَ مونځ دپاره به خلق ځنګه را جمع کيږي؟ دَ اذان ترتيب وو، نو -ان شاء الله- بله جُمعه کښې به دا وايُو چې دَ اذان ابتداء ځنګه شوې ده؟

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

---

(1) أخرجه البخاري في كتاب مناقب الأنصار، باب، برقم: (3937).

بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا

(سورة الأحزاب: 21)

موضوع

سيرة النبي ﷺ حصه پنځۀ ويشتمه

"دَ اذان ابتداء او دَ صحابي خوب ليدل"

بتاريخ: 2022-08-26

مقام: جلسۀ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّآني حفظه الله

سيرة النبي ﷺ حصه پنځهٔ ويشتمه

"دَ اذان ابتداء او دَ صحابي خوب ليدل"

اَلْحَمْدُ لله نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِه وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا﴾.(1)

عزتمندو حاضرينو مسلمانانو رونړو! دَ ډيرو جُمعو نه دَ رسول الله ﷺ سيرتِ مباركه شروع وو، دَ نبي ﷺ دَ پيدائش نه واخلې تر بعثت پورې دَ هغې زندګئ بيان شوے وو، بيا دَ مکې دَ دور بيان شوے وو، چې ديارلس کاله نبي ﷺ مکّه کښې دعوت چلولے وو، بيا مخکښې جُمعو کښې مونږ دَ هجرت بيان کړے وو، دَ هجرت پهٔ دوران کښې چې کوم واقعات مخې ته راغلي وو، هغه بيان شوي وو، نبي ﷺ چې اول قباء ته راغلے وو، بيا مدينې ته راغے نو اول ئې پهٔ کوم ځائے کښې پړاؤ کړے وو؟ دَ کوم جومات بنياد ئې کيخودے وو؟ پهٔ مدينه کښې دَ چا پهٔ کور کښې پاتې کيدو؟ او اول کار دَ نبي ﷺ پهٔ مدينه منوّره کښې کوم وو؟ نو دَ هغې ټولو وضاحتونه مونږ پهٔ تيرو جُمعو کښې کړي دي. رسول الله ﷺ چې مدينې منوّرې ته راغے نو دَ ابو ايوب انصاري ﷺ پهٔ کور کښې اوسيدو، دَ مسجد نبوي تعمير ئې اوکړو، او دَ هغې تفصيل مونږ بيان کړے وو، دَ ازواج

(1) [سورة الأحزاب: 21].

النبي ﷺ څهٔ کوټې جوړې شوې، دَ نبي ﷺ کور تیار شو. نو جومات له به صحابه کرام ﷺ جمعې ته راتلل. دَ جَمعې سره مونځ کول اداءِ کامل ده، او ځان له مونځ کول دې ته دَ فقهاؤ پهٔ نزد او دَ اصول فقهې دَ علماؤ پهٔ نزد "اداءِ قاصر" وائي.

اختلاف دَ ائمو رحمهم الله

دا يَو اختلافي مسئله ده: زمونږ دَ امام صاحب رحمه الله مذهب دا دے: چې جَمعه سنَّتِ مؤکده ده، او امام شـ ـعي رحمه الله او بعضې نور علماء وائي: چې جَمعه فرض ده، يَو سړے چې جَمعې سره مونځ اونهٔ کړي نو مونځ ئې دَ سره نهٔ کيږي. څوک ورته واجب وائي. زمونږ مذهب دا دے: چې جَمعې سره مونځ کول سنتِ مؤکّده دي، بغير دَ عذر نه يَو سړے دَ جَمعې مونځ پريږدي نو دے گناه گار دے. ثواب دَ جَمعې دَ مونځ هم زيات دے، دَ جَمعې دَ مونځ ثواب يَو حديث کښې اوويشت (۲۷) درجې راځي، بل حديث کښې پنځهٔ ويشت (۲۵) درجې راځي. نو دَ جَمعې مونځ دومره فضيلت لري.

پهٔ ابتداء کښې دوه مونځونه

نبي ﷺ چې جومات جوړ کړو.... ابتداء کښې پهٔ مکّه کښې به نبي ﷺ دوه (۲) تائمه مونځ کولو: (۱) دَ صبا مونځ او (۲) دَ ماازيکر مونځ، نور مونځونه نهٔ وو. بيا نبي ﷺ چې کله معراج ته لاړو نو پنځوس (۵۰) مونځونه الله پهٔ اُمت فرض کړل. دَ موسیٰ ﷼ پهٔ بار بار وينا او دَ نبي ﷺ پهٔ بار بار مِنتْ او سفارش دَ پنځوسو نه پنځو ته راکوز شول، اوس پهٔ اُمت باندې پنځهٔ مونځونه فرض دي خو دَ الله قانون خو نهٔ بدليږي، دَ الله قانون دا دے: چې مونځ يَو سړے اوکړي نو هره نيکي دَ هغې بدله الله يَو (۱) پهٔ لس (۱۰) ورکوي. نو يَو مونځ دے نو يَو پهٔ لس شو نو چې پنځهٔ مونځونه دي او پهٔ لسو کښې ضرب ورکړې نو پنځوس مونځونه شول، نو تا له ثواب دَ پنځوسو مونځونو دے.

دَ مکّې پهٔ دور کښې دَ نبي ﷺ مونځ

دويمه خبره دا وه: چې دَ مکّې پهٔ دور کښې نبي ﷺ مونځ چې به کولو نو دوه دوه (۲) رکعته مونځ به وو، اګر چې پنځهٔ تائمه مونځ وو خو دَ سحر به هم دوه وو، دَ ماسپښين به هم دوه وو، دَ مازيکر به هم دوه وو، دَ ماښام به درې (۳) رکعته وو او دَ ماسخوتن به دوه وو، څلور پکښې نهٔ

وو. کله چې رسول الله ﷺ مدینې ته هجرت اوکړو نو بیا پۀ دې مونځ کښې لږ غوندې زیادت راغے، دَ سفر پۀ حالت کښې مونځ هم دغه دوه (۲) رکعته پاتې شو او دَ حضر پۀ حالت کښې دا مونځ څلور رکعته شو، یعني چې کوم سړے پۀ کلي کښې دے نو دے به څلور رکعته کوي دَ ماسپښین، دَ مازیګر او دَ ماسخوتن، نو دا درې تاۓمه څلور رکعته شول خو چې کله یَو سړے مسافر دے نو هغه به دَ دې څلورو پۀ ځاۓ دوه کوي. دا پۀ سفر کښې پۀ خپل حال پاتې شول. ماښام کښې چونکه درې (۳) رکعته هغه نۀ نیمیږي نو هغه هم پۀ خپل حال پاتې شول. اوس مسئله دا ده: کۀ یَو سړے پۀ کلي او وطن کښې دے، مسافر نۀ دے نو دے به ماسپښین، مازیګر او ماسخوتن څلور رکعته کوي، دے پۀ دوۀ (۲) کولو ګناه ګاریږي. خو چې مسافر شي نو لکه ځنګه چې کلي کښې څلور لازمي دي، نو پۀ سفر کښې بیا دوه (۲) لازمي دي، کۀ څلور کوي نو ګناه ګاریږي. خو دَ ماښام مونځ به نۀ نیمَوي؛ ځکه هغه نۀ نیمیږي، او سحر خو پۀ خپل حال دے. دا دَ صحیح البخاري حدیث دے چې دَ سفر هغه پۀ خپل حال پاتې شو او دَ حضر هغه سهوا شو.

دَ اذان نه مخکښې دَ خلقو ما نځۀ دپاره جمع کول

اوس چې دے نو مونځ له نبي ﷺ صحابه کرام ؓ راجمع کول، نو هغه دور وو، دَ نن نه څوارلس سوه (۱۴۰۰) کاله مخکښې تۀ تپوس اوکړه، څوارلس نیم سوه (۱۴۵۰) کالو ته رسي، نۀ دومره اسباب وو، نۀ دومره سهولتونه وو نو داسې به کیدل چې نبي ﷺ به صحابه کرامو ؓ ته اووئیل: چې تاسو پوهه شئ نو راځئ!، صحابه کرام ؓ به زا روان شول، جومات کښې به خلق برابر شول نو جَمعې ته به اودریدل. نو دې کښې به کله یَو سړے ډیر زیات دَ وخته راغے چې چرته را باندې ناوخته نۀ شي، نو ناست به وو، څوک به لا نۀ وو راغلي، او کله به یَو سړے راغے نو دَ هغۀ نه به جَمع شوې وه، ناوخته به وو؛ ځکه ګهړۍ ګانې خو نۀ وې، دارنګې بل داسې شے هم نۀ وو.

دَ نبي ﷺ او دَ صحابه کرامو ؓ مشوره کول

نو نبي ﷺ او صحابه کرام ؓ را جمع شول، مشوره ئې اوکړه: چې دې مانځۀ له را جمع کیږو نو دَ دې دپاره څۀ طریقه اختیار کړو؟ نو صحیح البخاري، دارنګې نورو کتابونو کښې دا حدیث

راځي: مشوره ئې شروع کړه، نو چا پکښې دا مشوره ورکړه: چې يا رسول الله! ناقوس به غږوؤ او ټول خلق به خبريږي او راځي به. "ناقوس" داسې يو شے دے چې دوه لرګي وي: يو اوږد لرګے وي، داسې نرے اوږد دډۀ غوندې او بل لرګے هغې له را خلاص کړي نو يو تنګ آواز کوي. نو دا ناقوس به وهو (يعني دا لرګي چې يو بل له را خلاصوؤ) نو دا به پۀ زوره آواز کوي نو خلق به خبريږي او جومات له به راځي. ټول اووئيل: چې دا طريقه به کوؤ او خلق به را جمع کوؤ، نبي ﷺ اووئيل: چې داسې نۀ کوؤ؛ ځکه چا پکښې دا اووئيل: چې دا دَ نصاراؤ طريقه ده، نصارٰی چې دَ خپل عبادت ځائے له خلق را جمع کوي نو هغوي ناقوس غږوي؛ نو نبي ﷺ اووئيل: دَ نصاراؤ پۀ شان کار نۀ کوؤ.

دَ غير مذهبو سره مشابهت

زمونږ پۀ شريعت کښې دَ غير مذهبه سره دَ مشابهت نه منع راغلې ده، داسې يو عمل به نۀ کوې، داسې يو کار به نۀ کوې چې هغوي سره پۀ هغې کښې مشابهت راځي. او دا يو جُدا موضوع ده، کۀ زۀ ئې شروع کړم نو خبره به ډيره اوږده شي: چې څومره خبرې داسې دي چې رسول الله ﷺ پۀ هغې کښې دَ دې وجې نه منع کړې ده چې دَ هغوي سره مشابهت راځي. دَ الله نبي ﷺ وائي:

«مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ».[1]

"چا چې دَ کوم قوم سره ځان مشابه کړو نو دے به دَ هغوي سره راپاسي".

حديث کښې راځي: «لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ المُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ، وَالمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ».[2]

"رسول الله ﷺ لعنت وئيلے دے پۀ هغه سړو چې کوم ځان دَ ښځو سره يو شانته کونکي وي او پۀ هغه ښځو چې سړو سره ځان يو شانته کونکي وي". چې الله دې پۀ هغه سړو لعنت راوليږي چې دَ زنانۀ سره ځان مشابه کوي، او پۀ هغې زنانۀ چې دَ نارينۀ سره ځان يو شان کوي.

(1) أخرجه أبو داود في كتاب اللباس، باب في لبس الشهرة، برقم: (4031).

(2) أخرجه البخاري في كتاب اللباس، باب: المتشبهون بالنساء، والمتشبهات بالرجال، برقم: (5885).

نن صبا خو خبره ګډه وډه ده، خلقو ترقّي کړې ده، سړو دَ زنانؤ لباس شروع کړو، سړے به وي او دَ ځان نه به ئې دَ زنانؤ لوپټه تاؤ کړې وي، سړے به وي او دَ ځان نه به ئې دَ زنانؤ څادر تاو کړے وي، زنانه به وي او دَ سړو پيزار به ئې اچولے وي، دَ سړو جامې به ئې اچولې وي او دَ سکول پۀ دې جامو کښې خو دا پته نۀ لګي چې دا دَ هلکانو جامې دي او کۀ دَ جينکو دي؟ لباس کښې فرق ختم شو. نبي ﷺ ته يَو کس راوستے شو مخنّث (ايجړا) وو، هغۀ پۀ لاسونو نکريزې لګولې وې، نبي ﷺ اوونيل: دا ولې؟ (يَو دَ چا مجبوري وي، دَ چا لاس چاودلي وي، عذر وي، ډاکټر ورته وائي، حکيم ورته وائي: چې نکريزې پرې اولګوه هغه خو جُدا خبره ده. خو چې عذر نۀ وي نو نکريزه دَ سړو دپاره مکروه تحريمي ده: سړے به لاس نۀ سرۀ کوي، خپې به نۀ سرې کوي. ګيره سره کولے شي، دَ سر ويښتۀ سرۀ کولے شي خو لاسونه او خپې سرۀ کول دَ سړو دپاره دا مکروه تحريمي دي. او دَ زنانؤ دپاره لاس خپې سرۀ کول دا مستحب دي، ثواب دے پکښې، زنانه به پۀ لاسونو او خپو نکريزه ايږدي خو سړے به ئې نۀ ايږدي). مخنّث چې نۀ سړے وو او نۀ زنانه وه دا رسول الله ﷺ ته راوستے شو، وائي: يا رسول الله! دۀ پۀ لاسونو نکريزې کيخودلې دي. وائي: دا ولې؟ وائي: دۀ ځان دَ زنانؤ سره مشابه کړے دے... (کۀ تاسو اوګورئ! نن صبا ايجړاګان دَ ښځو جامې، دَ ښځو پۀ شان سرونه پريخودل، ګيره بريت کټ کول او پۀ مخ باندې کريم او پوډر راخکل، والله! کۀ تۀ ئې پيژنې چې دا ايجړا دے، تۀ به وائې: چې دا خو چرته ډيره خائسته ښځه را روانه ده، پيغله را روانه ده پکښې نه به هغه نۀ سړے وي او نۀ به ښځه وي، دې مخنّثينو، دې ايجړاګانو نکريزې لګولې وې!!!)، دَ الله نبي ﷺ وائي: دا ولې دۀ لګولي دي؟ وائي:

"يَا رَسُولَ اللهِ! يَتَشَبَّهُ بِالنِّسَاءِ".

"اے دَ الله رسوله! دے دَ زنانؤ سره ځان مشابه کوي".

نبي ﷺ اوفرمائيل: شاړئ! دے دَ مدينې منوّرې نه اوباسئ. دَ مدينې نه ئې اوويستو. سيدنا عمر ﷺ را پاسيدو، وائي: يا رسول الله! ما له اجازت را کړه چې دَ دې سړي نه زۀ سر کټ کوم چې دا مدينه ترې نه پاکه کړم؟ نبي ﷺ ورته اوفرمائيل: عمره! دے مونځ کوي:

«إِنِّي نُهِيتُ عَنْ قَتْلِ الْمُصَلِّينَ».[1]

"زهٔ دَ هغې خلقو دَ مرګ نه منع شوے يم چې کوم حق الله ته ولاړ وي او مونځونه کوي"، مونځ ګزار دے نو وژلے ئې نۀ شم خو دومره به اوکړو چې دَ مدينې نه به ئې اوشړو، دا دَ دهٔ سزا شوه.

نو خبره مې دا کوله: چې دَ غير سره مشابهت، دَ سړو دَ ښځو سره مشابهت، دَ زنانۀ د نارينۀ سره مشابهت، دَ مسلمان دَ کافر سره مشابهت او دَ هندوانو او سيکهانو سره مشابهت دا نا روا دے. علماؤ ليکلي دي: چې دَ انګريز پۀ شان ويښتۀ به نۀ کټ کوې، دا دَ هغوي شعار دے، مسلمان به ټول ويښتۀ يَو شان کټ کوي، دا نۀ چې مخې له به دې پريخودے وي او شا له به دې وړوکے کړے وي.

دَ مشرکانو خلاف کول

رسول الله ﷺ فرمائي:

«خَالِفُوا الْمُشْرِكِينَ: وَفِّرُوا اللِّحَى، وَأَحْفُوا الشَّوَارِبَ».[2]

"دَ مشرکانو خلاف اوکړئ، ګيرې اوږدې کړئ او بريتونه لنډ کړئ".

نو دا مونږ ته زمونږ دَ نبي ﷺ تعليم دے.

دَ کسرٰی دَ قاصدانو راتلل

دَ کِسْرٰی څۀ قاصدان راغلي وو، نبي ﷺ چې اوکتل نو ګيرې ئې خرولې وې، نبي ﷺ ورته اووئيل:

«وَيْلَكُمَا مَنْ أَمَرَكُمَا بِهَذَا؟».

"واه! هلاک شئ! دا چا درته وئيلي دي، چې تاسو ګيرې خرولې دي؟".

نو هغوي ورته وائي: زمونږ دَ ملک بادشاه مونږ ته وئيلي دي: چې ګيره به خرَوئ، قانون زمونږ دا دے. نبي ﷺ خپله ګيره پۀ لاس کښې راونيوله او ورته وائي:

«لَكِنَّ رَبِّي قَدْ أَمَرَنِي بِإِعْفَاءِ لِحْيَتِي وَقَصِّ شَارِبِي».[3]

---

1) أخرجه الترمذي في أبواب المناقب، باب في فضل النبي ﷺ، برقم: (3605).

2) أخرجه البخاري في كتاب اللباس، باب تقليم الأظفار، برقم: (5892).

(3) انظر: "دلائل النبوة" لأبي نعيم الأصبهاني: (348)، برقم: (241).

"زما ربّ ما ته دَ دې حکم کړے دے چې ته به ګیره پرېږدې او بریت به واړهٔ کوې"، نو تهٔ به دَ خپل بادشاه نه مجبوره ئې او زهٔ دَ خپل بادشاه نه مجبوره یم، ما ته زما ربّ وائي، ما ته زما بادشاه وائي: چې ګیره به نهٔ خرے.

نبي ﷺ هغوي ته خبرې کړې دي. نو مشابهت دَ زنانو سره به نهٔ وي. کهٔ تهٔ وائې: چې دَ ښځو خو ګیره هم نهٔ وي او بریت ئې هم نهٔ وي او دَ سړي خو بریت شته؟ نو دا مشابهت دَ کفارو سره دے، دَ غیر دینه سره دے دا هم نا روا دے.

بهر حال بیا خبره ډیره لرې ځي خو تا ته مې یَو مثال ښودلو چې دَ غیر مشابهت منع دے، اوس ګوره! مونږ له خلق رابلي خو دَ نصاراؤ پهٔ طریقه باندې نهٔ. دَ عاشوره روژه (دَ لسم تاریخ دَ محرَّم روژه) مونږه نیسو.... دَ لسم (۱۰) محرم روژه سنت ده، او ډیر ثواب دے پکښې، دا ولې؟؛ پهٔ دې ورځ باندې الله موسٰی علیه السلام ته نجات ورکړے وو، فرعون لره الله رب العزة تباه کړے وو. نبي ﷺ اوونیل: مونږه هم پهٔ موسٰی علیه السلام باندې خوشحالیږو نو دا روژه به نیسو. نو چا ورته اوونیل: یا رسول الله! دَ مدینې یهود هم پهٔ دې ورځ روژه نیسي؟ نو دا دَ مسلمانانو هم روژه وي او یهود هم پهٔ دې ورځې روژه نیسي؛ ځکه هغوي دَ موسٰی علیه السلام تابعدار وو. نبي ﷺ اوفرمائیل: نو دا خو دَ یهودو او زمونږه کار یَو شو، صحابه کرامو رضي الله عنهم ته ئې اوونیل: کهٔ زهٔ بل کال له ژوندے پاتې شوم نو:

«لَأَزِیْدَنَّ التَّاسِعَ». "زهٔ به دې سره نهمه روژه هم سهوا کوم".

دَ دې وجې نه زمونږ ټولو فقهاؤ لیکلي دي: چې صرف دَ لسم تاریخ روژه به نهٔ نیسي، نهم (۹) او لسم (۱۰) اونیسه، یا لسم (۱۰) او یوولسم (۱۱) اونیسه؛ دَ دې دپاره چې دَ یهودو سره مشابهت رانهٔ شي، منع راغلې ده دَ مشابهت دَ غیر نه.

نو دَ الله نبي ﷺ اوفرمائیل: چې ناقوس به نهٔ غږوئ؛ پهٔ دې طریقه به خلق مانځهٔ له نهٔ را جمع کوئ؛ ځکه دَ نصاراؤ سره مشابهت راځي.

دَ بوق غږولو باره کښې مشوره

بیا صحابه کرامو رضي الله عنهم اوفرمائیل: یا رسول الله! بوق به غږوؤ؟ بوق یَو اوږد غوندې بګل وي،

پوکے پکښې اووهي، دَ خاروي دَ ښکر پۀ شان وي، هغې کښې چغه وهي. نو وائي: بوق به غږوؤ او خلق به را جمع کيږي. نو چا اووئيل: چې دا خو دَ يهودو عمل دے، يهود چې کله اجتماع کوي، کله خلق را جمع کوي نو هغوي دَ دې دپاره دا بوق او بِګل غږوي. نبي ﷺ اوفرمائيل: چې نا! نا! دَ يهودو سره هم مونږ مشابهت نۀ اختياروؤ، دا هم نۀ کوؤ.

دَ اُور بلولو باره کښې مشوره

بيا چا مشوره ورکړه: چې يا رسول الله! ډير خشاک به را جمع کړو او چې کله دَ مانځۀ ټائم کيږي نو هغې ته به اُور اچوؤ، نو دَ ورځې به خلق هغه لوګې وينې او چې شپه وي نو خلق به هغه لمبې ويني، نو خلق به پوهيږي چې دا دَ مانځۀ ټائم دے، نو پۀ دې طريقه باندې به خلق مانځۀ له را جمع کيږي. ځکه هغه وخت نۀ ګهړئ وې، نۀ لوډ سپيکرې وې او نۀ داسې بل څۀ شے وو، پته نۀ لګيده. نو چا اووئيل: چې دا خو دَ مجوسو طريقه ده، هغوي دَ اُور عبادت کوي. او ما تاسو ته مخکښې وئيلي وو: چې مجوس پۀ اُور ډير مئين وو، دَ سلمانِ فارسي رضی الله عنه واقعه ما تاسو ته وئيلې وه، چې وائي: پۀ سلونو کلونو زمونږ آتش کده کښې اُور نۀ وو مړ شوے. هغوي به دَ شپې او ورځې اُور بلولو، هغوي به وئيل: چې اُور مړ شو نو لکه زمونږ خدائے چې مړ شو، هغوي اُورِ څليريشت ګهنټې بل ساتي. نو وائي: کۀ مونږ پۀ اُور باندې خلق را جمع کوو نو بيا به مشابهت دَ مجوسو سره راشي. نو دَ الله نبي ﷺ اوفرمائيل: چې دا هم مۀ کوئ.

توله ورځ مشوره کښې تيره شوه خو سمے ئې اونۀ خوړلو.

دَ اذان ابتداء دَ هغې دپاره دَ نبي ﷺ او دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم سوچ

نبي ﷺ اووئيل: ځئ! دَ دې دپاره به سوچ کوؤ، او ځئ پۀ دې خپل ترتيب باندې جمعې له راځئ. سيدنا بلال رضی الله عنه ته وائي: چې اے بلاله! تر څو چې مشوره شوې نۀ ده، چې کله دَ مانځۀ ټائم کيږي تۀ به د مدينې پۀ کوڅو کښې ګرځې نو آواز کوه:

"اَلصَّلَاةُ جَامِعَةٌ. اَلصَّلَاةُ جَامِعَةٌ".

"اے خلقو! دَ مونځ دَ جمع کيدو ټائم دے، دَ مونځ دَ جمع کيدو ټائم دے"، جومات ته راشئ!.

بلال ﷺ پۀ کوڅو کښې کرځیدو او آواز به ئې کولو چې دَ مانځۀ ټائم دے، جومات ته راشئ. دا طریقه شروع وه.

دَ عبدالله بن زید بن عبد ربّه ﷺ خوب لیدل

دَ صحابۇ ﷺ پۀ ذهن کښې یَو سوچ دے. کله چې دَ سړي ذهن کښې یَو سوچ وي نو بیا دَ شپې خوبونه هم داسې وینې، پۀ ټولو صحابۇ ﷺ کښې ډیر فکر مند یَو صحابي دے: "عبد الله بن زید بن عبد ربّه ﷺ". دا صحابي دَ شپې اودۀ دے، خوب وینې: "یَو کس را روان دے، شنه جوړه ئې اچولې ده، غاړې ته ناقوس ورسره زوړند دے، او دارنګې بوق او بِګل ئې را زوړند کړي دي، او را روان دے". دا اوس خوب وینې خو تصوُّر دے، دے ورته وائي: "اودریږه! څۀ کوې؟، وائي: ما باندې یَو ناقوس یا بوق (بِګل) را خرڅ کړه. هغۀ ورته وائي: څۀ پرې کوې؟ وائي: مونږه پرون ټوله ورځ پۀ دې باندې مشورې کولې چې مانځۀ له به خلق را جمع کوؤ، نو دا یَو ناقوس ما له راکړه چې زۀ ئې یوسم، مونږ به ئې غږوؤ، پۀ دې طریقه باندې به خلق مانځۀ له را جمع کوؤ. هغۀ ورته وائي: دا پریږدَوه، زۀ به درته بله کلمه اوښایم، کله چې دَ مانځۀ وخت راتلو نو دا وایه!... وائي: څۀ ده؟ هغۀ هغه سامان کیخودو او وائي: ما ته غوږ کیږده، بس لاس ئې ورته پۀ غوږونو کیخودلو او شروع شو، وائي: دا وایه:

"اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ، اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ...".

ټول دَ اذان کلمات ئې ورته اووئیل، وائي: پۀ چغه دا اذان کوئ نو ټول خلق به ئې اوري نو جومات ته به راځي. وائي: ښه! قاموس مۀ راکوه. ناقوس پاتې شو. عبد الله بن زید بن عبد ربّه ﷺ چې را پاسیدو نو دَ پیشمني ټائم دے، آرام ئې اونۀ کړو، پۀ منډه منډه دَ رسول الله ﷺ کور ته راغے، وائي: یا رسول الله! ما خو بیګا څۀ نا آشنا خوب مې لیدلے دے، تعبیر پکار دے؟ وائي: څۀ خوب دے؟ وائي: یَو کس را روان دے او دَ هغۀ سره ناقوس وو، ما ورته اووئیل: چې ما باندې ئې خرڅ کړه، نو دے وائي: چې دا پریږده، دا کلمات درته ښایم دا وایه. هغه ټول کلمات هغۀ ته یاد وو،

چې دَ الله نبي ﷺ له ئې څنګه دَ اذان دا کلمات واورول نو نبي ﷺ ورته وائي:

«إِنَّهَا لَرُؤْيَا حَقٌّ إِنْ شَاءَ اللهُ».

"دا خو خامخا حق خوب دے"، بالکل صحیح حوب دې لیدلے دے.

او ورته وائي: یا عبد الله! دا ناقوس خرخونکے نۀ وو، دا تا له خوب کښې الله فرشته رالیږلې ده، او تا له خوب کښې الله دا کلمات ښودلې دي، خو عبد الله! ستا آواز کمزورے دے، تۀ دومره پۀ زوره آواز ایستے نۀ شې، ورشه! دا کلمات بلال ته اووایه، او بلال ته وایه: چې تۀ ئې پۀ چغه باندې وایه؛ ځکه بلال ﷺ چې دے نو:

«فَإِنَّهُ أَنْدَى صَوْتًا مِنْكَ».[1]

"هغه ستا نه اوچت آواز والا دے".

نو دَ بلال آواز ډیر تیز وو نو بلال به اذان کوي، او تۀ هغۀ ته دا کلمات وایه!. نو دے لاړو او بلال ﷺ ئې دَ خوب نه را پاسولو او ورته وائي: پاسه! رسول الله ﷺ تا ته یَو پیغام حواله کوي. بلال ﷺ دَ هغې ورځې نه مؤذّن مقرر شو. سیدنا بلال ﷺ را پاسیدو، اودس ئې اوکړو او قبلې ته ئې مخ کړو، دۀ ورته چل اوښودلو چې فرشتې ما له داسې وئیلې دي، دے مخکښې شو او عبد الله بن زید بن عبد ربّه ورته شاه ته ولاړ دے نو دے ورته پۀ رو باندې او وائي چې ما پسې به وائې، دے وائي: "اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ"، نو بلال ﷺ چغې کړې: "اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ"... بس پۀ مدینه کښې یَو کړنګار شو، دَ سحر ټائم دے، مدینه کښې دَ اذان شور جوړ شو، هر یَو سړے دَ کور نه منډې را وهي، چې نا آشنا کلمات دي.

دَ سیدنا عمر فاروق ﷺ خوب لیدل

پۀ دې کښې سیدنا عمر ﷺ لنګ تړلے دے، هغه وریسې راښکلے شي او را منډې وهي، دَ الله نبي ﷺ ته وائي: اے دَ الله نبي! دا نن چې ما کوم آواز دَ بلال ﷺ دَ خُلې نه واوریدو نو زما دې پۀ الله قسم وي! چې دا بیکا ما له هم پۀ خوب کښې وئیلې شوي دي، ما ته هم بیکا یَو کس راغلے وو، او

(1) أخرجه الترمذي في أبواب الصلاة، باب ما جاء في بدء الأذان، برقم: (189)، وأحمد في "مسنده"، مسند المدنيين، حَدِيثُ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَبْدِ رَبِّهِ صَاحِبِ الأَذَانِ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ، برقم: (16478).

ما ورته اووئیل: چې مانځهٔ له خلق جمع کوؤ نو چې څهٔ چل اوکړو؟ نو ما ته ئې اووئیل: چې دا کلمات وایه!، نو ما ورته اووئیل: چې زهٔ به ستا کوڅې له راځم او زهٔ به تاسو ته دا کلمات وایم... نو زما نه مخکښې تاسو له دا کلمات را اورسیدل. نبي ﷺ ورته اوفرمائیل: هم دغه خبره ده: چې تا له هم مَلک پهٔ خوب کښې راغلے دے او دهٔ له هم راغلے دے. بس دا اذان دَ هغې زمانې نه شروع شو.

دَ اقامت ابتداء

بیا دَ اقامت دپاره فرښتې ورته دا چل هم ښودلے وو: چې کله بیا د مونځ ټائم شروع شي نو داسې به کوئ: هم دغه دَ اذان کلمات به وایئ خو صرف دا ټکي به سېوا کړئ:

"قَدْ قَامَتِ الصَّلاَةُ، قَدْ قَامَتِ الصَّلاَةُ".[1]

دا ټکي ئې پهٔ اقامت کښې سېوا کړل، او دَ هغې نه دَ اذان ابتداء شروع شوه نو بیا به پهٔ مسجدِ نبوي کښې پنځهٔ ټائمه سیدنا بلال ﷺ اذان کولو.

پهٔ صحابوٴ ﷺ کښې لوئي لوئي صحابه شته دے، بلال ﷺ ولې دَ الله نبي ﷺ دَ اذان دپاره منتخب کړو؟؛ نو حدیث کښې ئې وجه راغله، چې هغه وجه دا وه:

«فَإِنَّهُ أَنْدَى صَوْتًا مِنْكَ».[2]

"هغه ستا نه اوچت آواز والا دے".

نو بلال ﷺ دَ اوچت آواز والا وو، دا زمونږ فقهاء چې لیکي: چې مؤذّن به پهٔ غوږونو باندې ګوتې ایږدي، دَ دې نه څوک خبر نهٔ دي چې دا ولې ایږدي؟ دا هسې غوږونه نیول نهٔ دي، دَ دې مقصد دا وي: چې کله سړے پهٔ زوره چغې وهي نو دے پهٔ غوږونو کښې ګوتې ورکړي نو دهٔ ته دا خپل آواز نهٔ را رسي نو دَ هغهٔ دا خیال وي چې زما دا آواز کم دے نو هغه بیا نور زور هم اولګوي. کهٔ ستاسو خیال وي نو دا کونږ سړے پهٔ زوره خبرې کوي، نو دا ولې پهٔ زوره لګیا وي؟

---

[1]) أخرجه أبو داود في كتاب الصلاة، باب كيف الأذان، برقم: (499).

[2]) أخرجه الترمذي في أبواب الصلاة، باب ما جاء في بدء الأذان، برقم: (189)، وأحمد في "مسنده"، مسند المدنيين، حَدِيثُ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَبْدِ رَبِّهٖ صَاحِبِ الْأَذَانِ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ، برقم: (16478) واللفظ له.

هغه دا خپل آواز نهٔ اوري نو هغه دا وائي: چې بل سړے ئې هم نهٔ اوري، نو دے دومره تيز لګيا وي چې سړے وائي: کهٔ دے لږ کم شو نو دا به ښهٔ وي او هغه نور څکه نهٔ شي کميدے چې هغه وائي: بيا به ئې خلق نهٔ اوري، حالانکه دے خپله نهٔ اوري. نو دې مؤذّن چې پهٔ غوږونو کښې ګوتې ورکړې وي نو دَ دې مقصد دا وي: چې زما دا آواز زهٔ نهٔ اورم او دے پهٔ چغه لاړ شي.

او بيا "حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ" کښې دوه (۲) ځله يَو خوا مخ کوي او "حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ" کښې دوه (۲) ځله بل طرف ته مخ کوي، نو پهٔ دې کښې حکمت هم دا دے: چې قبلې طرف ته خو ستا مخ دے، خلقو ستا آواز واوريدو، يَو طرف له خلق پاتې، بل طرف له خلق پاتې... دا خو اوس دَ لوډ سپيکرو زمانه ده، بره ختلو ته ضرورت نشته، فقهاء او پخوانو خلقو به وئيل: چې دَ مؤذّن دپاره به پهٔ اوچت ځائے کښې مينار جوړوې، کمره به وي نو مخامخ به پکښې يَو کهړکي وي چې هغې کښې به مخامخ آواز ځي، يَو به پکښې ښي طرف ته وي نو ښې طرف ته به پکښې آواز ځي چې "حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ"، او بل به پکښې ګڅ طرف له وي نو ګڅ طرف ته به پکښې آواز ځي چې "حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ" وائي، چې لرې پورې ئې خلق واوري. نن هغه دور الله راوستو چې چغو له پکښې ضرورت نشته، کهٔ تهٔ ئې هر څنګه وائي نو لوډ سپيکر ستا نه اوچت آواز کوي.

نو ابتداء دَ اذان هم هغه وخت نه شوې ده او ابتداء دَ اقامت هم دَ هغې وخت نه شوې ده. او دا کلمات دَ اذان چې څنګه دَ شريعت نه نقل دي نو هم هغې طريقې باندې به ئې وائې. افسوس پکار دے نن زمونږ يَو کمے دے اذان شته خو دَ اذان کلمات زمونږ خطاء دي. پهٔ دې خو ما يَو ځل بيان کړے هم دے، کهٔ موقع راشي نو پهٔ دې به زهٔ تفصيلي خبره کوم: چې زمونږ دَ عجمو مونځ غلط دے، اذان زمونږ غلط دے، اقامت زمونږ غلط دے، دَ قرآن تلاوت زمونږ غلط دے، مونږه دَ سره دَ عربۍ پهٔ قاعدو پوهيږو نهٔ؛ چې کوم ځائے کښې تکے اوږدول نهٔ غواړي نو هلته به ترې مونږ يَو لوئې شے جوړ کړو، او چې کوم ځائے کښې اوږدول غواړي نو هغې ځائے کښې به مونږه زر ساه واخلو، کوم ځائے کښې چې يَو تکے "حاء" وئيل غواړي مونږ به دَ هغې نه "خاء"

جوړ کړو، دَ "قاف" او "کاف" خو مونږه هډو فرق نۀ کوؤ، دَ "قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةْ" پۀ ځائے مونږه "قَتْ قَامَتِ الصَّلَاةْ" وايُو.

دَ علامه ابن حجر رحمه الله قول

علامه ابن حجر رحمه الله ليکلي دي: چې اقامت دا دَ اذان پۀ شان دے، دَ دې کلمات دَ اذان پۀ شان دي، پۀ اذان کښې پۀ هره کلمه باندې وقف وي نو اقامت کښې به هم پۀ هره کلمه باندې وقف وي لکه:

"اللهُ أَكْبَرْ اللهُ أَكْبَرْ، اللهُ أَكْبَرْ اللهُ أَكْبَرْ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهْ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهْ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهْ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهْ..."، نو بيا "حَيَّ عَلَى الصَّلَاةْ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةْ" چې اذان کښې داسې وائې نو اقامت کښې به هم داسې وائې: "حَيَّ عَلَى الصَّلَاةْ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةْ". ډېر خلق پۀ اقامت کښې داسې وائي: "حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ"، نو دا "ةِ" ولې وائې؟ دا خو تا وقف اونۀ کړو، حالانکه دلته کښې وقف پکار وو، نو "حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ" وئيل دا غلط دے، دَ قاعدې پۀ لحاظ صحيح دے خو دا پۀ اذان او اقامت کښې يَو شان دے، تا غلط اووئيلو. دارنګې "حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ" به نۀ وائې، بلکه "حَيَّ عَلَى الْفَلَاحْ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحْ" به وائې لکه څنګه چې اذان کښې وائې. بيا ډېر قاريان، ډېر مُليان او ډېر پوهه خلق هغوي وائي: "قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ، قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ" وائي، نو "قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ، قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ" به نۀ وائې بلکه "قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةْ، قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةْ" به وائې؛ ځکه حالتِ وقف کښې ګول تاء (ة) پۀ هاء ساکنې سره بدليږي، يعني هغه هاء سره به ئې بدلوې چې پۀ هغې باندې سکون (غوړندے) وي نو لِهٰذا داسې به وائې: "قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةْ، قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةْ". او کۀ تۀ پکښې تجويد شروع کړې او وائې: "قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ، قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةْ" نو يَو کښې تا وقف اونۀ کړو دا خلاف دَ قاعدې نه دے؛ ځکه قاعده دا ده:

"وَالْإِقَامَةُ مِثْلُ الْأَذَانِ".

"دَ اقامت کلمات هم دَ اذان دَ کلماتو پۀ شان دي"، صرف "قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةْ" به سبوا کوې عند الاحناف، او تلفُّظ ئې هم دَ اذان پۀ شان دے يعني وقف به پکښې کوې، دا نۀ چې تۀ وقف

ساقط کړي لکه: "حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ" به نهٔ وائي، "حَيَّ عَلَى الصَّلَاةْ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةْ" به وائي، "قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ" به نهٔ وائي بلکه "قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةْ" به وائي. او پهٔ دې کښې ډیر خلق مبتلا دي نو ټهیک ده چې اقامت اوشو خو خلافِ ادب اوشو.

نو بهر حال دَ اذان ابتداء دَ هغه وخت نه شوې ده.

اشکال

بعضې خلق اشکال کوي: چې ټوله وحي راغلې ده کنه نو هغه خو نبي ﷺ ته جبرئیل امین ؑ رالیږلے ده یا دَ نبي ﷺ پهٔ زړهٔ کښې ئې اچولي دي نو دَ اذان دا کلمات به هم الله خپل نبي ﷺ ته رالیږلي وو کنه! چې عبد الله بن زید بن عبد ربّه خوب لیدو او دَ خوب نه ئې بیا خبره را واړوله او اذان شروع شو؟

جواب

مونږ وایُو: چې واقعي ده چې خبره خو دَ خوب ده خو چې دَ الله نبي ﷺ ئې تصدیق اوکړو نو خبره وحي ته لاړه، نبي ﷺ دَ دې خوب تصدیق اوکړو چې:

«إِنَّهَا لَرُؤْيَا حَقٌّ إِنْ شَاءَ اللهُ».(1)

نو دې ته اوس خوب وئیل نهٔ دي پکار، دَ دې تصدیق خو دَ رسول الله ﷺ دَ طرف نه اوشو.

او کهٔ خبره پکښې ډیره مخکښې بوځې نو بعضې محدّثینو دا هم لیکلي دي: چې دا دَ الله نبي ﷺ ته څنګه پته اولګیده چې دا حق خوب دے؟؛ نبي ﷺ چې کله دَ معراج پهٔ شپه آسمانونو ته تلے وو، نو چې دَ ماښځهٔ ټائم شو نو جبرئیل ؑ اذان کړے وو، هغه اذان نبي ﷺ اوریدلے وو نو دلته چې فرشتې دې صحابي ته اذان اوښودلو نو هغه کلمات چې رسول الله ﷺ اوریدلي وو او دې صحابي لیدلي وو نو دواړه یَو شان وو؛ نو ځکه نبي ﷺ اووئیل: چې دا خو هغه اذان دے چې کوم ما پهٔ آسمانونو کښې اوریدلے وو، نو پهٔ دغه وجه نبي ﷺ دَ هغې توثیق اوکړو.

(1) أخرجه الترمذي في أبواب الصلاة، باب ما جاء في بدء الأذان، برقم: (189)، وأحمد في "مسنده"، مسند المدنيين، حَدِيثُ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَبْدِ رَبِّهِ صَاحِبِ الْأَذَانِ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ، برقم: (16478).

او یَو روایت کښې دا هم راځي: چې نبي ﷺ فرښتو له امامتي ورکړې وه، نو نبي ﷺ یَواځې دَ پیغمبرانو امام نهٔ شو بلکه دَ الله نبي ﷺ دَ فرښتو امام هم جوړ شوے دے، او دَ سدرة المنتهٰی سره نبي ﷺ فرښتو ته جَمع هم ورکړې وه.

نن ما صرف تاسو له دَ اذان ابتداء او دَ اقامت ابتداء چې دَ څهٔ وخت نه شوې وه؟ نو دا دویم دَ هجرت کال وو، پهٔ مدینه منوّره کښې دَ مسجدِ نبوي دَ تعمیر نه بعد بیا دَ اذان ابتداء شوې ده، او بیا بلال رضي الله عنه دَ مرګه پورې دَ الله نبي ﷺ مؤذِّن مقرر کړے دے. هاں! دَ اذان او اقامت چې کوم مسائل دي نو چونکه دا خو مونږ سیرت بیانوؤ، دَ هغې به پهٔ خپل ځائے باندې ان شاء الله یَو مستقل بیان وي، چې دا خلق څومره غلطۍ پهٔ اذان او اقامت کښې کوي، دَ اذان دپاره کوم سړے مناسب دے؟ دَ اقامت دپاره کوم سړے مناسب دے؟ اوس خو ښار ناپرسان دے. نبي ﷺ بلال رضي الله عنه مقرر کړے وو، نو دا نهٔ وه چې کوم سړے مخکښې راغے نو هغهٔ به اذان کوي، بلال رضي الله عنه به اذان کوي. جومات کښې به یَو مؤذِّن وي هغهٔ به اذان کوي. دا نهٔ چې هر یَو دې راځي او لوډ سپیکر ته دې اودریږي او زهٔ اذان کوم او ثواب ګټم، دا پهٔ شریعت کښې نشته دے. جومات کښې به یَو مؤذِّن وي او هغه به ټائم له ځان را رسوي، او دا یَو مؤذِّن چې وي نو دې کښې حکمت دا وي چې هغهٔ به ټائم له راځي. او چې ګڼرو ته شي نو بیا تاسو ته پته ده یَو وائي: فلانے به تلے وي، اذان به ئې کړے وي او بل وائي: فلانے به تلے وي اذان به ئې کړے وي نو پهٔ دې طریقه کښې یَو هم لاړ نهٔ شي. او چې یَو ته دې حواله کړے وي نو هغه به پهٔ ټائم باندې ځان را رسوي.

او بیا چې څوک اذان اوکړي نو اقامت حق دَ هغهٔ دے، چې هغه دې اقامت هم اوکړي. هاں! کهٔ تا ته اووائي: چې تهٔ زما دَ طرف نه اقامت اوکړه نو صحیح ده، خو کهٔ هغهٔ اجازت نهٔ درکوي نو حق دَ هغهٔ دے. او دا هم نهٔ ده: چې مونږه یَو کمزورے سړے اووینو نو ورته وایُو: فلانکي خانه! اذان اوکړه، چې ښهٔ کار وي نو بیا زهٔ ورځم او چې اذان وي نو بیا یَو غریب ته وایُو: چې ورشه! اذان اوکړه. اذان به کوم سړے کوي؟ دَ الله نبي ﷺ فرمائي: پهٔ تاسو کښې چې غوره سړے دے هغهٔ دې پهٔ تاسو کښې اذان کوي، دین پکښې دے، ایمان پکښې دے، عقیده

ئې صحيح ده، تلفُّظ ئې صحيح دے نو هغهٔ به اذان کوي. فقهاؤ ليکلي دي: چې دَ فاجر سړي اذان مکروه دے، دَ کيره خريلي سړي اذان مکروهه دے، چې کوم تا ته ښهٔ سړے ښکاري هغهٔ به اذان کوي. او امامتي دې هغه سړے کوي: چې قرآن ورته ښهٔ ياد وي.

دا مسائل به ان شاء الله پهٔ خپل ځائے باندې راځي. الله رب العزة دې دَ صحيح عمل کولو توفيق را نصيب کړي (آمين!).

وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ لله رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

دَ دې جلد ځلنده او ځلېدونکي ستوري

(1) "دَ نبي ﷺ نسب او دَ هغې شرافت"

(2) "فضائل دَ نيکونو دَ نبي ﷺ او دَ مور طرف نسب"

(3) "دَ نبي ﷺ پيدائش"

(4) "دَ نبي ﷺ عقيقه، تسميه او رضاعت"

(5) "دَ نبي ﷺ دَ شق الصدر واقعه او دَ مور بي بي وفات"

(6) "دَ نبي ﷺ ابوطالب سره شام ته تلل او دَ بحيرا راهب سره ملاقات او دَ خديجة الكبرى رضي الله عنها سره دَ نبي ﷺ نکاح"

(7) "دَ وحي ابتداء"

(8) "دَ وحي بعضې لطائف"

(9) "دَ وحي بنديدل او دوباره وحي شروع کيدل"

(10) "دَ دعوت اوله مرحله او اول ايمان چا راوړي وو؟"

(11) "بيان دَ ښکاره تبليغ دَ نبي عليه السلام"

(12) "په نبي ﷺ دَ مشرکانو اعتراضونه کول"

(13) "دَ نبي ﷺ ملګرو له دَ مشرکينو تکليفونه ورکول"

(14) "دَ صحابه کرامو رضي الله عنهم حبشې ته هجرت"

(15) "دَ سيدنا حمزه رضي الله عنه او دَ سيدنا عمر رضي الله عنه فاروق ايمان راوړل"

(16) "مقاطعه بني هاشم او هغې باندې خط ليکل او بيت الله کښې اويزانول"

(17) "دَ نبي ﷺ قبائلو له دعوت ورکول او دَ طائف واقعه"

(18) "معراج النبي ﷺ"

(19) "په مدينه منوّره کښې دَ اسلام ابتداء"

(20) "دَ رسول الله ﷺ مديني منوّرې ته هجرت اړول"

(21) "دَ نبي ﷺ مديني منوّرې ته دَ هجرت کولو په وخت کښې په لاره کښې ناآشنا ناآشنا حالات راتلل"

(22) "په مدينه منوّره کښې دَ هجري کال ابتداء او نبي ﷺ دَ چا په کور کښې پاتې کيدو؟"

(23) "په مدينه منوّره کښې دَ يهودو علماؤ په نبي ﷺ باندې ايمان راوړل"

(24) "دَ مسجد نبوي تعمير"

(25) "دَ اذان ابتداء او دَ صحابي خوب ليدل"

نوټ: خطبات رباني شلورم جلد به ډير زر انشاء الله منظر عام ته راشي: